بدر الظلام

علی

مسند الامام





تالیف

فضیلۃ الشیخ مولانا ابو عکاشہ

قاری نصیب اللہ منیر حفظہ اللہ ورعاہ

مدرس جامعہ دار العلوم تعلیم القرآن خال دیر

مکتبۃ الاشاعۃ

محلہ جنگی پشاور

موبائل 0300-5875425
0345-9459209

بسم اللہ الرحمن الرحیم

ابو عقبان عابد

بدر الظلام

علی

مسند الامام

تالیف

فضیلۃ الشیخ مولانا ابو عکاشہ قاری نصیب اللہ منیر صاحب

مدرس جامعہ دار العلوم تعلیم القرآن ... خال دیر

مکتبۃ الاشاعۃ

محلہ جنگی پشاور

موبائل 0300-9070428
0348-9499208

زیر اہتمام مولانا نجیب اللہ حنیف

د مصنف نوم : فضيلة الشيخ قاری نصيب الله منير سلمه الله

دچاپ ځائي : مکتبة الاشاعة محله جنګي پشاور

د چاپ عدد: ۱۱۰۰ الطبعة الاولی



دمندلو درکونه: مکتبة الاشاعة پشاور

ديني کتب خانه تيمرګره

اسلامی کتب خانه صوابي

تاج کتب خانه صوابي

مکتبه اسلامية خال

۰۳۱۱۱۶۵۶۶۱۶

فهرس الكتاب

المقدمة

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله وكفى والصلوة والسلام على عباده الذين اصطفى وبعد

کتاب مسند امام اعظم رحمه الله د حدیثونو په ذخیرو کښي او جسته او اعلی شان واله کتاب دی، حکه ددی کتاب مصنف د ښو حدیثو د حصان سره تابعي رضي الله عنه په وجه عظیم الشان هستي ده چه دهغوی د فقه، تفسیر، حدیث، مرتبه او علمی خدمتونو نه چا نه پټ نه دی، راقم الحروف ته د څو کلونو نه دغه کتاب د تدریس، تدریس خدمات په مادر علمی جامعة دار العلوم تعلیم القرآن خر کښي حواله دي، الحمد لله بنده ناچیز او طلباء کرامو ددی کتاب په تدریس تدریس کښي ډیر دلچسپي ښکاره کړه، بعض ملګرو ددی سبقونو د تقاریرو په شکل کښي هم محفوظ کړي دی، خو بعض نورو ملګرو اصرار کولو چه دغه تقاریر دی په کتابي شکل کښي شائع شی نو فائده به ئی ډیره وی، او طلباء کرامو ته به سهولت هم وی، بنده ناچیز به خان کښي دغه صلاحیت نه لیدلو لیکن د ملګرو د بار بار اصرار په وجه راقم الحروف خپل قابل او ذهین تلمیذ «حافظ محمدشاهد سلمه الله» ته ددی دضبط کولو درخواست وکړو، ما شاء الله هغه داخدمت په احسنه طریقه سر ته ورسولو او دهغی دتنقیح او تهذیب ټول خدمات ئی په دوه کاله کښي سبقا سبقا سر ته ورسول، فجزاه الله احسن الجزاء والاجرالجزیل، چونکه دا کتاب د عاجز بنده اول تصنیف دے ظاهره ده چه هر قسم غلطئ به پکښي وی، ناظرین به خانی د دی چه تنقید وکړی د عفو صفح نه کار واخلی او د تصحیح کوشش دی وکړی او مونږ ته دی دهغی اطلاع راکړی، خکه کتاب لیکل او یو فن کښي تصنیف کول انسان لره هدف د اعتراضاتو ګرخوی،

خصوصیات تبویب الاحادیث دی کتاب کښي د احادیثو دپاره مناسب ابواب وضع شوی دی، خکه چه «مسند الامام» کښي د احادیثو دپاره ابواب نشته.

په مناسب انداز سره ربط، تشریح داحادیثو، او ددی سره دبعض روایاتو اهم فوائد هم بیان شوی دی.

بیان د مسائل اختلافیه په لنډ انداز کښې سره د مختصر۔ دلائلو، او د مرجحاتو نه هم بیان شوی دی.

د اکثرو دلائلو، مسائلو، او احادیثو حواله هم ورکړے شوی ده، خو داخبره دیاد قابله ده چه دغه حواله جات اکثر د ،،المکتبة الشاملة ،، نه راغستے شوی دی چه علماء هغې لره اعتبار ورکوی.

په کتاب کښې د هغه صحابه کرامو رضی الله عنهم مختصر تراجم هم بیان شوی دی چه روایات دمسند دهغوی نه نقل دی، کله چه په اول ځل نوم د صحابی راشی نو دهغه نوم، نسب او مختصر۔ حالات او د هغوی تعداد دمروياتو په ،،مسند الام،، کښي ددی هم بیان شوے دے.

مقدمة الکتاب چه په هغې کښې دری بابونو کښې چه په هغې کښې احوال دفن، دکتاب، او مصنفینو بیانولے شی.

متن د احادیثو په جدا عمده خط کښي، او باقی کتاب په جدا بل خط کښی پیش کولے شی.

دالله تبارك وتعالیٰ په دربار کښي سوال کوو چه دا کتاب مقبول عنده وعند الناس وګرځی، او ددینه هر چا ته فائده ورسیږی، او داخرت دنجات ذریعه شی، کومه ملګرو چه دیکښی هر قسم تعاون کړے دے الله دی هغه قبول کړی.

امین یارب العالمین.

ابوعکاشة قاری نصیب الله منیر

کان الله له ولوالدیه ولمن احسن الیه.

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله الكبير المتعال والصلوة والسلام على محمدالمتبع في الاقوال والافعال والاحوال وعلى اله واصحابه التابعين له في كل حال وبعد:

د هر كتاب دشروع كيدونه مخكښې څه خبرې ضروري وي چه په طور د مقدمې وړاندې كونے سي.

مقدمة

مقدمه كښ درې۳ خبرې په درې۳ بابونو كښ بيش كولے شي...

باب اول په احوالو دفن كښ، باب ثاني په احوالو دكتاب كښ، باب ثالث په احوالو د مصنف كښ

الباب الاول في احوال الفن: ديكښې چندخبرې مجملا او بيا د هغې تفصيل كولے شي:

(۱) معنى الحديث لغة (۲) معنى الحديث اصطلاحا (۳) وجه تسميته بالحديث (٤) الفرق بين الحديث و الرواية والاثر والخبر والسنة .(٥) اقسام الحديث (٦) تعريف علم الحديث (۷) موضوعه (۹) غرضه (۱۰) شرافة هذ العلم ومقامه

معنى الحديث لغة: په ديكښې دوه قوله د ي حافظ سخاوي رَحِمَهُ اللهُ فرمائي ' الحديث لغة ضد القديم ويستعمل في الخبرو الكلام والذكر والبيان، دويم قول د علامه جوهري رَحِمَهُ اللهُ دے په صحاح كښ فرمـائي! الحديث: نقيض القديم. والحديث: الخبر ياتي على القليل والكثير. ويجمع على احاديث على غير قياس.[۱] حاصل دجوهري رَحِمَهُ اللهُ دكلام دا دے چه حديث دلغة په توكه هر قسم خبري ته واني قليل كثيرموضوع مهمل صادق كاذب وغيره.

معني الحديث اصطلاحا: معني اصطلاحي دحديث كښ اختلاف دى دوه دلي دى .

اصولين: عندالاصولين تعريف دادي' هو اقوال الرسول ﷺ وافعاله.

تشريح: په افعال الرسول ﷺ كښ تقريرات هم داخل دي اومراددافعال نه افعال اختيار يه دى لهذاكل احوال اختياريه په تعريف كښ داخل شو البته افعال غير اختيار يه ته تعريف شامل نه شولكه حليه مباركه، ولادت، وفات وغيره دنبي كريم ﷺ

محدثين: عندالمحدثين تعريف دا دے هو مابنسب الى الرسول ﷺ من قول[امر، نهي] او فعل [اختياريه، غير اختياريه] اوتقرير اوحال اوصفة

---

[۱] الصحاح في اللغة ۱ ۱۱۷

تشريح: دي تعريف كښې عموم دے حوں و افعال حضرته وغير حضرته ټول دى تعريف كښ داخل

پس بيان دحيه، ولادت، وفات، عادت وغيره ټول روايات حديث دى.

قول فيصل: دا اختلاف دعلماء لفظى او اعتبارى دے، او دا فيصله علامه طاهر الجزائرى الدمشقى كړى

ده هغه فرمائي: مثل هذا يعد من قبيل اختلاف العبارات لا اختلاف الاعتبارات وهو ليس من قبيل الاختلاف في الحقيقة كما يتوهمه الذين لا يمعنون النظر فانهم كلما راوا اختلافا في العبارة عن شيء ما سواء كان في تعريف او تقسيم او غير ذلك حكموا بان هناك اختلافا في الحقيقة وان لم تكن تلك العبارات مختلفة في المال (توجيه النظر الى اصول الاثر: ۱ ۳۸)

وجه دا ده چه دعلماء اصول اودمحدثينو اصطلاحات جداجدا دى، ځکه چه ددواړو اغراض اومقاصد جدا دى د اصول فقه دعلماء مقصد دحديث نه استنباط الاحكام دي، نو حديث به هغه وي چه دهغې نه احكام مستنبط كيږي. او دا ظاهره ده چه د احوال غير اختياريه نه احكام نه مستنبط كېږي لهذا د حديث د تعريف نه د دې وتل د اصوليانو دپاره مضر نه دي. ځکه حو علامه طاهر الجزائرى رَحِمَهُ اللَّهُ پس د بيانولو د تعريف د اصوليانو نه فرمائي: وهذا التعريف هو المشهور عند علماء اصول الفقه وهو الموافق لفنهم.

(توجيه النظر الى اصول الاثر ۱ ۱)

هر چه محدثين دي نو د هغوى غرض د حاديث نه استنباط د احكام نه دے، بلکه هر هغه كلام چه نسبت ئې رسول كريم ﷺ ته كيږي هغه كه اختيارى فعل وحال وى يا غير اختيارى وى هغه به حديث وى.

[تنبيه] په دي موضوع بهترين بحث علامه طاهربن صالح الجزائري رَحِمَهُ اللَّهُ كړے دے په خپل كتاب ..توجيه النظرفي اصول الاثر.. كښې...

وجه تسمية الحديث: دېكښې هم اقوال د علماء مختلف دي بعض وائي چه حديث ضد القديم دے قديم كلام الله دے او حديث كلام الرسول دے (هذاعندابن حجر رَحِمَهُ اللَّهُ والحافظ السخاوى رَحِمَهُ اللَّهُ)

بعض نور وائي چه حديث ماخوذ دے ددي اية كريمه نه وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ [سورة الضحى] په دي شان سره چه دى سورة كښې الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ په خپل نبي ... دري۳ انعامات ذكر كړى دى او په هر يو نعمة ئې د هغه نه د شكر مطالبه كړي ده، اول نعمة أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَىٰ ددي شكريه دا ده چه فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ . دويم نعمة وَوَجَدَكَ عَائِلًا فَأَغْنَىٰ (اي فاغناك بالقران) د دي شكريه ده وَأَمَّا

اَلسَّآئِلَ فَلَا تَنْهَرْ دريم نعمة وَوَجَدَكَ ضَآلًّا [اى غافلا عن الاحكام والشرايع] فَهَدَىٰ ددي شكريه دا ده وَاَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ (المرادمن النعمة تعليم الشر انع والمراد من التحديث بيانه للناس) [هذاعندالعلامة شبير احمد العثمانى في مقدمة فتح الملهم]

راجح قول دا دے چه حديث ته حديث ويل دا د چا مخترع اصطلاح نه ده بلكه دنبي ﷺ نه پخپله دا نوم ثابت دے په متعدد رواياتو سره مثلاً عن ابى هريرة قال قال رسول الله ﷺ « حدثوا عن بنى اسرائيل ولا حرج ». (سنن ابي داود ـ محقق ۱ / ۳۶۱) او په رواية د ابوالدرداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كښي راځي' قال رسول الله ﷺ : " من حفظ على امتي اربعين حديثا في امر دينها بعثه الله فقيها وكنت له يوم القيامة شافعا وشهيدا " (مشكاة المصابيح - ۱ / ۵۵) په رواية د مسلم شريف كښي راځي! انَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ مَسْعُودٍ قَالَ مَا انت بِمُحَدِّثٍ قَوْمًا حَدِيثًا لَا تَبْلُغُهُ عُقُولُهُمْ الا كَانَ لبعضهم فتنة . (صحيح مسلم ـ ۱ / ۹) دغه شان نور احاديث هم شته. معلوم شوه چه حديث نوم مخترع نه دے.

الفرق بين الحديث. والرواية . والاثر. والخبر. والسنة: ديكښى په لفظ درواية كښي اتفاق دے چه ددي اطلاق دحديث په مفهوم لغوي كيرى دهر چا قول او واقعه چه وي. باقي څلور الفاظو كښى دعلماء اختلاف دي.

د بعض په نيز دا د الفاظ مرادفه معنى واحده دقبيلي نه دي، د يو بل په معنى كښ په كثرت سره استعماليرى . د بعض نورو په نيز ديكښى فروق دي، حديث خانله شئ دے اوباقي دري خانله دى، چه تفصيل ددي دا دے،

الفرق بين الحديث والخبر: ديكښى عندالبعض تباين دے حديث اقوال افعال احوال الرسول ﷺ ته وائى اوخبر اقوال افعال اواحوال دغير رسول ته وائى [حافظ ابن حجر رَحِمَهُ اللهُ] اوعندالبعض نسبة دعموم خصوص مطلق دے حديث خاص تر رسول عربى ﷺ اوخبرعام دےخبر دغير رسول ته هم وائى..

الفرق بين الحديث والاثر: الحديث اسم للمرفوع فقط والاثر اسم للموقوف علي الصحابة والتابعين رضي الله عنهم لكه كتاب الاثار د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ هذا عند فقهاء خراسان وتابعه الرازي في احياء العلوم وخالف فيه النووي والعلامة الكهنوي رَحِمَهُمَا اللهُ.

الفرق بين الحديث والسنة : الحديث مامر والسنة فعل الرسول ﷺ والصحابة رضي الله عنهم فقط..

التجزیه: اخو څېړه به پوره تحقیق نشو چې څومره الفاظ مرادف دي او دا د صحیح د محدثینو په معلومېږي نګه امام طحاوي رَحِمَهُ اللهُ د خپل کتاب شرح «معاني الآثار» اسوده حالانکه هغې کښې هر قسم حدیث (موقوف، مرفوع، وغیره) شته دغه شان لوی کتابونه اکثر سنن دي لکه سنن ترمذي، سنن ابی داؤد، سنن ابن ماجه، سنن نسائي او بیهقي وغیره، سره ددې نه دیکښې قولي احادیث ډیر زیات دي، ددې نه ترادف معلومېږي. (والله اعلم)

اقسام الحدیث: د حدیث ډېر مختلف اقسام دي په اعتبار د مختلف تقسیماتو سره، موږ به بعضې تقسیمات او د هغې اقسام ذکر کړو.

۱. **تقسیم اول باعتبار الاسناد:** حدیث د اعتبار الاسناد دری قسمه دے حدیث مرفوع، موقوف، او مقطوع.

مرفوع: هر هغه حدیث دے چه د هغې سند نبي کریم ﷺ ته رسیدلے وي.

موقوف: هر هغه حدیث دے چه د هغې سند صحابي ته رسیدلے وي،

مقطوع: هر هغه حدیث دے چه سند یې تابعي ته رسیدلے وي، امثله د دی واضح او کثیر دي..

۲. **تقسیم ثاني باعتبار الرواة:** دي اعتبار سره حدیث په پنځه ۵ قسمه دے متصل، منقطع، معضل، معلق، مرسل

متصل: هر هغه حدیث دے چه اول نه تر اخره پورې کل راویان مذکور شي څوک ساقط من البین نه شي

منقطع: چه اسناد کښې یو یا ډیر راویان ساقط من البین شي د متفرق مقاماتو نه

معضل: چه د سند یو یا دوه راویان ساقط شي خو په یو مقام کښې بیا عام ده که په تصرف د مصنف سره وي یا بلا تصرفه

معلق: چه د سند د اول نه یو یا دوه راویان ساقط شي خو بتصرفه،

مرسل: چه د سند د اخیر نه د تابعي نه روسته راوي ساقط شي

۳. **تقسیم ثالث باعتبار الدرجة:** دي اعتبار سره حدیث دري ۳ قسمه دي صحیح، حسن، ضعیف

صحیح: هغه ته وائي چه روایة کونکي د حدیث د اخری راوي نه واخله تر نبي ﷺ پورې په دي زر... صفاتو باندې موصوف وي په حین د روایة کښې مسلمان وي، عاقل وي، عادل وي، د عدالت مقصد دا دے چه متقي او صادق وي دروغ نه وائي، اجتناب د کبیره نه کوي او اصرار په صغیره نه کوي، صحت

مروي وي. معيوب نه وي د معتبري نه كوي لكه سرتور سر گرځيدل، په لاره كښي بول كول، بازار يا لاره كښي په وړاندې خوراك كول وغيره د دغه شان ضبط واله وي يعنى شان چه پوهه او زكي او قوي الحافظه وي.

حسن حسن دغه وي چه دغه بره صفتو كښي حه كمے كوتاهے د راوي راغلے وي په داسي شان چه په كثره صرفو سره د هغي حبيره نه وي شوي.

ضعيف هغه حديث ته وائي چه ده صحيح او حسن د شرائطونه يوشرط دوه پكښي مفقود وي مثلاراوي عادل نه وي ضابط نه وي.

٤.**تقسيم رابع باعتبار الاتصال الينا**: په دې اعتبارسره حديث خلور٤ قسمه دے متواتر، مشهور، عزيز، غريب.

متواتر هر هغه حديث دے چه په هره زمانه كښي دومره خلقو نقل كړے وي چه اجتماع د هغو په كذب محال وي. معبر د تعين د عدد معين نه.

مشهور هغه حديث ته وئي چه اونه زمانه كښي پكښي شرائط د متواتر نه وي البته روسته حد د تواتر ته رسيدلےوي ويقال له مستفيض ايضا

عزيز: هغه حديث ته وائي چه تعداد د راويانو یې په هره زمانه كښې كم از كم دوه وي.

غريب هغه حديث ته وائي چه يوه زمانه د زمانو كښي يې په سند كښي يو راوي وي.

٥.**تقسيم خامس باعتبار اختلاف الراوي** دې اعتبارسره هم حديث په خلور٤ قسمه دے شاذ، محفوظ، منكر، معروف.

شاذ: هغه حديث ته وائي چه راوي يي ثقه اومعتمدوي ليكن د دغه راوي حديث ديوبل راوي دحديث نه خلاف وي چه هغه اوثق اضبط وي دده نه.

محفوظ: هغه حديث چه راوي يې اوثق وي لكن دده حديث د يو راوي د حديث نه خلاف وي چه دغه دوبم راوي په ضبط يا نورو وجوه د ترجيح كښي دده نه كم وي.

منكر هغه حديث چه راوي يي ضعيف وي او د ضعف سره د ده حديث خلاف وي د حديث د راوي قوي نه.

معروف هغه حديث چه راوي يي قوي وي او حديث دده خلاف وي د حديث د راوي ضعيف نه. معروف ضد د منكر دے.

املاحظه د اقسام او تقسیمات هغه دي چه مشهور دي . او نور ښکاره راځي ورپه نور هم دیر اقسام شته چه د مصطلح الحدیث په کتابونو کښې د هغې تفصیل موجود دے. والله اعلم.

تعریف علم الحدیث د علم حدیث په تعریف کښې هم د محدثینو خلاف دی علامه عیني رحمه الله تعریف کوی: اما حده فهو علم یعرف به اقوال رسول الله وافعاله واحواله (عمدة القاري ١ / ٢٧) وتعریف مشهور قائله لحافظ سخاوی رحمه الله : هو معرفة ما اضیف الى النبي ﷺ قولا له او فعلا له او تقریرا او صفة له..

بعض نور تعریف کوی: هو بعض ما اضیف الى رسول الله ﷺ او الى صحابي اوالى من دونه قولا او فعلا او صفة او تقریرا فتح الباقي.

[ملاحظة] په دوارو تعریفونو اعتراض او د هغې نه جواب شته والبسط في المطولات.

خو دا خبره د یاد ساتلو ده چه دا تعریف د مطلق علم الحدیث دے د هر قسم نه دے. ځکه علم حدیث دوه قسمه دے علم روایة الحدیث او علم درایة الحدیث. د اول الذکر تعریف دا دے: هو علم بنقل اقوال النبي ﷺ وافعاله بالسماع المتصل وضبطها وتحریرها (توجیه النظر الى اصول الاثر ١ / ٨٢) ځکه یو حدیث دے او نه وائی دا په فلانکی کتاب (اخری) کښې. په فلانکی دے کښې. په فلانکی سند سره په دی الفاظو باندي مروي دے، دیته علم روایة الحدیث وائی. اصطلاح کتب بدیکښی بخاری شریف او مسلم شریف دی، او بیانور سنن او صحاح دی،

او د ثاني الذکر تعریف دا دے: هو علم یتعرف منه انواع الروایة واحکامها وشروط الرواة واصناف المرویات واستخراج معانیها (توجیه النظر الى اصول الاثر ١ / ٨٧) ځکه د یو حدیث په باره کښې دا معلومول چه دا خبر متواتر دے که مشهور که واحد دے، صحیح دے که ضعیف، متصل دے که منقطع، رجال یې ثقه دي یاضعیف، دغه شان ددی حدیث نه کوم مسائل مستنبط کیږي، تعارض یې د چا سره شته یا نه، وغیره وغیره دا ټول علم درایة الحدیث دے. [والکتب المنسوبة الى هذا العلم کالتقریب والتیسیر للنووي واصله ککتاب علوم الحدیث لابن الصلاح واصله ککتاب المعرفة للحاکم]

د دینه دا معلومه شوه چه علم درایة الحدیث بیا په دوه قسمه دے یو علم اصول الحدیث چه د سند د احوالو نه پکښې بحث کیږي، لکه مخکښې مثال تیر شو، او دویم علم فقه الحدیث، چه د متن د الاحکام والمسائل نه پکښې بحث کیږی. والله اعلم وعلمه اتم.

موضوع علم الحدیث په موضوع د دي علم کښې هم دغسې اختلاف دے.

(١) عندالبعض موضوع د دي فن' اقوال الرسول ﷺ وافعاله واحواله: ده،

(٢) بعض نورو بكسى د سند او متن اضافه كړي ده، چه موضوع ددى فن' قول الرسول، وفعله، وسند الحديث ومتنه ده،

(٣) علامه كرماني رَحِمَهُ ٱللَّهُ وائي چه د دې فن موضوع ده' ذات الرسول ﷺ من حيث انه رسول الله ﷺ قيد د حيثيت ددى دپاره دے چه ذات الرسول ﷺ خو ذات الانسان دے او دا خو موضوع دعلم طب ده لكن من حيث انه رسول ﷺ دا موضوع دطب نه ده بلكه ذات من حيث هي هي موضوع دطب ده،

دعلامه كرماني رَحِمَهُ ٱللَّهُ قول راجح دے ځكه قول اول موضوع درواية الحديث ده يعني اقواله وافعاله واحواله او قول ثاني موضوع د دراية الحديث ده يعنى سند او متن لهذا قول ثالث راجح شو.

غرض هذا الفن الاهتداء بهدي النبي ﷺ او الفوز بالسعادات الدينية والدنيوية .

شرافة هذا العلم ومقامه: شرافت او مقام د دى علم كښې خه طويل بيان ته ضرورة نشته بلكه د قران مجيد او د احاديثو مباركو نه بيشماره فضائل ثابت دي صرف د نموني په طور يو حديث دوه به رانقل كړو.

(١) عبد الرحمن بن عبد الله بن مسعود يحدث عن ابيه قال : قال سمعت النبي ﷺ يقول نضر الله امرا سمع منا شيئا فبلغه كما سمع فرب مبلغ اوعى من سامع (سنن الترمذي -٥/ ٣٤) دى حديث كښې د خادم الحديث دپاره د دتروتازه كيدو دعاء ده دهميشه دپاره.

(٢) عن البراء بن عازب قال قال رسول الله ﷺ من تعلم حديثين اثنين ينفع بهما نفسه او يعلمهما غيره فينتفع بهما كان خيرا من عبادة ستين سنة (مفتاح الجنة للسيوطي - ١/ ٦٧)

بيا د دي علم درس تدريس اعلي مقام لري د څو وجوهو نه يو دا چه درس د دي علم سبب د كثرت صلوة علي النبي ﷺ كرځي، او نبي كريم ﷺ فرمايي' عن ابي هريرة قال : قال رسول الله ﷺ من دصلى علي صلى الله عليه [بها] عشرا (سنن الترمذي ٢ . ٣٥٥)

دويم د دي تدريس سبب د نزول د بركاتو دے دا هم د دغه محكښې حديث نه ثابت شوه

دريم د دي د درس تدريس سره تكاليف او غمونه هم ختميږي ځكه چه دني كريم ﷺ ساره كښې الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ فرمايي وَمَآ اَرۡسَلۡنٰكَ اِلَّا رَحۡمَةً لِّلۡعٰلَمِيۡنَ ﴿١٠٧﴾ (سورة الانبياء)

څلورم دشيطان وساوس ورسره ختميږي، ځكه خلق ددين نه خبرشي، وران ځايونه ورسره اباد شي. مساجد اباد شي، او دا خبره دمشاهد اتو نه ده چه كوم ځاى درس قران او درس حديث كيږي هغه ځاى الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ به هر لحاظ سره اباد ساتي ليكن چه ناشكري ونه شي والله اعلم وعلمه اتم.

الباب الثاني في احوال الكتاب دكتاب نوم دے **مسند امام اعظم** د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ شاگردانو د امام صاحب نه احاديث نقل كړي دي، چه د هغي نه مختلف مسانيد جمع شوي دي، چه. هغي تعداد پنخلس ۱۵ دي دغه مسانيد تفصيلا سره د نومونو د راويانو محشي علامه سنبلي رَحِمَهُ اللّٰهُ ذكر كړي دي په مقدمه كښي، لكه مسند دحافظ محمد بن مخلد بن حفص دوري، مسند حافظ بن عقده، مسند حافظ ابوالقاسم وغيره، زمونږه مخي ته چه كومه نسخه ده دا د امام حارثي رَحِمَهُ اللّٰهُ جمع كړه نسخه ده چه د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ نه په متعدد طرقو سره نقل ده دغه نسخه مرتبه وه په اسماء د شيوخو د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ [خكه خو ورته مسند واني] ليكن ديكښي دوه مشكله وو، يو يكښي د راويانو تكرار وو، دويم استنباط دمسائلو ترينه گران وو خصوصا هغه چا ته چه شيخ او استاد د امام صاحب لي په دغه رواية كښي نه پيژاندو، په دې مشكل كښي اول الذكرعلامه حصكفي رَحِمَهُ اللّٰهُ ختم كړو، او ثاني الذكر علامه ملاعابدسندي رَحِمَهُ اللّٰهُ ختم كړو چه دا ئي مرتب كړو په ترتيب د ابواب فقهيه سره په اصطلاح دكتب الحديث كښي، اوس دا كتاب په ،،سنن،، كښي داخل دے ،،مسند،، نه دے خكه مسند هغه كتاب د احاديثو ته واني چه مرتب په اسماء د شيوخو وي.

انواع المصنفات في الحديث - بيا پوهه شه چه په احاديثو كښي كوم كتب تصنيف سوي دي د هغي دباره مختلف نومونه دي، خكه چه علم حديث يو مخدوم علم دے، او ديكښي په مختلف حيثيتونوسره كتب لكلے شوي دي، چنانچه دكتب حديث دخپلې موضوع اوترتيب په لحاظ سره ډير زيات اقسام دي اودهر يوقسم يوخاص اصطلاحي نوم دے، چه دطلباء دپاره ددي يادول ضروري دي دغه انواع كل ۳۲ دي چه په ..انواع المصنفات في الحديث.. عنوان مشهور دي علامه شاه عبد العزيز رَحِمَهُ اللّٰهُ په كتاب ،عجاله نافعه، كښي او شاه انورشاه كشميري رَحِمَهُ اللّٰهُ په ،،العرف الشذي،، كښي په وضاحت سره ذكر كړي دي مونږه به چند اهم او مشهور اقسام ذكر كړو.

(۱) **الجوامع**: جمع دجامع ده داحاديثو هغه كتابونوته واني چه په لاندني مضامين ثمانية باندي مشتمل وي هغه مضامين دادي [شعر]

سيراداب وتفسير وعقائد فتن اشراط و احكام ومناقب

لكه الجامع الصحيح للبخاري، الجامع الصحيح للمسلم، الجامع الترمذي وغيره بيا د تولو نه اول جامع چه مكتوب شوے دے هغه..جامع معمربن راشد المتوفي ۱۵٤هـ .. دے معمر رَحِمَهُ اللّٰهُ د امام زهري رَحِمَهُ اللّٰهُ

مشهور نه گرزېدلې. دا په وړمه صدۍ د هجري کښې د مرتب کړې وو، اوس دانایاب دے. او مصنفه شيبه ابن ابي شيبه رَحِمَهُ ٱللَّهُ چه اوس په ١١ حصو نو کښې شائع دے، دا دویم جامع دے په دریمه صدۍ دهجرۍ کښې مکتوب شوے دے، لیکن دټولونه زیات مقبولیت اوس جامع الصحیح للبخاري ته حاصل دے او دویم جامع ترمذي ته په صحاح سته کښې الامع الدراري ١ / ٤٤

(٢) المسانيد: د جمع د مسند ده هغه کتب د احادیثو ته وائی چه مصنف رَحِمَهُ ٱللَّهُ پکښې په ترتیب رتبې د صحابو سره جمع کړې وی، مثلاً اول د ابوبکر رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ بیا د عمر رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ یا په ترتیب دحروف هجاء سره حدیث جمع کړي. یعني اول د هغه صحابي چه په اول د نوم کښې يې همزه وي، بیا هغه چه په اول کښې يې باء وي..... دغه حدیث د هر باب سره چه تعلق ساتي. بعض اوقات د سابقية في الاسلام لحاظ شوے وی. بعض وقت دطبقات المهاجرین و الانصار لحاظ شوے وی، دی ټولو ته مسندوائی، بیا اول مسند نعیم بن حماد رَحِمَهُ ٱللَّهُ مکتوب کړے دے، ددهنه روسته بیشماره مسانید لیکلے شوی دی، خو نن صبا صرف درې مسانید په مطبوع شکل کښې ملاویږي (١) مسند ابي داؤد طیلسي (٢) مسند حمیدي چه د امام بخاري استاذ دے (٣) مسند امام احمد ابن حنبل رَحِمَهُ ٱللَّهُ چه دا د ټولو نه لوي اومشهور او جامع مسند دے،

(٣) المعاجم: د جمع دمعجم ده داحادیثو هغه کتاب ته وائی چه مصنف پکښې د خپلو شیوخو د رتبې په ترتیب سره [کما هو المشهور] یا د حروف هجاء په ترتیب سره [کماقال الشیخ محمد زکریا رَحِمَهُ ٱللَّهُ وهذا صحیح] حدیث جمع کړي وي، لکه معاجم ثلثه د امام طبراني شو، معجم کبیر کښې دصحابه کرامو په ترتیب سره حدیث جمع دي، معجم اوسط کښې د شیوخو ترتیب دے او معجم صغیر کښې د ټولو شیوخو یو یو حدیث ئې ذکر کړے دے، اوس دا اخري یو شته اولي دواړه نایاب دي.

(٤) الاجزاء: داجمع دجزء ده هغه کتاب د احادیثو چه صرف په یوه مساله پکښې احادیث جمع وي، لکه جزء رفع الیدین. جزء القراة خلف الامام د امام بخاري رَحِمَهُ ٱللَّهُ

(٥) الرسائل: دا جمع د رسالة ده هغه مجموعي د احادیثو ته وائی چه په مضامین ثمانیه کښې د یو مضمون سره تعلق ساتي هغه مضامین مخکښې ذکر شوی دی.

(٦) الاربعین: هغه کتب د احادیثو چه خلوېښت حدیثونه پکښې جمع وي عام د دېنه که د یوی مسئلې سره تعلق ساتي او که د مختلف مسائلو سره تعلق ساتي دی باب کښې بیشماره کتابونه مکتوب شوی لکه اربعین د امام نووي رَحِمَهُ ٱللَّهُ

(۷) **الغرائب** هغه کتب چه یو شاگرد پکښې د خپلو استاذانو تفردات جمع کړې وی.
(۸) **الافراد** دا هغه کتابونه چه یو کس د خپل یو استاذ نه څومره احادیث اوریدلي وي هغه پکښې جمع کړي.
(۹) **المشیخات** هغه کتابونه چه مصنف پکښې د خپلو استاذانو روایات بلا ترتیبه جمع کړي وي.
(۱۰) **المستدرکات** هغه کتابونه د احادیثو چه مصنف پکښې هغه احادیث جمع کړي وي چه د یو بل محدث په شروطو هغه برابروي لیکن هغه نه وي ذکر کړي په خپل کتاب کښې، لکه د امام بخاري رَحِمَهُ اللّٰهُ او امام مسلم رَحِمَهُ اللّٰهُ په شروطو برابر احادیث چه هغو نه دي ذکر کړي نوحاکم په خپل مستدرک کښې جمع کړي دي څکه ټول احادیث صحیحه په بخاري اومسلم کښې منحصر خو نه دي، البته تساهل دحاکم مشهور دے بعض ضعیف احادیث یې هم صحیح کړي دي، خو په هغې د پخه امام ذهبي رَحِمَهُ اللّٰهُ لیکلي چه د هغه تحقیق صحیح دے.
(۱۱) **الصحیح** هغه کتب چه اصلا پکښې صحیح احادیث ذکر وي البته ضمنا پکښې حسن هم بلا سند ذکر وي لکه بخاري ومسلم
(۱۲) **الاطراف** هغه کتب د حدیثو چه دحدیث وړو سر یې نقل کړے وي او بیا یې [الخ] یا [الحدیث] لیکلے وی او حواله یې په بل کتب ورکړې وي، لکه انماالاعمال [الخ] رواه البخاري په دي باره کښې..الاشراف في معرفة الاطراف.. للعلامه حافظ ابن عساکر دمشقي رَحِمَهُ اللّٰهُ دغه شان تحفة الاشراف بمعرفة الاطراف: للمزی رَحِمَهُ اللّٰهُ
(۱۳) **الامالي** هغه کتاب د احادیثو چه استاذغیر شاګردته املاء کړي وي لکه امالي ابن حجر رَحِمَهُ اللّٰهُ مشهور دے اوس ددي ضرورت نشته څکه کتابونه چاپ شوي دی البته بیاهم استاذي تقاریروته ضرورة شته اوس هم دغه امالي شته دے لکه..فیض الباري تقریرد بخاري.. یا..العرف الشذي تقریر د ترمذي.. د علامه شاه انورشاه کشمیری رَحِمَهُ اللّٰهُ
(۱٤) **المسلسلات** دا د حدیثو هغه کتب چه کل راویانو دحدیث په یوقسم خاص باندې اتفاق کړے وی لکه حدیث مسلسل باخذ الید چه کل راویانو د دي حدیث د نقل په وخت کښې د خپل شاګرد سره مصافحه کړي ده، یا لکه (الحدیث المسلسل بالاولیة المسلسل بسورة الصف . المسلسل بانی احبك. المسلسل بیرحم الله فلانا . المسلسل بالحفاظ . المسلسل بالفقهاء . المسلسل بالصوفية

المسلسل بوضع اليد على الراس . المسلسل باشهد بالله . المسلسل بالاباء . المسلسل بذالک . المسلسل باشهد على) یاتول راویان په یوصفة خاصّه کښی متفق وي لکه تول قرآء وي وغیره ذلک، د مسلسلاتو په باره کښي هم کتابونه لیکلے شوی دی، لکه دعلامه ابوالفیض محمد یاسین بن محمد عیسی کتاب ..العجالة في الاحادیث المسلسلة ..

(۱۵) **الموضوعات** هغه کتب د احادیثو چه احادیث موضوعه پکښی ذکر وي لکه د ابن جوزی رَحِمَهُ اللهُ کتاب..الموضوعات الکبری ..

(۱٦) **السنن** هغه کتب الحدیث چه په طور د ابواب فقهیه پکښی احادیث جمع وي لکه سنن ترمذي. سنن ابي داؤد، سنن نسائي، سنن ابن ماجه.ددي کتابو نو اول نوم . . ابواب . . وو بیا يې ورته . . مصنفات . . وبل بیا اخر کښی . . سنن . . شو. د ټولو نه اول کتاب په دي طرز د امام صاحب استاذ عامر بن شراحیل الشعبي رَحِمَهُ اللهُ لیکلے وو چې په .. ابواب الشعبي .. سره مشهور وو.

دابعض مشهورمصطحات وو چي بیان شو بیا دا خبره د یاد قابله ده چه په یو کتاب کښی ډیر صفات هم جمع کیدي شي لکه ترمذي جامع، صحیح، او سنن دري واړه دے..

[تجزیه] مسند الامام رَحِمَهُ اللهُ کښی کل روایات ۵۲۵ دي دیکښی د صحابه کرامو روایات چه معلوم دي هغه ۴۷۸ دي، باقي احادیث یامراسیل دي اویا د نامعلوم الاسم صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ نه نقل دي.

دي کتاب کښی زیات روایات د عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دي، چه۷۹ روایات دي، دوېمه مرتبه کښی دعایشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ٥٦ روایات دي ، او دریمه مرتبه کښی دعبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چه ۴۹ روایات دي. والله اعلم

خصوصیات هذالکتاب د هر کتاب څه خصوصیات وي چه په هغي دنورو کتابونو نه ممتاز وي، ددي کتاب خو هسي ډیر خصوصیات دي خو داسې یو خصوصیة چه بل هیڅ کتاب کښی نشته هغه دا چه دا کتاب په وحدانیات باندې مشتمل دے، یعني دنبي کریم ﷺ اودمؤلف رَحِمَهُ اللهُ په مینځ کښی صرف یوه واسطه ده دصحابي دا په بل هیڅ کتاب کښی نشته د موطا امام مالک رَحِمَهُ اللهُ دټولونه عالي سند ثنائي دے، او د امام بخاري رَحِمَهُ اللهُ دټولو نه عالي سندثلاثي دے، او هغه هم دومره غټ کتاب کښی ۲۲ ثلاثیات اوهغه هم اکثر د مکي ابن ابراهیم رَحِمَهُ اللهُ په واسطه دی چه دا د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ شاګرد دے، بیا دي مسند کښی هغه

روايت چه عالي سند واله دي او هغي نه وحدانيات وائي نول اتها ۸ دي انشاءالله چې. کله هم دغه يو بو حديث راځي مونږه به دهغي تعين کوو ددينه علاوه ثنائيات او ثلاثيات خو ډير دي.

الباب الثالث في احوال المصنف رَحِمَهُ ٱللَّهُ دي کتاب کښې څلور اشخاص داسې دي چه هغوي د دي کتـ حدمت کړے دے. صاحب المسند امام اعظم رَحِمَهُ ٱللَّهُ، مؤلف، دکتاب امام حارثي رَحِمَهُ ٱللَّهُ، ملخص امام حصکفي رَحِمَهُ ٱللَّهُ مرتب علامه سندي رَحِمَهُ ٱللَّهُ

حالات امام اعظم ابوحنيفة رضي الله عنه د امام صاحب دژوندتفصيلي حالاتو دپاره مستقل کتابونه ليکلے شوي دي، هم هغې ته رجوع مناسب ده، دلته مونږه مختصرا څه بعض حالات ذکرکوو دمقام مناسبه چه دا به مشتمل وي په ذکر دنسب، تاريخ ولادت، په ثبوت دتابعيت د امام رَحِمَهُ ٱللَّهُ مشهوراساتذه د امام، مشهور شاګردان د امام، مقامه عند العلماء ، تاريخ وفات دده. تفصيل دا دے:

[نوم. نسب. اوتاريخ ولادت] ابو حنيفة نعمان بن ثابت بن زوطا بن ماه الکوفي، اصل کښې د فارس وو، بعض رواياتو کښې راځي چه د امام صاحب نيکه زوطا د کابل يا بابل ښاروو، او دتيم الله بن ثعلبه ازاد کړده غلام وو ليکن د امام صاحب نوسے اسمعيل بن حماد بن نعمان فرمايي: نحن من ابناء فارس من احرار والله ما وقع علينا رق ولد جدي سنة ثمانين ذهب به الى على بن ابى طالب رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ وهو صغير فدعا له بالبركة فيه وفي ذريته ومات ببغداد سنة خمسين ومائة انتهى.

[ثبوت دتابعيت] د امام صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ په ژوندکښې څه ډير صحابه کرام موجود وو، چه څلورصحابه کرام مشهور پکښې دا وو، انس بن مالک رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ په بصره کښې ،عبدالله بن ابى اوفي رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ په کوفه کښې، سهل بن سعد رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ په مدينه کښې، ابوطفيل رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ به مکه کښې، د امام صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ صحابه کرام ليدل څه دبعض اصحابو نه يي رواية هم کړے، لکه روسته کتاب کښې به مخه روايات راشي. راى انس بن مالك غير مرة لما قدم عليهم الكوفة (تذكرة الحفاظ - ١ / ١٢٦)

[مشهوراساتذه] اساتذه د امام صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ د دري زره نه په بره دى مشهور پکښې دادى : حمادبن ابي سليمان، عطاء بن ابي رباح، ابواسحاق سبيعي، محارب بن دثار، هيثم بن حبيب، محمدبن المنكدر رحمهم الله رحمة واسعة.

[مشهورتلامذه] شاګردان د امام صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ هم په زرګاؤدى چند مشهور د هغي نه دادي. عبدالله بن مبارک، وکيع بن جرّاح،يزيدبن هارون،على بن عاصم، ابويوسف، محمد بن الحسن الشيباني رَحِمَهُمُ ٱللَّهُ

[مقامه عندالعلماء] علماء داسلام د امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللَّهُ ډيرزيات تحسين کړے دے چه دنمونې په طور به د امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ اوامام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ اقوال وړاندې کړو، امام شافعي فرمايي چه د امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ نه د امام صاحب په باره کښې تپوس اوکړو چه هل رايت اباحنيفة ؟ هغه جواب ورکړو انعم رايت رجلالوقال في هذه السارية ان يجعله ذهبا لقام بحجته: دغه شان امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي من اراد ان يتبحر في الفقه فهو عيال على ابى حنيفة كان عالما عاملا عابدا ورعا تقيا اماما في علوم الشرعية انتهى. دغه شان شان عبدالله بن مبارک رَحِمَهُ اللَّهُ نه نقل دى! الحماني قال سمعت ابن المبارك يقول ما كان اوقر مجلس ابي حنيفة كان يتشبه الفقهاء به وكان حسن السمت حسن الوجه حسن الثوب ولقد كنا يوما في المسجد الجامع فوقعت حية فسقطت في حجر ابي حنيفة فهرب الناس غيره ما رايته زاد على ان نفض الحية وجلس مكانه(اخبار ابي حنيفة - ۱ / ۱۷) وقال يزيد: ما رايت احدًا اورع ولا اعقل من ابي حنيفة . (تذكرة الحفاظ - ۱ / ۱۲۷)

دغه شان امام ذهبي په طبقات الحفّاظ کښې امام صاحب دمحدثينو نه شميرلے دے، اوس چا چه په امام صاحب د قلّة حديث ګمان کړے دے نو دا ئي دتساهل يا حسد په وجه ونيلي دی، خکه خوک چه قليل الحديث وي هغه به څنګه د امام صاحب په شان استنباط د مسائلو وکړي سره د دينه چه په خاص انداز استنباط د مسائلو د نصوصو نه اول امام صاحب کړے دے.

که څوک وائی چه د امام صاحب روايات په خارج کښې ډير ندی ښکاره شوی لکه د نورو ائمه کرامو په شان؟ نو دهغی جواب دا دے چه امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ به دی اهم کار د استباط باندې مشغول وو خکه ئي ډير احاديث په خارج کښې ندي ښکاره شوي، لکه ابوبکر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ چه په مصالح عامّه دمسلمانانو مشغول وو، نو د دی دواړو نه هغه مقدار د احاديثو ندي ښکاره شوے څنګه چه د کم عمره صحابوو نه ښکاره شوی دی، لکه ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يا عبدالله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه چه ډيرزيات روايات ثابت او نقل دي. بله وجه دا ده چه كثرة رواية بغير ددراية نه څه کمال خو نه دے بلکه سبب د نقصان دے، بله وجه دا ده چه کبارمحدثين د امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ تلامذه دي لکه عبدالله بن مبارک رَحِمَهُ اللَّهُ دغه شان مکّی بن ابراهيم رَحِمَهُ اللَّهُ د امام بخاری رَحِمَهُ اللَّهُ استاذ هغه شخصيت د چا په واسطه چه امام بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ ته اعلى سند د ثلاثيات حاصل دے، دا دلائل د دي دی چه امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ د اوچت شان واله محدث وو.

[وفات اوتاريخ وفات] واقعه د وفات يې داسې وه چه ابوجعفر منصور المتوفى ۱۵۸ھ دبنو عباس خاندان يو ظالم بادشاه وو، امام صاحب ته يې منصب دقضاوة يا د قاضى القضاة پيش کړو، امام صاحب د ظلم د ډحر : فيصلو په وجه ابتدا... وکړو، د انکار په وجه جيل ته واچولے شو هره ورځ به يې سزا او زب... ورکولو، د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په استقامت کښې چه هيڅ فرق رانعلو نو په زهرو ئې شهيد کړو او به حالت د سجده کښې ئرېه روح لاړو په ۱۵۰ھ کښې، تاريخ ليکي چه بنخوس زره کسانو بيرى جنازه وکړه او د ډيرى کېړى په وجه يې شپږ ځله د لاش جنازه وشوه او شل ورځو پورې يې د قبر جنازه شوى ده (رحمه الله رحمة واسعة)

ملاحظه تفصيل د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ دحالاتو په سند سره وګوره په ..اخبار ابى حنيفة .. کښې د القاضي ابي عبد الله حسين بن علي الصيمري.

حالات مؤلف امام حارثي رَحِمَهُ اللهُ کنيه دده،، ابو عبدالله،،لقب يې ،،استاذ،، دے، نوم يې ،،عبدالله،، د۲۰۰ھ نه مخکښ پيدا شوے، حارثي دده ډرنيکه ته نسبت دے، بخارى ورته هم وائي بخارا ته منسوب دے، علم ئې د امام ابوحفص صغير نه حاصل کړے، هغه بيا د امام ابوحفص کبيرنه او ده بيا د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ نه حاصل کړے دے، هغه امام محمدچه د مشاهيرو د احنافو نه دے، امام حارثي د امام صاحب دمسند د جمع کولو خدمت کړے دے، چه دا اجمع د مسانيدو دے، کماقاله الحسن السنبلي، د دوه اتيا۸۲ کاله په عمر کښې په ۳۴۰ھ کښې وفات شوے دے.

حالات امام حصکفي رَحِمَهُ اللهُ شجره نسب يې په دې ډول ده امام قاضى صلاح الدين موسى بن زکريا بن ابراهيم بن محمدبن صاعد: لقب يې ،،صدرالدين،، نسب ئې،،حصکفي،، د ده يو شاګرد د عبد القادر قريشى په واسطه هم دغه نسبة ذکر کړے دے، او دا مشهور دے، ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ دده نسبة حصفکى ذکر کړے دے، خو دا غير مشهور دے، ځکه دا د يو ښار نوم دے په روم کښې او اصل کښ ..حصن کيفا.. دے بيا ترينه دا مخفف شوے دے، په ۵۸۰ يا۵۸۱ھ کښې پيدا شوے دے، د کبارو علماء نه دے، اکثره زندګى ئې په ،،قاهره،، او،،حلب،، کښې تيره کړې ده، دمسند الحارثى اختصار ئې کړے دے. او ددې سره سره ئې يوه اضافه دا کړې ده چه په مسند الحارثي کښ نه وه چه د امام صاحب دخوي... ..د روايات دخپل پلار نه هغه ئې هم دلته شامل کړه وفات د امام حصکفي په ۶۵۰ ھ کښ شوے دے

حالات مرتب المسند علامه سندهي رَحِمَهُ اللهُ: نسب يې داسې دے، علامه محمدعابد بن احمد علي بن محمدبن مراد بن يعقوب الحافظ بن محمودالانصاري السندهي الخزرجي. د مديني منوّرې دخزرج قبيلې سره يې تعلق دے، د ابو ايوب انصارى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په اولاد کښې دے، وطن اصلي ئې سنده حيدراباد سيون دے، تاريخ پيدائش يې معلوم نه دے، بيا ئې عربونه هجرة کړے او هلته مقيم شوے دے، مختلف ښارونو کښې پاتې شوے دے، ديمن ښار صنعاء امير ورله منصب هم ورکړے وو، خکه دے دعلم سره حکيم او طبيب هم وو، يو وزير ورله لور ورکړه چه دهغې په وجه ئې دډيرو لويو لويو خلقو سره تعلق جوړ شو، انتهائي ذهين، فطين او زيرک وو، د امام شوکاني شاګرد دے، هغه دده ډيره مدحه کړي ده چه نورو کتابونو کښې ئې تفصيل ذکر دے.

وفات: د کل په ورځ ۱۷ ربيع الاول ۱۲۵۷ھ کښې وفات شوے دے، پوره تفصيل په نزهة الخواطر کښې علامه عبدالحي لکهنوي رَحِمَهُ اللهُ ذکر کړے دے.

حاصل الكتاب: دا کتاب په درې ۳ حصو باندې مشتمل دے ..خطبه.. چه ديکښې درې خبرې دي تسميه، حمد، صلوة ..ديباجه.. چه ديکښې باعث على التصنيف، او بيان دترتيب دکتاب دے ..مقصود د کتاب.. چه ديکښې احاديث راوړي په طرزد ابواب فقهيه په دې شان چه اول به د اخلاص النية په باره کښې حديث پيش کړي، ددينه روستو به احکام شرعيه پيش کړي. چه هغه ايمانيات، عبادات، معاملات، اداب، کفارات، او عقوبات دي. او ضمن کښې به مناقب، فضائل، او فتن رغيره هم پيش کړي او ددي مباحثو متعلقات به هم ذکر کړي.

قوله! بسم الله الرحمن الرحيم: دا خطبه دکتاب ده چه په تسميه، حمد، صلوة باندې مشتمله ده دا خطبه مرتبه د ملا محمد عابد سندهي رَحِمَهُ اللهُ ده.

قوله! امابعد: دا ديباجه دکتاب ده. ديباج ډبل ريخمو ته وائي چه د زينت لباس دے، اوديباجه دکتاب هم زينت دکتاب وی چه باعث على التصنيف او بيان دترتيب دکتاب پکښې ذکر دے،

حاصل يې دا دے چه مسند امام اعظم رحمه الله په روايۀ د حصکفي رَحِمَهُ اللهُ سره مرتب وو په ترتيب داسماء د شيوخو د امام صاحب ليکن حديث راوستل ترينه ډير ګران وو مثلا تا به دطهارة متعلق د امام صاحب يو روايۀ شوے حديث کتلو که تا ته به دا پته وه چه دا حديث امام صاحب دخپل فلان استاذ نه روايۀ کړے دے، نو اول به دي ددغه استاذ نوم دحروف هجاء په ترتيب سره معلوم کړو، بيا به دي ددغه استاذ نه روايۀ شوي احاديثو کښې دغه حديث کتلو، اوس داخو ګران کار وو بيا که تا ته به دا پته هم نه

وه چه په دي روایة کښې د امام صاحب اساتذ او شیخ خوک دے، نو په نو حدیث پسی به دی ټول کتاب کتلو، او دا خو ډېره مشکله وه، علامه صاحب فرمائی چه ما دا اراده اکړه چه دا کتاب د ابواب فقهیه په طرز مرتب کړم چه تخریج دحدیث نړینه اسان شی، هم دغه وجه ده چه دا کتاب اوس په ،،السنن،، کښې شامل دے.

قوله الامام: قاعده دا ده چه کله امام مطلق ذکر شي په باب دفقه کښې نو مراد به نړینه امام ابوحنیفه رحمه الله وي، په علم منطق کښې به امام رازي رحمه الله مراد وي، علم کلام کښې به امام ابو منصور ماتریدي رحمه الله وي عندالماتردیه. اوامام ابوالحسن اشعري رحمه الله به وی عند الاشاعره. والله اعلم

باب ماجاء في اخلاص النية

حدیث ۱\۱ ابوحنيفة عن يحي عن محمدبن ابراهيم النيمی عن علقمة بن وقاص الليثی عن عمر بن الخطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قال قال رسول الله ﷺ الاعمال بالنيات ولكل امرئ مانوى فمن كانت هجرته الى الله ورسوله فهجرته الى الله ورسوله ومن كانت هجرته الى دنيا يصيبها او امراة ينكحها فهجرته الى ماهاجراليه.

خو اجمالی خبري:- ترجمة عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، وجه د اتيان ددی حديث به اول د کتاب کښې، مقام الحديث، نوم ددي حديث، تحقيق او تشريح ددي حديث

[۱] **ترجمة الراوی** -[تنبيه] دي کتاب کښې چه خومره صحابه کرام راويان واقع شوي دي دهغو ترجمه به دهغه داول رواية سره کيدے شی، او د هغه په دي کتاب کښې دمروياتو تعداد به خودلے شي.

حالات عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: ددي حديث راوي دے حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ده، دهغه دیوره حالاتو دپاره مستقل رسالي هم چاپ شوی دي چه هغي ته رجوع مناسب ده، دلته به سرسري دهغه بعض حالات ذکر شي. دده کنيه اونسب ابوحفص عمر بن الخطاب بن نفيل بن عبدالعزي دے، لقب يي فاروق دے، لانه فارق بين الحق والباطل، دمور نوم ئی حَنتمة بنت هاشم بن المغيرة دے، تاريخ ولادت ئي نامعلوم دے واقعه داسلام راوړو ئي هم مشهوره ده، خليفه ثاني دے، خلافة ئی ۱۰ کاله او ٦ مياشتی کړے دے دعدل اوانصاف نه ډک دور ئي وو، په ذوالحجة ۲۳ھ کښې دمغيرة بن شعبة غلام ابو لؤلؤ مجوسی د لاسه شهيد شوے دے، ټول روايات ئي په دي مسند کښې شپږ ٦١ دی.

[۲] **وجه اتيان هذ الحديث في اول الكتاب:** عام مصنفين كه اصحاب الجوامع دي، او كه اصحاب السنن دي، او كه اصحاب الصحاح والمسانيددي، هغوي خپل كتابونه ددي حديث نه شروع كوي د څو وجوهو نه،

[الف] د دي وجه نه چه داول نه نية صحيح شي هسي نه چه ناست درس حديث ته ئي اونية دى دسند دحصول يا د نوكرئ، امرتي، عزت، جاه وجلال وى، بلكه داول نه للهية پيدا كړه، هم دغه وجه ده بعض علماء به تنقين كوو چي خوك هم كتاب تصنيف كوى نو يه اول كښي دى دا حديث ذكر كوي، علامه عيني رَحِمَهُ اللَّهُ نقل كوى: وقال ابن مهدي الحافظ من اراد ان يصنف كتابا فليبدا بهذا الحديث وقال لو صنفت كتابا لبدات في كل باب منه بهذا الحديث (عمدة القاري - ۱ ۵۷)

[ب] اشاره دينه كوي چه درس حديث نه ناسته يوخيرعمل دے. اوخيرعمل هله فائده وركوي چه اخلاص پكښې وى، نه چه ريا، خكه نبي كريم ﷺ فرمايي: من صلى يرائي فقد اشرك ومن صام يرائي فقد اشرك ومن تصدق يرائي فقد اشرك " (مشكاة المصابيح ۳ ۱۵٦)

[ج] اشاره دينه ده چه مقصد د عمل نه عمل قدري نه دے بلكه خلوص دنية دے خكه خو نبي كريم ﷺ فرمايي: عن ابى هريرة قال قال رسول الله ﷺ« انَّ اللّٰهَ لا يَنظُرُ الى صُوَرِكُمْ واموالِكُمْ وَلٰكِن يَنظُرُ الى قُلوبكم واعمالكم ». (صحيح مسلم - مشكوة ۸ ۱۱)

[۳] **نوم ددي حديث:** د دي حديث نوم دے ..حديث النية .. او .. حديث مهاجرام قيس.. واقعه ددى داسې ده چه يوه سخه وه به ام قيس مشهوره وه (وادعى ابن دحية ان اسمها قيلة فسمى مهاجرام قيس) (عمدة القاري ۱ ۷۳) هجرة ئي كړے وومدينې منورې ته، د مكې نه ديته يو مسلمان سړي د نكاح پيغام اوليږو ام قيس ورته دهجرة شرط وتكوو، دغه صحابي هجرة اكړونبي كريم ﷺ چه ده ددي ارادي به خبر شو نو دا وينا ئي وكړه.

[٤] **مقام هذالحديث:** دبعض به نيز دا حديث متواتر دے ليكن پـه دے خبره اعتراض كيدى شي چه متواتر هغه حديث ته وائي چه دنبي كريم ﷺ نه تراخري راوي پوري دومره راويانو نقل كړے وي چه اتفاق د هغو به كذبو باندې محال وي، او دا حديث خو د نبي ﷺ نه د امام صاحب د استاد پوري بو يو راوي نقل كړے دے، البته د امام صاحب استاد يحيي بن سعيد نه بيا ډيرو راويانو روايه كړے دے چه حد د كثرة نه رسيدلي دے او اتفاق ددغه راويانو به كذبو محال دے، ليكن به دغه كثرة سره دا حديث متواتر نه گرځي البته به زمره دمشهورو كښې داخل شوے دے، مشهور هغه حديث ته وائي چه ابتداء كښې بشان د احاد

وي خو روسته بيا په قرون مشهود لها بالخيركښې حد د تواتر ته رسيدلے وے خكه دقرون ثلاثه نه روسته هر يو خبر حد د شهرة يا تواتر ته رسيدلے. نو دا حديث غريب باعتبار الاول مشهور باعتبار الاخر دے، امام شافعي رَحِمَهُ اَللَّهُ دي حديث ته نصف العلم، امام احمد رَحِمَهُ اَللَّهُ ثلث العلم ويلےدے. وجه دا ده چه اعمال دوه قسمه دى ظاهرى باطنى، او نية دباطن سره تعلق ساتى، نو نصف العلم شو، يا دا چه اسلام قول، فعل او نية دے، او حديث الباب كښې نية ذكر دے نوثلث العلم شو،

[۵] **تحقيق وتشريح الحديث:** دا حديث په كتب الحديث كښې په مختلفو الفاظو سره نقل دے، يوروايۀ كښې ' انماالاعمال بالنيات ،دويم كښې ' انماالاعمال بالنية ، بعض كښې ' الاعمال بالنية ، بعض كښې ' العمل بالنية راځي، مقصد دټولو يو دے،

قوله! الاعمال بالنيات: حديث كښې داسې ونه ويل چه الافعال بالنيات، خكه يوعمل دے دويم فعل دے، دواړو كښې فرق دے، په عمل كښې دوام اواستمرار وى، نه په فعل كښې، هم دغه وجه ده چه قران كريم كښې ترغيب دعمل دے نه د فعل' وَاعْمَلُوا صَالِحًا اِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ [المؤمنون ۵۱] بيا يوه اراده ده بل نية دے دواړوكښې فرق دے، دارادى سره غرض نه وى، د نيت سره غرض وى، خلق وائي نيت مى كړے دے دفلان دپاره ، ديكښې مقصود هغه كار كول وى ديوغرض ديـاره، بخلاف دارادى ديكښې صرف صدور د مراد وى، غرض نه وى اكثر، هم دغه وجه ده چه په افعال دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ كښې د اراده استعمال شته چه ،،اراد الله،، خو د نيت استعمال نشته چه ،،نوى الله،، خكه افعال دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ معلل بالاغراض ندى، والله اعلم

معني دحديث مونږه داسې كوو چې [دارو مدارد اعمالو په نيتونو دے]

ددى معنى نه معلومه شوه چه متعلق دجار مجرور محذوف دے، اوس دي متعلق كښې اختلاف دے دري۳ مذهبه دي ،

[۱] امام شافعي رحمه الله فرمائي! متعلق دجار مجرور لفظ دصحة دے، تقدير داسې شو چه' ..صحة الاعمال بالنيات.. دليل داپيش كوي چه په متعلق د ظرف مستقركښې قانون دا دے، چه قرينه په تعين دفعل خاص حسّي وه نو مقدر به هم هغه فعل خاص حسّي را اباسو، لكه بسم الله دپاره دشروع په وخت كښې ..اِشرع.. دخوارك په وخت كښې ..اَاكل.. اوس دى حديث كښې قرينه دفعل خاص حسيي نشته نو ضرور به فعل عام شرعي مقدر كوو او فعل عام شرعي وجود شرعي دے، چه ،،صحة ،، لفظ دے، بنا پدي هر يو عمل به په نيت سره صحة او وجود شرعي لري، كه فرض وى كه واجب، كه سنت وى، كه نفل،

قليل عمل وي كه كثير، كه عبادة مقصوده وي كه غيرمقصوده وي، اوبغير دنيت نه به دغه عمل باطل وي. لهذا تفريعة عليه په اودس كښ نيت فرض شوځكه بغير ددينه اودس صحيح كيدے نشي ،

[٢] عندالاحناف مقدرضروري دے خو هغه لفظ دحكم دے ..اي حكم الاعمال بالنيات.. دغه حكم بيا دوه قسمه دے دنيوي، اخروي حكم دنيوي خوبالاتفاق مراد نه دے، نوحكم اخروي به مراد وي چه هغه ثواب دے، بالفاظ ديكر مقدر لفظ د «ثواب» دے، نتيجه دا شوه چه په اودس كښ نيت فرض ندے، لهذا كه اودس كښ چا نيت ونكړو اودس خو به ئي وشي باطل ندے البته ثواب د اودس به ورته ميلاو نشي ،

ترجيح: مذهب داحنافو راجح دے په څو وجوهو سره:

(١) شان ورود ددي حديث ددغه مسلک تائيد كوي. ځكه بره ذكر شو چه ديته حديث دمهاجر ام قيس ويلے شي نبي كريم ﷺ دغه صحابي پدي ملامته كړو چه ستانيت صحيح ندے ليكن دهجرة دبطلان په باره كښ ئي ورته هيڅ ونه ويل حالانكه دغه وخت كښ مديني منورې ته هجرة فرض وو اوس كه دغه هجرة منظور نه وے نو نبي ﷺ به هغه ته از سر نو د هجرة كولو حكم كړے وے، چونكه دغه هجرة منظور وو فرض اداء شو البته ثواب دهجرة ميلاونه شو، معلومه شوه چه ثواب الاعمال بالنيات دےځكه نبي ﷺ صرف د نية په باره كښ تنبيه وركړه اومكې مكرّمې ته ئي دوباره دهجرة دپاره واپس نه كړو.

(٢) دنيت تعريف دے (قصدالتقرّب وارادة فعل القربة) پدي تعريف كښ پخپله لفظ دثواب پروت دے، بنا پدي ثواب به هله ميلاويږي چه نيت وي اوصحيح وي او كه نيت نه وي ثواب به نه وي نومقدر هم لفظ دثواب دے.

(٣) كه صحة لفظ مقدر اومنو نو بيا تپوس كوو چې يوسړے جامه يابدن وغيره او وينځي او نيت ئي نه وي كړے دطهارة يا نفي دطهارة يي كړي وى بالاتفاق (عندالاحناف والشوافع) دغه جامه پاكه شوه سره ددينه چه نيت د پاكۍ خو ندے شوے يانفي شوے دے، دغه شان على سبيل الترقّي نورافعال او اعمال كه څوک إكړي بغير د نيت نه هغه هم موجوديږي او صحيح كيږي معلومه شوه صحّة ندے مقدر

اعتراض: بيا خو پكار ده چه مونځ، روژه، زكوة ، حج وغيره كښ دي هم نية فرض نه شي حالانكه هلته خو عندالاحناف هم نية فرض دے؟

جواب: عبادات دوه٢ قسمه دي! يو عبادات مقصوده چه دثواب دپاره كيږي اومقصود بالذات وي، دويم عبادات غير مقصوده چه في نفسه مقصود نه وي ليكن د بل عبادة وسيله وي، مونځ، روژه،

زکوة، حج دا عبادات مقصوده دي مقصود په بکښ ثواب دے، نو نیت بکښ ضروري دے ځکه که نیت ونشي ثواب نه ونشي او چه ثواب ونه شو نو دغه عبادة ختم شو ځکه دغه عبادة وو د ثواب دپاره بل طرف ته اودس دعبادات غیرمقصوده نه دے. که نیه پکښې ونه شو ثواب ونه شو خو غیر بري صحیح کړی چه مونځ دے مثلاً او که نیت وشو نو د غیر د صحة سره سره به دي اودس هم ثواب میلاوشو.

(۳) قول دملاعلي قاري رحمه الله فرمایي چه مقدر لفظ د اعتبار دے معنی «اعتبار او دار مدار د اعمالو په نیتونو دے» اوس اعتبار که په ضمن دصحة کښ متحقق کیږی لکه عبادات مقصوده کښې، اوکه به ضمن دکمال او ثواب کښ وي لکه عبادات غیر مقصوده کښې شو فیندفع الاشکال. موږه معني هم د ملا علي قاري رحمه الله دوینا مطابق کړي ده.

قوله! ولکل امریٔ مانوی: مقصد دا که یوسړي په عمل کښې نیت دثواب اکړو خو ترتب دثواب به پرې وشي او که نیت دثواب نه وو نو هغه عمل به وشی لیکن ثواب به پې ونشي

[تنبیه] خو دغه نیت چه اثر کوي دثواب نو په امور مباحه او امورجیزه کښ **لهذا** که یوسړي دگناه کار به سه نیت اکړي مثلاً غلا اکړي په دي نیت چه جمات پري ابد کړم یا خه بله گناه اکړي په نیت د ثواب باندې نو په دغه معاصي کښ سه نیت هیڅ قسم اثر د ثواب نه کوي بلکه معاصی په نیت دثواب کول گناه لره دوچند کوي.

قوله!فمن کانت هجرته الی الله مقصد دا چه د چا هجرة دالله دحکم منلو دپاره وي په طریقه درسول ﷺ نو هجرة یې مقبول دے، دغه کښ الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ نه او رسول ﷺ نه ورسیدو او که د چا هجرة ده دنیوي غرض دپاره وي یا د خزي سره دنکاح په غرض وي نو دغه به ورته میلا و شی لیکن دهجرة د ثواب نه محروم شو.

کتاب الایمان والاسلام والقدر والشفاعة

چندخبري په طور د اجمال وړاندي کولے شي - ربط، تشریح العنوان، تجزیه،

[۱] ربط:- مخکښ د اخلاص باره کښ حدیث ذکر شو محدثین ددیه روسته ایمانیات ذکر کوی، ځکه مدار دامور دینیه متعلق دے په خو اشیاء پوری، چه هغه پنځه۵ اعتقادات، عبادات، معاملات، مزاجر، او اداب دیکښی اعتقادات بیا په پنځه۵ قسمه دي الایمان بالله، وملائکته وکتبه، ورسله، والیوم الاخر، عبادات هم په پنځه۵ قسمه دي الصلاة، والزکاة، والصوم، والحج، والجهاد معاملات هم په پنځه۵ قسمه

ذی معروف دی، ومنکحت، ومحصنت، وفاحدت، ومشرکات مراجرهم به پنځه قسمه دی،
مزجرة قتل النفس، ومزجرة حد الزنا، ومزجرة هتك الستر، ومزجرة هتك العرض، ومزجرة قطع البیضه،
او هم به پنځه قسمه دی الاحراق، والنشیه الحسنه، والنسبیات، والمعسرات، والقصاند، فیکون
خمسة في كل خمسة ..سبحان الله

چونکه صرف نیت عقیده نه، څکه عبادات وغیره نعبیر دعقیدې دصحت نه عنت دی، نواصل مقدم کوی
بیا فروعات ذکر کوي،

[۲] **تشریح العنوان** عنوان کښې څلور الفاظ دی د هر یو لغوي، او اصطلاحي تشریح به کیږی

تشریح لغوی پدی عنوان کښې اول لفظ دایمان دے صیغه، معنی لغوی، او مناسبت دمعنی اصطلاحي
سره ضروری دی

ایمان صیغه دمصدر ده د باب افعال نه مجرد یې ..امن.. دے، متعدی نسوي یک مفعول ..امنته.. معنی
اعطیت له الامن علامه ابن منظور فرمائي فاما امنته المتعدي فهو ضد اخفته وفي التنزيل العزيز
وامنهم من خوف (لسان العرب ۱۳ ۲۱) که چه باب افعال نه واوری نو د باب افعال خاصه ده تعدیه نو
متعدي به شي بسوي مفعولین لکه امنت زيدا عمروا اي جعلت زيدا امنا من عمرو: دا مذهب
دعلامه ذي مخشری رح .. او علامه تفتازاني رح .. دے، بعض نور وائی چه مجرد یې لازمي دي او کله
چه باب افعال ترینه جوړ شو بیا متعدي بسوي یک مفعول کرځي، به معني دجعل او صیرورة سره
..امنته.. معني به شي جعل الغير امنا يا صيرورة الغيرامنا: بهرحال لغوي معني دايمان تصديق ده،
دمعنی اصطلاحي سره مناسبت ظاهر دے چه معنی اصطلاحي کښي هم تصديق شنه،

البته د صلاتو سره ددی معاني بدليږي چه صله کښ ..لام.. واقع شي معني يې تصديق مع الاذعان راځي
قال تعالي أَفَتَطْمَعُونَ ان يُؤْمِنُوا لَكُمْ (سورة البقرة) او که صله کښ ..با.. واقع شي نو د اقرار او اعتراف معني
ورکوي قال تعالى وَمَآ انتَ بِمُؤْمِنٍ لَّنَا وَلَوْ كُنَّا صَٰدِقِينَ (سُورَة يُوسُف) وغير ذلک

معنی اصطلاحي - اصطلاحي معنی دایمان کښ اختلاف دے پنځه۵ مذاهب دي

[۱] ایمان عبارة دے فقط د تصديق قلبي نه اقرارلساني اوعمل بالاركان ورلره شرائط دی، بنا په دي مذهب
ايمان بسيط دے اجزاء نه لري دا مذهب د امام اعظم ابوحنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ او ابو منصور ماتريدي رَحِمَهُ اللَّهُ او د
جمهور احنافو دے،

[۲] ایمان عبارة دے د تصدیق قلبي او اقرارلساني نه او عمل ورلره شرط دے، بنا په دي مذهب ایمان مرکب شو د جزئین نه. البته فرق په مینځ دجزئین کښې دا دے چه تصدیق داسې جزء دے لایحتمل سقوط صلا او اقرار بعض اوقاتو کښ سقوط قبلوي کمافي حالت الاکراه، او عمل لره په ایمان کښ دخله نشته. د مذهب دبعض حنفودے، لکه امام کرخي اوشمس الائمه سرخسي وغيره رَحِمَهُمُ اللهُ

[۳] ایمان فقط عبارة دے داقرار لساني نه تصدیق او عمل ته ضرورت نشته دا مذهب دکرامیه دے.

[٤] ایمان عبارة دے دتصدیق بالجنان، عمل بالارکان، اواقراربالّلسان نه بنا پدي مذهب ایمان مرکب دے د جزء ثلاثه نه د مذهب دجمهورو محدثینو، معتزله، او خوارج ودے

[٥] ایمان عبارة دے فقط دمعرفة نه بس چه الله او رسول اوپیزني ته مؤمن يي، نه تصدیق ته ضرورة شته، نه عمل نه، نه اقرار نه، دا مذهب دقدریه دے، والبسط في المطولات.

ضد دایمان کفر دے ددي تعریف هم مناسب ده چه وشي ځکه تعرف الاشياءباضدا دها. وبضدها تتبين الاشياء. کفر په لغة کښې په معنی د ستر او پټولو راځی، په زمیندار هم اطلاق د کافر کیږي، لانه يسترالبذر في الارض، کما قال الله تعالى كَمَثَلِ غَيْثٍ اعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهُ [الحديد : ۲۰]

اصطلاح کښې تكذيب النبي ﷺ في شيءمن ضروريات الدين: تفصیل داقسامو دکفر به انشاء الله روسته راشي.

الاسلام - دویم۲ په عنوان کښې لفظ داسلام دے لغة کښ انقیاد ته وائی اصطلاح کښ عندالبعض اسلام مرادف دایمان دے، او عندالبعض دا عبارة دے دعمل بالارکان نه هم دغه وجه ده چه دعلماء اختلاف دے په نسبت بين الايمان والاسلام کښې، بعض فرق کوي وائی ایمان دباطن سره تعلق ساتي تصدیق قلبي نه وائی، او اسلام دظاهرسره تعلق ساتي عمل بالارکان نه وائی، خو حق خبره دا ده چه په اعتبار د لغة سره دواړو کښ فرق شته لیکن مصداقاً ددي فرق نشته بلکه ماصدق علیه دمؤمن ماصدق علیه دمسلم دے او بالعکس او دا د نصوصو نه معلومیږی قال تعالى فَاَخْرَجْنَا مَن كَانَ فِيهَا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ۝ فَمَا وَجَدْنَافِيهَا غَيْرَ بَيْتٍ مِّنَ الْمُسْلِمِينَ ۝ (سُورَة الذَّارِيَاتِ)

اعتراض: قران نه خو فرق هم معلومیږي قال تعالى ۞قَالَتِ الْاَعْرَابُ ءَامَنَّا قُل لَّمْ تُؤْمِنُوا وَلَٰكِن قُولُوٓا اَسْلَمْنَا وَلَمَّا يَدْخُلِ الْاِيمَٰنُ فِي قُلُوبِكُمْ وَاِن تُطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُۥ لَا يَلِتْكُم مِّنْ اَعْمَٰلِكُمْ شَيْـًٔا اِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (سُورَة الحُجُرَات) فكيف التوفيق؟

جواب: ... دريم به عنوان معنى ... دے ... د ... مطلب ... کسي ... شوے دے چه ... مفيد ... غير مفيد دي ... تبارك وتعالى حبيب پيغمبر ... ووينو دوينه وبه چه ... به دے ... زورے چه تصديق ... دے ... مسئله ... ظاهري ... موکړے او بدي ... في ... اصطلاحي مومن ... کيږي.

القدر: ... عنوان کښې ... قدر ... کښې ... او قضاء حکم ... او اصطلاح کښې ما قدر الله في الازل من الامور الكائنة علامه ... مشهور ... والقدر القضاء والحكم وهو ما يقدره انه عزوجل من القضاء ويحكم به من الامور ([illegible] ٣٢)

الشفاعة: ... شفاعة ... دے ... به ... کښې راشي انشاء الله تعالى

[٣] تجزية: دې عنوان کښې ٢٩ حديث ذکر کړي ... ٢٥ ... مرفوع و ٤ موقوف دي چه دعنوان د مسئلو سره متعلق دي.

باب ماجاء في اركان الاسلام

حديث ١٦٢ ابوحنيفة عن علقمة عن يحيى بن يعمر قال بينا مع صاحب لى بمدينة رسول الله ﷺ اذ بصرنا بعبدالله بن عمرفقلت لصاحبي هل لک ان ناتيه فنساله عن القدرقال نعم فقلت دعنى حتى اكون انا الذى اساله فانى اعرف به منک قال فانتبينا الى عبد الله فقلت يا ابا عبد الرحمن انا نتقلب في هذه الارض فربما قدمنا البلدة بها قوم يقولون لا قدر فبما نرد عليهم قال ابلغهم منى انى منهم برئ ولوانى وجدت اعوانا لجاهدتهم ثم انشا يحدثنا قال بينما نحن مع رسول الله ﷺ ومعه رهط من اصحابه اذ اقبل علينا شاب جميل ابيض حسن اللمة طيب الريح عليه ثياب بيض فقال السلام عليک يارسول الله السلام عليكم قال فرددنا عليه رسول الله ﷺ ورددنا معه فقا ل ادنو يارسول الله ﷺ قال ادن فدنا دنوة او دنوتين ثم قام موقرا له ثم قال ادنو يارسول الله ﷺ فقال ادنه فدنا حتى الصق ركبته بركبة رسول الله ﷺ فقال اخبرنى عن الايمان قال ان تومن بالله وملائكته وكتبه ورسله ولقائه واليوم الاخر والقدر خيره وشره من الله فقال صدقت قال فعجبنا من تصديقه لرسول الله ﷺ وقوله صدقت كانه يعلم قال فاخبرنى عن شرائع الاسلام ماهى قال اقام الصلوة وايتاء الزكوة وحج البيت لمن استطاع اليه سبيلا وصوم رمضان

والاغتسال من الجنابة قال صدقت فعجبنا لقوله صدقت قال فاخبرنى عن الاحسان ماهو قال الاحسان ان تعمل لله كانک تراه فان لم تکن تراه فانه يراک قال فاذا فعلت ذلک فانا محسن قال نعم قال صدقت قال فاخبرنى عن الساعة متى هي قال ماالمسئول عنها باعلم من السائل ولكن لها شرائط فقال ان اللّٰه عِندَهُ عِلمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الغَيثَ وَيَعلَمُ مَا فِي الأَرحَامِ وَمَا تَدرِي نَفسٌ مَاذَا تَكسِبُ غَدًا وَمَا تَدرِي نَفسٌ بِايِّ اَرضٍ تَمُوتُ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ قال صدقت ثم انصرف ونحن نراه قال النبى ﷺ على بالرجل فقمنا في اثره فما ندرى اين توجه ولارأينا شيئا فذكرنا ذلک للنبى ﷺ فقال هذا جبرئيل عليه السلام اتاكم يعلمكم معالم دينكم والله ماأتانى بصورة الاوانا اعرفه فيها الا هذه الصورة .

چند خبرى اجمالاً قابل غور دي - تسمية هذا الحديث، مقام هذا الحديث، ترجمة عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنهُ تشريح وتحقيق هذا الحديث، الفوائد المستنبطة من هذا الحديث.

(١) **تسمية الحديث:** ددې حديث دوه حصې دي يوه موقوفه اوبله مرفوعه .. قال بينا مع صاحب لى بمدينة رسول الله ﷺ اذبصرنا ..الخ: دا هغه موقوفه حصه ده ددې علماء څه خاص نوم ندے بيان کړے اومرفوع حصه شروع کيږى.. قال بينما نحن مع رسول الله ﷺ ومعه رهط من اصحابه " نه، ددې مرفوع حصې نوم دے . **حديث جبريل عَلَيهِ السَّلَامُ** . د بعض احاديثو دپاره خاص خاص نومونه محدثينو ټاکلي دى چه دا ده دوې يوه اصطلاح ده.

(٢) **مقام هذا الحديث:** دبعض علماء په نيزدا حديث ام السنة دے ځکه دا په ډيرو علمى خبرو مشتمل دے (قاله القرطبي رَحِمَهُ اللهُ) اوقاضي عياض رحمه الله فرمايي دا حديث داحکام شرعيه په ټولو اقسامو مشتمل دے هغه که ايمانيات دي او که عبادات دي، عبادات ظاهره دي او که باطنه دي، اعمال دقلب دي او که د اعضاء دي، دى حديث کښ اخلاص ته هم اشاره ده اوتحفظ داعمالو ته هم ، وغيره وغيره.

(٣) **ترجمة عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنهُمَا** . کنيه ددې ده ابوعبدالرحمن نوم ېې عبدالله بن عمربن الخطاب العدوي دے دبعثت درسول ﷺ نه مخکښ پيدا شوے دے، بعض وائى چه دوحي دنزول نه يو کال مخکښ پيدا شوے. د پلار سره مسلمان شوے، او هجرة ېې ورسره کړے دے، د مور ېې نوم ېې زينب دے. مشهور به ابن عمر دے. بدر ته دماشوم والي په وجه نه وو حاضر شوے د"احد" په جنګ کښ د ١٤ کالو په عمر کښې شريک شو. مناقب ېې ډير دى، ده په باره کښ کتابونه ليکي كان من اهل الورع والزهد وشدة الاحتياط والتحري والتقوى في الفتوى. لزوما للسنة فرورا من البدعة ناصحا للامة افنى

في الاسلام ستين سنة وهو احدالمتكثرين.انتهى : دحجاج بن يوسف په زمانه کښې د ۷۳ هـ په اوائلـو کښې د حجاج په شرارت باندې وفات شوے دے، چه د زهرو اوبه ورکړي شوی نیزه باندې زخمی شـو او د هغې نه شهيد شو، چه دده په ښپه کښې دغـه نـيزه ننوتې وه، دې مسندکښې دده کل روايـات ۷۹ دي او داخبره محکښې خرګنده شوی ده چه دي مسند کښې د تولو نه زيات روايات دده نه نقل دي.

(٤)..**تشريح وتحقيق هذاالحديث** - دمشكل مواضعو تشريح به كيري دحديث موقوف حصه كښـي ..بينا.. لفظ راغلےدے، دا هغه مقام کښې عرب استعمالوي چه څه اورده واقعه وي او د هغې يوه حصه ذکـر کـول مقصود وي، پښتو کښې هم مونږه ددې استعمال کوو مثلا يوه اورده قصه څوک کـوي نـو واني ،، دې ميـنځ کښې دا چل اوشو،، يعنی خبره اورده ده خو دا يوه حصه بيانوؤم، بيا دغه صاحب د يحيي څوک دے په روايـة دمسـلم کښـی د دغـه تعـين شـوے! فَانْطَلَقْتُ انا وَحُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمنِ الْحِمْيَرِىُّ حَاجَيْنِ اَوْ مُعْتَمِرَيْنِ(صحيح مسلم - ۱ / ۲۸)

قوله! فانى اعرف يعني زمونږه خاي کښې دغه کسان ډيردی نود عقائدو معلومات يې ماته زيـات دی پـه نسبت ستا باندی.

قوله! لا قدر: اول طعن په تقدير کښې معبدجهنی کړے دے،چه تفصيل ددې به خپـل خـاي راروان دے ددی ډلې نوم قدريه دے، تسميه بالضدده.

قوله! قال ابلغهم: عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ددې خلقونه اول اعلان دبرائت کوي، معلومه شوه چه کله هم د يو منکر نه خبر شي اول به د هغه نه برائت کوي: قاضى عياض رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمائی! چه دا تکـره دحـديث دليل ددی خبری دے چه قدريه کافر دی، کوم چه دغه عقيده لری چه علم دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ به اشياء قبـل الوجود نشته، ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ بيا حديث شروع کړو! قال بينما دا هغه مرفوع حصه ده.

قوله! حسن اللمة : مسنون اورده ويښته دري[۳] قسمه دی ..**وفره**.. هغه اورده ويښته چـه د غوږونـو دنرمو سره برابر وی ..**لمه**.. بكسر اللام: بنا بر قول اصح هغه ويښته چه دغوږونو او اوګـو تـر مينځـه وی ..**جُمَه**.. هغه ويښته چه او ګوته رسيدلي وي او په منکبينو پراته وي.

قوله! السلام عليک يا رسول الله: مخامخ موجود هر انسان ته په ياحرف نداء سره اواز کول جائزدي، دغه شان به طور د حکاية غائب دپاره ددې استعمال هم جائزدے، ليکن غائب ته په عقيـده دحاضروناظرسره که ولي وي، که پيغمبر وي، بلکه هر ما سوا الله ته نداء کول حرام دي او شرک دے.

قوله! فدنا حتى الصق ركبته بركبة رسول الله ﷺ: دا كار د انتهايي توجه برابرولو دپاره وو، نورو رواياتو کښي ددې تفصيل بيان شوے دے.

قوله! اخبرني عن الايمان: ذکر د ايمان دے مراد نرينه «مؤمَن بـه» دے، يعنې اعمال. ځکه ايمان خو تصديق قلبي نه واني، او دا مذکور اشياء تعلق ساتي د ظاهر اعمالو سره، او د ايمان اطلاق په اعمالو اتفاق دے، دکتاب الله او سنة نه د دې ډير شواهد شته، کما قال تعالى: وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ [البقرة ١٤٣] په اتفاق د مفسرينو دلته مراد د ايمان نه صلوة دے، او احاديثو کښې بيشماره امثله ددې موجود دي.

قوله! قال فعجبنا من تصديقه: تعجب په دې وو چې دتپوس نه معلوميږي چه سړے ناپوهـه دے او د تصديق نه معلوميږي چه عالم دے، ځکه تپوس پس دجهل نه وي، اوتصديق پس دعلم نه وي.

قوله! قال فاخبرني عن شرائع الاسلام ماهي: دا دويم تپوس دے او داپه باره دارکان الاسلام کښی دے.

قوله! والاغتسال من الجنابة : تخصيص داغتسال کښی اهتمام دديته اشاره ده ځکه عربو کښي عام طور ماده دطهارة ډيره کمه وه، هم په دغه وجه په ابتدا د اسلام کښې پدې حکم کښی ډيره سختی وه قولا هم ارشاد اوشو: عَنْ اَبِي مَالِكِ الاَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلطُّهُوْرُ شَطْرُ الاِيْمَانِ (صحيح مسلم: ١٤٠٠) او فعلا هم بعض معمولی افعال داسی وو چه دهغي به وجه دغسل يا د اودس حکم وو، کله چه خلق دطهارة سره عادت شو نو دې حکم کښې بيا نرمي اوشوه.

قوله! قال فاخبرني عن الاحسان: دا دريم۳ تپوس دے، په جواب کښی نبي کريم ﷺ دوه۲ مرتبې داحسان ذکر کړي دي، اعلى مرتبه دا ده چه دالله تبارك وتعالى دپاره په داسې اندازه عمل اکړي لکه بالکل چه واجب حقيقي په خپلو سترګو وينې، خو دا مرتبه په انتهايي محنت سره حاصليږی د علی رضي الله عنه نه چا تپوس اکړو تا خپل رب ليدلے دے؟ هغه ورته اوويل چه زه د هغه چا عبادة نه کوم چه ما نه وي ليدلے، معلومه شوه على كرم الله وجهه ته دا مرتبه حاصله وه.

دويمه۲ ادني مرتبه ده چه حکم ازکم داسي اوشي چه دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَى حضور ستا ذهن کښی راشي، دا د عامو محدثينو رايي ده ليکن شاه انور شاه کشميري رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمايي چه داحسان هم دغه يوه مرتبه ده چه «ان تعبد الله کانک تراه.. او باقي شو «فان لم تکن تراه.. په دي سره د حصول ددغه مرتبې طريقه ذکر کوي چه په دې طريقه به دغه مرتبه حاصليږی .والله اعلم.

قوله! ما المسؤل عنها باعلم من السائل:امام قرطبي رَحِمَهُ اللهُ فرمائی' چه ددی سوال په کولـو سره مقصـود دجبرئیل عَلَيْهِ السَّلَامُ د خلقو خولی بندول وو ددی سوال نه، خکه قران حـدیث نـه معلومـه ده چه خلقـو د قیمة به دره کښي ډیر ربات سوالات به کول، چه کله دنبي کریم ﷺ دطرف نه داسی جواب مـیلاؤ شـو نـو خـق مـبوس شـو دمعرفة دتعین دوقت د دینه، په خـلاف دمخکښـی سـوالاتو چـه هـغی نـه مقصودمسـائل معلومول وو، خکه به هغی کښي پوره جواب ورکړے شو، بیاد «ماالمسؤل عنهاباعلم» جمـلي پـه اسـتعمال کښی به خائي د «لاادري اولا اعلم منک» نه ډیر فصاحت او بلاغـت پـروت دے، خکـه داجـواب بعینـه دجبرئیل عَلَيْهِ السَّلَامُ دے، کله چه ترینه عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ تپوس دقیامة دقیام کـړے وو، ده ورتـه هـم داجـواب ورکړے وو، علامه ابن حجر رَحِمَهُ اللهُ نقـل کـوی' قال الحمیدي في نوادره حدثنا سفیان حدثنا مالك بن مغول عن اسماعیل بن رجاء عن الشعبي قـال سال عیسی بن مریم جبریل عن الساعة فـال فانتفض باجنحته وقال ما المسئول عنها باعلم من السائل (فتح الباري ابن حجر١/ ١٢١)

ددي جواب مقصد یو دا کیدی شي چه ماته په ذریعه دوحي ددي علم ندے راکړے شوے، البته که تـا تـه علم وي هغه جدا خبره ده، دویم مقصد دا هم کیدیشي چه علم دسائل اومسؤل عنـه پدیکښـی مسـاوي دے، خکه اعلم اسم تفضیل دے چه نفس فعل په کښی وي سره دزیادت نه دلته هغه زیـادت نـفي شـوے دے، نو په نفس علم کښي دواړه یو شان شو هغه دا چه په علاماتو سره معلوم دے دواړو تـه، بیـا پـه نـورو احادیثو کښي دغه علامات ذکر دي چه' ان تلد الامة ربتها (الحدیث)

قوله! ان الله عنده علم الساعة : ددي اية نه نبي کریم ﷺ دلیل په دي خـبره ونیولـو چـه علـم دقیامـة دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ نه علاوه بل چا سره نشته بغیر د علاماتونه، بیا دي اية کښي امورخمسه ذکـر دي چـه دیتـه مغیبات خمسه وائي، د دی علم کل الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ انبیاء کرامو ته ندے ورکړے خکه دا تکویني امور دی، او انبیاء کرام دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ د تشریعی امورو تبلیغ کوی، نومناسب دا ده چه هغوی ته په تشریعی امـوروعلم حاصل وی،خکه خو الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ دمغیباتو په باره کښي فرمائي' وَعِندَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ [الانعام ٥٩]

بیا پدیکښي دری ۳۱ اشیاءداسی دي چه په هغي دهیڅ چا علم نشي راتلے نه بالواسطه او نه بلاواسطه هغـه علم دقیامة ، علم دحال د صبا، علم دخپل موت دوقت، باقي دوه خیزونه چه علم په نزول الغیـث، او علـم دما في الارحام، دا بلا واسطه او بلا سببه معلومول خاصه دباري تعالي ده، البته په اسبابو سره مخلوق هم په درجه د امکان کښي نه یقین کښي ددي معلومات کولے شي، او هغه هم ناقص نه کامل، خکه په اسـبابو سره

دا ټتي معلومولے چه باران به څوساسکی وي، کومه ساسکی به په کوم ځاي باندې لګی، وغیره دغـه شـان دماشوم نرماده خو به په التپراساؤن معلوم کړي، خوددغه ماشوم رزق، عمر، سعادة ، شقاؤة ، دنـګ والـے، چیت والے وعیره ټتي معلومولے.

یا مقصد ددی دا دے چه علم کلي ددی دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ سره دے، مخلوق ته ددی علـم حاصـل کیـدے شي خوعلم جزئي، اوعلم جزئي په حقیقة کښي علم ندے، بلکه اصالة علم علم کلي دے، وجه دا ده چه علـم جزئي سره ایصال شئ اخرته نشي۔ کیـدے، او داپـه مشـاهدی سره ثابـت ده، مـثلا مـونږه له کمپنیـانو واله مختلف اشیاء تیار وی اومونږه ئی پیژنوچه دا فلان شئ دے، لیکـن مـونږه هغـه بیـا جـوړولے نشـوځکه زمونږه علم کلي په دغه څیز ندے راغلے بلکه جزئي دے، او دا مفید ندے، که کلي علم مـونږه تـه حاصـل شو نو بیا مونږه نور جزئیات ددینه حاصلولے شویه دغه نوعه کښي،

قوله! علي بالرجل: د دغه کس په باره کښي صحابه په شک کښ وو چې داسړے مسـافر دے کـه ددي مدینې اوسیدونکے دے؟ اووجه دشک داوه چه داسړے دوي نه پیژاندو، نود مسافر خیـال یي پـري کولـو، خـو بـل طـرف تـه دا سـړے صـاف سـتره سـپینو جـامو کښ ووددا صـفایي ددی علامـه وو چـه دمـدینې اوسیدونکے دے، چونکه نبي ﷺ نه روسته معلومه شوه چه داجبریل عَلَيْهِ السَّلَامُ وو، صـحابه کراموتـه نـبي ﷺ ددي خبر ورکول غوښتل چه داجبریل عَلَيْهِ السَّلَامُ دے خو که سمدست نبی کریم ﷺ خـبر ورکـړے وے چه دا جبریل عَلَيْهِ السَّلَامُ وو، نو ممکنه وه چه دا دصحابه کراموپه ذهن کښي پوره نوے واقع شوی، نو اول نبي ﷺ دوي اوکړوُل او ارشاد یي اکړو ..علي بالرّجل.. کله چه صحابه کرام اووتل او معلوم شـوه چـه دسـړي خوځه نښه نشان هم نشته، بیا نبي ﷺ خبر ورکړو چه دا جبرنیل وو تاسو ته یي د دیـن غـټې غـټې خـبري خودلی، دصحابه کرامو یقین راغے چه دومره زر چه دے ورک شو واقعی دا فرشته کیدیشے،

الفوائدالمستنبطة من هذالحديث: ددي حدیث فوائد د سلو نه په بـره دي، چـه مطـولات کښـی مکتـوب دي، مونږه به دمقام په مناسبت څه بعض فوائد بیان کړو.

[۱] دحدیث نه دمجلس اداب معلوم شوچه اولا به په سلام سره بیا په الفاظو سره اجازت طلب کوي، بیاکـه څه خاص خبره وي نو د نیزدیکت اجازت به غواړي،

[۲] د حدیث نه د متعلم دناستی ادب هم معلوم شوچه دجبریل عَلَيْهِ السَّلَامُ غوندي ناسته به کوی په ادب اواحترام سره، پدی شان چه معلم ته به نیزدي کیني چه په خبره پوهیږی، ورنه بیا به دجائز نه ناجـائز او د ناروا نه روا جوړوی،

[٣] دا هم معلومه شوه چه فرشتي مختلف شکلونه اختیارولے شي، د فرشتي تعریف چه کتابونو کوم کړے دے چه' جسم نوری يتشكّل باشكال مختلفة : دهغي هم دغه مقصد دے.

[٤] دحديث نه فضيلت دمراقبي هم معلوم شو، خکه داحسان په جواب کښ ارشاد اوشو ..ان تعبد الله كانك تراه .. معلومه شوه چه احسان داسي يو جامع لفظ دے، چه ټولو انواعو د خير ته شامل دے، هغه كه اشغال دی که اذکار دی، (اذکار اوراد مسنونه ته وائی) چه دی سره ربط دخالق سره پيدا شي بيا دغه کس ته صاحب النسبة ويلے شي، لکه شاه صاحب فرمائي! فمن حصل له ربطٌ سوى الربط العام يقال له: صاحب النسبة . (فیض الباري ١/ ٢١٦) هم دغه مراقبه ده چه دی طرف ته حدیث کښي ترغيب دے.

[٥] دحديث نه فضيلت داخلاص هم معلوم شوچه ..انت محسن.. کښ ورته اشاره اوشوه خکه دمحسن معنی مونړه په نیکوکارسره کووخو شریعت کښ داحسان معني ده اخلاص قران کریم کښي چه دمؤمن صفت دمحسن راځي ! وَمَنْ اَحْسَنُ دِينًا مِمَّنْ اَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ وَاتَّبَعَ مِلَّةَ اِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَاتَّخَذَ اللّٰهُ اِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا [النساء ١٢٥] د دی هم دغه معنی ده ، .

[٦] دا هم معلومه شوه چه دیوعالم نه دیوي مسئلي په باره کښ تپوس وشي اوهغه ته جواب نه وي معلوم نو دے به مصداق ددی نه جوړيږی چه [ملا ان باشدکه چپ نه شود] بلکه دے به ..لاادری .. یا ددی مناسب الفاظ وائي، دده علم پدي نه داغدارکيږی، بلکه داد ده په تقوی اوورع دلالت کوی لکه د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ نه د ..دهر.. په باره کښ تپوس اوشو هغه جواب په لاادري سره ورکړو، دغه شان د امام مالک رحمہ اللہ نه دخلويښتو١٤٠ مسائلو په باره کښي تپوس شوے دے، دخلورو١٤ جواب يي ورکړو او د ٣٦ باره کښي ئې په ..لاادري.. سره جواب ورکړو، پدی لا ادری سره دا دواړه امامان چا دفقاهة اودعلم د دائرى نه ندی خارج کړی، حدیث الباب کښي هم پیغمبر ﷺ غوندي هستی فرمائي' (ماالمسؤل عنهاباعلم من السائل)

[٧] دا هم معلومه شوه چه یو شخص په یوه مسئله پوهه دے خومجلس کښ نورکسان داسي دی چه په دغه مسئله ندي پوهه، دي عالم دپاره دنورو د پوهه کولویه نیت سوال کول جايزدي، دیکښ هیڅ قباحت نشته، کوره جبريل عَلَيْهِ السَّلَامُ سره دپوهي نه (چه د تصدیق ددنه معلوميږی) بیاهم تپوس کوي، داد دی دپاره چه نور خلق پوهه شي خکه خوښي کريم ﷺ دهغه دراتلومقصد دابیان کړو(اتاكم يعلمكم معالم دينكم)

[٨] دحديث نه دا هم معلومه شوه چه نبي ﷺ غيب دان نه دے ځکه جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَامُ پي پدی شکل کښي ون ونه پيژندو.

[٩] معلومه شوه چه دنبي ﷺ سره دعلم وافر مقدار موجود وو، خو دا په ذريعه د وحي الهي وو، ځکه خو د قيامة د قيام په باره کښ دلاعلمئ اظهار کوي، چه دوحي په واسطه خبرشوے ندے، او د ځانه خو څه جواب ورکولے نشه،

[١٠] ددی واقعي په واقع کيدوسره دصحابه کرامو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ نشاط او رغبت نور هم زيات شو چه دا پيغمبر ﷺ واقعي د ځانه خبري نه کوی بلکه قران چه څه وپلي دی وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ ۝ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ ۝ (سُورَةُ النَّجْمِ) هغه بالکل رښتيادی. (تلک عشرة كاملة)

حديث ٢\١٣ ابوحنيفة عن حماد عن ابراهيم عن علقمة عن عبد الله بن مسعود قال جاء جبرئيل الى النبى ﷺ في صورة شاب عليه ثياب بياض فقال السلام عليك يارسول الله قال رسول الله ﷺ وعليک السلام فقال يارسول الله ادنو فقال ادنه فقال يارسول الله ماالايمان فقال الايمان بالله وملائكته وكتبه ورسله والقدرخيره وشره قال صدقت فعجبنا لقوله صدقت كانه يدرى ثم قال يارسول الله فما شرائع الاسلام قال رسول الله ﷺ اقام الصلوة وايتاء الزكوة وصوم رمضان وغسل الجنابة قال صدقت فعجبنا لقوله صدقت كانه يدرى ثم قال فما الاحسان قال ان تعمل لله كانک تراه فان لم تكن تراه فانه يراک قال صدقت قال فمتى قيام الساعة قال رسول الله ﷺ ما المسئول عنها باعلم من السائل فقفي فقال رسول الله ﷺ عليّ بالرجل فطلبنا فلم نرله اثرا فاخبرنا النبى ﷺ فقال ذلک جبرئيل عليه السلام جاء كم يعلمكم معالم دينكم.

مخکښې باب سره تعلق ساتي راوي دحديث بدل دے دهغه حالات بيا نولے شي:

ترجمة عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ:- شجره نسب يې دا ده: عبدالله بن مسعود بن غافر بن حبيب، جليل القدر فقيه او اعلم صحابي دے، دبدن نه ووړوکےليکن دعلم په لحاظ پوره، دده باره کښي عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ بعثه عمر بن الخطاب الى الكوفة . وولاه بيت المال. وكتب فيه الى اهله: " هو من النجباء. واثرتكم بعبد الله على نفسي. فاقتدوا به ". وقال: " هو كنيف ملئ علما وفقها. (معرفة الصحابة ي هيم ٤/ ١٧٦٦) (فضائل الصحابة لاحمد بن حنبل ـ ٢/ ٨٤٣) خادم الرسول ﷺ وو، صاحب الوساوة ، صاحب النعلين، صاحب الحصير، نبي كريم ﷺ دده په باره کښ فرمايي: رضيلت لامتي رضي لها بن ام عبد

(فضائل الصحابة ٢ / ٨٤٠) قديم الاسلام دے، شپږم نمبريـه اسـلام راوړونکوکښـي دے، دقرّاءمشـهورينونه دے، دنبي ﷺ په زمانه کښ جامع القران دے، دواړه هجرتونه يې کړي دي،دواړه قبلوتـه يې مـونځ کـړے، بدرحديبيه وغيره ته حاضرشوے دے، نبي ﷺ دجنت زيرے ورکړے، امام نووي رحمه الله پـه ،،التقريـب،، کښ د مسـروق دا قـول نقـل کـړے! وعن مسروق قـال: انتهى علم الصحابة الى ستة : عمر. وعلي. وابي. وزيد. وابي الدرداء. وابن مسعود. ثم انتهى علم الستة الى علي. وعبد الله. انتهى. (التقريب والتيسير لمعرفة سنن البشير النذير في اصول الحديث - ١ / ٢١) دغـه وجـه ده چـه اکثرمسـائل دفقـه حنفي دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه نقل دي علامه سنبلي دمثال پـه طوريـوه لطيفـه نقـل کـړی ده ! ..الفقه زرعه عبدالله بن مسعود وسقاه علقمة وحصده ابراهيم النخعي وداسه حماد وطحنه أبوحنيفة وعجنه ابويوسف وخبزه محمد رحمهم الله وسائر الناس ياكلون من خبزه .. انتهى

په ٣٢هـ کښ وفات شوے دے، او په جنة البقيع کښ مدفون دے، عثمان رضي الله عنه پري جنازه کړی ده پـه دي مسند کښي ترينه کل ٤٩ روايات نقل دي، او په دي کتاب کښي پـه اعتبـاردکثرة د روايـاتو سره دا پـه دويم٢ نمبر کښ دے.

باب ما جاء في انّ الاقرارشرط للايمان

حديث٤\٢ ابوحنيفة عن عطاء انّ رجلا من اصحاب النبى ﷺ حدثوه ان عبد الله بن رواحة كانت له راعية تتعاهد غنمه وانه امرها تتعاهد شاة فتعا هدتها حتى ثمنت الشاة واشتغلت الراعية ببعض الغنم فجاء الذنب فاختلس الشاة وقتلها فجاء عبد الله وفقد الشاة فاخبرته الراعية بامرها فلطمها ثم ندم على ذلک فذكرذلک لرسول الله ﷺ فعظم النبى ﷺ ذلک وقال ضربت وجه مؤمنة فقال سوداء لاعلم لها فارسل اليها النبى ﷺ فسالها اين الله فقالت في السماء قال فمن انا قالت رسول الله قال انها مؤمنة فاعتقها.

دي مسئله کښي اختلاف دے چه اقرارلساني په ايمان کښ څه حيثيت لری ؟ چند مذاهب دی :

(١) مرجيه وائي چه ايمان عبارت دے فقط دتصديق قلبي نـه اواقـرار باللسـان اوعمـل بـالا رکان تـه هـيڅ ضرورة نشته، نه شطرًا اونه شرطا.

(٢) قدريه وائی چه ايمان عبارت دے فقط داقرارلساني نه اوتصديق قلبي اوعمل ته هيڅ ضرورة نشته،

(۳) امام ابوحنیفة رحمه الله جمهوراحناف وائی چه ایمان عبارة دے فقط دتصدیق قلبی نه او اقرار لسانی ورلره شرط دے.

(٤) معتزله خوارج، اومحدثین وائی چه ایمان دپاره دری ۳ اجزاء دي تصدیق بالجنان، اقراربالِلسان، عمل بالارکان، البته معتزله اوخوارج اقرار او عمل کالتصدیق اجزاء وائي، اومحدثین یې کالتصدیق اجزاء نه گنړی په دي شان چه دادواړه بعض اوقاتوکښ سقوط قبلوي، په خلاف دتصدیق باندی چه دا لا یحتمل السقوط اصلا، د محدثینو او احنافو رایي تقریبایوه ده اختلاف لفظي سکاری، باب کښ غرض د مصنف علیه الرحمه رد دے په اوله ډله چه مرجیه دی داحنافودلیل حدیث الباب دے چه طریقه د استدلال روسته راځی.

قوله ! ان رجلا من اصحاب النبی ﷺ حدثوه: داسړے صحابي مجهول دے، په روایة کښی جهالة د راوي طعن في الحدیث دے خوهله چه دامجهول راوي غیر صحابي وی، خکه صحابه کل عدول دي دهغوجهالة بالاتفاق مضرندے په سند کښی.

قوله ! ان عبد الله بن رواحة : حدیث کښ واقعه دعبدالله بن رواحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ذکرده عبدالله بن رواحه بن ثعلبة بن امراالقیس الخزرجي، «امراالقیس» مشهور شاعر دے عبدالله بن رواحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم دنیکه پښان مایه ناز شاعر وو په ۸ ھ کښ په غزوة موته کښ دفتح مکه نه مخکښی شهید شوچه ددغه غزوه امارة هم ده کولو، دی مسندکښ دده نه یوروایة هم ندے نقل.

قوله !فقال سوداء:عبدالله بن رواحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عذرپیش کړوچه داخوحبشی کافره ده علم بالایمان نه لري نو که ما اوهله په مخ باندي نو خیر دے، خکه دایمان واله مخ وهل ندي پکار.

قوله ! این الله: ظاهرا اعتراض راځی چه نبی ﷺ ددغه زنانه نه دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَى په باره کښ تپوس اوکړو هغي دجهة جواب ورکړو او نبي کریم ﷺ دهغی تصدیق اوکړوحالانکه الله تَبَارَكَ وَتَعَالَى دجهاتونه منزه دے، قال تعالی ﴿وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ﴾ (سورة الحديد) وقال تعالی ﴿وَهُوَ ٱلَّذِي فِي ٱلسَّمَآءِ إِلَٰهٌ وَفِي ٱلْأَرْضِ إِلَٰهٌ وَهُوَ ٱلْحَكِيمُ ٱلْعَلِيمُ﴾ (سورة الزخرف)؟

جوابدیکښی دجهة سوال نشته نبی ﷺ داتپوس پدي بنیادکړے دے چه دا زنانه صرف دیو اله قائله ده که د ډیرو خکه مشرکینو الله تَبَارَكَ وَتَعَالَى منلو او د دی هم قائل وو چه په اسمان کښي دهغه سره شریک نشته، خو ددغه اله سره په زمکه کښ هغوي بیشماره الهه شریک کړي وو، دي زنانه چه دافول اوکړو

ددي مطلب توحيد دالله نابتول دي،چه خه صرف دهغه اله فانه يم چه خلق ئې په اسمان کښې يو منی، خکه خو نبي ﷺ دهغې تصديق اکړو چه داموٴمنه ده يعني موحده ده دويم۲ جواب دا هم کيدے شي چه بره ته نسبت کولو کښ مقصود ،،تعالی ،، او اوچت والے دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ مراد دے نه جهة نابتول.

قوله ! انها مؤمنة : معلومه شوه چه ايمان عبارة دے فقط دتصديق قلبي نه، او اقرار لساني ورله شرط دے، چه شرط فوت شي مشروط فوت کيږي، او هم دغه اقرارعلامه ظاهري دايمان ده نبي ﷺ ددغه زنا نه په اقرار باندې د ايمان دهغې شهادة ورکړو،

حديث نه دا هم معلومه شوه چه د اعمالو دپاره په ايمان کښې هيڅ قسم دخله نشته خکه خونبي کريم ﷺ ددغه زنا نه نه دصلوة صيام وغيره تپوس ونکړو، حاصل الکلام داشو! چه ديوسړی تصديق شته او اقرار باللسان کوي او علامه دتکذيب پکښې نشته، مثلا زناريي نه وی ترلے،سجده صنم ته نه لګوي، دقران کريم بي حرمتي نه کوی، وغيره دغه سړے مؤمن دے او که ديوسړی تصديق شته خو اقرار نه کوی دا اګر که فيما بينه وبين الله مؤمن دے، ليکن فيما بينه وبين الناس مؤمن نشي کيدلے، دده سره به معامله د اسلامي رسم رواج په مطابقت نشي کيدے، خکه نبي ﷺ ددغي زنانه نه اقرار واغستو.

قوله !فاعتقها: دا امردنبي کريم ﷺ استحبابي دے، چه په طوردکفاری دا ازاده کړه عبدالله بن رواحه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ هم دغه شان اکړه، دحديث نه دا هم معلومه شوه چه اسلام خومره دزنانه دحقوقو محافظ دے، چه ديوي شپنکۍ زنانه د يوے سپيری هم تپوس کيدے شي.

حديث۴۱۵ ابوحنيفة عن علقمة عن ابن بريدة عن ابيه قال كنا جلوسا عند رسول الله ﷺ فقال لاصحابه انهضوا بنا نعود جارنا اليهودیّ قال فدخل عليه فوجده في الموت فساله ثم قال اشهد ان لا اله الا الله وانى رسول الله فنظر الى ابيه فلم يكلمه ابوه فقال له النبى ﷺ اشهدان لا اله الا الله وانى رسول الله فنظر الى ابيه فقال ابوه اشهد له فقال الفتى اشهد ان لا اله الا الله وان محمدا رسول الله فقال النبى ﷺ الحمد لله الذى انقذ بى نسمة من النار وفي رواية (الحديث الخ)

حديث دمخکښ باب سره تعلق ساتی او احنافو دپاره دويم مستدل دے.

حالات راوي بريدة بن حصيب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دده پوره شجره نسب داسی ده: بريدة بن الحصيب بن عبد الله ابن الحارث بن الاعرج بن سعد بن رزاح بن عدي بن سهم بن مازن بن الحارث بن سلامان بن اسلم بن افصی. بعض وائی دده مخکښی نوم عامر وو، کنيه ئې ابوعبد الله، يا ابوسهل يا ابوساسان وه.

دبدرنه مخکښې مسلمان شوے، وائی چه نبي کريم ﷺ دهجرة په ورځ په «غنيم» نومی مقام کښې په ده تير شو، دے مسلمان شو، په خپل کلی کښې اوسيدلو بيا ئی هجرة اوکړومدينې منورې ته دبدر او احد نه روسته، بيا بصرې ته نقل شو بيا دبصري نه دغزا دپاره خراسان ته لاړوهم هلته کښې په مرْوَ مقام کښې په ٦٢هـ کښې په زمانه ديزيد بن معاويه کښې وفات شوے دے، وَهُوَ اٰخِرُ مَنْ مَاتَ مِنَ الصَّحَابَة بِخُرَاسَانَ سَنَة اثْنَتَيْنِ وَسِتِّيْنَ. (معرفة الصحابة لابي نعيم - ۱ / ۴۳۱) په دي مسندکښې دده کل ۲۸ روايات دي.

قوله ! فساله: نبي کريم ﷺ معلومه کړه چه دغه هلک حالت دغرغري ته نه دے رسيدلے ځکه دغه وخت ته چه څوک ورسيږی نه يې توبه منظوريږی اونه ايمان.

قوله !نسمة من النار: ذي روح جسم ته نسمه ويلے شي .دحديث نه مسئلة الباب معلومه شوه چه ايمان دپاره اقرار لساني شرط دے، ځکه يوروايۃ کښې دا هم شته چه دغه غلام دنبي کريم ﷺ خادم وو، چه نوم يې عبد القدوس يا عبدوس وو،چه دے خادم رسول ﷺ وو نوخامخابه دته ددي خبرو تصديق حاصل وؤ، ليکن دده په تصديق اکتفاء ونکړے شوه اواقرارترينه واغستے شو نبي ﷺ د خوشحالئ اظهار اکړو، بعض رواياتو کښې راځي چه نبي کريم ﷺ دغه ماشوم له غسل ورکړو، په کفن يې کړو، حنوط يې ورته ولګول، او جنازه يې پريې هم اکړه (مصنّفة عبدالرّزّاق)

قوله افنظر الی ابيه فلم يكلمه ابوه: په تپوس دشهادة دالوهية کښې دغه هلک پلارته نه کتل ځکه توحيد اتفاقي وو عندنا وعند اليهود ځکه الله تَبَارَكَوَتَعَالَىٰ نبی کريم ﷺ ته فرمايي! قُلْ يَـٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَـٰبِ تَعَالَوْا إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَآءٍۭ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِۦ شَيْـًٔا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّن دُونِ ٱللَّهِ ۚ فَإِن تَوَلَّوْا فَقُولُوا ٱشْهَدُوا بِأَنَّا مُسْلِمُونَ ۝٦٤ (سُوْرَة آلِ عِمْرَانَ) په تپوس دشهادة درسالة کښې يې وکتل ځکه چه يهودو دنبي ﷺ سره جګړه په رسالة کښې وه نودپلار دراي معلومولو دپاره يې نظر اکړو.

فوائده مستنبطه من هذا الحديث: حديث الباب نه مختلف مسائل معلوم شول چه من جمله دهغي نه دادي:

(۱) معلومه شوه چه دګاونډي دحقوقوخيال ساتل ضروري دي،دي باره کښې نور روايات هم په کثرت سره راغلي دي، يوحديث کښې دي چه ګاونډي درې ۳ قسمه دے، يو۱ کافرغيررشته دارده، دهغې صرف يو حق دګاونډتوب دے، دويم۲ مسلمان غير رشته داردهغه دوه حقه دي، دريم۳ مسلمان رشته دار د هغې درې حقه دي ،

(۲) معلومه شوه چه دبیمارپرسئ په وخت کښې به مریض ته دتسلّئ خبرې کوی اودحال تپوس به یې کوی، یوبل حدیث کښې راغلی دی چه بیمارته به دا الفاظ وائی! لاباس طهور انشاءالله.

(۳) دا هم معلومه شوه چه بیمارپرسئ ته به هغه خوک ځی چه دبیمارتسلي پرې کیږی لکه په نبي ﷺ ددغه غلام تسلّي کیده هرخوک به دهر چا بیمار پرسی نه کوي، دبعض کس په تپوس مریض ته بنه تکلیف سوا کیږی مثلاً د لرې نه یواجنبي خوک تپوس له راشی مریض دهغه دمیلمستیا سوچ کوي او تکلفات به کوي په دې سره به دهغه مرض نور سواشی لهذا قریبي رشته داریامخلص دوست دپاره بیمار پرسي پکار ده، او تپوس کونکے به ډیر مختصر وخت اخلي داسې نه چه لاړشي او بیا ناست وی، عام طور دیکښې ډیر غفلت کیږی،

(لطیفه) عبدالله بن مبارک رحمه الله یو ځل بیمار شوے وو یو سړے يې تپوس له راغلو، عبدالله بن مبارک رحمه الله ته تکلیف وو، بل طرف ته هغه سړي په خبرو سره ډیر په عذاب کړو عبدالله بن مبارک رحمه الله ورته تعریضا وویل! « چه څه خه شم خو د بعض خلقو د وجه ځما بیماري نوره سوا شی » هغه سړے بیا هم پوهه نشو، ابن مبارک رحمه الله ته وائی! چه دا دروازه پسې بنده کړه کنه، ابن مبارک رحمه الله ورته اوویل! چه بس ته یې بنده کړه کنه، هغه دکمرې دطرفه دروازه بندول شروع کړه عبدالله بن مبارک رحمه الله ورته اوویل! د بهر طرف نه یې بنده کړه، پدې طریقه یې هغه سړے بهرکړو. معلومه شوه چه هر خوک به بیمار پرسي نه کوي،

(٤) دا هم معلومه شوه چه یو نا بالغ کفر پیژني او پدې حالت کښې مړشي نو دته به عذاب ورکولے شی دکفر په وجه سره،

(۵) معلومه شوه چه د ماشوم مسلمانیدل صحیح دي او معتبر دي، ورنه نبي ﷺ به دومره کوشش نه کولے،

(٦) دا هم معلومه شوه چه کافراومشرک ته په نظر دحقارت سره کتل ندي پکار او نه په خپلو مجاهداتو، عباداتو باندې فخر پکاردے، ځکه اعتبار خاتمې لره دے،

(۷) معلومه شوه چه الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ دچا په ذریعه یوکس ته هدایت اکړي نو دفخر اوتکبر په ځایې ده لره پکارده چه شکریه اداء کړي اوالحمد لله او وائي،

(۸) دا هم معلومه شوه چه دمشرک، کافر، یهودی وغیره نه خدمت اغستل جایز دي.

(۹) معلومه شوه چه دماشوم نه خدمت اغستل هم جائز دی،

(۱۰) معلومه شوه چه دکافر اهل الذمه عیادة کول جائز دی خاص کر چه ګاونډی وی، دی سره محاسن د اسلام ښکاره شی، او تالف هم زیات شی، رغبت اسلام ته هم پیدا شی،

باب ماجاء في حكم ذراري المشركين

حديث ٥\١٦ ابوحنيفة عن عبدالرحمن بن هرمز الاعرج عن ابى هريرة ان رسول اللهﷺ قال كل مولود يولد على الفطرة فابواه يهودانه وينصرانه قيل فمن مات صغيرا يارسول الله قال الله اعلم بما كانوا عاملين.

حكم الاطفال:- اول حكم دمطلق نابالغو معلومول ضروري دي پس دهغي نه حكم د اطفال المشركين: تفصيل المقام دا دے چه نابالغ اولاد دوه۲ قسمه دي، اولاد المسلمين، اولاد الكفار، بيا حكم ددي هم دوه۲ قسمه دے، حكم دنيوی، حكم اخروي:

اطفال المسلمين خو بالاتفاق په دنيا کښې مسلمانان حسابيږی او اخرة کښې به جنة ته ځی، هرچه دي اطفال الكفار په اعتبارحكم دنيوی سره، نو دجمهورو مذهب دا دے چه دوي به دخيرال ابوين تابع وي، يعني كه ابوين يي مشركان وودوي به هم مشركان حساب وي، معامله به ورسره د مسلمانانو نه شي كيدے، كفن دفن به يي دمسلمانانو په رسم رواج نشي كيدے، جنازه به پري نه شي كېدی، د مسلمانانو په مقبره كښې به نشي دفن كولے، او كه مورو پلاركښې يي يوددين سماوي قائل وو، هغه كه يهودية دے، كه نصرانية دے نودغه بچے به دخيرال ابوين تابع وي، مثلا موريي هندوه ده او پلار يي يهودي دے، نو بچے به يي يهودي حسابيږی، ځكه كتابي دغيركتابی نه بهر حال بهتردے، او كه موريي كتابيه وه او پلار يي مسلمان وو [ځكه عكس صورة نشي كيدے] نو دغه طفل به مسلمان حسابيږی،

هرچه حكم اخروي دے داطفال الكفار. (يعنی چه اولاد الكفار په ماشوموالي كښې مړه شی نو چرته به ځی؟) ديكښې شديد اختلاف دےنهه۹ مذاهب دي، چه رجع يي اته۸ ته كيږی،

[۱] دا به جنتيان وی دليل! وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّىٰ نَبْعَثَ رَسُولًا ﴿١٥﴾ (سورة الاسراء) اوماشومان خو غير مكلف دي انبياء مكلفينو ته راځي.

[۲] دوي به برزخ كښې وی هغه طرف ته دوي دپاره څه نشته لكه حيوانات چه څنګه دمرګه پوري وي او برزخ كښې ختم شي .

[۳] دوي به اعراف كښې وي ځكه ددوي نيكئ اوبدئ دواړه مساوی دی چه نشته دے،

[٤] دوی به راپورته کړے شي او بیا به خاوري شي لکه حیوانات (بنابرتوجیه) به راپورته کړے شي او بیا به خاوري کړے شي دغه وخت به کفار ارمان اکړي، لکه قران فرمايي وَيَقُولُ ٱلْكَافِرُ يَـٰلَيْتَنِى كُنتُ تُرَٰبًا (سُورَة النَّبَا)

[٥] دوي به خادمان دجنّتيانو وي معلومه شوه چه جنة کښی به وي، ليکن دخول الى الجنّة ئي په حيثيت دخدمت شو،

[٦] دوئ نه به امتحان واغستے شي پديشان چه يوطرف ته اوراوبل طرف ته به نعم الهي کيخودے شي، بيا به الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ حکم اکړي چه اورته ننوځئ ځوک چه حکم تسليم کړي اوربه هغه ته بـردًا وسلامًا شي او بيا به جنّت کښي داخل شي، اوځوک چه خلاف اکړي نوجهنّم تـه بـه ځـی اوهـم دغـه حکـم داصحاب الفترة واله په باره کښی هم دے،

[٧] دوي به دمور او پلارسره جهنّم ته ځي وجه دا ده چه ايمان فطری لره هيڅ اعتبـار نشـته بلکـه مقبول عند الله ايمان اختياري قصدي دے چه په اراده ددغه کـس سره راوړے شي سـابقه بـاب واله روايـة ددي خلقو دليل وو چې ايمان فطری ددغه غلام دپاره ثابت وو ليکن نبی ﷺ کوشـش پـدي اکـړو چـه ايمان ارادي اختياری ثابت شي .

[٨] ددوي باره کښی علم دباری تعالي لره اعتبـارذے، دچا بـاره کښـی چـه علـم دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ دنيکئ ووهغه به جنّة ته ځي اودچا باره چه علم دبدئ وو جهنّم ته به ځي رجع ددي مذهب مابعد مذهب ته ده،

[٩] امام ابوحنيفة رحمه الله او امام مالک رحمه الله په باره د اطفال الکفارکښـی د توقـف قـول کـړے دے او دا مذهب راجح دے دليل ددوي دپاره حديث البـاب دے چـه ديکښـی حکـم دا دے! ،،الله اعلم بما کانوا عاملين،،

حالات راوی ابوهريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: دده په اصـل نـوم کښـی شـديد اخـتلاف دے پنځـه ديـرش\٣٥ اقـوال دی پکښي (العرف الشذي للكشميري - ١/ ٢٠) چه مشهور اقوال پکښي دادی : بعض وائی دده نـوم عبـدالرحمن بن صخر الدوسی دے (دوس بلدة من البلاد) بعض وائی عبدالله بن عائـذ، بعـض وائی سـکن بـن رزمـه بعض وائی عامر بن عبدالشّمس، دخيبريه کال باندې په٧ هـ کښی په اسـلام مشرّف شـوے دے، بيـا د نـبي کريم ﷺ سره يي تلازم اختيار کړو چه وافر مقدار دعلم يي ترينه حاصل کړو، اودمکـثرين في الحـديث نـه شمار کړے شو، دده کل روايات دنبي ﷺ نه ٥٣٧٤ دی،ده يوه وړه پيشوساتلي وه چه دهغي په وجه پـه ابوهريرة

باندې مشهور شو تول عمر يې ۷۰ کاله وو په ۵۹/۵۸/۵۷ھ کښې وفات شوے دے، مسند کښې دده کل روايات ۲۲ نقل دي.

قوله!يولد على الفطرة : مراد د فطرة نه دين او فطرة اسلامی دے، مقصد دا چه هر ماشوم چه پيدا شی نو د الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ د وجود، دتوحيد، اوصفاتو، افعالوقائل وي خو د مور او پلاردغلط تربيت په وجه هغه غيردينه شي، چه غلط ماحول کښې دهغه تربيت اکړے شي معلومه شوه چه دغلط ماحول اثرشته، ددی مقابل کښي د ښه ماحول به هم څه اثرضرورري،

قوله! قال الله اعلم بما كانوا عاملين: داجمله دتوقف دمذهب واله دليل دے

باب الحكم على قتال الناس حتى يقولوا لااله الا الله

حديث ٦١٧ ابوحنيفة عن ابى الزبيرعن جابران رسول الله ﷺ قال امرت ان اقاتل الناس حتى يقولوا لااله الا الله فاذا قالوها عصموا منى دماء هم واموالهم الابحقها وحسابهم على الله تبارك وتعالى.

مفهوم دترجمة الباب دحديث نه واضح دے اومسئله اتفاق ده،

حالات راوی جابر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: په دی نوم سره ډير صحابه کرام دي، دلته مراد جابربن سمرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دے، دده پوره نوم: جابر بن سمرة بن جنادة بن جندب بن حجير بن رباب بن حبيب بن سواءة بن عامر ، دے، دمورنوم ئی خالدة بنت ابی وقاص د سعدبن ابی وقاص خور ده، په ٧٦/٧٤ھ کښې کوفه کښې وفات شوے دے، په زمانه دعبد الملک بن مروان کښې چه والی دکوفې بشربن مروان وو، جنازه پرې عمرو بن حريث المخزومي کړی وه، (معرفة الصحابة ـ ٤ / ٤٦٣) دي مسند کښې کل ۲ روايته نقل دي.

قوله!الا بحقها: مراد د دينه حقوق ثلاثه دي چه دهغې په وجه قتل دمسلم جائز دے،

(الف) چه مسلمان مرتدشی العياذبالله (ب)چه محصن زناکړی (ج) چه يوکس مسلمان قصدا عمدا قتل کړي، پدې دريو۳ حالاتو کښې به په قانون شرعی سره مسلمان وژلے کيږی.

قوله! وحسابهم على الله تبارک وتعالى: مقصد دا چه دزړه حال يې الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ ته معلوم دے، داجمله اصل کښې ديو وهم ددفعيه دپاره ويلے شوی ده، هغه دا چه که يوسړے دځان دبچاؤ دپاره کلمه ووائی اوزړه کښې يې ايمان نه وي نو بيا به هم دده وينه محفوظه وی او دهغه سره به اسلامی رسم رواج کوو؟ جواب: او دغه سړے فيما بينه وبين الناس مسلمان دے، دده وينه محفوظه ده، دده سره به معامله دمسلمانانو کولے

شي، تر څو چه ترينه علامه د كفر نوي ظاهر شوى او نور دزړه حساب پي الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ ته حواله دے، او د دى تائيد قران هم كوي؛ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِذَا ضَرَبْتُمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَتَبَيَّنُوا۟ وَلَا تَقُولُوا۟ لِمَنْ أَلْقَىٰٓ إِلَيْكُمُ ٱلسَّلَـٰمَ لَسْتَ مُؤْمِنًا الاية (سُورَة النِّسَاءِ) دغه شان نبي كريمﷺ اسامة بن زيد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته اوفرمايل! افلا شققت عن قلبه حتى تعلم من اجل ذلك قالها ام لا من لك بلا اله الا الله يوم القيامة ». فما زال يقولها حتى وددت انى لم اسلم الا يومئذ. (سنن ابي داو د۔ محقق ۲ / ۳۴۸)

باب عدم تكفير اهل الكبائر من المؤمنين

حديث ۷۸ ابوحنيفة عن ابي الزبير قال قلت لجابر بن عبد الله ماكنتم تعدون الذنوب شركا قال لا قال ابو سعيد قلت يارسول الله هل في هذه الامة ذنب يبلغ الكفر قال لا الا الشرک بالله تعالى.

حكم مرتكب الكبيرة من المؤمنين:- مؤمن چه ارتكاب دكبيره اكري دهغي څه حكم دے؟ مسئله كښې اختلاف دے، درى ۳مذهبه دى :

[۱] خوارج وائى چه مرتكب دكبيرى دايمان نه خارج اوكفركښى داخل دے،

[۲] معتزله وائى چه دايمان نه خارج دے خو كفر كښى داخل ندے بلكه بين الكفر والايمان دے، دوى «منزله بين المنزلتين» ثابتوي ،

[۳] اهل السنة والجماعة واله فرمائى ! چه مرتكب الكبيرة مؤمن مسلمان دے، نه دايمان نه خارج دے، اونه كافر دے تر څو چه پرى علامه د كفر او تكذيب نه وي ښكاره شوى البته فاسق گناهكار دے.

دلائل:- خوارج خو ظواهر دنصوصويه دليل كښى پيش كوي؛ قال تعالي إِنَّا قَدْ أُوحِىَ إِلَيْنَآ أَنَّ ٱلْعَذَابَ عَلَىٰ مَن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿۴۸﴾ (سُورَة طه) طريقه داستدلال دا ده چه مرتكب دكبيرى بالاتفاق مستحق د عذاب دے، اودقران نه معلومه شوه چه عذاب خاص دے ترمكذّب اومتولّى پورى اومكذّب متولّى خو كافر دے اتفاقا لهذا مرتكب دكبيرى هم كافرشو، دويم دليل ئى ظاهرحديث دے، قال رسول الله ﷺ العهد الذي بيننا وبينهم الصلاة فمن تركها فقد كفر (سنن الترمذي - ۵ / ۱۳) اوس ترک دمونځ خو گناه كبيره ده او چا چه مونځ ترک كړو قصدا نو د حديث په رڼړا هغه كافر دے نو مرتكب دكبيرى هم كافر شو.

معتزله دليل پيش كوى چه مرتكب دگناه كبيره خوبالاتفاق فاسق دے، اوقران كښى الله رب العزت فرمايي: أَفَمَن كَانَ مُؤْمِنًا كَمَن كَانَ فَاسِقًا ۚ لَّا يَسْتَوُۥنَ ﴿۱۸﴾ (سُورَة الم السَّجْدَة) دي اية كښى فاسق مقابل

دمؤمن دے معلومه شوه چه مرتکب دکبیری چه فاسق دے مؤمن نشی کیدے دوجه دتقابل نه پدی ایة کښي، خو بل طرف ته کافرهم ندے ځکه کفر راځي په انکارسره او انکار خو د ده.نه متحقق شوے ندے، نو دا فاسق بین الکفر والایمان پاتې شو.

اهل السنة والجماعة دلیل پیش کوی دکتاب الله نه: په دی شان چه قتل دمؤمن گناه کبیره ده اتفاقا لیکن ددی گناه مرتکب ته قران مؤمن ویلے: قال تعالى ﴿وَإِن طَآئِفَتَانِ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ٱقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا﴾ الایة (سُورَة الحُجُرَاتِ) معلومه شوه چه ارتکاب دکبیره سره مؤمن دایمان نه نه خارجیږی، نو کفرکښی به څنگه داخل شي؟ (ددینه علاوه نوردلائل هم دکتاب الله نه شته خو دا په طور نمونه پیش کړے شو) دویم۲ دلیل حدیث الباب دے، چه تفصیل یې روسته راځي.

(تجزیه) پدی مسئله کښي خوارجو او معتزلو افراط تفریط کړے دے، په حق دمرتکب دکبیری کښی اهل السنة و الجماعة په صراط مستقیم دی.

جوابات داهل السنة والجماعة دطرف نه دفریقینو د دلائلونه جواب. دخوارجو داستدلال قرانی نه جواب دا دے چه دغه ایة کریمه کښی دتکذیب اوتولّي نه اعلی درجه ددغه مراد ده چه هغه کفردے، پاتی شو مرتکب دکبیری نو دده دپاره وجوب دعذاب نشته بلکه دے مستحق دعذاب دے، که الله تَبَارَكَ وَتَعَالَى اوغواړي عذاب به ورکړی خو معافي هم جائزده، دحدیث داستدلال نه جواب دا دے، چه دغه حکم تغلیظا دے او کلام خطابی دے، او کلام خطابي کښی تغلیظ وی، یامقصد دا دے چه چا استخفافا ترک دصلوٰة اوکړو نو دی صورت کښی بالاتفاق کافر دے، ځکه یوه وړه خبره د دین سپکه گڼړل کفر دے، پاتی لا مونځ؟،

د معتزلو داستدلال نه جواب دا دے چه دفسق اوکفر ظلم وغیره دپاره مراتب دی اعلی ادنی، لکه چه امام بخاری رحمه الله ابواب منعقدکړی دی فرمائی: باب كُفْرَانِ الْعَشِيرِ وَكُفْرٍ دُونَ كُفْرٍ باب فسق دون فسق، او بَاب ظُلْمٌ دُونَ ظُلْمٍ: ایة کریمه کښی اعلی مرتبه دفسق مراده ده چه کفردے، او د دی دایمان سره تقابل ظاهر دے.

قوله ! ما کنتم تعدّون الذنوب شرکا: داکلام استفهام انکاري دے، معنی دا چه تاسو عام گناهونه شرک شماری؟ هغه دنبی کریم ﷺ فرمان پیش کړوچه هغه فرمائي! چه او صرف شرک داسي گناه ده چه حد د کفرته رسیږی خو نور گناهونه نه، بیا شرک دوه قسمه دے، یو شرک جلّي دے چه داالله تَبَارَكَ وَتَعَالَى

سره په ذات یا صفاتو کښې شریک جوړ کړے شي، دویم ۲۱شرک خفي دے چه یوعمل دخان خودني او ریاء په طریقه اکړے شي ، نبي ﷺ فرمایي! ان یسیر الریاء شرك (مشكاة المصابيح : ۳ / ۱۵۵) حدیث الباب کښې مراد شرک جلي دے نه خفي .

قوله! قال ابوسعید قلت: چونکه دا روایة موقوف دے نو استشهاد په حدیث مرفوع پیش کوی،
حدیث ۸۱۹ ابوحنیفة عن عبدالکریم بن ابی المخارق عن طاؤس قال جاء رجل الی ابن عمر فساله فقال یا اباعبد الرحمن اریت الذین یکسرون اغلاقنا وینقبون بیوتنا ویغیرون علی امتعتنا اکفروا قال لا قال ارایت هؤلاء الذین یتاولون علینا ویسفکون دماء نا اکفروا قال لا حتی یجعلوا مع الله شیئا قال وانا انظر الی اصبع ابن عمروهو یحرکها ویقول سنة رسول الله ﷺ وهذا الحدیث رواه جماعة فرفعوه عن رسول الله ﷺ .

دا د ابن عمر رَضِوَاللّٰهُعَنْهُ موقوف روایة دے چه په مسئلة الباب کښې داهل السنة والجماعة دویم دلیل دے دحدیث نه،

[مسئلة تکفیر اهل القبلة] بیا پدي مسئله کښې نصوص متعارض دی چه اهل قبله ته به کافر وایو او کنه؟ (اهل قبله هغه چاته وائي چه زمونږه قبلی ته مخ کرخوي اومونځ کوی اوعقیده پری لری) دی باره کښې عامه مشهوره دا ده چه اهل قبله ته به کافرنه وایو اګر که ارتکاب دګناه کبیره اکړي، لکه دي حدیث الباب کښې چه قطع الطریق، سرقه وغیره کبیره ګناهونه دي لیکن ابن عمر رَضِوَاللّٰهُعَنْهُ ددی په وجه دکفرفتوی نه لګوي البته که دالله تَبَارَكَوَتَعَالَىٰ سره چا شریک جوړ کړو دغه کس بیا کافردے، خو دنورو نصوصو نه معلومیږی چه بعض اهل قبله ته کافر ویل جائز دی، نودي باره کښې ضابطه اوکلیه دا ده چه اهل قبله ته به کافرنه وایوخو هله چه اماره اوعلامه دکفرږی نه وي ښکاره شوی ورنه دے به بیا کافر ګنړلے شي، مثلاً زنار تړل، دقران بی حرمتي کول، په ګندګۍ کښې قران اچول، ښیې پری ایخودل، دبی حرمتۍ په نیت سوزول وغیره، داسي سړي ته به کافر وایو اګر که مونځ کوي روژه نیسي یانورنیک اعمال کوي، او هم دغه حکم دمبتدعینو دے، چه یوکس صرف بدعات کوی خو دغه بدعت یي حد د کفرته نه وي رسیدلے کافرنه دے، لیکن که دغه بدعات یي حد د کفر ته رسیدلی وو، مثلاً استمداد من الاموت جائزګڼړی وغیره، دا بیشکه کافر دے، دغه حکم دهغه فرقو دے چه خان ته مسلمانان وائي اوکوي بدعات لکه شیعه ګان چه خلافة د ابوبکر رَضِوَاللّٰهُعَنْهُ نه تسلیوی چه په اجماع د صحابه کرامو سره ثابت

دے، یا زمونږه قران او اذان نه مني، دغه هم کافر دے دغه حکم دمعتزله، جهمیه وغیره فرقودے. والله اعلم:

باب عدم خلود عصاة المؤمنين في النار

حديث ۹\۱۱۰ ابوحنيفة عن عبدالله بن حبيبه قال سمعت ابا الدرداء صاحب رسول الله ﷺ قال بينا انا رديف رسول الله ﷺ فقال يا ابا الدرداء من شهد ان لا اله الا الله واني رسول الله وجب ت له الجنة قلت وان زنى وان سرق قال فسكت عني ساعة ثم سار ساعة فقال من شهد ان لا اله الا الله واني رسول الله وجبت لَه الجنة قلت وان زنى وان سرق قال فسكت عن ساعة ثم سارساعة ثم قال من شهد ان لا اله الا الله واني رسول الله وجب ت له الجنة قال قلت وان زنى وان سرق قال وان زنى وان سرق وان رُغم انف ابي الدرداء قال فكاني انظرالى اصبع ابي الدرداء السبابة يومئ الى ارنبته.

دي مسئلة كښې هم اختلاف دے،چه عصاة المؤمنين به هميشه په اورکښې وي اوکنه يوځل نه يوځل به دجهنّم نه راوځي ؟ دوه مذهبه دي:

(۱) خوارج، معتزله وائي چه عصاة المؤمنين دپاره جهنم واجب دے،ځکه دغه يا کافردے(كما هومذهب الخوارج) يا مسلمان ندے(كماهومذهب المعتزلة) اوچه څوک يوځل جهنّم ته داخل شي نوهلته به هميشه وی چه هيڅ کله به هم نه راوځي ،

(۲) داهل السنّة والجماعة مذهب دا دے چه عصاة المؤمنين دګناهونو په وجه دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ په مشية سره جهنّم ته داخليدلے شي خو هميشه به په جهنم کښې نه وی، بلکه په يو وخت دوختونو کښې به خامخا د جهنم نه راوځي او جنة ته به ځي ددوی دپاره خلود نشته په جهنم کښې، او که د الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ خوښه شي نومعاف کولے ئې هم شي چه جهنم ته هدو داخل نشي.

دلائل الفريقين: دفريق اول دپاره عقلي، نقلي دليل شته: عقلي دليل دا دے چه دمرتکب دکبيره دپاره جهنم ته تګ خو تاسو تسليموئ، او جهنم مضرّة خالصه دائمه دے، او دا د قران نه هم معلوميږی الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ فرمايي په ادعيه دمؤمنانوکښې ' رَبَّنَآ اِنَّكَ مَن تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ اَخْزَيْتَهٗ وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ اَنصَارٍ ﴿۱۹۲﴾ (سُورَة آلِ عِمْرَانَ) اوجنة منفعة خالصه دائمه دے، اوس چه مضرّة خالصه دائمه ته څوک داخل شي نو منفعة خالصه دائمه ته څنګه ننوتل کيدے شي؟ داخواجتماع دمتضادين ده.

نئی دلائل یي دا دی: چه قتل دمؤمن گناه کبیره ده او سزا ئي قران ذکر کړي ده! وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُۥ جَهَنَّمُ خَٰلِدًا فِيهَا وَغَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُۥ وَأَعَدَّ لَهُۥ عَذَابًا عَظِيمًا ﴿٩٣﴾ (سُورَةُ النِّسَاء) دغه شان د سود خور په باره کښې راځي اوَمَنْ عَادَ فَأُولَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٧٥﴾ (سُورَةُ البَقَرَة) دغه شان د مطلق مسيئ په باره کښې راځي! بَلَىٰ مَن كَسَبَ سَيِّئَةً وَأَحَٰطَتْ بِهِۦ خَطِيٓـَٔتُهُۥ فَأُولَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٨١﴾ (سُورَةُ البَقَرَة)

داهل السنة والجماعة دپاره دلائل نورنصوص دی: یو دلیل دهغوی دا اية کریمه ده فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُۥ ﴿٧﴾ (سُورَةُ الزَّلْزَلَة) دلته د (ذَرَّةٍ خَيْرًا) نه مرادایمان دے، چاچه دغه خیرکړے وي ده ته به دهغې جزاءمیلاویږی (خاصکر عندکم خکه تاسو په وجوب علی الله قائل نی) اوس تپوس کوو چه دابدله اوجزاء به ده ته کوم ځائي میلاویږی ؟ دوه۲ صورته دی، یابه دغه جزاء په دنیا کښې ورکړے کیږی یا په اخرة کښې، که په دنیاء کښې شي نوداصحیح نه ده ځکه دنیا دارالعمل ده نه دارالجزاء، نودغه بدله به خامخا اخرة کښې میلاویږی، اوس یوصورة دا دے چه اول دغه کس جنة ته لاړشي او ثواب ورته میلاؤشي او بیا رابهر کړے شي جهنم ته داخل کړے شي، دویم۲ صورة ددی عکس دے، اول صورة په اجماع دامّة سره باطل دے، ځکه څوک چه یو ځل جنّة ته لاړشي دهغه وتل نشته، بل طرف ته جنة ته خصم منفعة خالصه دائمه ویلے نو مضرة ته بیا نشي داخیلدلے، معلومه شوه چه دغه کس ته دخیر عمل بدله داسې میلاویږی چه دجهنم نه به راؤځي دسزانه پس اوجنة ته به ننوځي. بل دلیل حدیث الباب دے: چه شهادة دالوهیة او رسالة چا سره وی نو اګر که مرتکب دکبیره وی، چه زنا سرقه ئی کړی وی خو جنت ته به ځي، او دا خبره تاکیدا نبی کریم ﷺ پیش کړه چه دحدیث د الفاظونه واضح ده،

اجوبه د دلائلونه: دعقلي دلیل نه جواب دا دے: چه جهنم مضرة خالصه کیدل درسرهٔ منو لیکن دائمه ندے دا قید در سره نه منو، او اية کریمه چه ،، مَن تُدْخِلِ ٱلنَّارَ فَقَدْ أَخْزَيْتَهُۥ ،،دے ددینه استدلال د دغه قانون دپاره نیول صحیح ندی، ځکه مراددینه دخول په طریقه دخلوددے، معني شوه: انک من تخلدالنارفقد اخزیته: یعنی قلب دے په معنی کښې، او دا سزا د کفارو ده او همیشه دپاره به شرمنده وی، او نفس دخول سبب د خزئ ندے. لکه چه دخصم زعم دے،

دنقلي دلائلو نه جواب دا دے! چه کوم نصوصوکښې د معاصي په سزا کښې خلود راغلے د نورو نصوصوسره دتعارض په وجه به ... نصوص ... کولې شو.

تاویلات یو دا چه ذکر د خلو د تغلیظا دے، دویم: دغه مقاماتوکښ ددغه ګناهونو حلال ګنړل مراد دی، او دې سره سرے کافر کیږی، دریم: مراد د خلود نه مکث طویل دے، لکه عرب وائی! «سجن مخلّد»، څلورم: په (وَاَحَاطَتْ بِهٖ خَطِيْٓـَٔتُهٗ) کښې مقصد د اية دا دے چه معاصي ئی دومره زيات اکړه چه طاعـ ئي په اندازه درّه هم ونکړو نومعني داية شوه (احاطت به خطيئته وشملته من كل جانب) او دامعنی په حق دکافرو کښې متصور کیدے شي نه دمؤمن کښې، والله اعلم

حالات راوي ابوالدرداء رضي الله عنه: - دده نوم: عويمر بن ثعلبة بن عامر بن زيد بن قيس بن امية بن مالك بن عامر بن عدي بن كعب بن الخزرج بن الحارث بن الخزرج ، الانصاري دے، دده په نوم کښې اختلاف دے، عويمر، عمير، عمرو، عامر، وغيره اقوال پکښې شته، دمور نوم ئی «محبة بنت واقد بن عمرو»ده، جليل القدر صحابی دے، دبعثت نه مخکښې تاجروو، بيا ئی عبادة تجارة دواړه شروع کړه، بيا صرف عابد شو، دده اوصاف دادی! كان فقيها عابدا عالما قارئا ، احد الاربعة الذين اوصى معاذ بن جبل اصحابه ان ياخذوا العلم عنهم ، (معرفة الصحابة ١٥ / ٩٢) په ٣٢ ﻫ کښې د عثمان رضي الله عنه د دور خلافة په اخرکښې په دمشق کښې وفات شوے دے ، پدی مسندکښې تری صرف دايو رواية نقل دے.

قوله! انا رديف رسول الله ﷺ : رکوب احدخلف الاخرته رديف وائي.

قوله! وان رُغم انف ابی الدرداء : دا خبره په وخت دکوشش کولو کښې کیږی، کله چه یوکس دیوی خبری د ثابتولو کوشش کوي نو هغه وائي! که څما پوزه ککړه شي هم خو داکاربه کوم دنبی کریم ﷺ هم مقصد دا دے، چه د ابوالدرداء کوشش دا دے چه داسړے جنّة ته داخل نشی، لیکن دغه کس به جنّة ته خامخا ځی، حدیث نه دترجمة الباب واله مسئله واضح معلوم شوه .

قوله!قال فکانی انظرالی اصبع ابي الدرداء السبابة یومئ الی ارنبته: داکلام د ابوالدرداء دشاګرد دے چه په وخت دبیان ددغه حدیث کښې د ابوالدرداء رضي الله عنه صفت ذکر کوي، حدیث نه دصحابه کرامو مینه اومحبت دنبي ﷺ سره هم معلوم شو، چه که یوه خبره به دهغه د زورنی دپاره هم ویلے شوی وه خو په حین دبیان دحدیث کښې به ئې دهغې په ویلو کښې شرم نه محسوسولو بلکه برملا به ئې دخلقو په مخ کښې دهغې وینا کوله. (داسې حدیث په رواية د ابوزر رضي الله عنه هم شته)

حدیث ١٠\١١١ ابوحنيفة عن الحارث عن ابی مسلم الخولانی قال لما نزل معاذ حمص اتاه رجل شاب فقال ماترى في رجل وصل الرحم وبر وصدق الحديث وادّ الامانة وعفّ بطنه وفرجه وعمل ما استطاع من خير غير انه شك في الله ورسوله قال انها تحبط ماكان معها من الاعمال قال فـ

ترى في رجل ركب المعاصى وسفک الدماء واستحل الفروج والاموال غير انه شهد انه لا اله الا الله وان محمدا عبده ورسوله مخلصا قال معاذ ارجوا واخاف عليه قال الفتى والله ان كانت هى التى احبطت ما معها من عمل ماتضرهذه ما عمل معها ثم انصرف فقال معاذ ما ازعم ان رجلا افقه من هذا.

دا حديث هم دسابقه باب سره متعلق دے۔حديث موقوف دے په معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پورى،

معاذ بن جبل بن اوس الانصارى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ امام الفقهاء في الصحابة كنيه ئى ابوعبد الرحمن دنبى كريم ﷺ رديف في السفر، نبي كريم ﷺ ده لره عامل اليمن مقرركړے وو، او تر اخره برقرار وو، داتلس\١٨ كاله په عمر كښې په اسلام مشرف شوے، عظيم صفاتو واله انسان وو، كان من افضل شباب الانصار حلما وحياء . وبذلا وسخاء . وضيء الوجه . اكحل العينين . براق الثنايا . جميلا وسيما . په ١٨ھ كښې په طاعون عمواس كښې چه په شام راغلے وو شهيد شوے دے په خلافة دعمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پدى مسندكښې ترينه يو حديث هم ندے نقل كړے شوے.

قوله|وصل الرحم وبر وصدق الحديث: مقصد د سائل دا وو چه يو كس تول طاعات كوي او دمنهياتو نه اجتناب كوي ليكن په توحيدكښې شكي دےنودده څه حكم دے؟

قوله|واستحل الفروج والاموال: ددى معني دانده چه حلال ګنړي.... بلكه ددي لازمي معنى به كوو چي زناګاني او غلاګانى كول دى،څكه ګناه حلال ګنړل خو كفر دے، بياد داسى كس دپاره نجات دكوم ځايي نه ثابت شو؟

قوله! قال معاذ ارجوا واخاف عليه: مقصد دا چه دنجات كاملة طمع څما شته چه دغه سړے الله جل شانه بغير د سزا نه جنّت ته داخل كړى او ګناهونه ورته معاف كړى، ليكن خوف ددي خبري مى پرى هم شته چه هسى نه چه څه وخت دپاره جهنّم ته لاړشي اوسزاوارشى، دامحل داستدلال دے دمعاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم دغه عقيده وه چه عصاة المؤمنين به مخلدفي النارنه وي.

قوله| قال انها تحبط ماكان معها من الاعمال: «انها» كښى «معها»كښي ضميرعقيدى ته راجع دے چه د فحوى نه معلوميږى او «ما» موصله نه مراد اعمال دى چه روسته « من» د هغى بيان كوى، معنى» دغه عقيده برباد وى هغه چه دى ددغه عقيدى سره دطاعاتو نه « يا «انها» كښى دغه ضمير ضمير قصه دے او «معها» كښى ضمير راجع دے هم دغه عقيدى ته،معني « قصه دا ده چه بربادوى دغه عقيده هغه چه دى دده سره داعمالو طاعاتو نه .

قوله! والله ان كانت هی التی احبطت ما معها من عمل ماتضر هذه ما عمل معها: كانت كښې ضمير شک ته راجع دے چه په معنی د..ريبة .. سره دے، ..مامعها.. كښې ماموصوله دے او ..من عمل.. ئې بيان دےاو ..معها.. كښې ضمير طاعاتوته راجع دے، ..ماتضر.. فعل ..هذه.. مفعول به د ..تضر.. اوضميرد ..هذه.. راجع دے كلمة الشهادة ته، ..ماعمل معها.. موصول صله فاعل د ..تضر.. مراد د..ماعمل .. نه معاصی اومنا كيردی ..تضر.. كښې ضميرمؤنث پدی وجه دے چه مراد طاعات دی د ..ما.. نه،

معنی داسی ده: ،،قسم په الله كه چرته دغه شک (چه په معني دريبة سره ہے) بربادوی هغه چه ددغه شک سره وی دعمل نه نوضرر نشي رسولے دغه شهادة ته چه دغه سرى عمل كړے دے ددغه شهادة سره د گناهونو نه،، مقصد دا چه څومره شک نقصاني شئ دے چه هرنيک عمل بربادوي ددی بالمقابل شهادة او اخلاص دومره قوی شئ دے چه هيڅ قسم بد عمل ورته ضررنشي رسولے.

قوله! ما ازعم ان رجلا افقه من هذا: معاذ رضی الله عنه اووېل چه په سنة پوهه ددی كس نه بل څوک نه ښكاري، دا هم محل داستدلال دےمعاذ رضی الله عنه ددغه سرى دخبرى تائيد اكړو،

باب ماجاء فی انّ الايمان يدرس

حديث ١١\١٢ حمادعن ابى حنيفة عن ابى مالک الاشجعی عن ربعي بن حراش عن حذيفة قال يدرس الاسلام كما يدرس وشي الثوب ولا يبقى شيخ كبير اوعجوز فانية يقولون قدكان قوم يقولون لا اله الا الله وهم لايقولون لا اله الا الله قال صلة بن زيد فما يغنى عنهم يا عبد الله لا اله الا الله وهم لايصومون ولايصلون ولا يحجون ولا يتصدقون قال ينجون بها من النار.

دا حديث دمسند حماد رحمه الله دے دسابقه باب اودباب هذا دواړه مسئل پكښې ذكر دي، چه اسلام زړېږى په معاصی سره چه طاعات پكښې نه كوی، خو بيا هم دغه زوړ اسلام د مسلمان دنجات في الجملة دپاره كافي او فائده مند دے،

حالات راوي حذيفة بن اليمان العبسى رضی الله عنه حذيفة بن عتبة بن ربيعة العبشمي صحابی ابن صحابی، پلار او څوی په يوځل اسلام قبول كړے دے، د بدر په جنگ كښې شريک كيدل خو مشركينو بند كړو، پلارئې په احد كښې شهيد شوے دے، صاحب سرّرسول الله ﷺ دے چونكه دته نبی ﷺ د راتلونكو فتنو او د منافقينو حالات ذكر كړي وو څكه ملقب شو پدی لقب سره، خپل نوم دده دپلار (چه يمان

دے) حُسَیل وو، یمان ورته ځکه وائي چه مرے ئي کړے وو، دخپل قوم نه مدینی ته لاړو د انصارو حلیف شو، نو په یمان مشهورشو، دیمن نه ماخوذدے،عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په مدائن باندی عامل مقرر کړے وو تر مرګه پوری عامل وو، دعثمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دشهادة نه بعد د علی رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د دور خلافة په ابتدائي دورکښی په مدائن کښی وفات شوے، هلته دفن شوے دے، پدی مسند کښی ترینه ۱۲روایات نقل دی .

قوله! يدرس الاسلام: مقصددینه بالکلیه نفي دقول بالکلمة نده، کلمه دتوحید خو به دغه شیخ یاعجوزه وائي خوتلفظ به ئی صحیح نشی کولے، او کارنامی ددوي به دهغه اسلافو په شان نوي، صرف داسلافو قصی به بیانوي، پدي مقصد بیانولوسره داخري جملي دحدیث سره تعارض دفع شو.

قوله! ينجون بها من النار: داجمله دسابقه باب سره متعلق ده چه عصاة المؤمنين بـه مخـلّد في النّارنـه وی یوځل نه یوځل به ورته نجات میلاویږی .

باب ماجاء في ذمّ الخوارج

حدیث۱۲\۱۲ ابوحنیفة والمسعرعن یزید قال کنت اری راي الخوارج فسالت بعض اصحاب النبی ﷺ فاخبرني ان النبی ﷺ قال بخلاف ماکنت اقول فانقذ ني الله تعالی به.

خوارج یوه ډله ده چه د علی رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په دورخلافة کښی پیداشوي ده، دکوفي په خوا کښی یومقام دے «حروری» (بالقصر) ئی نوم دے په هغی کښي پیدا شو، ځکه خودوی ته «حروریه» هم وائی، دمشر نوم ئی عبد الله بن الکواء (بفتح الكاف وتشديد الواو وبالمد) الیشکري دے، دا دعلي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د لښکرحصه وه خو بیا ئی دده په خلاف مهم شروع کړو د خپلي کم عقلئ او د ذهنی کجروئ په وجه، عقیده يي هم جداکړه اومنشوري ځانله دا وضع کړوچه «ان الحكم الا لله». صرف قران ئي راواغستو او د حدیث، اجماع، قیاس نه منکر شو، دعلي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د خلافة ئي تردید کولو، او کافر يي ګڼړلو، بدی ردی به ئي ورپسی ویل، او د ده فیصله ئي غلطه او د قران صریح خلاف وګڼړله، خو دا تصدیق د نبی کریم ﷺ پیشنګوئي دے چه علی رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته يي په یوه موقع کښي اوویل یاعلي (انّ فيك شبه ابن مريم) هغه داسي چه دعیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ په باره کښی خلق دری ۳ ډلی شوي وو.

[۱] یهود: چه هغوتفریط کړے وواوویل ئي دا ولد الزّنادے ، نعوذبالله

[۲] نصاری: چه هغوي افراط کړے ووعقیده ئي داوه چه عیسیؑ ابن الله دے،

[۲] مسلمانان چه په صراط مستقیم ئی اختیار کړے او وائی 'چه عیسی عَلَیْہِالسَّلَامْ رسول الله وکلمته القاها الي مريم، بعينه د على رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حق کښې هم خلق درې ۳۱ ډلې شوی وو.

[۱] تفریط واله چه خوارج دی، عقیده يې داوه چه على رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کافردے،

[۲] افراط واله چه روافض دی، عقیده ئي دا ده چه على رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اله دے د ..يا على مدد.. چغه اوباسی،

[۳] صراط مستقیم واله چه اهل السنّة والجماعة دی وائی چه نه کافردے نه اله دے، بلکه صحابی درسول كريم ﷺ اوخليفه رابع دمسلمانانو برحق دے،

بهرحال دادخوارجو منشوررو، بيا څيني ده علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په افهام تفهيم سره واپس په سمه لارشوخويولوئ جماعت د دوی بیاهم په خپل ضلالت بر قرار پاتي شو چه شميره ني ده زرګونو وه، حتى چه على رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ده دوی سره وجنګیدو او اکثرختم شو، روسته بيا دوی په خپل مينځ کښې اختلافات جوړ کړه او شل\۲۰ فرقوته تقسيم شوچه د دوی عقائد هم جدا شو، او هرى ډلى بلى ته دکفرنسبتونه شروع کړه، تفصيل دپاره (الفرق بين الفرق. ۱ / ٥٤)

قوله! اری راي الخوارج: مراد ددينه عقائدد دوئ دی، دنمونې په طوريوڅو بيانولے شی،

من عقائد الخوارج: چه مرتکب دکبیره کافردے، عصاة المؤمنين به مخلّد في النّار وی، داهل کبائر دپاره شفاعة نشته، بعض ېکښې وائی چه صلوات خمسه نشته صرف دوه مونځونه دی چه سحر اوماسخوتن دے، بعض غُلاة ېکښې وائی چه د نمسئ، وریری، خورځی سره نکاح جائزدے، بعض وائی سورة يوسف دقران حصه نده، بعض وائی چه! من قال لا اله الا الله فهو مؤمن عند الله ولو اعتقد الكفر بقلبه.

دغه شان! اكفار على وعثمان والحكمين واصحاب الجمل وكل من رضى بتحكيم الحكمين، اووجوب الخروج على الامام الجائر (الفرق بين الفرق. ۱ / ٥٥)

على رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ددی خلقويه خلاف جنګونه کړي دی، اودوي ني داسلام نه خارج ګڼړلی دي، حديث الباب کښې ددغه خلقو قباحت اوذم ذکر دے، مقصد الحديث واضح دے چه ددوي دعقيدو نه دخلقونفرت وو.

باب حكم الاستثناء في الايمان وذم القدرية

حديث ۱۲\۱٤ ابوحنيفة قال كنا مع علقمة وعطاء بن رباح فساله علقمة فقال له يا ابا محمد ان بلادنا قوم لا يثبتون لانفسهم الايمان ويكرهون ان يقولون انا مؤمنون بل يقولون انا مؤمنون

انشاء الله تعالى فقال ومالهم لا يقولون قال يقولون انا اذا اثبتنا لانفسنا الايمان جعلنا لانفسنا الجنة قال سبحان الله هذا من خدع الشيطان وحبانله الجا هم الى ان دفعوا اعظم منة الله تعالى عليهم وهوالاسلام وخالفوا سنة رسول الله ﷺ رايت اصحاب رسول الله ﷺ ورضى عنهم يثبتون الايمان لا نفسهم ويذكرون ذلک عن رسول الله ﷺ فقال لهم يقولون انا مؤمنون ولا يقولون انا من اهل الجنة فان الله تعالى لوعذب اهل سمواته واهل ارضه لعذبهم وهو غير ظالم لهم فقال له علقمة يا ابا محمد ان الله تعالى لوعذب الملائكة الذين لم يعصوه طرفة عين عذبهم وهو غير ظالم لهم قال نعم قال هذا عندنا عظيم فكيف نعرف هذا فقال له يا ابن اخى من ههنا ضل اهل القدر فاياک ان تقول بقولهم فانهم اعداء الله تعالى الرادون على الله تعالى اليس يقول الله تعالى لنبيه ﷺ قُلْ فَلِلّٰهِ الْحُجَّةُ الْبَالِغَةُ فَلَوْ شَاءَ لَهَدَاكُمْ اَجْمَعِيْنَ فقال له علقمة اشرح يا ابا محمد شرحا يذهب عن قلوبنا هذه الشبهة فقال اليس الله تبارک وتعالى دل اللانكة على تلک الطاعة والهمهم اياها وعزمهم عليها وجبرهم على ذلک قال نعم فقال وهذه نعم انعم الله تعالى بها عليهم قا ل نعم قال فلوطاليهم بشكرهذه النعم ماقدروا على ذلک وقصروا وكان له ان يعذبهم بتقصير الشكر وهوغير ظالم لهم.

په مسئلة الاستثناء في الايمان كښې اختلاف دے درى ۳۱ مذهبه دى :

[۱] كلابيه وائي چه استثناء في الايمان واجب ده، دليل ئي دا دے چه اصل ايمان هغه دے چه مامات عليه الانسان، اوددي پته قبل الموت نه لګي، نو انشاء الله واجب دے، دويم دليل داوائى چه ځان له ايمان ثابتول ځان لره جنت ثابتول دى، ځكه ايمان دا دے چه په اوامرو دالله تَبَارَكَ وَتَعَالٰى دى عمل وى او د نواهى نه ځان ساتى، اوددى سره جنت لازم دے، او دانده مكرتزكية النفس چه شريعة كښې ددينه منع راغلى ده قال تعالى! فَلَا تُزَكُّوا اَنْفُسَكُمْ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقٰى [النجم : ۳۲]

دى خلقويه خپل مذهب كښې بياغلوكړي ده اووائي چه په اعمال صالحه كښې به هم استثناء كوؤ، مثلا ,,صلّيت انشاءالله،، به وايو بيانوره غلوئي كړى ده په عامو افعالو او اعمالو كښې يې هم استثناء واجبه كړى ده وائى! ,,هذاثوب انشاءالله،، هذا حبل انشاءالله،، ځكه ممكنه ده چه الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰى دغه شئ بدل كړى، دے خلقو افراط كړے دے،

[۲] دله وائي استثناءفي الايمان حرا مه ده، دليل ئى دا دے چه استثناء في الايمان شک في الايمان دے، اوشک في الايمان حرام دے، دى خلقو تفريط كړے دے.

[٣] دله صراط مستقيم واله دی،چه اهل السنَة والجماعة دی. دوی وائي استثناء واجب هم نه ده اوحرامه هم نه ده بلکه کله حرامه ده کله جائزده، حرامه هغه وخت ده چه دشک في الحال په طوروي يا په بل غلط نيت سره وي، لکه حديث الباب ددی دليل دے، اوجوازيه هغه صورة کښې دے چه شک نوي بلکه دجائز وجوهو په بناوي چه تفصيل يي راځي.

دلائل: دجواز اوعدم حرمة دپاره يودليل داقول دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ دے! لقد صدق الله رسوله الرؤيا بالحق لتدخلن المسجد الحرام ان شاء الله امنين [الفتح : ٢٧]

دويم٢ دليل: قول دنبي ﷺ دے چه دمقبرى دعاء کښې به يي فرمايل وعن بريدة قال : كان رسول الله ﷺ يعلمهم اذا خرجوا الى المقابر : " السلام عليكم اهل الديار من المومنين والمسلمين وانا ان شاء الله بكم للاحقون نسال الله لنا ولكم العافية " . رواه مسلم (مشكاة المصابيح ١٠ · ٣٩٦) د اية كريمه په مضمون کښې [چه دخول دنبی کريم ﷺ اودصحابه کرامو دےمسجدحرام ته] او د حديث [چه موت دے اوعالم برزخ ته تګ دے] هيڅ قسم شک نشته اواستثناء شته، هم دغه قول دسلفو صالحين دے، والبسط في شرح العقيدة الطحاوية ـ ابن ابي العز ١ / ٣٥١)

ذكر الصورالجائزة للاستثناء: يو څو وجوه دی چه په هغه نيت انشاءالله او ويلے شي، نو نفس جائز ده هغه دا دی : (١) استثناءفي الايمان دپاره د تبرّک باسم الله وشی (٢) په نية د احالة الامور الى الله تعالى وشی (٣) يا په نيَة دشک في العاقبة والمال وشي (٤) ياللتبراة عن تزكية النفس والاعجاب بحاله په نية وشی (٥) يا دپاره د دفع الغرر (٦) يااستثناء في الايمان تاديبا اوشی ،، دی تولوصوروکښ استثناءجائزده ليکن بياهم ځان ساتل ترينه پکار دی دوجه دمشابهت د صورة دشک في الحال سره او شک في الايمان خو کفر دے نومشابهت ورسره هم ندے پکار، حديث الباب هم ددی غلط نية ترديد کوي، چه دغه کسانو،،انامؤمن،،ويل خه نه ګڼړل بلکه ،،انامؤمن ان شاءالله،، يي ويلو، دليل يي هم هغه د کلابيه فرقی نيولے چه ،،انامؤمن،، ويل خانله جنَة ثابتول دي عطاءبن ابي رباح رَحِمَهُ اللَّهُ په دوی شديد رد اکړو چه جنت په فضل الهي ميلاويږی، نه په اعمالوسره، البتَه دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ دفضل او رحم متوجه کولو دپاره سبب ايمان اوعمل صالح دے، حاصل دا چه د دخول الى الجنَة دپاره سبب قريب فضل الهي اوايمان اوعمل صالح ورلره سبب بعيد دی .

باب وجوب الايمان بالقدر

حديث ١٤/١٥ ابوحنيفة عن ابى الزّبير عن جابر ان سراقة قال يارسول الله حدثنا عن ديننا كانا ولدنا له انعمل بشيئ قد جرت به المقادير وجفت به الاقلام ام في شيئ نستقبل فيه العمل قال بل في شيئ قدجرت به المقادير وجفّت به الاقلام قال فيفم العمل قال اعملوا فكل ميسر لما خلق له فاما من اعطٰى وَاتّقٰى وصدّق بِالْحُسْنٰى فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرٰى وَامَّا مَنْ بَخِلَ وَاسْتَغْنٰى وَكَذَّبَ بِالْحُسْنٰى فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرٰى .

تقدير په لغة كښې اندازى ته وائي اواصطلاح كښې ،،ماقدرالله من الامور الكائنة في الازل..

پوهه شه چه افعال صادره من العباددوه٢ قسمه دي، يو:افعال غير اختياريه دى، لکه حرکة ديد دمرتعش يا حرکة دنبض اودزړه، دويم: افعال اختيارية دى،لکه ذهاب، قعود، قيام، اکل، شرب وغيره دى،په افعال اختياريه کښې په اعتبار د خلق او کسب سره دري٣ مذهبه دي.

[١] معتزله وائي چه بنده هم خالق دخپلوافعالودے هم کاسب، تعبير ددوي د عقيدى نه پدي الفاظوسره کيږى چه عبد مختار کل دے،

[٢] جبريه وائي چه عبد نه خالق دافعالودے نه کاسب، بلکه الله هم خالق د فعل العبددے هم کاسب، ددوي دعقيدى نه تعبير کيږى چه عبد مجبور محض دے،

[٣] مذهب داهل السنّة والجماعة دے، دوي په صراط مستقيم باندې دى،چه عبدنه مختار کل دے نه مجبور محض دے، بلکه بنده په مرتبه دخلق کښې مجبور دے، ځکه خالق الله تَبَارَكَ وَتَعَالىٰ دے، او په مرتبه دکسب کښې مختاردے، ددينه مونږه ته مسئله دتقدير واضح شوه او داوهم دذهن نه او وتلو چه الله تَبَارَكَ وَتَعَالىٰ هر څه په تقدير کښې ليکلي دى، او عبد يې کوى چونکه دتقديرنه خو خلاف کيدے نشي نوظاهرکښې خو دا جبر شو بيا الله تَبَارَكَ وَتَعَالىٰ سزا او اجر په څه ورکوي؟ جواب اوشو چه تقدير کښې ليکل خبرى په مرتبه دخلق کښې دى، او انسان لره په هغى کښې هيڅ قسم دخله او اختيارنشته، او دغه مدار د ثواب اوعقاب هم ندے، البته بنده لره بدله دکسب په وجه ميلاويږى او دغه مرتبه کښې انسان مختارکل دے، ددينه زياته چون چرا کول پدى مسئله کښې دحديث نه مخالفت دے دمشکوة شريف حديث دےاعن عائشة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قالت : سمعت رسول الله ﷺ يقول : " من تکلم في شيء من القدر سئل عنه يوم القيامة ومن لم يتکلم فيه لم يسال عنه "رواه ابن ماجه (مشکاة المصابيح - ١/ ٢٥) دغه شان بل حديث دےا

عن ابن مسعود قال: قال رسول الله ﷺ: "اذا ذكر القدر فامسكوا واذا ذكر اصحابي فامسكوا" رواه اللالكائي. (الصارم المسلول على شاتم الرسول: ٦/ ٦٩) حديث الباب په مسئله کښې واضح دے.

قوله! ان سراقة قال يارسول الله حدثنا عن ديننا: سراقة بن مالك بن جعشم بن مالك بن عمرو بن تيم بن مدلج بن مرة بن عبد مناة بن كنانة الكناني المدلجي. کنيه ئې ابو سفيان ده، دا هغه کس دے چه دهجرة په موقع په نبي کريم ﷺ پسې۔ شاته روان وو اواس ئې زمکې رانښکلے وو، بخاری شريف کښې تفصيل دے، ددي واقعې نه روسته ئې ابوجهل ته قصه بيان کړه!

ابا حكمٍ والله لو كنتَ شاهدا .:. لِامرِ جوادي اذ تسوخ قوائمه

علمتَ ولم تشكِك بان محمدا .:. رسول ببرهان فمن ذا يقاومه

(الاصابة في تمييز الصحابة - ٣ / ٤١)

بيا روسته مسلمان شوے دے دفتح مکه په موقع باندې، دعثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په دور خلافة کښې په ٢٤هـ کښې وفات شوے دے، سراقة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ درسول اکرم ﷺ نه د دين دحقيت په باره کښې تپوس کړے دے، چه مونږه کوم عمل کوو نو ابتداءً ئې کوو که نه هغه چه تقدير پرې جاري دے؟رسول الله ﷺ ورته او فرمائيل! چه تقدير پرې جارې دے اوليکلے شوی دی، سراقه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اووئيل!چه هرڅه لکلے شوی دی،بياعمل ته څه ضرورة دے؟ جواب ميلاؤ! شو چه عمل کوئ ځکه چه دتقدير علم خوچاته نشته اوهربنده په مرتبه دکسب کښې مختاردے هم هغه عمل ده ته اسان شوے دے چه کوم دده دپاره مقدر دے، خودده په اختيارباندې اوسزاء جزاءهم ددي مرتبې دکسب سره تعلق ساتی، مقصد د حديث داشوچه دتقديرسره جبرنه دے لازم ځکه تقدير په مرتبه دخلق کښې دے اوستاسوعمل په مرتبه دکسب کښې دے، چه په اختيار دعبدکښې دے، نبي ﷺ بيا اية کريمه دتائيد په طورتلاوت اوفرمايلو! فَأَمَّا مَنْ أَعْطَىٰ وَاتَّقَىٰ ﴿٥﴾ وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَىٰ ﴿٦﴾ فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرَىٰ ﴿٧﴾ (سُورَةُ اللَّيْلِ)

حديث ١٥\١٦ حمادعن ابی حنيفة عن عبد العزيز بن رُفيع عن مصعب عن سعد عن رسول الله ﷺ قال ما من نفس الا وقد كتب الله عزوجل مدخلها ومخرجها وما هى لاقية قيل ففيم العمل يارسول الله قال اعملوا فكل ميسر لما خلق له فمن كان من اهل الجنة يسَر لعمل اهل الجنة ومن كان من اهل النار يُسَر لعمل اهل النارقال الانصارى الان حق العمل.

حديث الباب کښې دغه سابقه مضمون بيان شوے دے:

حالات راوي سعدبن ابي وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: پوره نسب دده نبي کريم ﷺ بخپله بيان کړے کله چه ترينه ده

نیوس اکرو من انا یا رسول الله . فقال : « انت سعد بن مالك بن اهیب بن عبد مناف بن زهرة .فمن قال غير ذلك فعليه لعنة الله » (معرفة الصحابة - ۲ ۳۶) دمورنوم ئی ،،حمنه،، ده، په اسلام په هغه وخت کښی مشرف شوے چه په مخ ئی یو ویخته هم نه وو، بدر احد وغیره مشاهدوته حاضر شوے، د عشره مبشره نه دے، هغه شخصیت دے چه اول غشی ئي دالله په لارکښی ویشتلی دی،دعمر رضی الله عنه دشپرو کسانو جوړه شوی شوری رکن وو، مستجاب الدعوات وو، نبی ﷺ ورله داحد په غزا کښی خپل مور ویلار جمع کړي وو، چه (ارم یاسعد فداك ابی و امي) دمعاویه رضی الله عنه په دور خلافة کښی ۵۵ھ کښی په عقیق نومی مقام کښی وفات شوے دے، په ستونو خلقو راوړے وو، جنازه پری په مسجد نبوی ﷺ کښی مروان والی المدینه کړي وه، بیا ازواج مطهراتو پری په خپلو کمروکښي جنازه اکړه ، او په جنّة البقیع کښی دفن شوے دے، په عشره مبشره اومهاجرینو کښی اخرنے وفات شدَه صحابی دے، پدی کتاب کښی ددہ کل ۵۰ روایات نقل دی .

قوله قال الانصاری الان حق العمل: یعني مونږ ته اوس پته د امرد اعمالو دحکمة ولګیده ،

حدیث۱۶\۱۷ ابوحنیفة عن عبدالعزیز عن مصعب بن سعدبن ابی وقاص عن ابیه قال قال رسول الله ﷺ ما من نفس الاوقد کتب الله مدخلها ومخرجها وماهي لاقیة فقا ل رجل من الانصار ففیم العمل اذا یا رسول لله فقال اعملوا فکل میسرلما خلق له اما اهل الشقاوة فیسروا لعمل اهل الشقاوة واما اهل السعادة فیسروا لعمل اهل السعادة فقال الانصاری الان حق العمل وفي روایة (الحدیث الخ)

دا حدیث هم دسابقه باب سره متعلّق دے،مخکښی حدیث کښی ،،سعد،، مطلق ذکر وو دلته متعین شوه چه دغه ابن ابي وقاص دے، دغه شان مخکښی حدیث کښی دقیل قائل نه وو متعین دلته تعین اوشوچه دغه تپوس یوانصاري صحابی کړے وو،

باب ما جاء فی ذمّ القدریة

حدیث۱۷\۱۸ ابوحنیفة عن الهیثم عن نافع عن ابن عمر قال قال رسول الله ﷺ یجیئ قوم یقولون لاقدر ثم یخرجون منه الی الزندقة فاذا لقیتموهم فلا تسلموا علیهم وان مرضوا فلا تعودوهم وان ماتوا فلا تشیعوهم فانهم شیعة الدجال ومجوس هذه الامة حق علی الله ان یلحقهم بهم في النار.

مخکښی بعض روایاتو کښی ددي عنوان ذکراجمالي راغلے دے، دلته صراحة په دی دله باندي رددے،

ضروري ده چه اول ددی ډلی تعارف وشی،

القدرية: قدريه دمعتزلو يوه فرقه ده چه دتقدير نه انكاركوي، دوي بنده لره خالق د خپلو افعالو گنړي. وائي چه بنده دځان دپاره په خپله تقدير جوړوي، هغه كه تقدير دخير وی او كه دشروی، دليل دا وائی چه كه بنده خالق دخپلو افعالو نشی او جبره په تقدير نه شی نو دغه بنده ته ثواب او عذاب وركول بی انصافي ده، د صحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ په اول دور كښی چه دخلافه راشده او دامرة معوية رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دور وو دا حق نه وو. په دويم دور دصحابه كرامو كښی داخلق پيدا شوی دی په وخت دفتنة الزبير د اميه خاندان سره او اخرى عصر د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كښي، مشر د دوی معبد جهنی وو، چه دبصری اوسيدونكے وو، او اول بدعة په بصره كښی (چه دا هغه ښار دے چه په اسلام كښی اول جوړ شوے دے) ده رائج كړو، دغه ښار كښی بعض نو مسلم د هندوستان، ايران فارس، او د نورو بلادو نعجمه اباد وو چه دفلسفی سره اشنا وو، نو بدوی زر اثر وشو. معبد جهنی اول داير جاړ شروع كړو چه علم دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ په اشياء باندې قبل الوقوع نشته، او دغی ته انكار من التقدير وائی. عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په دغه وخت كښی ژوندے وو، ددی خلقو ترديد ئی اكړو چه دهغی ذكر د حديث جبرئيل په اول كښ (باب ماجاءفي اركان الاسلام) كښی نيرشوے دے، پدی طريقه خو د دوی زور ختم شو، اوس ددوئ دغه قول چه (علم دالله په اشياء قبل الوقوع نشته) ډير قبيح او شنيع قول وو، ځكه د دوی ملګری ډير جوړ نشو. دوي پسی روسته په نوم د (اصحاب العدل والتوحيد چه مشهور په ..معتزله.. دی) ډله پيدا شوه، چه دغه هم داخلق وو خو نوم ئی بدل كړو، مشرددوئ واصل بن عطاء وو. ده تعبير بدل كړو اوعقيده ئي دا جوړه كړه چه عبد موجد اومخترع دخپلو افعالو دے، لفظ دخلق به ئي نه استعمالولو خوكله چه دمعتزلوبل مشرابو على الجبائي راغلواو هغه اوكتل چه ددی تولو معنى او مقصد خويو دے نو په لفظ دخلق ئي زرورتيا اكړه اوعقيده ئي داجوړه كړه چه عبدخالق دخپلو افعالو دے، د دينه علاوه نورباطل عقائد هم ددوی شته چه په علم كلام كښی بيان دی. دا قدريه بيا شل فرقو ته تقسيم شوی دی. د هرى ډلی خاننه نوم اوعقيده ده چه هره يوه ډله دبلی ډلی تكفير كوی،تفصيل دپاره (الفرق بين الفرق - ۱/ ۹۳)

رسول كريم ددی خلقو متعلق ډيستن كوئي وركړی ده حديث الباب كښی د دغه ذكر دے او د دوی سره دتعلق دختمولو حكم ئی كړے دے.

قوله! ثم يخرجون منه الى الزندقة : تزندق دزندقة نـه ماخوذدے اصـل ددی ، ،زن دين،، دے، يعنی د بنځو دين چه دمحاوری معنی ئي داشوه ،،په دين کښې بيغيرته او ديوث،، اصـل فـارسی ده بيـاعربئ تـه نقل شوے دے، تزندق د کفر يو قسم دے،

اقسام الکفر: دکفر يو څو قسمونه دی، چې دهغې پيژندل هم مناسب دی،

کفرانکـاری: چه يو سړے ظاهرا باطنا دپيغمبرﷺ درسالة او داحکام شرعيه نه انکار کوی لکه ڪفر د عامو کفارو شو.

کفرجحودي چه دزړه نه يوسړے رسالة درسول ﷺ اودين حقه منی ليکن ظاهرا انکار کـوی، يعـنی زړه کښې تصديق او په ژبه انکارکوي، لکه ڪفر د فرعـون، ابوجهـل، وغـيره شـوقران ددوی پـه حـق کښـې فرمائي: وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا انفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِينَ ﴿١٤﴾ (سُورَةُ النَّمْلِ)

کفرعنـادی: چه ظاهرا باطنا دواړه په حقانيت درسول ﷺ اوشريعة قائل وی ليڪن اظهار داسلام اوبرائت دکفرنه نه کوي لکه ڪفر د ابوطالب چه په حقانيت درسولﷺاو ديـن اسـلام قائـل وو خـو برائـة عـن الکفر ئی نه کولو، حتی چه د نزع په حالت کښې ئي هم کلمه دشهادة نه ويله او دا اشعار ئی ويلی وو.

والله لن يصلوا اليك بجمعهم : حتى اوسد في التراب دفينا

دعوتني وزعمت انک ناصحی : ولقد صدقت ثم کنت امـينا

و لقـــد علمت بانّ دين محمّد: من خير اديان البرية دينا

ولو لا لملامة اوحذار مسبّة : لـو جدّتنی سمحا بذاک مبينا

بيا ئي اخرکښې اووئيل!اخترت النار على العار، اوبس روح يي اووتلو.

کفر نفاقی : چه د څه اغراضو د پاره اظهارد اسلام اکړی خو د زړه نه شريعة نه.منی يعنی پـه ژبـه لا اله الا الله وائي او په زړه کښې ئي غلاوی، لکه ڪفر د عبدالله بن ابئ بن سلول رئيس المنافقين يا نور منافقين.

کفرارتداد: چه د براءت عن الکفر او د شهادة بالاسلام کيدو نه پس يو کس اظهار دکفر او براءت عـن الاسلام اکړی، العياذ بالله سبحانه وتعالى

کفرزندقه: چه يو سړے ظاهرا باطنا دين اسلام اوشريعة مني، خان ته مسلمان وائي، پـه احکامـو داسـلام عمل هم کوي، دصوم وصلوة پابندوي، ليکن په ضروريات د دين کښې ديو امرضروری څـه داسي تاويـل

کوي چه د ظاهر د نصوصونه خلاف وی، لکه څنی خلق جنت او جهنم منی په نوم بانـدې، لیکـن تاویـل پکښی کوی، وائي جنّت عبارة دے دخوشحالئ نه اوجهنم عبارة دے دخفګان نه او في الحال نه جنة شته نه جهنم او د ادم او حوّا عَلَيۡهِمَاالسَّلَامُ د واقعی او د هغه په جنّة کښـی داوسـیدلو هـم تـاویلات بـارده مزیفـه کوی

قوله!فاذا لقیتموهم: ددغه خلقوسره دتعلّقاتوحکم ذکر کوي چـه مکمـل بـائیکاټ ورسره پکـار دے حتی چه نبی ﷺ دکفارو او یهود وعیادت کړے، لیـکن ددوي دعیادت نه ئی منع اوفرمایله

قوله! ومجوس هذه الامة : مجوس دکفارویوه ډله ده چه دوه الهه مني، یوخالق الخیر چه دیته یزدان وائي، او بل خالق الشرّ چه دیته اهرمن وائی، د مجوسو سره ددي خلقو تشبیه ځکه ورکړے شوه چه، مجوس په الهین قائل دی، معتزله هم دا عقیده لری چه خیر په بنده کښي الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ پیدا کوی، اودشرخالق پخپلـه بنـده دے، نودوی هم دوه خدایان تسلیم کړه چه خالق الخیر اوخالق الشر، شرح العقیدة الطحاویـه واله فرمـائي فمذهب المعتزلة : ان الخیر ینسب الی الله. والشر یخلقه ویفعله العبد. والله تَعالٰی لم یرد وقوعه. (شرح العقیدة الطحاویة للحوالي -۱ / ۱۲۴۰) یا تشبیه پدیکښي ده چه لکه ځنګه مجوس په تعدد د الهـه قائـل دی دغه شان قدریه هم دمتعدد الهه قول کوی، بلکه قدریه خو په کروړاؤ الهؤ قول کـوی، ځکـه هرعبـد دوی خالق ګڼړی دافعالو خپلو او عِباد خو په کروړاؤ دی نو ځکه دویته مجوس ددی امة او ویلـے شـو، او د دغه مجوسوسره به یِي حشروی .

حدیث ۱۸\۱۹ ابوحنیفة عن نافع عن ابن عمر قال قال رسول الله ﷺ یجيئ قوم یقولون لاقدر ثم یخرجون منه الی الزندقة فاذا لقیتموهم فلاتسلموا علیهم وان مرضوا فلا تعودوهم وان ماتو فلا تشهدوا جنانزهم فانهم شیعة الدجال ومجوس هذه الامة وحقا علی الله تعالی ان یلحقهم بهم في النار.

حدیث دسابقه باب سره تعلّق لری ذم دقدریه پکښی بیان دے.

قوله! وان ماتو فلا تشهدوا جنائزهم :یعنی که پدی عقیده بلا تاویله مړه شو نودوی کافر دی، چونکـه جنازه خو د کافر نه کیږی ځکه ممانعة اوشو دجنازی نه،

حدیث ۱۹\۲۰ ابوحنیفـة عـن سـالم عـن ابـن عمـر ان رسـول الله ﷺ قـال لعـن الله القدریـة وقـال مامن نبي بعثه الله تعالی قبلی الا حذّر امته منهم ولعنهم.

دا حدیث هم دسابقه باب سره تعلّق لری چه خیری شوی دی قدریه ته اوذم ئی بیان شوے،

قوله! لعن الله القدرية : يعني داخلق ملعون اومستحق دلعنة دی.

تشريح اللعنة وحكمه: واللَّعْنُ الابْعادُ والطَّرْد من الخير وقيل الطَّرْد والابعادُ من الله ومن الخلق (لسان العرب - ١٣ / ٣٨٧) «حكم اللعنة» دلعنة نه رسول كريم ﷺ په عامو اوقاتو كښې منع فرمايلي ده! عن عبد الله قال : قال رسول الله ﷺ و سلم ليس المؤمن بالطعان ولا اللعان ولا الفاحش (سنن الترمذي - ٤ / ٣٥٠) ليكن بعض اوقاتو كښې نبي كريم ﷺ په خپله هم په بعض خلقو لعنت كړے دے، د دينه معلومه شوه چه دلعن بعض صورتونه جائز او بعض نور ناجائز دي،

تفصيل المقام: (١) په يومعين ژوندی کس باندې لعنت وئيل نارودي عام د دينه كه دغه كس مسلمان وی او كه كافروي، په مؤمن لعن وئيل ظاهر ده چه ناروا دے، ځكه ايمان د الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ په رحمتونو كښې ا على رحمت دے په عبد بان دی،اودلعن معنى «تبعيد من رحمة الله» ده، نو ددی معني داشوه چه الله دی ستانه ايمان سلب كړی او داسې بد دعائي كول ناروا دی،او په كافر باندې لعنت ليكل ځكه ناروا ده چه دا خيرې اوبد دعائي ده دايمان نه نصيب كيدو ده او د مسلمان دشان سره دانه ښايي بلكه مؤمن به دكافر دايمان راوړو سوچ فكر او دعاء كوی،

(٢) په معين مړ كافرهغه وخت لعنت ليكل جائزدی چه دهغه خاتمه يقينا په كفر باندی شوے وی، لكه فرعون عليه اللعنة ، ابوجهل عليه اللعنة ، ابولهب عيله اللعنة ، وغيره.

(٣) په هغه زنده كافرلعن ويل هم حائزدی چه معلومه وی چه دهغه خاتمه به يقينا په كفر وي، لكه ابليس عليه اللعنة ، دجّال عليه اللعنة.

(٤) په ژوندئ دله هغه وخت لعن ويل جائزدی چه ديو معين شخص نوم پكښې وانخلے خو د ناكاره صفة ذكر ئې اكړی، لكه لعنة الله على الكذبين، ظالمين، قاتلين، وغيره: چونكه ددغه مذكوره دلے خاتمه په كفر يقيني وه ځكه دوي خپلې عقيدی ته غلطه نه ويله چه توبه ترينه اوباسی بلكه ځان ته ئې مسلمانان ويل، لكه دغه حال د مبتدعينو هم دے چه هغوی دغه بدعة ته ناروا وائي نه چه توبه ترينه اباسی، نو الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ د توبے توفيق هم نه وركوی.

حديث ١٢١/٢٠ ابوحنيفة عن علقمة عن ابن بريدة عن ابيه قال قال رسول الله ﷺ لعن الله القدرية وما من نبي ولارسول الا لعنهم ونهى امته عن الكلام معهم.

دا حديث هم سابقه باب سره متعلق دے چه مقصد ئې واضح دے.

حدیث۲۱\۱۲۲ ابوحنیفة عن نافع عن ابن عمر قال قال رسول الله ﷺ القدریة مجوس هذه الامة وهم شیعة الدجال.

مقصدالحدیث واضح دے، البته بطورتتمّه به مراتب دتقدیر ذکر کړو:

مراتب التقدیر: علماء متکلمینو دتقدیر د پاره شپږ۶\۱ مراتب بیان کړی دی،

[۱] **تقدیرازلی:** دا هغه تقدیر دے چه په علم الهی کښی دازل نه دے چه څه به کیږی او څه به پیداکوم؟ اصل تقدیرهم دغه دے دا نور اقسام ددی فروعات دی،

[۲] **تقدیرلوحی:** دا هغه تقدیر دے چه ازل کښی الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰی کومه ارادی او فیصلی کړي دی هغه پي لوح محفوظ ته نقل کړی دی.

[۳] **تقدیرالست:** دا هغه مرتبه دتقدیرده چه دادم عَلَيْهِ السَّلَام دشا نه الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰی انسانان د میږو په شکل پیدا کړه او د هغوي هرسره یي ولیکل دا تقدیر هم فرعه دقسم اول ده،

[٤] **تقدیرخلقی:** هغه مرتبه ده چه انسان د مور په خیته کښی وی اوساه پکښی واچولے شی نو یوه فرشته راواستولے شی او د دغه انسان هرڅه ولیکلے شی چه دده رزق، عمر، سعادة، شقاوة وغیره دی، دا هم فرعه دقسم اول ده.

[۵] **تقدیرحولی:** هغه مرتبه ده چه لیلة القدر کښی (کما قال تعالی! {حم وَالْكِتَابِ الْمُبِينِ اِنَّا اَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُبَارَكَةٍ اِنَّا كُنَّا مُنْذِرِينَ فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ اَمْرٍ حَكِيمٍ اَمرا مِنْ عِنْدِنا اِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ} یا لیلة النصف من شعبان (بنا بر قول ضعیف خکه علامه ابن قیم رَحِمَهُ اللهُ دیته دغلطئ نسبت کړے کماقال! ومن زعم انها لیلة النصف من شعبان فقد غلط) (شفاء العلیل في مسائل القضاء والقدر والحکمة والتعلیل - ۷ / ۱) فرشتو ته د هر انسان د ائینده یو کال واقعات تازه ولیکی، دا هم فرعه د اول ده،

[٦] **تقدیریومی:** چه فرشتوته دهري ورځی کارونه حواله شي دفلان سره به نن دا وکړئ دفلان سره دا وغیره کما قال تعالی! {كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِي شَاْنٍ} دا هم فرعه قسم اول ده. تفصیل دپاره شفاء العلیل في مسائل القضاء والقدر والحکمة والتعلیل لابن القیم رَحِمَهُ اللهُ. والله اعلم

باب الشــــفاعـــــة

حديث٢٢\٢٢ ابوحنيفة عن يزيدبن صهيب عن جابر بن عبد الله عن النبى ﷺ انه قال يخرج الله من النار من اهل الايمان بشفاعة محمد ﷺ قال يزيد فقلت ان الله تعالى يقول وماهم بخارجين منها قال جابر اقرا ماقبلها ان الذين كفروا انما هي في الكفار وفي رواية (الحديث الخ)

چند حبري په طريقى داجمال او بيا دهغى تفصيل وړاندى كولے شي، معنى لغوى دشفاعة ، اقسام، تعين د ما هو المراد ههنا، او په هغى كښې اختلاف.

[١] لغة كښې شفاعة په معنى د جفت سره راځى دشفع نه ماخوذ دے مقابل ددى وتر راځى قال تعالى ؛ وَٱلشَّفْعِ وَٱلْوَتْرِ ﴿٣﴾ (سُورَةُ الفَجْرِ) مصطلح شفاعة كښې هم شفيع مشفوع لره دخان سره يوځائي كوي او د ځان غوندې ازادى وركړه غواړى نو د هغه سره جفت شي .

[٢] اقسام: شفاعة اولا په دوه٢ قسمه دے: «دنيوى، اخروى » بيا شفاعة دنيوى په دوه٢ قسمه دے: «حسنه، سيئه» دواړه قران مجيد ذكر كړى دى قال تعالى؛ مَّن يَشْفَعْ شَفَٰعَةً حَسَنَةً يَكُن لَّهُۥ نَصِيبٌ مِّنْهَا ۖ وَمَن يَشْفَعْ شَفَٰعَةً سَيِّئَةً يَكُن لَّهُۥ كِفْلٌ مِّنْهَا ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ مُّقِيتًا ﴿٨٥﴾ (سُورَةُ النِّسَاءِ) او حديث كښې هم دشفاعة حسنه ذكر شته؛ عن ابي موسى الاشعري : عن النبي ﷺ قال اشفعوا ولتؤجروا وليقض الله على لسان نبيه ما شاء (سنن الترمذي : ٥ / ٤٢) داشفاعة اتفاق دے.

[٣] **تعين دماهوالمرادههنا:** دلته شفاعة اخروى مراد دےنه دنيوى ځكه هغه اتفاق دے،

[٤] **اختلاف:** دشفاعة اخروى په ثبوت عدم ثبوت كښې درى ٣ مذاهب دى

[١] مشركين: دوئى دشفاعة قهرى قائل دى،چه زمونږه الهه به په الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ په زوره مونږه بخى (معاذالله) قران كښې د دوى داوينا ذكرده اورد پرى شوے دے قال تعالى: وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ هَٰٓؤُلَآءِ شُفَعَٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِ ۚ الاية ﴿١٨﴾ (سُورَةُ يُونُسَ) داقسم شفاعة بالاتفاق مردود دے.

[٢] معتزله دشفاعة اخرويه نه انكار كوى صرف په شفاعة لرفع الدرجات في الجنّة قائل دى نور اقسام د شفاعة نه مني،

[٣] اهل السنّة والجماعة كل اقسام د شفاعة مني .هغه اقسام دادى :

[۱] **شفاعة عظمی**: دا هغه شفاعة دے چه ددی په وجه به الله تبارك وتعالیٰ په محشر کښې حساب شروع کړی کمافي الحديث الطويل: (سنن الترمذي - ٤/ ٦٢١) باب ما جاء في الشفاعة : په روایة د ابوهریره رضي الله عنه باندی،

[۲] **شفاعة التعجيل**: دا هغه شفاعة دے چه ددی په وجه به دامّة دنبی ﷺ سره د ټولونه مخکښې حسب شروع شی اوجنّة ته به هم اول داخل شی، دا دواړه قسمه شفاعة دنبی کریم ﷺ خصوصية دے.

[۳] **شفاعة لدخول الجنة اولا**: دا شفاعة دهغه چا چه فیصله یې ددخول الی النار شوی وی لیکن بغیر د دخول الی النار نه په شفاعة سره ئې دجنّت فیصله اوشی، داقسم شفاعة انبیاء، اولیاء، علماء، شهداء، حفاظ ټول کولے شی.

[٤] **شفاعة لتخفيف العذاب**: لکه شفاعة درسول ﷺ دخپل تره ابوطالب دپاره کمافي الحديث سَمِعْتُ الْعَبَّاسَ يَقُولُ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ اِنَّ اَبَا طَالِبٍ كَانَ يَحُوطُكَ وَيَنْصُرُ لَكَ فَهَلْ نَفَعَهُ ذٰلِكَ قَالَ نَعَمْ وَجَدْتُهُ فِي غَمَرَاتٍ(۲) مِنَ النَّارِ فَاَخْرَجْتُهُ اِلٰى ضَحْضَاحٍ (۳) (صحیح مسلم ـ مشکول ۱ / ۱۳۵)

اعتراض: د نص نه خوعدم نفع دشفاعة معلومیږی په حق دکفاروکښې قال تعالیٰ: فَمَا تَنفَعُهُمْ شَفَٰعَةُ ٱلشَّٰفِعِينَ ﴿٤٨﴾ (سورة المدثر)

جواب: مراددنفع نه نفع کامله ده چه خروج من النار دے نه چه نفع في الجمله.

[٥] **شفاعة لدخول الجنة بغیرحساب**: د یو قوم او یوې ډلې دپاره به شفاعة وشی چه بې حسابه جنّت ته داخل شی.

[٦] **شفاعة للاجازة**: داجازت د دخول الی الجنّة د عامو جنتیانودپاره پس دحساب کتاب نه.

[۷] **شفاعة لاهل الكبائر**: دا شفاعة د اهل الكبائرمن المؤمنين دپاره دے دخروج عن النارنه.

[۸] **شفاعة لرفع الدرجات**: د مؤمنانو دپاره یوه درجه په جنت کښې ثابته وي په سفارش سره به دهغه درجه اوچته شی، معتزله صرف دا اخری قسم منی د نورو نه انکار کوی ،

دلائل الفريقين: دمعتزلو دپاره عقلی نقلی دواړه قسمه دلائل شته: دلیل عقلی ئې دا دے! دغه وړ اقسام دشفاعة که ثابت شی نو عدل او انصاف دباري تعالی به باطل شی، خکه مرتکب دکبیری که دجهنم نه

---

(۲) أی المواضع التي تكثر فيها النار (لسان العرب ٥ / ٢٩)

(۳) والضحضاح في الأصل ما رق من الماء على وجه الأرض ما يبلغ الكعبين واستعاره للنار (لسان العرب ٢ / ٥٢٤)

بچ شي یادجهنم نه راوځي او جنت ته لاړشي نو د مطیع سره به برابر شي او دا خو اتصاف نـدے، ځکه مطیع کوشش کړے ځان ئي سترے کړے، او عاصي د خپل خواهشاتو ژوند تیرکړے، دا دواړه څنګه برابر کیدے شي ؟ دلائل نقلیه ئي دری ۳ قسمه دی، یو ۱ قسم اجمالي دلائـل دی، دا هغه دی چه قـانون دمکافات پکښې ذکر دے لکه! مَن يَعْمَلْ سُوٓءًا يُجْزَ بِهِۦ وَلَا يَجِدْ لَهُۥ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿١٢٣﴾ (سُورَةِ النِّسَاءِ) اوس کله چه اهل کبیره د جهنم نه راوځي نو قانون دمکافات به ختم شي، دویم قسم دلائـل تفصیلیه دی، دا هغه دلائل دی چه داهل کبائر دپاره پکښې په سزا کښې ذکر د خلود دے،لکـه د سودی سزا قران کریم ذکر کوي! وَمَنْ عَادَ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ أَصْحَـٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَـٰلِدُونَ ﴿٢٧٥﴾ (سُورَةِ البَقَرَة) د قاتل عامدا په باره کښې راځي ! وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُۥ جَهَنَّمُ خَـٰلِدًا فِيهَا وَغَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُۥ وَأَعَدَّ لَهُۥ عَذَابًا عَظِيمًا ﴿٩٣﴾ (سُورَةِ النِّسَاءِ) ددینه علاوه نورهم ډیر نصوص دی چـه خلـود پکښې ذکر دے: دریم ۳ قسم دلائل هغه دی په هغې کښې تصریح په نفي د شفاعت ده، لکه! فَمَا تَنفَعُهُمْ شَفَـٰعَةُ ٱلشَّـٰفِعِينَ ﴿٤٨﴾ (سُورَةِ المُدَّثِّرِ) وایضاقال تعالی !وَٱتَّقُوا۟ يَوْمًا لَّا تَجْزِى نَفْسٌ عَن نَّفْسٍ شَيْـًٔا وَلَا يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَـٰعَةٌ وَلَا يُؤْخَذُ مِنْهَا عَدْلٌ وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴿٤٨﴾ (سُورَةِ البَقَرَة)

جوابات: داهل السنة والجماعة دطرف نه دمعتزلوٌ د دلیل عقلي نه جواب دا دے! چه زمـونږه پـه نیزدخـول الی الجنة فضل الهي دے، که الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ تول مخلوق جهنم ته داخل کړی دا به ئی عدل وی، اوس که پـه اهل الکبائر الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ خپل فضل او کرم اوکړی بغیر دشفاعة نه یا د چا په شفاعة سره، اودجهنم نـه ئي را اوباسی او جنت ته ئی داخل کړی نو دیکښې نه عقلا څه قباحت شته اونه ترینـه عقـلا انکارشـته: د دلائل نقلیه اجمالیه او تفصیلیه نه **جواب** دا دے! چه دغه قانون دمکافات او ذکر د خلـود بطـور تهدیـد او تغلیظ دے، او قانون دا دے چه عفو په تهدید او تغلیظ کښې عین کرم اوفضل دے، ځکه عـذاب ورکـول اونه ورکول دواړه حق دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ دے اوس دغه اهل الکبـائر خـو مسـتحق دعـذاب دی لیکـن الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ ترینه اسقاط دخپل حق اکړو، اوصاحب حق چه اسقاط دخپل حق اکړی نو د هغه حق شـته او دا عین کرم د صاحب حق دے: د دلائل نقلیه تصریحیه نه **جواب** دا دے! چه دغه نصوص دخاص خلقویه باره کښې دي او خاصو اوقاتو سره تعلق ساتي، عموم پکښې نشته چه هیڅ چاله بـه پـه هـیڅ وقـت کښـي فائده نه ورکوی، او مونږه اهل السنة والجماعة هم په مطلق شفاعة دهرچادپاره په هر وقت کښې نه یو قائـل بلکه دشفاعة دپاره شرائط خمسه دي: یو ۱ دا چه بس داذن الهي نه په شفاعة ... دویم ۲ پس دشـفاعة

کمرۍ به د دریم۱۳ شفیع به موحد وي، څلورم۱۴ مشفوع به به هم موحد وي حکه دکمرۍ وجه به کسی بحم۱۵ دا چه علم دشفیع به په توحید د مشفوع به وي ... ترو سوی ...

اوس کوم نصوصوکښ چه نفي دشفاعت ده دا با دکفارو به ... کښی دي ... دغه شرائط ... به بعضی بو شرط به وي،

داهل السنة والجماعة ... دلائل هم شته او احادیث هم، حدیث ... وصحیح ... دشفاعة ... دي، دحدیث نه معلوم شوه چه نصوص دنفي دکفارو به ... کښی دي

حدیث ٢٣\٢٤ ابوحنيفة عن حماد عن ابراهيم عن الاسود عن ربعي بن حراش عن حذيفة ... رسول الله ﷺ قال يخرج الله تعالى قوما من الموحدين من النار بعد ما امتحشوا وصاروا فحما فيدخلهم الله تعالى الجنة فيستغيثون الى الله تعالى مما تسميهم اهل الجنة الجهنميين فيذهب الله تعالى عنهم ذلک.

دحدیث نه معلومه شوه چه دګناهونو په وجه بوکښ جهنم ته لاړشي خو عقیده ئې دتوحید وي نو بوځل به دجهنم نه را وځي، بیا دا خبره هم دروستو روستو نه معلومیږي چه جهنم کښ به موضع دسجدی به سوزي هم ددغې په وجه به د موحدینو پېژندګلو کیږي، ... به به نهر حیوان کښ ... غسل ورکړے شي چه د هغې په وجه به هرقسم عیب ددوی ختم شي، ... به روسته ... کښی تصریح ده چه دا وئیل به د دوئ به شفاعة دپي کرم ... وي ... دحدیث ... شو.

حدیث ٢٥\٢٤ ابوحنيفة عن عطية عن ابي سعيد عن النبي ﷺ في قوله تعالى عسى ان يبعثك ربك مقاما محمودا قال المقام المحمود الشفاعة يعذب الله تعالى قوما من اهل الايمان بذنوبهم ثم يخرج بشفاعة محمد ﷺ فيؤتى بهم نهرا يقال له الحيوان فيغتسلون فيه ثم يدخلون الجنة فيسمون في الجنة الجهنميين ثم يطلبون الى الله تعالى فيذهب عنهم ذلک الاسم وفي روابة (الحديث الخ)

حالات راوي ابوسعيد الخدري رضي الله عنه: نوم اوسب ئې د دے ابوسعید سعد بن مالک بن سنان بن عبيد الانصاري الخدري (بضم الخاء المعجمة) خدره د ... نو قبیله ده، ابوسعید او د ده پلار د ... صحابه دي، جليل القدر صحابي دے، د احد نه روسته ټولو مشاهدو ته حاضر شوے دے، مدینه منوره کښي وسيدو، وفات ئې په ٦٥ يا ٧٤ هـ کښ شوے، وجنة البقيع کښ دفن شوے دے، دی مسند کښي دده ٢١ روايات دي.

حديث الباب کښې دمخکښې حديث د اجمال تفصيل دے، ورسره په معتزلو باندې ردهم وشو، يو په دے طريقه چه مرتکب دکبيره به مخلد في النارنه وی، دويم۲ دا چه شفاعة درسول کريم ﷺ داهل الکبائر دپاره ثابت دے.

قوله !کماينبت الثعارير: نبي کريم ﷺ ددغه خلقوتشبيه د«ثعارير» (بادرنګو) سره ورکړه ځکه چه کله بادرنګ راوتو کيږی نو ډير زر زر غټيږی چه دورځ په تيريدو سره پکښې کافي تغير او بدلون راځي، دغه شان به دا کسان هم ډير زر زر صحت ياب شي بفضله تعالى.

حديث ۲۵\۳٦ حمادعن ابی حنيفة عن عطية العوفي قال سمعت اباسعيد الخدری يقول سمعت رسول الله ﷺ يقرا عَسَى انْ يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَحْمُودًا قال يخرج الله تعالى قوما من النار من اهل الايمان والقبلة بشفاعة محمد ﷺ فذلک هوالمقام المحمود فيوتى بهم نهرا يقال له الحيوان فيلقون فيه فينبتون کما ينبت الثعارير ثم يخرجون فيدخلون الجنة فيُسمون الجهنميين ثم يطلبون الى الله تعالى ان يذهب عنهم ذلک الاسم فيذهب عنهم.

دی حديث کښې هم په دوه طريقو سره رد دے په معتزلو باندې کما مر.

حديث ۲٦\۳۷ حمادعن ابی حنيفة عن عبد الملک عن ابن عباس عن النبی ﷺ قال يدخل قوم من اهل الايمان يوم القيمة النار بذنوبهم فيقول لهم المشرکون ما اغنى عنکم ايمانکم ونحن وانتم في دار واحدة نعذب فيغضب الله عزوجل لهم فيا مر ان لايبقى في النار احد يقول لا اله الا الله فيخرجون وقد احترقوا حتى صاروا کالحممة السوداء الا وجوههم فانه لا يزرق اعينهم ولاتسود وجوههم فيوتى بهم نهرا على باب الجنة فيغتسلون فيه فيذهب کل فتنة واذى ثم يدخلون الجنة فيقول لهم الملک طبتم فادخلوها خالدين فيسمون الجهنميين في الجنة قال ثم يدعون فيذهب عنهم ذلک الاسم فلا يدعون به ابدا فاذا خرجوا قال الکفار ياليتنا کنا مسلمين فنلک قول الله تعالى عزوجل رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ كَانُوا مُسْلِمِينَ .

حالات راوی عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: نوم، نسب، ولادت، صفات مناقب، او وفات دده بيانولے شي: نسب ئې دا دے! عبدالله بن عباس بن عبدالمطلب بن هاشم، امه لبابة بنت الحارث. درسول کريم ﷺ د تره ځوے دے، د هجرة نه درې ۳ کاله مخکښې په شعب کښې پيدا شوے دے، دصورة په اعتبار سره ډير خائسته وو، وينا کښې ډيرفصيح وو، درنګ په اعتبار سره سپين وو، اوږد قد واله وو پيدل روان به داسي ښکاريدو لکه په سورلئ باندې سور، دده پلار عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د دنه هم دنګ وو، اودده نيکه عبدالمطلب

دعباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم دنگ وو، صفات اومناقب دده ډيرزيات دی،ترجمان القران اوسلطان المفسرين لقب ئی وو، نبی ﷺ ورته دعاء کړی وه اللهم علمه الكتاب اللهم علمه الحكمة . دوه ځله ئي جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَامُ ليدلے دے، د علی کرم الله وجهه شاګرد وو، هرفن کښي ماهروو، مثلا شعروشاعری، دعربو جنګونه او حوادث، فقه، علم الادب، علم الانساب، دی ټولو علومو کښی ئی مهارة لرلو، ابونعيم اصبهانی رَحِمَهُ اللهُ د ده باره کښی نقل کوی! كان يسمى الحبر والبحر لكثرة علمه. وحدة فهمه. وحبر الامة وفقيها. ولسان العشيرة ومنطيقها. محنك بريق النبوة . ومدعوله بلسان الرسالة . فقه في الدين. وعلم التاويل. ترجمان القران. سمع نجوى جبريل للرسول وعاينه. (معرفة الصحابة لابي نعيم - ۳ / ۱٦۹۸)

د عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورسره د دےقابليت په وجه ډير زيات محبت وو، دعلم او پوهے په وجه به ئي د غټو صحابو په مجلس کښی کينولو او دا به ئی ويل چه! عبدالله فتى الكهول له لسان سئول وقلب عقول: په ٦٨ھ کښی د اويا ۷۰ يو اويا ۷۱ کالو په عمر کښی په طائف کښ وفات شوے دے، دجنازی مونځ پری محمد بن حنفي کړے دے، دمرګ نه پس وائی چه يوه سپينه مرغۍ راغله او په کفن کښی ئی ننوته، او يو هاتفي اواز راغلو د قبر نه چه! { يا ايتها النفس المطمئنة ارجعي الى ربك راضية مرضية } (معرفة الصحابة لابي نعيم - ۳ / ۱٦۹۸) دی مسندکښ ترينه ٤۳ احاديث نقل دی .

دا حديث هم دسابقه باب سره تعلق ساتی، حديث نه معلومه شوه چه مرتکب دکبيره به مخلد في النار نه وي، دا هم معلومه شوه چه مخ اشرف الاعضاء دے دمسلمان مخ به نه سوزی، او نه به توريږی بلکه داودس اندامونه به ټول پرقيږی کمافي رواية اوقيامة کښ به دمؤمنانو او کفارو فرق هم پدی وی په جهنم کښ کمافي قوله تعالى ! يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ الاية ﴿۱۰٦﴾ (سُورَة آلِ عِمْرَانَ، وكمافي قوله تعالى اوَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ ﴿٤٠﴾ تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ ﴿٤١﴾ اُولَٰئِكَ هُمُ الْكَفَرَةُ الْفَجَرَةُ ﴿٤٢﴾ (سُورَة عَبَسَ)

حديث ۲۷\۱۲۸ ابوحنيفة عن حماد عن ابراهيم عن علقمة عن عبدالله بن مسعود قال جاء رجل الى رسو الله ﷺ فقال يارسول الله هل يبقى احد من الموحدين في النار قال نعم رجل في قعر جهنم ينادى بالحنان المنان حتى يسمع صوته جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَامُ فيتعجب من ذلک الصوت فقال العجب العجب ثم لم يصبر حتى يصير بين يدي عرش الرحمن ساجدا فيقول الله تبارک وتعالى ارفع راسک ياجبرئيل فيرفع راسه فيقول مارايت من العجائب والله اعلم بماراه فيقول يارب سمعت صوتا من قعرجهنم ينادى بالحنان المنان فتعجبت من ذلک الصوت فيقول الله تبارک

وتعالی یا جبرئیل اذهب الی مالک وقل له اخرج العبد الذی ینادی بالحنان المنان فیذهب جبرئیل عَلَيْهِ السَّلَامُ الی باب من ابواب جهنم فیضربه فیخرج الیه مالک فیقول جبرئیل عَلَيْهِ السَّلَامُ ان الله تبارک وتعالی یقول اخرج العبد الذی ینادی بالحنان المنان فیدخل فیطلبه فلا یوجد وان مالکا اعرف باهل النار من الام باولادها فیخرج فیقول لجبرئیل ان جهنم زفرت زفرة لا اعرف الحجارة من الحدید ولا الحدید من الرجال فیرجع جبرئیل عَلَيْهِ السَّلَامُ حتی یصیرین یدي عرش الرحمن ساجدا فیقول الله تبارک وتعالی ارفع راسک یاجبرئیل لم لم تجئنی بعبدی فیقول یارب ان مالکا یقول ان جهنم قد زفرت زفرة لا اعرف الحجر من الحدید ولا الحدید من الرجال فیقول الله عزوجل قل لمالک ان عبدی في قعر کذا وکذا في سترکذا وکذا وفي زاویة کذا وکذا فیدخل جبرئیل فیخبره فیدخل مالک فیجده مطروحا منکوسا مشدودا ناصیته الی قدمیه ویداه الی عنقه واجتمعت علیه الحیات والعقارب فیجذبه جذبة حتی تسقط عنه الحیات والعقارب ثم یجذبه جذبة اخری حتی تنقطع منه السلاسل والاغلال ثم یخرجه من النار فیصیّره في ماء الحیاة ویدفعه الی جبرئیل فیاخذه بناصیته ویمده مدا فما مربه جبرئیل علی ملا من الملائکة الا وهم یقولون افّ لهذا العبد حتی یصیر بین یدي عرش الرحمن ساجدا فیقول الله تبارک وتعالی ارفع راسک یاجبرئیل ویقول الله تبارک وتعالی عبدی الم اخلقک بخلق حسن الم ارسل الیک رسولا الم یقرا علیک کتابی الم یامرک وینهک حتی یقرالعبد فیقول الله تعالی فلم فعلت کذا کذا فیقول العبد یارب ظلمت نفسی حتی بقیت في النارکذا کذا خریفا لم اقطع رجائی منک یارب دعوتک بالحنان المنان واخرجتنی بفضلک فارحمنی برحمتک فیقول الله تبارک وتعالی اشهدوا یا ملائکتی بانی رحمته.

دحدیث دباب سره تعلق ظاهر دے، ورسره دا هم معلومه شوه چه څنګه په شفاعة دنبي ﷺ دجهنم نه خروج دعاصی کیدے شی نودجبرئیل عَلَيْهِ السَّلَامُ اودنوررونیکانو په شفاعة سره هم دجهنم نه خروج اوجنت ته دخول کیدے شي.

قوله! ینادی بالحنان المنان: دا ده الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ نومونه دی علی رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمائي:الحنان من یقبل علی من اعرض عنه.والمنان من یبذل بالنوال قبل السؤال: بامحاوره معنی نه داسی شی «شفقت اواحسان کونکے»مالک«دجهنم څوکیدارفرشته ده.

قوله! وان مالکا اعرف باهل النار من الام باولادها: څکه صاحب البیت ادری بمافیه.

قوله! کذا خریفا:خریف موسم ته وائی په کال کښې څلور موسمه دي، [illegible] مے.

(فوائد) حدیث نه فضیلة د ذکر د ..حنان منان.. معلوم شو، دا هم معلومه شوه چه علم غیب خاصه خداوندی ده، مالک فرشته چه هرځائ دجهنم ورته معلوم دے لیکن ددغه سړي ځائ نه پیژنی، ترحم دجبرئیل عَلَيْهِ السَّلَامُ هم معلوم شو، دیهودو خبره باطله ده چه دظلم نسبة جبرئیل عَلَيْهِ السَّلَامُ ته کوی، او بدی ردی وریسی وائي چه ده زمونږه په نیکونوعذ ابونه نازل کړی دی، ظالم دے، قران مجید کښې پرې هم رد شوے؛ مَن كَانَ عَدُوًّا لِّلَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَرُسُلِهِۦ وَجِبۡرِيلَ وَمِيكَىٰلَ فَإِنَّ ٱللَّهَ عَدُوٌّ لِّلۡكَٰفِرِينَ ﴿٩٨﴾ (سُورَةُ البَقَرَة) دا هم معلومه شوه چه د الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ درحم نه په هیڅ وقت کښې نا امیدی نده پکار.

حدیث ۲۸\۱۲۹ ابوحنیفة عن محمدبن منصوربن ابی سلیمان البلخی ومحمد بن عیسی ویزید الطوسی عن القاسم بن امیة الحذاء العدوی عن نوح بن قیس عن یزید الرقاشی عن انس بن مالک قال قلنا یارسول الله لمن تشفع یوم القیمة قال لاهل الکبائرواهل العظائم واهل الدماء.

باب سره تعلق ظاهر دے، او دا هم دلیل ددی دے چه اهل الکبائر دپاره شفاعة د رسول کریم ﷺ ثابت دے.

حالات انس بن مالک رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: راوي د حدیث: انس بن مالك بن النضر بن ضمضم بن زيد بن حرام بن جندب بن عامر بن غنم بن عدي بن النجار ابو حمزة الانصاري الخزرجي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. لس کاله دنبي ﷺ خادم خاص پاتی شوے دے، دلسو کالو په عمرکښې ئې خدمة شروع کړے دے، نبی کریم ﷺ ورله ابو حمزه کنیه منتخب کړی وه، توقي ورسره کولے نو ،،یا ذا الاذنین،، اواز ئې ورته کړے، د مکثرین في الحدیث نه دے، کل روایات ئي ۲۲۸۶ سل\۱۰۰ بچی ئے وو، او نمسو سره تول ۱۷۶ افراد جوړیده، نبی کریم ﷺ ده ته دبرکة دعاء کړی وه، په ۹۱هـ کښې وفات شوے دے، په بصره کښې د ټولو نه اخری هم دے دولید بن عبدالملک په زمانه کښې وفات دے ، ولید پخپله په جنازه کښې موجود ؤو، او دفن ئي هم پخپله کړے دے، علامة ابن سیرین رَحِمَهُ اللَّهُ ورله غسل ورکړے دے، ۱۲۰ اولاد ئي دمرګ په وخت کښې موجود وو، حجاج بن یوسف ته ئي جنازه حصاره نکړه، (الاصابة في تمییز الصحابة - ۱ ۱۲۶) دده دوفات په وخت کښې امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ د یولس\۱۱ کالو وو، او په دریم کال تحمل د راویة او په پنځم کال ادا د روایة کیږی، ممکن ده چه امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ دده نه اخذ کړے وی، دی مسند کښې ترینه ۲۳ روایات نقل دی.

قوله! قال لاهل الکبائر واهل العظائم: مراد مرتکبین دګناه کبیره دی، بیا اهل العظائم یاعطف تفسیر داهل الکبائر دے، یا د اول الذکر نه مراد ضائع کونکی د حقوق الله او ثانی الذکر نه مراد ضائع کونکی دحقوق العباد دی، یا د کبائر نه لوئ ګناهونه او عظائم نه مراد عام ګناهونه دا ذکر دخاص بعد

العام شو، يا كبيره هغه ده چه اصرار پری کيږی اګر که في نفسه هغه وړه ولی نه وی، اوعظائم نه مراد هغه ده چه په کبائروکښی حد ته رسيدلی وی، لکه ترک الصلوة ، زنا، بيا دا ذکر د خاص بعد العام دے ،
قوله! واهل الدماء : مراد د دينه هغه څوک دی چه په ناحقه قتل دنفس محترمه معصومه اکړی .
[تنبيه] ددےمذکورو احاديثونه علاوه نورنصوص هم شته په اثبات دشفاعة کښی لکه قران کښ راځی! ﴿مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ ان يَسْتَغْفِرُوا۟ لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوٓا۟ اوْلِى قُرْبَىٰ مِنۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ انَّهُمْ اصْحَٰبُ ٱلْجَحِيمِ﴾ (سُورَةُ التَّوْبَة) اوس چه دمشرکانو په حق کښ دشفاعة نه منع راغله (ځکه استغفارشفاعة دے) نود مؤمنانو په حق کښی خود بخود ثابت شو، ځکه ددے نفی خو بيا څه معنی پاتی نشوه، دغه شان نبی کريم ﷺ فرمائي! عن انس بن مالك عن النبى ﷺ قال : « شفاعتى لاهل الكبائر من امتى ». (سنن ابي داود ـ محقق ٤ / ٣٧٩) او فرمائي! شفاعتى لاهل الذنوب من امتى : بيا دغه شفاعة چه اذن ئي شوے دے، دا به قران کريم، صله رحمی، قاری، عالم، مجاهد، شهيد وغيره هم کوی لکه بيشميره روايات ديکښی شته..

باب ماجاء فی رؤية الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ

حديث ٢٩\٢٠ حماد عن ابى حنيفة عن اسمعيل بن ابى خالد وبيان بن بشر عن قيس بن ابى حازم قال سمعت جرير بن عبد الله يقول قال قال رسول الله ﷺ انكم سترون ربكم كما ترون هذا القمر ليلة البدر لا تضامون في رؤيته فانظروا ان لا تغلبوا في صلوة قبل طلوع الشمس وقبل غروبها قال حماد يعنى الغدوة والعشي.

مسئلة الرؤية دمعركة الاراء مسائلونه ده، داهل السنة والجماعة اومعتزلة په مينځ کښی، چه رؤية دباری تعالى په دنيا اواخرة کښ ممکن دے کنه؟ معتزله قائل دی په امتناع باندی مطلقا او اهل السنة والجماعة دا مکان قائل دی في الدنيا والاخرة ،
[تنبيه] معلومه شوه چه اختلاف په وقوع الرؤية کښ ندے بلکه په امکان او جواز د رؤية کښی دے ،
دلائل: معتزله دپاره عقلی دليل دا دے چه درؤية دپاره کوم شرائط دی هغه په حق دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ کښی نشته، يوشرط دا دے چه د رائی اومرئی په مينځ کښی به فاصله وی ځکه چه ډير نيزدی شئ نه ليدلے کيږی، لکه خپل مخ ياسترګه شوه، داشرط په حق دالله کښ نشته ځکه الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ فرمائي! ﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْانسَٰنَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهِۦ نَفْسُهُۥ وَنَحْنُ اقْرَبُ الَيْهِ مِنْ حَبْلِ ٱلْوَرِيدِ﴾ (ق) دويم: شرط

چه مرئی به مخامخ وی رانی ته څکه شاته شئ نه لیدلے کیږی، لکه خپل سټ ملا وغیره، ددی سره دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ دپاره جهة ثابت شوحالانکه الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ دجهاتونه منزه دے، دریم۳: شرط دا دے چه درائي اومرئي په مینځ کښې به خاص فاصله وی نه به انتهائي قُرب کښې وی اونه انتهائي بعد کښي، نودالله رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دپاره مسافة خاصه ثابت شواو تعالی الله عن ذلک علوا کبیرا:

نقلی دلیل داقول دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ دے، لَا تُدْرِكُهُ ٱلْأَبْصَٰرُ وَهُوَ يُدْرِكُ ٱلْأَبْصَٰرَ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلْخَبِيرُ (سورة الانعام) دلته جمع معرف باللام ده چه مفیده للاستغراق ده، اونسبة د «تدرک» ورته شوے او نفي پرې داخله ده چه ددےسره سلب العموم راغلے (یعنی سلب کلی) معنی د اية کریمه اوحاصل داشو چه «لاتدرکه بصرمن الابصار» هیڅ قسم سترګه ئي په هیڅ وقت کښې نشي لیدلے،

دلائل: داهل السنة والجماعة دپاره بالمقابل عقلی دلیل دا دے، چه د الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ نه علاوه نور اشیاء لیدل کیږي، مثلااجسام بره اوښکته او اعراض یعنی ر نګونه وغیره اوس ددے درؤیة دپاره به خامخا څه علة مشترکه وی، چه دا اشیاء ولی لیدلے کیږی؟ اوس عام ممکناتو کښې مونږه ته دری ۳ څیزونه مشترک په نظرراځی (۱)..حدوث (۲)..امکان (۳)..وجود. حدوث خو علة نشي کیدےڅکه د حدوث تعریف دے «مایکون مسبوقا بالعدم»، نوحدوث عدمی شواو رؤیة وجودی دے، اوعدمی علة دوجودی نشي کیدے، دغه شان امکان هم علة نه شی واقع کیدے درؤیة دپاره، څکه چه امکان ..سلب الضرورة .. ته وائي نودا هم عدمی شوعلة نشی کیدے، معلومه شوه چه علة درؤیة دعامو ممکناتو دپاره «وجود» دے او دغه علة په حق دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ کښې هم متحقق دے **لهذا** دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ رؤیة دی هم ممکن شی او دغه زمونږه دعوی ده:

نقلی دلیل دفریق ثاني دپاره دا اية کریمه دے! وَلَمَّا جَاءَ مُوسَىٰ لِمِيقَاتِنَا وَكَلَّمَهُ رَبُّهُ قَالَ رَبِّ اَرِنِي اَنْظُرْ اِلَيْكَ قَالَ لَنْ تَرَانِي وَلَٰكِنِ انْظُرْ اِلَى الْجَبَلِ فَاِنِ اسْتَقَرَّ مَكَانَهُ فَسَوْفَ تَرَانِي فَلَمَّا تَجَلَّىٰ رَبُّهُ لِلْجَبَلِ جَعَلَهُ دَكًّا وَخَرَّ مُوسَىٰ صَعِقًا فَلَمَّا اَفَاقَ قَالَ سُبْحَانَكَ تُبْتُ اِلَيْكَ وَاَنَا اَوَّلُ الْمُؤْمِنِينَ (الاعراف: ۱۴۳) چه په دری ۳طریقوسره ترینه استدلال نیولےشی.

[۱] موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ چه کله دباری تعالی سره کلام اکړو په کوه طورکښې نو کلام د الله ورله دومره خوندورکړوچه اشتیاق درؤیة دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ ئي پیدا شو، مطالبه ئي اکړه: رَبِّ اَرِنِيْ اَنْظُرْ اِلَيْكَ الاية. اوس موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ چه سوال درؤیة اکړو نو رؤیة دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ به یاممتنع وو یاممکن که ممتنع شی نوموسی

عَلَيْهِ السَّلَامُ ته به علم بالامتناع وو يانه، که وی او بیاهم سوال کوي نو لازمیږی سفاهة دنبي اوعبث کارکول دنبي او انبياء منزه دی د سفاهة او عبثيت نه، او که علم ورته نه وی په امتناع باندی اوسوال کوی نو بيالازم شو جهل دنبي په مايجوزفي حق الله تعالى ومالايجوزفي حقه، او دا هم ناروادہ خکه نبي کښې داقسم جهالة نشي راتلې، معلومه شوه رؤية دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ ممكن وواوموسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته علم وو په امکان باندی خکه ئي سوال کوۀ.

[٢] طريقه داستدلال دا ده چه موسى عليه السلام ته پس دسوال نه دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ دطرف نه جواب داميلاؤشو: لَن تَرَىٰنِي الاية اوس که دغه رؤية ممكن نه وونوبيا جواب داسي پكار ؤۀ «لن ارى» څه نۀ ليدلے کښرم، او دا بنا ده په يوه محاوره باندی هغه دا ده چه مثلا يو شئ قابل دخوراک نه وی (مثلا دکجوری پوستکے) او یو کس وائي چه څه داخورم نو هغه ته به جواب کښی داسي ويلے کيږي «لن يؤكل» معنى دانه خوړے کيږی، او که یوشئ قابل دخوارک وی ليکن دغه کس دپاره ښه نه وی، پرهيزئي وی اوهغه وائی څه ئي خورم نوده ته به جواب داسی ورکړے کيږی «لن تُوْكَل» ته ئے نشي خوړلے يعني خوراک ئی ممکن دے خو ته ئی نشي خوړلے، دلته هم دادويم صورة دے دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ ارشاد د«لن تراني» دے ددينه امکان ثابت شو.

[٣] طريقه داستدلال دا ده چه الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ دنسلئ دموسى عَلَيْهِ السَّلَامُ دپاره ارشاد اوفرمايو ! وَلَٰكِنِ ٱنظُرْ إِلَى ٱلْجَبَلِ فَإِنِ ٱسْتَقَرَّ مَكَانَهُۥ فَسَوْفَ تَرَىٰنِي الاية الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ خپل رؤية په استقرار الجبل پوری معلق کړے دے، اواستقرارالجبل يو امر ممکن دے، اوتعليق د امر ممکن سره ممکن وی، لکه انت طالق ان دخلت الدار کښې دخول ممکن پس طلاق هم ممکن دی :

جوابات: دمعتزلودعقلی دليل نه جواب دا دے! چه دغه شرائط ثلاثه د رؤية عادی دپاره دی او زمونږه خبره په مطلق رؤية کښې ده، البته کله په طريقه د خرق عادت سره دهغه شئ رؤية هم کيږی چه په عادت کښې نه ليدلے کيږی، لکه فرشته عادة نه ليدل کيږی اونبي كريم ﷺ بلکه صحابه کرامو به جبرئيل امين ليدلو، نور امثله هم شته. دنقلی دليل نه جواب دا دے چه .. لَّا تُدْرِكُهُ ٱلْأَبْصَٰرُ .. کښې عموم السلب نه دے بلکه سلب العموم دےاوسلب العموم ايجاب جزى دے، مقصد دا چه دبعض چا سترګه (چه کافر دے) په هروقت کښي په هره زمانه کښې او په هرځائي کښې الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ نشي ليدلے او دا صحيح ده خکه مونږه وايو چه کافرئےنشي ليدلے اوعادة ئےمؤمن هم په هر خائي کښې نشي ليدلے بلکه درؤية دپاره

خاص وقت اوخاصه زمانه ده.

داهل السنة والجماعة دپاره نورهم ډيردلائل دی،د احاديثونه پکښې يو حديث الباب دے،

حالات راوی جرير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جرير بن عبد الله بن جابر بن مالك بن نضر بن ثعلبة بن جشم بن عوف بن حزيمة بن حرب بن علي البجلي الصحابي الشهير يكنى ابا عمرو، ويلے کيږی چه دنبي ﷺ دوفات نه ۴۰ ورځې مخکښې مسلمان شوے دے، کوفه ته لاړواوهلته وسيدو، ښائسته صورة واله وو، عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به ويل! جريريوسف هذه الامة . کله چه دے دنبي ﷺ خواله لاړو نورسول کريم ﷺ دده ډيرعزت او اکرام اکړو، او خپل څادرئےورته خورکړو، بيائے ارشاداوفرمايو! اذا اتاكم كريم قوم فاكرموه (الاصابة في تمييز الصحابة ۱ / ۴۷۵) جريردخپل قوم سرداروو، عبادة ګذاروو او تابعدار وو، سره دحسن نه صحيح الاسلام اولوئ قدر واله سړے وو، د کوفے نه قرقيساته نقل شو، او په ۵۱ ھ کښې وفات شوے دے، دے مسند کښې ترينه درے۲روايات نقل دی .

قوله! سترون ربكم: دا دليل دوقوع الرؤية دے امکان لاځه، الفاظ هم تاکيدی استعمال شوی دی،

قوله! لاتضامون: معنی ،،تاسو ګڼره نه جوړوئ،، مقصد په دےسره تشبيه ده، لکه څرنګه چه په رؤية دقمر کښې څوک ګڼړه نه جوړوی بلکه هرخومره خلق که په يوځل اوغواړي نو رؤية دقمر کولےشی بغيرد ديکه ورکولونه يوبل ته، دغه شان به رؤية دباری تعالی هم کيږی بغير د ګڼړی جوړولونه، ولي که په طريقه د ګڼړی او ديکه سره شي نودنعمة نه به زحمت جوړشي اوجنت کښې زحمتونه نشته. بياتشبيه په کل امورو کښې نه وی چه ددينه څوک جسمية د الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ لره ثابت کړي.

قوله! فانظروا: داسبب درؤية الهي ذکر کوي چه پابندی دصلواتُ ده خاص کر دسحر او مازيګر مونځ.

قوله! قال حماد يعني الغدوة والعشيّ: والغُدْوَة : ما بين صلاة الغداة وطلوع الشمس(الصحاح في اللغة -۲/ ۱۳) و العَشِيُّ والعَشِيَّة : من صلاة المغرب الى العَتَمة . : (الصحاح في اللغة - ۱ / ۴۷۲)

كتاب العلم

اجمالاً خلور ٤ خبرې وړاندې کولے شي :ربط، لغوي معني، تعريف العلم، تعداد المرويات،

[۱] **ربط** : - مخکښې کتاب الايمان ذکر شوچه هغې کښې عمل بالارکان شرط يا شطر وو، او د عمل دپاره علم ضروري دے ځکه خو امام بخاري باب تړے باب العلم قبل القول والعمل : حاصل دا چه چه دصحيح ايمان دپاره علم شرط دے.

[۲] **لغة معنى**- دعلم لغوی معني ضد الجهل ده چه دانستن اومعرفة دے ا عَلِمْتُ الشيء اعلَمُهُ عِلْماً: عرفته (الصحاح - ۱ / ۴۹۳)

[۳] **تعريف دعلم**- علامه عينى رَحِمَهُ اللَّهُ پس دتفصيل نه فرمائي! واصح الحدود انه صفة من صفات النفس توجب تمييزا لا يحتمل النقيض في الامور المعنوية (عمدة القاري ۲ / ۳۷۴) خوعلم په دوه قسمه دے يوهغه دے چه په فن دمنطق کښې دهغےنه بحث کيږي د هغې مختلف تعريفات دي چه منطق کښې بيانيږي، دويم علم شرعی دے چه داعبارة دے دخشية الهی نه لکه څنګه چه قران کښې راځي انَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَٰٓؤُاْ اِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ (سُورَة فَاطِر) دلته هم دغه علم مراد دےعام خلق کثرة د معلوماتو ته علم وائي، خو داغلط سوچ دےځکه کثرة د معلوماتو خو شيطان ته هم حاصل دےليکن هغه ته په شريعة کښې عالم نه شي ويلے:

[٤] **تجزيه**:- دے کتاب العلم کښې کل ۱۱ روايات دی چه په مختلف ابو ابو مشتمل دي.

باب فرضية العلم واهميته

حديث ۳۱\۱ ابوحنيفة عن حمادعن ابى وائل عن عبد لله قا ل قال رسول الله ﷺ طلب العلم فريضة على كل مسلم.

حديث په فرضية او اهمية دعلم کښې واضح دے، دلته چندسوالات دي! د علم نه کوم علم مراددے؟ فريضة نه کوم قسم فريضه مراد ده؟ د زنانه دتعليم څه حکم دے؟

جواب: دعلم نه مراد علم ديني دے نه دنيوی ځکه علوم دنيويه لکه انجنيئري، ډاکټري، فارميسي، سائنس، وغيره دا ټول هنر او کار کسب دے، ∴ نفس کارو بار په طور ددی زدکړه څه قباحت نه لري ليکن دی ته ا على تعليم ويل او اهم ګڼړل چه قران حديث پرې پريږدی انتهائي ظلم دے، بيا دهر مکتب، سکول، کالج،

یونورستیٔ په دیوال ئي چه لیکلي وی ..اقراباسم ربک الذی خلق.. یا ..طلب العلم فریضة علی کل مسلم ومسلمة .. نودا دقران اوحدیث رسول حد درجه تذلیل اوسپکاوےدے، علامه ابن قیم رَحِمَهُاللّٰهُفرمائي!

العلم ماقال الله قال رسوله :: قال الصحابة هم اولوالعرفان

فریضة: فرض په دوه۲ قسمه دےفرض عین، فرض کفایه: فرض عین دیته وائي چه د هر مکلف په ذمه باندې دهغی اداء کول لازم وی دبل په اداء دده ذمه نه فارغه کیږی، فرض کفایه دیته وائي چه فرضیت په هرچاوی لکن د بعض په اداء ذمه دټولو فارغه کیږی، دلته دواړه قسمه فرض مراد کیدے شی، ځکه چه علم دوه قسمه دے یوقسم هغه دے چه سړے پری حلال حرام او پیږني اوضروریات د دین پری معلوم کړی اودوخت امر پری اوپیژنی، لکه مسائل دمونځ، روژی، وغیره یایوکس صاحب نصاب دے نو د زکوة دشعبے مسائل ازده کول په ده فرض عین دی،دغه شان تاجردپاره د تجارت په مسائلو باندی پوهه لازم ده، که په چاحج فرض شودحج مسائل معلومول په ده فرض عین دی . دویم قسم علوم داسی دی چه په هغی سره ټول یااکثر احکام شرعیه معلوم کړی که دهغےضرورة په دغه وخت کښ وی ده ته اوکښه دغه علم فرض کفایه دے.

دزنانه دتعلیم حکم: کوم مسائل چه ضروری دی دهغی زده کول په زنانه هم فرض عین دی ځکه ځنی روایاتوکښ ..ومسلمة .. هم راغلےدے، که بالفرض دغه روایة ضعیف هم شی بیاهم په احکاموکښ زنانه په تبع دسړو کښی مخاطب دی،نو د هغو دپاره هم دغه دسړوحکم شوکمامر.

حدیث ۳۲\۲ ابوحنیفة عن ناصح عن یحیی عن ابی سلمة عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ طلب العلم فریضة علی کل مسلم. حدیث د سابقه باب سره متعلق دے .

باب ماجاء فی فضیلة العلم

حدیث ۳۳\۲ قال ابوحنیفة ولدت سنة ثمانین وحججت مع ابی سنة ست وتسعین وانا ابن ست عشرة سنة فلما دخلت المسجد الحرام و رایت حلقة عظیمة فقلت لابی حلقة من هذه فقال حلقة عبد الله بن الحارث بن الجزء الزبیدی صاحب النبیﷺ فتقدمت فسمعته یقول سمعت رسول الله ﷺ یقول من تفقه في دین الله کفاه الله تعالی مهمّه ورزقه من حیث لا یحتسب.

حديث الباب كښې فضيلة دعلم ديني بيان شوے، ابتداء کښې امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ خپل ولادت او د زندګۍ څه بعض اوقات ذکر کړی دی، چه هغے کښې دماشوم والی په وخت کښے حج او د صحابي سره دملاقات ذکر دے.

حالات عبدالله بن الحارث بن جزء الزبيدي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دده خپل نوم عاصی وو، نبي ﷺ ورلره نوم عبدالله کيخودو، کنيه ئے ابوالحارث ده پوره نسب ئې دا دے: عبد الله بن الحارث بن جزء بن عبد الله بن معد يكرب بن عمرو بن عسم بن عمرو بن عويج بن عمرو بن زبيد الزبيدي. په اعتبار دوفات سره په مصر کښې صحابه کرامو کښې دا اخري صحابي دے، د مصر وسيدونکے وو اوهم په مصر کښې په ۸٦ يا ۸۷ يا ۸۸ يا ۹۹ ھ کښې وفات شوے دے، اخري قول راجح دے څکه دی روايه نه هم دغه معلوميږی، دے مسند کښې دده دايو حديث دے،

مقام الحديث: مقام ددے حديث دا دے چه داپه اعتبار دسند سره د وحدانياتو نه دے چه دا ارفع داسنادو نه دے، او په مصنفينو کښې د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ نه علاوه چاته ندے نصيب شوے کمامر في المقدمة.

قوله! من تفقه في دين الله: مقصد دا چه څوک په طلب دعلم پسې اوځی د دغه کس مقاصد دينيه او دنيويه به الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ پوره کړی، لکه چه نبي کريم ﷺ فرمائي! مَنْ جَعَلَ الْهُمُومَ هَمًّا وَاحِدًا . هَمَّ الْمَعَادِ . كَفَاهُ اللَّهُ هَمَّ دُنْيَاهُ . وَمَنْ تَشَعَّبَتْ بِهِ الْهُمُومُ فِي احْوَالِ الدُّنْيَا . لَمْ يُبَالِ اللَّهُ فِي ايِّ اَوْدِيَتِهِ هَلَكَ. (سنن ابن ماجة ـ محقق: ۵/ ۲۲۸) دغه شان رزق به ورته دداسې ځائي نه ميلاوشي چه دده به ګمان هم نه وی لکه چه فرمائي: وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجْعَل لَّهُۥ مَخْرَجًا ۝ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ۚ وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُۥٓ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ بَٰلِغُ أَمْرِهِۦ ۚ قَدْ جَعَلَ ٱللَّهُ لِكُلِّ شَىْءٍ قَدْرًا ۝ (سُورَةُ الطَّلَاقِ)

[فائدة] دمحدثينو په نيز تقوی، علم، ذکر، هداية ، ايمان،اسلام، او خشية الفاظ مترادفه دی،هر يو دبل په ځائې استعماليږی، اية کريمه کښې ذکر د تقوی دے خو علم ته هم شامل دے: بيا دا ده مشاهدے خبره ده چه دلوږی نه چرته عالم ندے مړ شوے، البته په تاريخ کښې دا شته چه ددير موړوالی دوجه نه يو عالم وفات شوے دے، امام مسلم رَحِمَهُ اللهُ يوه شپه مطالعه کښې مشغول وو خواته ئې دکجورو توکرئ پرته وه، دهغې نه ئې خوراک کولو د مطالعے په خوند کښې وو په څان پوهه نه شو تولی کجوری ئې خلاصې کړی، دهغې په وجه دهيضې ـ بيمار شو او دغه ئې سبب دوفات شو، ددے په خلاف د دنيوی علومو ډير داسې د ډکرو خاوندان شته چه د لوږی له وجه او د نوکرئ د نه ميلاويدو په وجه هغوی خود کشي کړی دی، که

ددعه کسانو فهرست مرتب کړے شی نولوئ کتاب به ترتیب جوړ شی

حدیث ۳۴\۴ ابوحنیفة عن اسمعیل عن ابی صالح عن ام هانی قالت قال رسول الله ﷺ یا عائشة لیکن شعارک العلم والقران.

حدیث د باب سره متعلق دے، په فضیله دعلم کښ ظاهر دے.

حالات راویه ام هانی ددی نوم فاخته، باهنده بنت ابوطالب د علی رضی الله عنه خورده ده سی ... ددے نبوس کړے وو لیکن ابوطالب هبیرة بن ابی وهب له ورکړه بیا ترینه په اسلام جدا شوه، دمعاویه رضی الله عنه په دورِ خلافت کښې وفات شوې ده تاریخ وفات ئے په تعین سره ندے معلوم، دی مسند کښ ترینه دوښ ۱۲۱ روایات نقل دی

قوله! لیکن شعارک العلم: دعائشه رضی الله عنها دیر فضائل نقل دی، بو روایة کښ ئي حبی ئس ۱۰۱ فضائل بجیله ذکر کړی دی (چه روسته دا حدیث په مناقبو ذکر شوے دے) خو سره ددعه فضائلو نه سی کربه ﷺ دیته دعلم او قران د زدکړی تلقین کوی، اشاره دیته ده، که بو سړی کښی دیر فضائل جمع وی خو چه علم او د قران پوهه ورسره نشته نو دده شان معیوب دے،

باب ماجاء فی فضیلة الذکر

حدیث ۳۵\۵ ابوحنیفة عن علی بن الاقمر عن النبی ﷺ مربقوم یذکرون الله تعالی فقال انهم من الذین امرت ان اصبر نفسی معهم وما جلس قوم عدلکم من الناس فیذکرون الله الا حفتهم الملائکة باجنحتها وغشیتهم الرحمة وذکرهم الله فیمن عنده.

مناسبت دکتاب العلم سره ظاهر دے خکه مونږه مخکښی ویلی دی چه عند ذکر وغیره ئفقه مر دقه دی عند المحدثین ، دا حدیث مرسل دے مینځ کښی صحابي ذکر نه دے.

قوله!وغشیتهم الرحمة : داتفسیر د ماقبل دے چه د فرښتو د کېراؤ کېنه ده ددمه جه رحمت سه دوئ سره پټ کړی وی.

قوله!وذکرهم الله: د فرښتو په مجلس کښ الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ خکه د دوی تذکره کوی چه فرښتو چونکه اعتراض کړے وو اَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ ٱلدِّمَآءَ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ (سورة البقرة)

باب ماجاء في فضل العلماء

حديث۱۳۶\۶ ابوحنيفة عن حماد عن ابراهيم عن علقمة عن عبد الله بن مسعود قال قال رسول الله ﷺ يجمع الله العلماء يوم القيمة فيقول انى لم اجعل حكمتي في قلوبكم الا وانا اريدكم الخير اذهبوا الى الجنة فقد غفرت لكم على ما كان منكم.

مخكښې رواياتوکښې فضيلة دعلم ذکر شو ضمنا فضل دعالم هم معلوم شو ځکه دعلم (چه افضل دے) په حصول سره سړے عالم (فاضل) گرځي دی حديث کښې په فضيلة د عالم تصريح ده.چه دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ دطرف نه ورته د مغفرة بشارة دے،

فائده: حديث کښې دعلماء اقسامو ته هم اشاره اوشوه چه يوعلماء حق دي، دا هغه دی چه علم ئې په زړونو کښې وی اومخکښې داواضح شوی ده چه علم شرعی هغه دے چه خشية ورسره پيداشي، علماء حق هغه شوچه دعلم په وجه د دوئ په زړه کښې خشية ، تقوی، ورع، پرهيزگاری، اوقدر د علم وی .دويم۲ قسم علماء سوء دی چه دهغو علم لساني وی يعنی صرف د خولے جمع خرج وی، بشارة مذکوره دقسم اول علماء دپاره دے، بيا دا هم معلومه شوه چه علماء حق به معصوم نه وی بلکه گناه ترينه کيدے شي، صغيره هم کبيره هم، بغيرد توبي هم د دنيا نه تلےشي، او مع التوبه هم، تائيدً د دے دکتاب الله نه شته الله ﷻ فرمائي! ثُمَّ أَوْرَثْنَا ٱلْكِتَٰبَ ٱلَّذِينَ ٱصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا ۖ فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِۦ وَمِنْهُم مُّقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌۢ بِٱلْخَيْرَٰتِ بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَضْلُ ٱلْكَبِيرُ ﴿۳۲﴾ (سُورَة فَاطِر) يعني مونږه چه دا کتاب کوم خلقوته په ميراث کښې ورکړے دے چه علماء دی،نوځينی هغه دی چه ځان سره ظلم کونکي دی (چه سره دگناهو نو د دنيا نه تلی دی) اوځينی درميانه روی کونکي دي (چه صرف ضغائردخان سره وری . يا گناهونه او نيکئ ئي برابروی) ځينی سابق دی په نيکوکښې (که گناهونه ترينه شوی هم وی خو په دنيا کښ ئي په الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ معاف کړی پدے شان چه توبه اوباسی) دا دری ډلی دعلماء حق دی او د دوئ په باره کښې الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ فرمائي داية په اخرکښې ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَضْلُ ٱلْكَبِيرُ ﴿۳۲﴾ جَنَّٰتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا ۖ وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ ﴿۳۳﴾ وَقَالُوا ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِىٓ أَذْهَبَ عَنَّا ٱلْحَزَنَ ۖ إِنَّ رَبَّنَا لَغَفُورٌ شَكُورٌ ﴿۳۴﴾ ٱلَّذِىٓ أَحَلَّنَا دَارَ ٱلْمُقَامَةِ مِن فَضْلِهِۦ لَا يَمَسُّنَا فِيهَا نَصَبٌ وَلَا يَمَسُّنَا فِيهَا لُغُوبٌ ﴿۳۵﴾ (سُورَة فَاطِر) اية کريمه کښې دغه دری ۳ واړه ډلی راغلے.دلته حديث کښې

ورلره دمغفرت بشارة دے.

باب ماجاء في تغليظ تعمد الكذب علي الرسول ﷺ

حديث٧\١٣٧ ابوحنيفة عن القاسم عن ابيه عن جده قال قال رسول الله ﷺ من كذب عليَ متعمدا فليتبوا مقعده من النار ورواه ابوحنيفة عن ابى روبة شدادبن عبد الرحمن عن ابى سعيد.

دروغ جوړول په هرچا پورې چه وى مطلقا گناه كبيره ده، خو په نبى كريم ﷺ دروغ جوړول ډيرزياته گناه لرى په نسبت د بل چا، وجه دا ده چه خلق دغى لره شريعة گڼړى اوتر قيامته به باقى وى، څكه ئى حديث الباب كښى دنبى كريم ﷺ ذكراكړو، بيا په نبى ﷺ باندى دروغ جوړول دو٢ قسمه دى «عمدا سهوا» دواړه قسمه دروغ ويل گناه ده او ځان ترينه ساتل ضرورى دى، ليكن دلته چه كوم تغليظ ذكر دے دا دپاره د عامد دے، بيا په احكامو كښى بالاتفاق وضع د احاديثو حرامه ده، حديث الباب ددى دليل دے، البته په وعد وعيد [ترغيب ترهيب] كښ وضع داحاديثو څنگه ده؟مسئله كښى درى ٣ مذاهب دي:

[١] ابومحمدجوينى ﷺ پلارد امام الحرمين وائي؛ چه واضع الحديث مطلقا كافر دے په هرنيت چه وضع كوى بيا كه په احكاموكښى وى او كه غير احكامو كښى،

[٢] جمهورعلماء اوامام الحرمين فرمائي؛ چه واضع الحديث مع عقيدة الاستحلال كافر دے، اوچه سره دعقيدى دحرمة نه وضع كوى فاسق اومرتكب دكبيرى دے.

[٣] كراميه او بعض صوفيه وائي؛ چه ترغيب ترهيب كښ وضع الحديث نفس جائز دى، اوناجائز هغه دى چه داضلال دخلقودپاره وى، دليل داپيش كوى چه بعض رواياتو كښى ورسره راځي؛ من كذب علي متعمدا ليضل به: داتكړه په دليل كښى پيش كوى، دويم دا چه حديث كښى «من كذب علي» كښى «على» راغلے او په ترغيب ترهيب كښى «له» دے نه «عليه» يعنى دفائدے دپاره كذب دے نه د اضرار دپاره، خو جمهورجواب وركوى (١) چه دغه زيادة په اتفاق د حفاظو سره مردود اوباطل دے (٢) كه صحيح شى نو «ليضل» دپاره دتاكيد دے لكه دقران كريم پدى اية كښى چه دتاكيد دپاره دے؛ فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا لِّيُضِلَّ النَّاسَ بِغَيْرِ عِلْمٍ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٤٤﴾ (سورة الانعام) (٣) په حديث كښ دغه قيداتفاقى دے دمزيد قباحة دپاره ويلے شوے پشان د؛ وَلَا تُكْرِهُوْا فَتَيٰتِكُمْ عَلَى الْبِغَآءِ اِنْ اَرَدْنَ تَحَصُّنًا (الاية) ﴿٣٣﴾ (سورة النور) (٤) په حديث كښى «على» د اضرار دپاره

كتاب الطهارة

اجمالی خبری: ربط، لغوی معنی، اصطلاحی معنی، اقسام، تجزیة المرویات:

[۱] **ربط** - مخکښې کتاب الایمان ذکر شو وروستو کتاب الطهارة ذکر کوي ځکه چه ایمان کښې پاکوالے دباطن وو اوطهارة کښې پاکوالے د ظاهردے، چونکه پاکوالے د باطن اصل دے هغه ئي مقدم کړو طهارة ظاهری دائي ځکه مؤخر کړو، یامخکښې کتاب الایمان ذکر شودایمان نه روسته احکام راځی احکامو کښې اهم حکم دمونځ دے، خو دمونځ دپاره ډېر شرائط دی چه یو پکښې طهارة دےاوشرط خودمشروط نه مخکښې وی، لهذا طهارة مخکښې کوی په کتاب الصلوة باندي،

[**خبردارے**] وجه دتقدیم دکتاب العلم ذکر شوی ده په کتاب الطهارة او کتاب الصلوة باندی فلانعیده:

[۲] **لغوی معنی** - طهارة مصدردے د "طهر" مثلث الفاء نه طَهربفتح الطا په معنی دنظافة سره راځی، طِهر بکسرالطاپه معنی دالة الطهارة سره راځي. طُهر بضم الطاپه معنی دپاکوالي ضدالنجاسة سره راځی "والطَّهارَة بِفَتْحِ الطَّاءِ الْفِعْلُ لُغَة . وَهِيَ النَّظَافَة وَبِكَسْرِهَا الاٰلَة وَبِضَمِّهَا فَضْلُ مَا يُتَطَهَّرُ بِهِ (البحر الرائق ۱ / ۲۳)

[۳] **اصطلاحی معنی** - الطهارة استعمال المطهرین علی الصفة المشروعة في ازالة النجاسة . مراد د "مطهرین" نه اوبه اوخاوره د، مراد د صفة مشروعة نه منقوله طریقه ده، نجاسة عام دے که حقیقي وی که حکمی وی.

[٤] **اقسام** دمخکښې وضاحت نه دامعلومه شوه چه طهارة په دوه۲ قسمه دے یو: طهارة حقیقی، دویم: طهارة حکمی چه په خاوره سره راځی.

[۵] **تجزیة المرویات** دي کتاب الطهارة کښې کل۳۹ روایات ذکر دی اوټول مرفوع دی:

باب كراهية البول في الماء الراكد

حدیث ۱٤۲ ابوحنیفة عن ابي الزبیرعن جابر قال قال رسول الله ﷺ لا یبولن احدکم في الماء الدائم ثم یتوضا منه.

پوهه شه چه اوبه په دری ۳ قسمه دی

[۱] **الماء الدائم**:- ددی دپاره دوه۲ فرده دی «بهیدونکی چینه» چه ځومره اوبه ترینه راواخلی دومره اوبه پکښې بیاراشی دویم «حوض کبیر» چه په یوجانب ترینه ځومره اوبه ؤخیي په بل طرف ورته دومره راځی.

[۲] **الماء الجاری**:- دا هم په دوه قسمه دی یو «ماء جاری حقیقی» د دےتعریف مشهور دا دے «هو ما یذهب بتبنة اوتبنتین» دویم: قسم ماء جاری حکمی «وهو الغدیر العظیم الذی لایتحرک احدجانبیه بتحریک الجانب الاخر» ددی اندازه په عشرفي عشر یا ثمان في ثمان سره لګولے شی (تفصیل په فقهه کښې دے)

[۳] **الماء الراکد**:- دا هغه اوبه دی چه دباران یا په بله ذریعه یوځائي کښې جمع ولاړې وی د ډنډو کوپه شکل کښې چه د وتلو څه لارئي هم نه وی او د کمیدو په صورة کښې ئي د زیاتیدو هم څه پروګرام نه وی.

حدیث الباب کښې هم د دغه اوبو حکم ذکر کړیږي، حدیث کښې اګرچه لفظ ده «دائم» راغلے دے لیکن مرادترینه ماء راکد دی، ځکه چه ماء دائم چه مونږه د هغې کومه تفسیر کړے دے په وقوع د نجاسة سره هغه نه پلیتیږی، چونکه په اعتبار د لفظ سره په ماء دائم کښې عموم دے خپلو دواړوفردینو ته هم شاملیږی، او په معنی دراکد باندی هم راځي، دلته معني ثانی مراد ده، دلیل د دےخبری حدیث دبخاری شریف دے چه هلته تفسیردماء دائم په «الذی لا یجری» سره شوے فرمائی! وَبِاسْنَادِهِ قَالَ لَا يَبُولَنَّ احَدُكُمْ فِي الْمَاء الدَّائِمِ الَّذِي لَا يَجْرِي ثُمَّ يَغْتَسِلُ فِيهِ (صحيح البخاري ۱ / ۳۹۸) بیا دغه نهی دبولونه په ماء راکد کښې ځکه اوشوه چه ماء راکد په وقوع د نجاسة سره پلیتیږی عندالجمهور.

اختلاف:- دی مسئله کښې اختلاف دے چه اوبه په وقوع دنجاسة سره پلیتیږی کنه؟ اول تحریر دمحل دنزاع پکاردے: ماء جاری، اوماء دائم سره د خپلو فردینونه په وقوع د نجاسة سره بالاتفاق نه پلیتیږی، البته ماء راکد کښې دفقهاء اختلاف دے د شلو۲۰ نه زیات اقوال دی پکښې، چه مشهور مذاهب پکښې څلور۴ دی،

(۱) د امام مالک رحمہ اللہ قول دا دے! چه اوبه په وقوع دنجاسة سره نه پلتیږی که لږی وی او که ډیری وی، ترڅوچه یود اوصاف ثلثه ئی (چه لون، طعم، ریح دے) بدل نشی، وجه دا ده چه اوصافوثلثه کښې یووصف بدل شو نو بیا خو اوبه اوبه پاتی نشوے.

(۲) امام ابوحنیفة رَحِمَهُ اللّٰهُ (۳) امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمائي اچه ماء قليل په وقوع دنجاسة سره پليتيږي او ماء كثير نه پليتيږي [البته په تفسير دماء قليل اوكثير كښ د دواړو امامانو اختلاف دے چه تفصيل ئي را روان دے انشاءالله]

(٤) اهل ظواهروائي! چه ماء راكد كښ كله وقوع دنجاسة براه راست اوشي، مثلا بول پكښې بلاواسطه اكړےشي نوپليتيږي، او كه په واسطه دبل شئ پكښې واچولےشي مثلا بول ئې په لوښي كښې اكړه او بيا ئي په دغه اوبو كښ واچول نونه پليتيږي، ترڅوچه ددغه اوبوطبيعة نه وي بدل شوے، چه رقة اوسيلان دے. دامذهب عائشة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا او حسن بصري رحمه الله ته هم منسوب دے.ليكن دعائشه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه دامذهب رواية ثابت ندے علماء فرمائي! كه دامذهب دعائشه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه راوية ثابت وے، نودا به قوى ترين مسلك وُو، ځكه عائشة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اعلمه بمسائل المياه وه، ليكن ددے ثبوت هرګز نشته په دى وجه مذهب داهل ظواهرو ظاهر البطلان دے او دا واضح نشان داهل ظواهرو د جمود على الظاهردے، چه دعقل نقل نه دامذهب خلاف دے، وجه دا ده چه يوشئ ده ګندګئ په خلط كيدو باندې پليتيږي نو كه په هره ذريعه سره خلط راشي دغه حكم د نجاسة به ثابتيږي، هم دغه وجه ده چه د اهل ظواهرو سره مونږه په دى مسئله كښ هډو كلام نه كوؤ.

دلائل: دليل د امام مالك رَحِمَهُ اللّٰهُ حديث دبئربضاعه دے، دا يوكوهےوو په مدينه منوره كښ داسې ځائے كښې واقع وو چه هلته به ګندګي وه د حائضو اونفساء به ګنده جامې او ګرسفونه غرځول صحابه كرامو دنبي كريم ﷺ نه ددے كوهي د حكم په باره كښ تپوس اكړوجواب ميلاؤشو! «ان الماء طهور لا ينجسه شيء (سنن الترمذي -۱/ ۹۵) معلومه شوه چه اوبه ترڅو په وصف د اوبو باندې وي نو په هيڅ څيز سره نه پليتيږي، البته،،چه يووصف بدل شى نوبيا به په وقوع د نجاست سره پليتيږي،،

الجواب: امام مالك رحمه الله ته جواب دا دے اچه تپوس دصحابه كراموپه وقوع او مشاهده د نجاست باندې ندے بناء بلكه په توهم اوخطره د نجاست باندې بناء دے، ځكه دا كوهے په وسط د ډيران كښ واقع وو، چه چارچاپيره ترينه ابادي وه نوصحابه كرامو دا خطره محسوسه كړه چه د بادوباران په ذريعه دانجس اشياء كيدے شي دى كوهي كښې پريوځي او دا وهم ئي اكړوچه دا كوهےبه ګني نجس شوےوي، نبي ﷺ د دفع د وسوسې په طريقه داسلوب الحكيم جواب وركړوچه ،، ان الماء طهور لا ينجسه شيء،،

داحنافو اوشوافعو رَحِمَهُمُ اللّٰهُ دپاره دليل حديث الباب دے، چه ماء قليل په وقوع دنجاست سره پليتيږي، ځكه ماء راكد ماء قليل وي البته ماء كثير په وقوع دنجاست سره نه پليتيږي، بياد

احنافواوشوافعو رَحِمَهُمُ اللّٰهُ په قلة اوكثرة د ماء كښې اختلاف دے احناف رَحِمَهُمُ اللّٰهُ فرمائي! چه داقلة كثرت رائي ده مبتلا به ته حواله دے، شوافع رَحِمَهُمُ اللّٰهُ فرمائي! چه اوبه په مقدار د قلتين وى دغه كثير دى، اوچه ددے مقدارنه كم وى قليل دى.د امام شافعي رحمه الله دپاره دليل حديث دابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دے,, اذا كان الماء قلتين لم يحمل الخبث.. (سنن الترمذي -۱/ ۹۷)

اجوبه: احناف رَحِمَهُمُ اللّٰهُ جو ابونه مختلف وركوى، دټولوحاصل دا دے چه قلتين تخمين د كثرة نه دے، يو وجه دا ده چه ده ,,قُلة ,, دپاره ډيرى معانى راځى مثلا:منكوټے، چاټې، ډهركئ، لكه شاعروائي!

الرِجل حافية ومالى مركب والكفُ صِفر والطريق مخوف

كيف الوصول الى سعاد ودونها قـلل الجبال ودونهن حتوف

دغه شان ,,قلة ,, په ګټو اوكمرانوكښې چه كومه قوتى اوډنډوكى وى هغى ته هم وائي، او هغه ډنډوكوته هم وائي چه د جارى اوبونه ځائ په ځائ جوړ شوى وى، لكه په خوړكو كښې د دے مشاهده كيدے شى، اوس كله چه ددي لفظ معاني ډيرى شوے نو بغير دقرينى نه يوه معنى نشے اغستے، او دلته حديث دقلتين كښې قرينه په تعين د چاټې باندى نشته بلكه ظاهره دا ده چه د دينه هغه قُلل (ډنډوكى) مراد دى كوم چه په غرونو كښې په خوړكو كښې وى، ځكه تيوس دصحابه كرامو هم په دى بنياد شوے چه.موږه بسا اوقات سفر كوو په بيابانونو كښې هلته د اوبو واړه واړه ډنډوكى وى نو خدشه دا ده چه دغه ځائى ځناوړ وى چه دهغوى جوټه بالاتفاق نجسه ده، او ضرور دغه ځناوړ به ددغه ډنډكونه اوبه څښى چه دهغے په وجه به دغه اوبه پليتيږى ؟ د ترمذى روايـة دے! عن ابن عمر قال : سمعت رسول الله ﷺ وهو يسال عن الماء يكون في الفلاة من الارض وما ينوبه من السباع والدواب ؟ نـبي ﷺ ورتـه ارشاد اوفرمائلو!.اذاكان الماء قلتين لم يحمل الخبث.. يعنى چه اوبـه دوه ډنډوكى ډكوى دغه نه پليتيږى، ځكه دغه اوبه جارى دى او جارى اوبه په جوټه كولود نجس حيوان نه پليتيږى.

د دينه علاوه دسندد ضعف او د اضطراب المتن جوابونه هم كيدے شى.

اعتراض: چه د احنافو رَحِمَهُمُ اللّٰهُ نه خود ماء كثيردپاره د ..عشرفي عشر..او..ثمان في ثمان.. تخمين هم منقول دے، ځنكه دلته د رائي دمبتلى به قول اكرے شو؟ **جواب:** دغه بطور تمثيل وينا شوى ده، د امام محمدرحمه الله نه يو ځل خپل شاګرد ابوسليمان جزجانى رَحِمَهُ اللّٰهُ تپوس اكړو د ماء كثير په باره كښى امام محمدرحمه الله جواب وركړو ..كمسجدى هذا.. هغه جمات چه ناپ شو نو د بهرطرف نه عشرفي عشرنوو،

اودنته طرف ثمان في ثمان وو، نو دا يو تمثيل دےاصل مسئله هم هغه ده چه په قلة كثرة د ماء كښې رائي دمبتلى به لره اعتبار دے والله اعلم

قوله!ثم يتوضامنه: دا قيد احترازى ندے، بلکه د مزيد قباحت دپاره ويلےشوے، يعنى د لره شرم هم نه ورځى چه ماء راكد كښې بول كوى، كيدے شي روسته ورته پخپله محتاج شي.

حديث ۲۱۴۳ ابوحنيفة عن الهيثم الصواف عن محمد بن سيرين عن ابى هريرة قال نهى رسول الله ﷺ ان يبال في الماء الدائم ثم يغتسل منه اويتوضا.

دا حديث هم دسابقه باب سره متعلق دے د احنافو اوشوافعو رَحِمَهُمُاللَّهُ مستدل دے.

باب ماجاء في الوضوء من سؤالهرة

حديث ۲۱۴۴ ابوحنيفة عن الشعبى عن مسروق عن عائشة ان رسول الله ﷺ توضا ذات يوم فجاءت الهرة فشربت من الاناء فتوضا رسول الله ﷺ منه ورش مابقي.

تشريح السؤ: سؤر جوټى او مابقى دشيئ ته وائي، بيا د جوټى دپاره مختلف اقسام دى چه وضاحت ئے كيدے شي:

اقسام السؤر:- دا په اته۸ قسمه ده تفصيل سره د حكم د هرواحد نه وړاندى كيدے شي:

[۱] **سؤرالمسلم:**-دا بالاتفاق طاهره ده، دهغى نه خوراك اوغسل وغيره كول جائز دى،

[۲] **سؤرالكافر:**- ديكښې اختلاف دے، بعض وائي دانجسه ده، دليل دا اية كريمه پيش كوى ! يَاأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوٓا اِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هَـٰذَا (الاية) ۞ (سُورَةَ التَّوْبَة)

جمهور فرمائي! چه طاهره ده، ځکه د دغه نجاسة نه مراد دعقيدى نجاسة دے چه بيت الله كښې به ئي دغلطى عقيدى مطابق عبادة كولو د بنديز وجه هم دغه ده، قول فيصل دا دے چه كه دغه كافر نجس شئ خوړلےوى مثلا خنزير، سپے، شراب وغيره او سمدست څه شئ جوټه كړى نودغه جوټه نجسه ده، او كه عام وخت كښې ياد نجس شئ د خوارک نه كافي وخت روسته يادڅولےدپاكولونه روسته څه شئ جوټه كړى بيا دغه جوټه طاهره ده،

[۳] **سؤرماكول اللحم:**- د دوئ جوټه هم بالاتفاق طاهره ده چه په بل څه ئې خوله ګنده نوى.

[۴] **سؤرالخنزير:**- دا بالاتفاق نجسه ده په نجاسة غليظه سره ځكه خنزير نجس العين دے.

[۵] **سؤر الكلب** - جمهوروائي چه نجسه ده په نجاست غليظه سره اوامام مالک رَحِمَهُ ٱللَّهُ فرمائي چه طاهره ده
[٦] **سؤرسباع البهائم** - د دې جوټه هم بالاتفاق نجسه ده لکه شرمخ، کيدړ وغيره سباع شو.
[۷] **سؤرطوائف البيوت** - د دې په باره کښې باب تړلے شوے چه وضاحت ئي راځي ،
[۸] **سؤرمشكوک** - لکه حمار (خر) اوبغل (قچر) شو تفصيل د دې په خپل ځائي (يعني فقه) کښې موجود دے.

حديث الباب د طوائف البيوت يوقسم چه سنور (پيشو) دے دهغې په باره کښې دے مسئله کښې اختلاف دے دری ۳مذاهب دی:

(۱)..امام اوزاعی رَحِمَهُ ٱللَّهُ فرمائي! سؤر السنور نجس ده دليل هغه اوږد حديث دے چه دهغي په اخرکښې راځي .. "السِنَّوْرُ سَبُعٌ" اوس د سبع جوټه خوبالاتفاق نجسه ده **لهذا** دپيشو جوټه هم نجسه شوه جمهورجواب ورکوی چه دغه حديث ضعيف دے: وَعِيسَى لَيْسَ بِالْقَوِيِّ. (نصب الراية : ۱ / ۱۳٤) وفيه عيسى بن المسيب وهو ضعيف (مجمع الزوائد ومنبع الفوائد . ۱ / ۳۵۷) بله دا چه که حديث صحيح هم شي خو پيشودعلة د طواف په وجه اودعموم بلوی په وجه د حکم د سبع نه مستثنى دے.

(۲)..مذهب د ائمه ثلاثه اوامام ابويوسف رَحِمَهُ ٱللَّهُ دے د دوی په نيز د پيشوجوټه طاهره ده.

(۳)..مذهب د امام ابوحنيفه رَحِمَهُ ٱللَّهُ اوامام محمد رَحِمَهُ ٱللَّهُ دے د دوی په نيزد دی جوټه مکروهه ده، بيا په تخريج د طحاوی رَحِمَهُ ٱللَّهُ سره دا کراهة کراهة تحريمی دے، ځکه جوټه د لاړو د لګيدو سره راځی اولاړي د غوښې نه پيدا کيږی او غوښه د پيشو کښې حرمة دے، **لهذا** جوټه ئی هم حرامه شوه، او د امام کرخي رَحِمَهُ ٱللَّهُ د تخريج مطابق کراهة تنزيهی دےځکه علة ورله من طوائف البيوت دے او د دينه اکثراوقاتوکښې احتراز نشي کيدے اوقران فرمائي! وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِى ٱلدِّينِ مِنْ حَرَجٍ (الاية) ﴿۷۸﴾ (سُورَة الحَجّ) فتوى په قول د امام کرخي رَحِمَهُ ٱللَّهُ ده،

دلائل الفريقين: ائمه ثلاثه اوامام ابويوسف رَحِمَهُ ٱللَّهُ يود حديث الباب نه دليل نيسي- دويم: دليل رواية د کبشه بنت کعب زوجة ابی قتاده اوږد حديث دے په اخر کښې وائي! ان رسول الله ﷺ قال انها ليست بنجس انما هي من الطوافين عليكم او الطوافات (سنن الترمذي: ۱ / ۱۵۳) د طرفينو دپاره دليل هغه اوږد حديث دے چه هغی کښې دا الفاظ دی .. واذا ولغت فيه الهرة غسل مرة .. (سنن الترمذي -۱ / ۱۵۱) طريقه د استدلال دا ده چه غسل د نجس شي کيږی اودي حديث کښې حکم د غسل شوے دے،

دا تقاضا ددے کوی چه جوته د پیشو دی نجسه شي په نجاسة غلیظه سره لیکن بل طرف تـه دا پیشـود طوافینو نه ده، نو ددغه علة په وجه د نجاسة نه حکم کراهة ته راښکته شو.امّااستدلال د ائمهٔثلاثـه د روایة د عائشه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه؟ نودهغی نه جواب دا دے چه نبي کریم ﷺ به دبیان د جواز دپاره کله کله داسی عمل کولو، او احناف هم د جوازنه انکارنه کوی، ځکه جوازد کراهة سره جمع کیدے شی ، امّا استدلال د راواية د کبشه؟ نو د هغی نه جواب دا دے چه دغه زنانه غیر معلومه اومجهوله ده، پـدی وجـه په روایة کښ جهالت راغےقابل د استدلال نه شو، دویم دا چه ،،انهامن الطوّافین،، مقصد دا دے چه دا د کور حیوان دے د دی سره نرمی کوئ او خیال ئي ساتئ، خوراک څښاک ورته ورکوئ، د نجاسة اوعدم نجاسة دلته هډو ذکر نشته دے.

حالات ام المؤمنین عائشه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا: عائشه بنت ابی بکرالصدّیق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا د هجرة نه اتہ۸کاله مخکښ پیدا شوی ده، د شپږ۶کالویه عمرکښ د نبي کریم ﷺ په نکاح کښ راغلی ده، دنه۹کالویه عمر کښـی ئی واده شوے دے، او د نبی کریم ﷺ دوفات په وخت ئی عمر اتلس۱۸ کاله وو،په ۵۷ هـ کښ وفات شویده، دی مسند کښ ترینه کل ۲۵ روایات نقل دی په دویم نمبر زیات روایات په دی کتاب کښ هم د دی دی. کما مر تفصیله.

باب ماجاء في البول قائما

حـدیث ٤٤٥ ابوحنیفـة عـن منصـورعن ابی وائـل عـن حذیفـة قـال رایت رسـول الله ﷺ یبـول علی سباطة قوم قائما.

په بول قائما کښ د فقهاء معمولی اختلاف دے دری ۳ مذاهب دی ښکنبي،

(۱).. امام احمدبن حنبل، سعید بن المسیب، عروة بن الزبیر رَحِمَهُمُ اللّٰهُ ئي مطلقا جائز ګڼری. .

(۲).. اهل ظواهر ورته مطلقاحرام وائي که عذر وی کنه وی،

(۳).. جمهوروائي چه بلاعذره بول قائما مکروه تنزیهی دی،او د عذریه وجه بلا کراهته جائزدی: د اول مذهب دپاره دلیل حدیث الباب دے، د مذهب ثانی دپاره دلیـل روایـة د عائشـه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا دے! عن عائشة قالت . من حدثکم ان النبي ﷺ کان یبول قائما فلا تصدقوه ما کان یبول الا قاعدا (سـنن الترمـذي - ۱ / ۱۷) د دریم مذهب دپاره دلیل مجموعه ددغه روایاتوده، او د دی سره روایة د بیهقی دے چه هغی کښ الفـاظ دا

دی ،، عن ابي هريرة : ان النبي ﷺ بال قائما من جرح كان بمابضه (سنن البيهقي الكبرى - ۱ / ۱۰۱) البند

اولی په ناسته بول کول دی ده څو وجوهونه:

[الف] په ناسته بول کولوکښې سترالعورة دےاو په ولاړه کښې کشف العورة دے [با] په ناسته کښې طهارة د بدن او د جامودے په ولاړه کښې اکثرنجاسة د دغه دواړو راځی [ج] په ولاړه بول کول بې مروّتی او په ناسته سرپټوب دے. البته دی زمانه کښې په ولاړه بول کول د غیر مسلمو شعارګرځیدلے پدي وجه د دې شناعت نورهم زیات دے (شاانورشاه کشمیری رَحِمَهُ اللهُ)

سوال: د روایة د عائشه رَضِيَ اللهُ عَنهَا خود حدیث الباب سره واضح تعارض دے فکیف التطبیق؟

جواب: د دواړو په مینځ کښې تطبیق ممکن دے په څووجوهوسره،

[۱] چه عائشه رَضِيَ اللهُ عَنهَا د خپل علم موافق خبرورکړے دےاوحذیفه رَضِيَ اللهُ عَنهُ د خارج البیت د واقعي خبر ورکړے دے، او د نفي علمي او وجود واقعي په مینځ کښې هیڅ منافات نشته،

[۲] عائشه رَضِيَ اللهُ عَنهَا د بې عذره قائما بولو نه انکار کړے دے او حذیفه رَضِيَ اللهُ عَنهُ د عذر په حالت کښې دقائما بولو خبر ورکړے دے دیکښې هم څه منافات نشته،

[۳] بول قائما دنبي ﷺ نه نادر الوقوع دی اونادرکالعدم وی څکه عائشے رَضِيَ اللهُ عَنهَا دعدم تصدیق قول کړے دے،

[٤] عائشے رَضِيَ اللهُ عَنهَا نفي د دوام اواستمرار کړی ده، او حذیفه رَضِيَ اللهُ عَنهُ خوذکرد یوے موقع کړے فلامنافات بینهما،

[٥] عائشے رَضِيَ اللهُ عَنهَا نفي د عادت کړي ده، اوحذیفه رَضِيَ اللهُ عَنهُ بیان د خلاف عادت کړے دے مونږه به هغه خبره اخلوچه موافق العادت وی:

اشکال: اوس سوال دا ذهن ته راځی چه په دغه موقع څه عذروو نبی کریم ﷺ ته چه دا خلاف عادت کارئي اکړو؟ د دی مختلف توجیهات شوی دی. **بعض وائي:** د نبي ﷺ په ملا کښې درد وو او د عربو په نیزد دی علاج قائما بول کول وو کما في سنن البيهقي الكبرى - ۱ / ۱۰۱) **بعض وائي:** چه د زنګونانو په باطن کښې ئې درد وو چې کیناستلے نشو، دا توجیه قوی ده څکه د دی تائید په بل روایة سره شوے،،لوجع كان في مابضه.،(بیهقي حواله بالا) **بعض وائي:** دا د بیان د جواز دپاره ئې کړےوو،داتوجیه هم صحیح ده **بعض وائي:** چه عذرداوو چې که نبی ﷺ دیران طرف ته مخامخ کیناستو نود ګندګئ یره وه څکه جانب د

ډیران په لوړه وو چې بول ترینه واپس راتلل، او که لاري طرف ته ئي مخ کولے نوکشف العورة راتلو مجبورا نبي کریم ﷺ کیناست و.حاصل ددی توجیه داشو چه مناسب ځائی دناستی نه وو،

قوله! سباطة قوم: سوال: چه دا ډیران د قوم وونونبي کریم ﷺ ځنګه بغیر د اذنه ددی استعمال کولو؟

جواب (۱) دا اضافت د تملیک دپاره ندے بلکه د بیان دپاره دے، اشاره دیته ده چه قومی ډیران وو، اونبي ﷺ ورسره هم په ملکیت کښ شریک ووځکه ډیران مشترکه د قوم وي، او نبي ﷺ د دغه قوم یو فرد وو.(۲) اذن یوصریحی وی اودویم عرفي اوس ځینې اشیاء داسې وی چه هغې کښ اذن صریحی ته ضرورت وی، لیکن په ډیرو کښ اذن عرفي هم کافي دے اوډیران د قبیلے د هغه اشیاء نه دے چه هغې کښ اذن عرفي کافي کیږی لکه چه د اودس وچولودپاره داجنبي ملک لوټه،ګټه استعمالول بلا اذنه جائز دی.

باب ترک الوضوء من شرب اللبن

حدیث ۵\۱٤٦ ابوحنیفة عن عدي عن ابن جبیر عن ابن عباس قال رایت رسول الله ﷺ شرب لبنا فتمضمض وصلی ولم یتوضا.

مسئله اتفاق ده، شرب اللبن نه روسته اودس لازم ندے، البته مضمضه چه نبي کریم ﷺ کړی ده نودهغې وجه دا ده چه دلبن دپاره دسومة (غوړ والے) وی چه هغه ختم شی،

باب ما جاء في عدم الوضوء ممّا مسّته النار

حدیث ٦\١٤٧ ابوحنیفة عن ابی الزبیر عن جابر قال اکل النبی ﷺ مرقا بلحم ثم صلی ولم یتوضا.

ابتدا د اسلام کښ وضوء د مماسته النارنه لازم وه، ورروسته بیا دا حکم منسوخ شو او پدی باندی د صحابه کرامواجماع شوی ده(کماقاله النووی رَحِمَهُ اللّٰهُ)اهل ظواهر او غیرمقلدین اوس هم د مامسته النارد استعمال نه په لزوم د اودس قائل دی حدیث الباب د دغه خلقو تردید کوي چه مقصدئي واضح دے.

اشکال: البته ذهن ته دا سوال راځی چه په ابتداء د اسلام کښ ولی د مامسته النار د استعمال په.وجه د اودس دلزوم حکم وو ځکه ښکاره خبره د چه پدی خو اودس نه ماتیږی؟

جواب: د دی مختلف وجوه علماء کرامو ذکر کړی دی چه من جمله د هغې نه دادی :

[۱] په ابتداء د اسلام کښې چونکه مسلمانان قریب العهد ووجاهلیت ته، او د جاهلیت دور د نجاست وو، نو په هغه عادت مسلمانان د طهارة سره عادت نه وو، اواسلام کښې خود طهارة لوئ اهمیت اولوړمقام دے، د صحابه کرامو دعادت کولودپاره په معمولي معمولی خبره به دطهارة د لزوم حکم وو چه صحابه کرام عادت واخلي، کله چه دوی عادت شو بیا په دغه احکامو کښې تخفیف راغےاو داتغلیظ منسوخ شوځکه چه صفائي د صحابهٔ کرامو طبیعت وګرځیدو (فتح الباري - ابن حجر -۱/ ۳۱۳)

[۲] یا د دی وجه نه اودس وو چې نارمظهرد قهراوغضب خداوندی دے، پدی چه کوم شئ پوخ شی هغه کښې هم ددے اثرراځی، د،،نار،، ضد اوبه دی کله چه اودس اوشی ددغه اوراثربه ختم شی بناپدی داحکم د اودس اوس هم استحبا باشته (امام شعرانی رَحِمَهُ اَللَّهُ)

[۳] دا چه خِلقت د شیطان من النار دے په مطبوخ شئ کښې به د شیطان څه نه څه اثرراځی په اودس سره به د دے ازاله ؤشی (علامه ابن قیم رَحِمَهُ اَللَّهُ)

[٤] دا چه د مطبوخ شئ د اکل نه انسان ته ارتفاق اوانتفاع کامله حاصله شی چه پدی سره د ملائکونه بعدراځی ځکه د هغوی طبیعت خو دا ندے، چه اودس اوشو نود ملائکو سره مشابهت بیا عود اکړی (شاه ولی الله رَحِمَهُ اَللَّهُ) والله اعلم.

باب ماجاء في السواک

حدیث ۷\٤۸ ابوحنیفة عن علی بن الحسن الزرّاد عن تمام عن جعفر بن ابی طالب ان ناسا من اصحاب النبی ﷺ دخلوا على النبی ﷺ فقال ما اراکم قلّحا استاکوا فلولا ان اشق على امتی لامرتهم ان یستاکوا عند کل صلوة وفي روایة مالی اراکم تدخلون على قلحا استاکوا فلولا ان اشق على امتی لامرتهم ان یستاکوا عند کل صلوة او عند کل وضوء.

چند خبری اجمالا وړاندی کیدے شی : ربط، معنی لغوی او اصطلاحی د مسواک، اختلاف في حکم السواک، اختلاف في وقت السواک، بیان مواقع السواک.

[۱] **ربط**:- بیان د طهارة شروع دےمسواک هم د متعلقاتود طهارة نه دے مصنف علیه الرحمة ددی باره کښې روایات ذکر کوي.

[۲] **معنی لغوی اواصلاحی**:- سواک لغة کښې په معنی مصدری د استیاک دے (یعنی مسواک وهل) یاپه معنی د مرلو سره راځی، مسواک هم په غاښونو کښې عرضا او په ژبه باندی طولا وهلےشی، یاد ..استاک

الابل,, نه ماخوذ دے دا هغه وخت ویلے شي چه د اوښانو په تگ کښ کوروالے اوضعف راشی ! والسِّوَاكُ والتَّسَاوُكُ السیر الضعیف (لسان العرب ۱۰ / ٤٤٦) د مسواک په وهلوکښ هم کرول او تاوهل راځی.

اصطلاحا: مایتسوک به من العود. یا الخشب الذی یستاك به.

[۲] **حکم السواک** - اهل ظواهر، غیرمقلدین، اواسحق بن راهویه دیته واجب وائي بغیر د دینه مونځ جائزنه گنړي، البته د اسحق بن راهویه یو قول دا دے چه بغیرد دینه به مونځ وُشی خوترک د واجب به راشی، وحکی ابو حامد الاسفرائیني والماوردي عن اهل الظاهر وجوبه وعن اسحاق انه واجب ان ترکه عمدا بطلت صلاته (عمدة القاري ٥ / ۱۷۲) جمهوروائي چه مسواک سنّت دے، دجمهورو دپاره دلیل حدیث الباب دے چه د وجوب په صورة کښ په امة باندې مشقت راځی او دا په شریعة کښ مدفوع دے نونفس سنتیّت اواستحباب پاتی شو.

[٤] **مواضع السواک** - پدی مسئله کښ جمهوریه خپل مینځ کښی اختلاف کړے دے، احناف فرمائي چه دامن سنة الوضوء دے، دلیل ئي اخرئ ټکړه د حدیث ده چه,, عند کل وضوء,, شوافع فرمائي چه دامن سنة الصلوة دے، دلیل ئي د حدیث ابتدائي ټکړه ده چه,,عند کل صلوة ,,دے،

ثمرة الاختلاف:- چه یوکس په اودس کښ مسواک اکړی او په دغه اودس باندې مونځ اکړی بیا په دغه اودس باندې بغیردمسواک وهلونه د بل وخت مونځ اکړی، نو عندالاحناف دغه دویم مونځ دپاره دغه مخکښ مسواک کافي دے، او دغه کس اتی بالسنّة دے،شوافع وائي چه نه د دوئم مونځ په حق کښ دےتارک د سنة مسواک دے، البته د اول مونځ په حق کښ بالاتفاق اتی بالسنة دے، او که اودس ئےمات کړواودوئم اودس کښ ئي مسواک ونکړونو بالاتفاق تارک ده سنة مسواک دے، ترجیح مذهب حنفي لره ورکوو، ځکه هغوی جواب کوی چه ,,عندکل صلوة ,, په حذف د مضاف سره دے چه ,,عند وضوء کل صلوة ,, دے، او دامضاف ځکه را اباسوچه یوخود مونځ په وخت کښ مسواک مناسب ندے، ځکه که دمسواک سره وینه راوُځی د غاښونو نه اوعندالاحناف دی سره اودس ماتیږی، اوعندالشوافع اکر که اودس نه ماتیږی په خروج الدم باندی لیکن دغه وینه نجسه ده بالاتفاق تیرول ئي هم حرام دی او په جمات کښي ئی توکل هم ناجائزدی ځکه دجمات بی حرمتی ده، او وعیدهم راغلے په جمات کښ دلاړو توکلو او گندگئ اچولو، کما في الترمذی! عن انس [بن مالك] قال : قال رسول الله ﷺ البزاق في المسجد خطیئة وکفارتها دفنها (سنن الترمذي ۱ / ٤٦١) او هم دا قرین قیاس ده، ځکه حدیث کښي بزاق (لاړی) توکل ناجائزشوی دی نو وینه اچول خوبه طریق اولی ناجائزدشو، دویم قول دا دے چه دامن سنة الدین دے، او

داقول راجح دے:نقل ذلك عن ابي حنيفة (عمدة القاري - ٥ / ١٧٢) وجه دا ده چه د مسواک دپاره نورمواقع هم شته علاوه ددغه دوه خائیونونه، لکه دا لاندی ذکر کیږی،

مواقع السواک [١] حين الوضوء [٢] بعدالطعام [٣] بعدالنوم مطلقا [٤] د سفرنه د واپسئ په وخت کښ [٥] قبل القربان الى الزوجة [٥] د غاښونود زیړیدو په وخت کښ [٦] عند تلاوت القران [٧] عند الاجتماع بالناس(رد المحتار - ١ / ٢٩٧)

حالات جعفربن ابی طالب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا د علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روزردے، چه لس\١٠ کاله ترینه مشرور، اوعقیل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د دنه لس\١٠ کاله مشرور، صاحب الهجرتين، په ذوالجناحين باندی مشهور دے، په جمادی الاولی/٨هـ کښ په غزوة موته کښ امیر شهید شوے ذے، دواړه لاسونه ئے په جنګ کښ غوځ شوی وو، نبی ﷺ فرمائي! چه ما د لره په جنت کښی ولیدوچه الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ ورلره دوه٢ وزری ورکړی دی چه په هغی باندی جنت کښ سیر کوی، ځکه ورته ذوالجناحين وائي، کنیه ئی ابوالمساکین ده، شبیه رسول الله ﷺ خَلقا وخُلقا (معرفة الصحابة ـ ٤ / ٣٥٠) دی کتاب کښ د دنه دایوروایة نقل دے.

قوله!فلولا ان اشق على امتی: قانون دا دے چه ,,...لَو,, ،، راځی دپاره د انتفاءد ثانی په سبب د انتفاء د اول سره، او ,,لولا,, راځی دپاره د انتفاء د ثانی په سبب د وجود د اول سره، د اول دپاره مثال ,,لوجئتنی لاكرمتک,, مثال د ثانی ,,لولامعاذبن جبل لهلک عمر,, دلته حديث کښ ,,لولا,, راغلےدے پدي مقام کښ انتفاء د امربالسواک راغلی ده په سبب د وجود د مشقت سره خو بل طرف ته ,,استاكوا,, امرخوهم شوے دے، داخوتعارض راغےفكيف التوفيق؟

جواب: تعارض نشته ځکه انتفاء د امرِ وجوبی ده په ,, لامرتهم,, کښ اوامرد پاره د استحباب دے په ,,استاكوا,, کښی فلاتعارض،

فوائد: (١) حديث الباب نه معلومه شوه چه مسواک کول سنة مؤکده دے، ځکه چه وجوب رانغلو نوسنتيت پاتی شو، دويم نبی ﷺ پدی دشپې او ورځی مواظبة هم کړے دے او دا دلیل دسنية دے، حتی چه امام اوزاعی رَحِمَهُ اللهُ دعوی کړی ده، چه مسواک شطر الوضوء دے، هم دغه وجه ده چه نبی کریم ﷺ دمرګ په وخت کښي هم پدی عمل کړے چه ددی اهمیت طرفته پکښی اشاره ده(عمدة القاري ٥/ ١٧٢)

(۲) امام غزالی رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمائی دمسواک دکولوپه وخت کښی به دانیت کوی چه د الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ د ذکر اوتلاوت دپاره خوله صفا کوم، دی سره به ثواب کښي زیادت راشی، یواځې دګندګئ دصفائی نیت نه دے پکار داخو هسې هم راځي،

(۳) مسنون طریقه دمسواک کولو دا ده، چه مسواک طولا او عرضا دغاښونو د ظاهر او باطن دواړو سره دتالو اوژبے کول دی، دښئ جانب نه شروع کول، کم ازکم درے ځله کول، ځکه تثلیث داودس په اکثر امورو کښی مسنون دے، البته شامی نقل کړی دی چه تثلیث مستحب دے، نورچه کله درته اطمنان حاصل شی نوکولے شی، قَالَ فِي الْمِعْرَاجِ : وَلَا تَقْدِيرَ فِيهِ ، بَلْ يَسْتَاكُ اِلَى اَنْ يَطْمَئِنَّ قَلْبُهُ بِزَوَالِ النَّكْهَةِ وَاصْفِرَارِ السِّنِّ ، وَالْمُسْتَحَبُّ فِيهِ ثَلَاثٌ بِثَلَاثِ مِيَاهٍ (رد المحتار ۱/ ۲۹۸) طحطاوی، وغیره)

(٤) دمسواک دنیولوصحیح طریقه دا ده چه «خنصره» ګوته به دمسواک لاندے راولی، او «بنصره» او «مسبحه» (سبابه) ګوته به دمسواک دپاسه راولی، او «ابهامه» ګوته به لاندی ساتی او په ښئ لاس به مسواک نیسی (عمدة القاري ٥/ ١٧٢)

(٥) دمسواک مقداربه څومره وی، علامه عینی رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمائی! ويكون في غلظ الخنصر وطول الشبر (عمدة القاري ٥/ ١٧٢) خو دا په ابتدا کیږی ځکه چه مسواک د استعمال سره کمیږی،

(۶) په مسواک وهلوکښې مبالغه مسنون ده، لکه په روایة دبخاری کښي راځی چه نبی کریم ﷺ به دومره مبالغه کوله چه «اع اع» به ئی کولو، مسواک به ملاسته نه کوی ځکه دي سره تورے (طحال) غټیږی، په موټي کښی به مسواک نه نیسی ځکه دي سره د بواسیرو مرض پیدا کیږی، مسواک به چوپي نه ورنه ددی سره روند والے (عمی) پیدا کیږی، البته په اول ځل مسواک چوپل برګے مرض اوجذام دفعه کوی، داستعمال نه روسته وینځل پکار دی ځکه بیا پری شیطان مسواک کوی، د ولیش (شبر) نه به غټ نه وی ورنه بیا پری شیطان سوریږی، دغه شان داستعمال نه پس به مسواک نیغ ودروی سملولے به ئی نه ګدی ورنه لیونتوب ورسره پیدا کیږی، هذاکله في! رد المحتار: ۱/ ۲۹۹) وَيُرْوَى عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ: مَنْ وَضَعَ سِوَاكَهُ بِالْاَرْضِ فَجُنَّ مِنْ ذٰلِكَ فَلَا يَلُومَنَّ اِلَّا نَفْسَهُ ، (حِلْيَة عَنْ الْحَكِيمِ التِّرْمِذِيِّ)

باب صفة الوضوء\اوكيفية الوضوء

حديث ۸٤۹ حمادعن ابى حنيفة عن خالد بن علقمة عن عبد خير عن على بن ابى طالب انه توضا فغسل كفيه ثلثا ومضمض ثلثا واستنشق ثلثا وغسل وجهه ثلثا وذراعيه ثلثا ومسح راسه وغسل قدميه وقال هذا وضوء رسول الله ﷺ.

په كيفيۀ د اودس كښې جزئي اختلاف شته چه په خپل مقام كښې به راشي، ذلته د تثليث د وضوء اوعدم تثليث حكم بيانولےشى، جمهوروائي چه يوځل بالاستيعاب اندامونه وينځل فرض دى، دوه۲ ځله وينځل جائز اوناقص سنة دى، درى۳ ځله وينځل كامل سنة دى، بعض الناس وائي چه درى /۳ ځله اندامونه وينځل لازم دى بغيرد دينه اودس نه كيږى، دليل د دوئ ظاهر د حديث الباب دے.د جمهورودپاره دليل ديوځل وينځلو دپاره روسته ۱۱ حديث دے چه نبى ﷺ (مرّة مرّة) اودس اكړو، او د مرّتين مرتين دپاره حديث دبخاري شريف دے! عن عبد الله بن زيد : ان النبي ﷺ توضا مرتين مرتين (صحيح البخاري ــ ۱/ ۷۰) دغه هر يوته نبي ﷺ صحيح ويلے،

حالات على كر م الله و جهه: علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبى ﷺ د تره خوےدے، دهجرة نه لس كاله مخكښې پيدا شوے، تربيت ئې دنبي كريم ﷺ په غيږه كښې شوے، په هر ډګربه دنبى كريم ﷺ سره موجودوو، اكثربه جنډه هم دده سره وه، دنبي كريم ﷺ زوم وو، دده ډيرزيات مناقب دى څه خوهغه دى چه صحيح دى، اوځه هغه دى چه شيعګانو دهغى وضع كړى ده، كنيه ئې ابوتراب ده، يوځل د كور نه خفه شوے وواو بهربه خاورو كښې پروت وو نبى ﷺ وريسى راغلو اوورته ئې ونيل! قم اباتراب.. بس دغه ئې كنيه شوه، بالاتفاق خليفۀرابع دے، مده دخلافة ئې څلور٤ كاله اونهه۹ مياشتى وه، دخوارجو اوباغيانو سره ئې ډير جنګونه كړى دى، په اخره كښې په ٤۰ هـ كښې يوخارجي شهيد كړے دے.

واقعة قتل على رَضِيَ اللهُ عَنْهُ واقعه ئې داسى ده چه خوارجو(د دوني تعارف مخكښې شوے دے) پس د ډيروجنګونونه چه دوئ په څه لګ تعدادكښې پاتې شو مشوره ئې اكړه په مكة المكرمة كښې چه په امة كښې داټول فساد د هغو خلقو دے چه صاحب اقتداردى او حكومة ورسره دے، ددى كسانوقتلول ضرورى دى چه دا فسادات ختم شي، درى /۳ كسان ئې منتخب كړه،،برک بن عبدالله،، عمروبن بكرالتيمى ،، عبدالرحمن بن ملجم.. دوى پدى خبره اتفاق اكړوچه په څه طريقه دادرى /۳كسان ختمول غواړى ،،حضرت معاوية ،، حضرت عمروبن العاص،، حضرت على رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . برک، د معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او

عمروبن تیمی د عمرو بن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اوعبدالرحمن بن ملجم د علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دمرګ ذمواری واغسته، دوی دا لوظ ئی اکړو چه دا پروګرام به تول په یوه ورځ کوو، ددی دپاره ئي دا اسکیم جوړ کړوچه هر یو به په ۱۷ رمضان المبارک باندی د سحرد مونځ په وخت کښې په دی هر یو حمله کوؤ [امامت به دغه وخت کښې امیر وقت یا د هغه نائب کولو] د دی جوړشوی پروګرام په مطابقت باندی، برک بن عبدالله دمشق طرف ته زوان شوچه دارالحکومة د معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وو، اوعمروبن تیمی ,,مصر،، ته روان شوچرته چه عمروبن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حاکم او ګورنر وو، اوعبدالرحمن بن ملجم کوفې ته لاړو کوم ځائي چه د علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دارالخلافه وه.۱۷ رمضان المبارک د سحرمونځ له معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راتلو چه برک پری د توری ګذار ته ځان تیارکړو معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پوهه شومنډه ئي کړه د ځان د بچاؤ دپاره، خو بیا هم د توری ګذارئي په یوکوناتی باندی ولګیدواوجورزخم پکښې وشو، برک بن عبدالله خوګرفتارشوچه روسته بیاقتل شو، د معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دزخم دعلاج دپاره طبیب راوغوښتو د زخم جائزه ئي چه واغسته معلومه شوه چه دغه توره مسمومه وه، طبیب د زخم علاج په دوه۲ طریقوسره تجویزکړو، یوچه سیخ ګرم شی او دغه ځائي پری وداغلې شی نوټول بدن ته به دغه زهرسرایت ونکړی، دویمه طریقه دا ده چه خه به یوه دوائي تیاره کړه چه دهغې په وجه به دغه زهرختم شی خودهغې اثربه داوی چه ستا به نور اولاد نه کیږی، معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اویل چه د تود سیخ برداشت خونه شم کولےالبته دغه دوائي به استعمال کړم ځمادوه۲ ځامن ,,یزید،، او ,,عبدالله ،، ځما پوره دی،هم دغه شان اوشوه او معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ صحت یاب شو.

عمروبن تیمی مصرته ورسیدودخپل پروګرام عملی کولو دپاره چه عمروبن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ختم کړی، خود الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ خوښه بله وه، د ۱۷ رمضان په شپه عمروبن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په داسی سخت تکلیف (مرض) کښې مبتلا شو چه د سحرمونځ ته جمات ته نشوتلےخپل نائب ئي «خارجة بن حبیب»، مقرر کړوچه خلقوله مونځ اکړه، وشوه هم دغه شان هغه راغےد جمع ورکولو دپاره چه څنګه په مصلی ودریدوعمروبن تیمی د لره عمروبن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وګنړلود توری ګذار ئي پری اکړوچه ددی په نتیجه کښې خارجه په دغه ځائي شهید شو، قاتل ګرفتار شود مصرحاکم عمروبن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مخکښې پیش شو عمروبن تیمی وکتل چه دغه حاکم خلق د «امیر» په لفظ باندی مخاطب کوی، ده دخلقونه تپوس اکړو چه داځوک دے؟ خلقو ورته اوئیل چه دا امیرد مصرعمروبن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دے، ده او وئیل نو ماچه مړ کړوهغه څوک وو؟ جواب ورکړےشوچه هغه خو ,,خارجة ابن خبیب،، وو، دغه بدبخته عمروبن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مخاطب کړو، ورته ئي او ویل!چه «اے فاسقه» ماخو ستا د قتل اراده کړی وه؟ عمروبن

العاص رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ورته جواب ورکړوچه تاخو دغه اراده کړي وه ليکن الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ دغه اراده کړی وه چه وشوه، ددینه پس عمروبن تیمی قصاصاقتل شو.

په دغه دری ۳۱ کسانوکښ دریم بدبخته اوشقی «عبدالرحمن بن ملجم» وو چه ده علی کرم الله وجهه د قتل دپاره کوفي ته رسیدلےوو،هم په دغه تاریخ دْ ۱۷ رمضان المبارک باندیٔ دسحرپه وخت کښ دمونځ نه مخکښ په لار کښ پټ ناست وو، د علی رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عادت داوو، چه دمونځ دپاره به کله د کوره اووتلو نو په لاره به ئي دا اوازکولو ,,الصلوة الصلوة ,, خلق به ئي مونځ طرف ته رابلل، په دغه ورځ هم ددغه معمول مطابق مونځ له را روان وو چه دغه شقي اخبث ورلره مخامخ په تندی د توری ګذار اکړو او وتختيدو، خلقو پسی منډه کړه اوګرفتارئي کړو، د علی رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ مخی ته ئي پيش کړو، هغه خپل مشرځوی ,,حسن رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ,, ته او وئيل! که څه ژوندے پاتی شوم نودده (ابن ملجم) فيصله به څه پخپله کوم که معاف ی کړو او که د اقدام قتل په وجه ی قتل کړو، او که په دیکښی څه وفات شوم نودا به د حکم شرعی په مطابقت قصاصا قتل کړئ، خو دا واورئ چه مثله کوئ به ئي نه، ځکه چه ماد نبی کریم ﷺ نه اوریدلی دیٔ چه خوراک او ماتونکے سپے که چا مړ کړو نو دهغه به هم مثله نه کوئ، حضرت علی رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ چه دوصية نه فارغ شو نو سلام ئی عرض کړواوکلمه ئی او ویله او شهيدشو، حسن، حسين، اوعبد الله بن جعفر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ ورله غسل ورکړو، اوحسن رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ پری جنازه اکړه» او بيا دحسن بن علی رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په حکم ابن ملجم قصاصا قتل کړےشو، خود غيظ وغضب نه ډک خلق چرته صبريدل ابن ملجم ئي د قتل نه روسته په اور سَتی کړو﴿معارف الحديث۸/۳۹۹﴾ دی مسندکښ د علی رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ کل روايات و۷۱دی.

قوله: فغسل كفيه ثلثا داغسل الكفين سنة دی، حكمة پکښی دا دے چه مخکښی به عام طور خلقود لوخی نه د اوبو راغستلودپاره لپه (لاس) لوخی ته ورننکته کوله نوچه دا ګنده وی نو ټولی اوبه به پليتی شی، ځکه خودی باره کښی حديث کښی دی! عن ابي هريرة : عن النبي ﷺ قال اذا استيقظ احدكم من الليل فلا يدخل يده في الاناء حتى يفرغ عليها مرتين او ثلاثا فانه لا يدري اين باتت يده (سنن الترمذي - ۱ / ۲۶)

قوله: ومضمض ثلثا واستنشق ثلثا مضمضه په لغة کښی تحريک ته وائي، اواصطلاح کښ: المضمضة : تحريك الماء في الفم ته وائي (الصحاح في اللغة -۲/۱۷۳) «استنشاق ,,لغة کښ په پوزه شئ بويه ول، اواصطلاح کښ!ادخال الماء في الانف،، ته وائي ديته نيزدي لفظ «استنثار,, دے لغة کښی ,,خروج

النفس من الانف.. اواصطلاح کښې «اخراج الماء من الانف» ته وائي. کما قال المنظور افریقي: والانتثارُ والاستنثارُ بمعنی وهو نثرُ ما في الانف بالنَّفَس (لسان العرب - ۵ / ۱۹۱)

فائده (۱)..مناسب ده چه داودس نه مخکښې فائده دغسل الیدین، مضمضه، او استنشاق او وجه د تقدیم ددې سنتو په فرض انداموباندې اوپیژنوا داظاهره ده چه استعمال د اوبو د طهارة دپاره کیږي، نودغه اوبه به بخپله پاک وي، اوپاک اوبه هغه وي چه او صاف ثلاثه [لون.طعم.ریح] د اوبو پکښې وي، اوس عام اودس کونکي بیناوی اول چه لاس وینځي اوبه په لاس راوچوی نود اوبورنګ به ورته ښکاره شي، بیاچه خوله کښې اوبه واچوی نو خوند د اوبو به ورته معلوم شي، بیاچه پوزی ته اوبه واچوی نوریح اوبوئی د اوبو به ورته معلوم شي، بهر حال د دې سنتوسره د اوبو حال معلوم شو، نو باقي اودس چه فرض اندامونه وینځل دي، هغه به جائز شي اوطهارة به راشي فرض به اداء شي ورنه هسی عبث به لازم شي.

(۲) دعلماء اختلاف دے په طریقه د مضمضه اواستنشاق کښې، ددی دپاره دوه/ ۲ طریقې دی یوا/۱ «ستّ غرفات فصلا»، مقصد دا چه دواړه اندامونو (خوله، پوزه) دپاره ځانله ځانله دری ۳/ ځله اوبه استعمال شي، دویم/۲ طریقه «ثلاث غرفات وصلا»، مقصد دا چه دواړو اندامونو دپاره په یوځل دری /۳ کرته اوبه استمالول، پدې دواړوطریقوکښې چه کومه طریقه چا اکړه اتی بالسنة دے، البته جمهور، امام ابوحنیفة رحمه الله، امام مالک رحمه الله، امام شافعي رحمه الله په قول قدیم کښې قول اول لره ترجیح ورکوی، او په قول جدید د امام شافعي رحمه الله کښې دویمه طریقه راجح ده، دلیل د امام شافعي رحمه الله روایة د ترمذی دے اعن عبد الله بن زید قال: رایت النبي ﷺ مضمض واستنشق من کف واحد فعل ذلک ثلاثا (سنن الترمذي - ۱ / ٤۱)، دلیل د جمهوروحدیث الباب دے.

ترجیح: مذهب د جمهورومختاره دے، وجه دا ده چه خوله اوپوزه جدا جدا اندامونه دی لهذا جدا جدا وینځل ئې پکار دی، اوتثلیث في الوضوء خو مسنون دے بالاتفاق، نو ستّ غرفات راجح شو، امام شافعي رحمه الله چه کوم روایة په استدلال کښې پیش کړے دهغې مقصد دا دے، چه خولې اوپوزي ته به نبي ﷺ په دغه یوکف اوبه اچولې، دهغه خلقو وهم ئې دفع کړوچه ګنې په ښئ لاس به پوزی ته اوبه اچول ښه نه وی.

قوله: وقال هذا وضوء رسول الله ﷺ یعنی داکامل اودس دے چه سنتولحاظ پکښې ساتلے شوے. او دې سره حدیث مرفوع هم شو،

باب ما جاء في مسح الراس

حديث ٩/٥٠ ابوحنيفة عن خالدعن عبد خير عن على انه دعا بماء فغسل كفيه ثلثا ونمضمض ثلاثا واستنشق ثلاثا وغسل وجهه ثلثا وذراعيه ثلثا ومسح راسه ثلثا وغسل قدميه ثلثا ثم قال هذا وضوء رسول الله ﷺ وفي رواية عن خالد (الحديث الخ)

حديث الباب پدى سندسره د على رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه په مختلف طريقوسره نقل شوے چه مصنف عليه الرحمه دغه طرق بيان كړى، دوه خبرى پدى رواياتو كښي قابل غوردى، يواختلاف في تثليث مسح الراس، دويم تشريح د اعتراض په امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ باندى اودهغى جواب،

مسئلة تثليث مسح الراس . عندالامام رحمه الله مسح الراس مرة واحدة دہ، عند امام ابن سيرين مسح الراس كښي اثنينية دے، وعند الشافعي رحمه الله په مسح الراس كښي تثليث دے كوم چه ابن بطال نقل كړے او دامشهوره دہ، وقال ابن بطال قال الشافعي المسنون ثلاث مسحات (عمدة القاري ٤/ ١٠٢) اگر كه امام ترمذى رَحِمَهُ اللهُ د امام شافعى رَحِمَهُ اللهُ مسلک دمرة واحدة نقل كړے،

دلائل: احنافو دپاره دوه قسمه دلائل دى عقلى، نقلى، دليل عقلى نى دا دے

(١)..مسح په لغة كښي ..امرار اليد على الشيئ.. ته وائي،اواصطلاح كښي .. امرار اليد المبتلة على الشيئ .. ته وائي، اوس كه مسح كښي تثليث اوكړے شى نو مسح به مسح باقى نه شى۔ بلكه غسل به ترينه جوړشي، ځكه چه مسح كښي خولوندلاس راښكل وى، اوس درى ځله چه به سر لوندلاس راښكلے شى خامخا په ترينه غسل جوړيږى، بيا امام شافعى رحمه الله خود يو وېځته دوه د مسح به جواز قول كوى، نو به يو وېځته دوه باندى درى ځله لوندلاس راښكودل د غسل حكم اخلى .

(٢)..دليل نقلى نى هغه روايات دى چه هغى كښي دمسح الراس سره مرة واحدة راغلے چه كثرو كسانو دغه روايات نقل كړى دى، دعلى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث الباب په اكثر رواياتو كښي هم مرة واحدة دہ،

دعلامه ابن سيرين رَحِمَهُ اللهُ دپاره دليل حديث دابن ماجه دے! عَنِ الرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذِ ابْنِ عَفْرَاءَ، قَالَتْ تَوَضَّأَ رَسُولُ اللهِ ﷺ ، فَمَسَحَ رَأْسَهُ مَرَّتَيْنِ. (سنن ابن ماجة ١/ ٢٨٠)

د امام شافعى رَحِمَهُ اللهُ دپاره دليل رواية د ابوداوددے! حمران قال رايت عثمان بن عفان توضا. فذكر نحوه ولم يذكر المضمضة والاستنشاق وقال فيه ومسح راسه ثلاثا (الحديث) (سنن ابي داود ١/ ٤٠)

دغه شان حديث الباب دعلى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كوم چه په اول روایة سره نقل دے، ددينه علاوه هغه روايات هم د امام شافعي دلائل دی چه په هغی کښی داعضاء داودس دتثليث بيان دے مطلقا بغيردتفصيل نه، اوسرهم داودس داعضاء نه دے، دغه شان قياس په نورو اعضاء هم كوی،

جوابات دمذهب اول اودثانی ددلائلونه جواب دا دے! چه دغه دواړه روايتونه شاذ دی قابل داستدلال ندی،وجه دا ده چه دغه خلاف دی د جمهورو درواياتونه، دغه شان ددغه صحابه كرامو (عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. على رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) دعامو رواياتونه هم خلاف دی، خکه دوی دنبی کریم ﷺ اودس نقل کړے او په هغی کښی مسح الراس مرة واحدة بيان شوی ده، او كه اومنو چه دغه روايات صحيح دی، نودغه دبيان دجواردپاره نبي كريم ﷺ كړی ده، نور مسح مرة واحدة ده،

قوله! قال عبدالله بن محمد بن يعقوب يعنى من روى عن ابى حنيفة في هذا الحديث: غرض دجامع پدی عبارة نقل کولوسره جواب دے داعتراض وارده على ابی حنيفة رَحِمَهُ اللهُ نه،

اعتراض: دا اعتراض امام دارقطنی کړے، روسته ئی جامع ذکر کوي، حاصل ئی دا دے، چه امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په روایة دخالد عن عبد خير عن على رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا حديث نقل كړے اوديكښی ئی دتثليث المسح على الراس بيان كړے، دارقطنی وائی چه امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ پدی حديث کښی خلاف دحفاظ نه کړے او داغلط شوے،عبارة د دارقطنی دا دے! رَوَاهُ ابو حنيفة عَنْ خَالِدِ بْنِ عَلْقَمَة قَالَ فِيهِ وَمَسَحَ رَاسَهُ ثَلاثًا وَخَالَفَهُ جَمَاعَة مِنَ الْحُفَّاظِ الثِّقَات (سنن الدارقطني ـ ١ / ١٥٥)

جواب قال عبد الله: سره ددی اعتراض نه جواب دے، بيا ددينه مختلف جوابات دی چه جامع دهغی نه دوه[۲] نقل کړی دی، يودا چه امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ پدی روایة کښی نه غلط شوے، اونه ئی خلاف دحفاظونه کړے دے، بلکه ددغه روایة دپاره توجيهات دی،

ديكښی بيادوه[۲] توجيه کاني كيدے شی، يوه خوراوی د حديث عبدالله محمد بن يعقوب كړی ده، ،،چه مسح الراس مرّة ده،، اوكوم روایة کښی چه تثليث ذكر دے، نو په هغی کښی هم مسح مرة ده، خو په داسی طريقه شوی ده چه راوی ترينه تثليث فهم كړے، حاصل ني دا دے،چه صحيح طريقه ده مسح الراس دَ ده چه لاس به لوندکړے شی، بيا به د دواړو لاسونو دری[۳] گوتے (خنصره. بنصره. وسطی) يوځائي کړی او په مخکښی حصه د سر (ناصيه) باندی به ئي كي دی،اودوه گوتی (سبابه. ابهامه) به جدا ونيسی بيا به لاس سټ طرف ته راکاږی، پدی کښی به دری گوتی مستعمل شی، او د سرد مينځ واله حصی مسح به هم وشی، بيا به كف (ورغوے) د دواړو لاسونو په طرفينو د سر مخکښی طرف ته رابنکودے شی، دی سره به

د سرمسح بالاستيعاب اکړے شي، دوما۲ کوتي (سبابه. ابهامه)لاغيرمستعمل پاتې دي پدې به د غوږونو مسح اکړےشي، اوس پدې طريقه کښ د سرپه مخکښ حصه لاس کيخودل او د ناصيه نه شروع کول دايوځل مسح شوه، بيا دغه لاس شاته طرف ته بوتلل دويم ځل مسح شوه، بيا دغه کفين په طرفينود سر مخکښ طرف ته رابنکودل دريم ځل مسح شوه، خوحقيقت کښ دايوځل ده دري۳ ځله نه ده، خو رابنکودل پکښ دری ځله راغله پدی وجه د تثليث تعبيرترينه وشو، د دی مثال داسی دے لکه يوسړے په ورغوی (کف) کښ اوبه راواخلي او مخکښ روسته ئي دری۳ ځله بوځی ر ابوځی نوديته دري۳ ځله لاس وينځل نشي ويلے بلکه يو ځل شو، دغه شان مسح الراس په روايه د علی رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ کښ هم ده، پدی توجيه حديث د مرتين هم حملولے شي،

دويمه توجيه! چه داد بعض اساتذه ده، هغه دا چه په دغه مخکښ مستحب طريقه به يوځل نبي ﷺ دری۳ کوتي شاطرف ته بوتلي په سرباندی، بياني کفين په طرفينود سر مخکښ طرف ته راوستل، پدی سره به د سرويښته ګډوډ شو نو په دريم ځل به ئي د ويښتو برابر ولودپاره په ټول سرشاطرف ته لاس رابنکودو، راوی ددينه تعبيرپه تثليث سره کړے دے، خو حقيقت کښ دايوځل شوځکه نبي کريم ﷺ د سرنه لاس نده جدا کړے اونه ئي ماء جديد راغستی دی، حالانکه شرعی مسح کښ! امرار اليد المبتلّة دے، ددی توجيه تائيد په نورو رواياتو هم کيدے شي، کما في رواية الترمذی رَحِمَهُ اللَّهُ! عن عبد الله بن زيد : ان رسول الله ﷺ مسح راسه بيديه فاقبل بهما وادبربدا بمقدم راسه ثم ذهب بهما الى قفاه ثم ردهما [حتی رجع] الى المكان الذي بدا منه ثم غسل رجليه (سنن الترمذي - ۱ / ٤۷) دلته د علی رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د ثلث مراة واله هم دغه مقصد دے، ځکه چه د علی رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دغه نورو تولو روايتونو کښ مرة واحدة ذکر دے، پدی توجيه سره د تعارض نه هم روايات بچ پاتې شو،

قوله!قال وقدروی عن جماعة من اصحاب النبی ﷺ :دلته نه دويم جواب کوی، چه داچا وبل دی چه امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ پدی حديث کښي خلاف دحفاظونه کړے دے بلکه حديث تثليث المسح په طرق متعدده سره راغلے ده چه د عثمان، علی، عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وغيره هم دی، چه دغه روايات بيهقی، دارقطنی، اوطبرانی نقل کړی دی،

قوله!قال البهقی: دا د امام صاحب رحمہ اللہ دتائيد دپاره د امام بيهقی قول نقل کوی چه دا حديث دعثمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه هم نقل دے، اګر که بيهقی پری رد کړے په دوه طريقوسره، يودا چه دغه روايات د

تثلیث في المسح په غریب طرقو سره نقل دی،دویم دا چه که دغه روایات صحیح هم شی نود اهل علمو په نیزباندی دغه حجة ندی (یعنی معمول بها ندی)

قوله!فهل كان: داجواب طرفته اشاره ده، چه اےمعترضه دغه احادیث امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ په دری ۳۱ طریقی ذکر کړي دی، په یوکښ صراحة دے، په تثلیث باندی، په بعض کښ تصریح ده په ,,مرة واحدة ,, باندی، اوبعض کښ سکوت دے، اوس دا روایات ضعیف نه بلکه صحیح دی، د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ په سند باندی هیڅ اعتراض نشته، وجه دا ده چه زیادة د ثقه معتبر دے اوامام صاحب ثقه دے، اودحدیث دتثلیث دغیرمعمول کیدو اعتراض هم ختم شو، ځکه مخکښې چه مونږه کومه توجیه ذکرکړه دتثلیث په هغې سره دغه روایات معمول بهاکرځي، بلکه داخود امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ خدا ترسی ده چه هغه روایات هم نقل کوی چه هغه دبل چاپه نیزباندی معمول بها ندی او د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ کوشش داوی چه معمول بهاشي .او دا مذهب د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ دے چه تثلیث في المسح جائزدے خو بغیر د اغستو دماء جدید نه، (هكذا قال صاحب الهداية)

قوله! فمن جعل اباحنيفة غالطا: دا صراحة ردّ دے په هغه چاچه په امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ ﻧي پدی روایة کښې بےځایه کلام کړے دے، چه امام دارقطنی رَحِمَهُ اللّٰهُ دے، چه دا معترض خپله غلط شوے دے، ځکه ددی مقصدهم هغه دےکومه چه مخکښ ذکر شوے دے، او په دغه توجیه سره دحفًا ظواو ثقاتو نه خلاف نه لازمیږی، علاوه لادا وایوچه دا اعتراض په تعصب بنا دے، ځکه داخو اول خلاف د حفاظو نه دے نه، او که شي هم نو یواځي امام صاحب هدف داعتراضاتو گرځول ندی پکار، ځکه ددغه روایة په سندکښ اميرالمؤمنين في الحديث شعبة بن الحجاج رَحِمَهُ اللّٰهُ بسکاره غلطئ کړی دی چه د ,,خالد,, راوی په ځائي ,,مالک,, او د ,,علقمه,, په ځائي ,,عرفطه,, ذکر کړے دے دومره صریح غلطی ؟ که دا غلطي د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ نه شوی وےنوجاهل به کنړلے شوے وے، بلکه ددین نه به ﻧي ویستلے وے، اوچه دشعبه نه وشوه نو دارقطنی پدی هیڅ څه خفګان ندے ظاهرکړے، معلومه شوه چه داټول دقلة ورع، اوقلة تقوی، اودتعصب په وجه باندی دا اعتراضات کیږی، او دا لاڅه امام دارقطنی رَحِمَهُ اللّٰهُ خپله څومره غلطیانی کوی چه د ده تساهل مشهور دےعندالمحدثین،

حديث ۱۰۱۵۱ ابوحنيفة عن عطاءعن حمران مولى عثمان توضا ثلثا ثلثا وقال هكذا رايت رسول الله ﷺ يتوضا.

مقصددحديث واضح دے چه عادة مستمرة دنبي ﷺ دا وو چه اعضاء د اودس به ئي دری ۳۱ خله ونخل او دغه طريقےسره اودس كول كامل سنة دی،البته دبيان دجواز دپاره نبی كريم ﷺ كله مرة اوكله مرتين باندی هم اكتفاء كړی ده.

باب ما جاء في الوضوء مرة مرة

حديث ۱۱\۵۲ ابوحنيفة عن علقمة عن ابن بريدة عن ابيه ان النبی ﷺ توضا مرة مرة.

مخكښ خبره ذكر شوه چه عندالجمهورتثليث في الوضوء واجب ندے، بلكه سنة كامله دے، اوبعض الناس تثليث في الوضوء واجب وائي، حديث الباب ددغه خلقو ترديد كوی، چه نبیﷺ مرة مرة هم اعضاء وينځل دي، خو شرط دا دے چه اعضاء په يوځل سره بالاستيعاب لامده شي، ددينه علاوه دی باب كښ رواية د ابن عمر رضي الله عنه هم شته: عن بن عمر عن النبيﷺ قال : من توضا واحدة فتلك وظيفة الوضوء التي لا بد منها ومن توضا اثنتين فله كفلان ومن توضا ثلاثا فذلك وضوني ووضوء الانبياء قبلي (مسند احمد بن حنبل - ۲ / ۹۸) معلوم شوه چه تثليث في الوضوء واجب ندے.

باب ما جاء في ان وظيفة الرجلين الغسل

حديث ۱۲\۵۲ ابوحنيفة عن محارب عن ابن عمرقال قال رسول اللهﷺ ويل للعراقيب من النار.

دی مسئله كښ اختلاف دے چه غسل درجلين بغيرد تخفف نه فرض دی او كه نه مسح جائز ده؟ دری ۳۱مذاهب دی ،

[۱] اماميه اوخوارج وائي! چه دخپودپاره مسح ده فقط غسل نشته،

[۲] اهل سنة والجماعة وائي!چه بغيرد تخفف نه غسل درجلين فرض دے، اومسح كول ناجائز اوحرام ده،

[۳] امام ابن جريرطبرّی، ابو علي جبائي معتزلی، او داؤد ظاهری وائي!چه اختيار بين المسح والغسل دے، البته علامه ابن قيّم رحمه الله په غسل درجلين باندی داهل سنة والجماعة اجماع نقل كړی ده، امّا داؤد ظاهری، نو هغه ته دا نسبت غلط دے، هرچه ابن جريردےنودا هغه مشهورابن جريرندے كوم چه داهل سنّة واالجماعة سره تعلق لری، بلكه دا ابن جريرشيعه دے، پدی نوم باندی دوه۲ كسان مشهور دی، يود اهل سنة والجماعة نه دے، دويم رافضی دے، د دواړو نوم محمد او كنيه ابو جعفرده، او دواړو تفسير ليكلے دے.

دلائل دفرقه امامیه دپاره دلیل دقران دایة الوضوء ﴿وَٱمۡسَحُوا بِرُءُوسِكُمۡ وَارۡجُلِكُمۡ اِلَى ٱلۡكَعۡبَيۡنِ﴾ (الاية) (سُورَةِ المَائِدَة) قراة دجر دے، ځکه کله چه دامجرورشی نو دا به عطف شی په ،،رُءُوسِكُمۡ،، باندی نود ممسوحاتولاندي شو، معلومه شوه چه وظیفه درجلین مسح ده۔

داهل سنّة والجماعة دپاره یودلیل اية کريمه،،وَارۡجُلَكُمۡ اِلَى ٱلۡكَعۡبَيۡنِ،، قراة د نصب دے، چه دغه مشهور قراة دے، اوعطف دے په ،، وُجُوهَكُمۡ،، باندی نو د مغسولاتونه شوی، دویم دلیل د اهل سنة والجماعة دپاره حدیث الباب دے، چه نبی ﷺ هغه چاته بد دعائي کړی ده چه ،،عراقیب،، لیندئ (دښپو شانه طرف) ئي وچ پاتی شی، او داسی وعید په ترک دفرض اوواجب سره راځی، ځنی احادیثو کښ لفظ د ،،اعقاب،، راځی په معنی دپوندو سره۔

ترجیح ترجیح قراءة دنصب لره ده، ولی که قراة دجرشی نو محالات کثیره به لازم شی، یودا چه تعارض بین القراتین به راشی په اية واحده کښ حالانکه بالاتفاق دقران کریم په ایتین کښبی تعارض نشته فضل دا چه اية واحده کښبی دی تعارض راشی، دویم دا چه تعارض به راشی دایة کریمه داحادیثو متواتره سره، ځکه چه غسل درجلین په احادیثو متواتره یا مشهوره سره ثابت دے، او په مسح درجلین بغیرالخف یوحدیث هم نشته، که نفس جائزوے نودبیان دجوازدپاره به نبی ﷺ چرته یوځل خو مسح کړی وه، دریم: دا چه تعارض دایة به داجماع امة سره راشی، ځکه عمل دامة پدی را روان دے ترننه پوری۔

اعتراض قراة دجرخو هم په اجماع دامة سره ثابت دےنو د هغی به څه توجیه کوو؟

جواب ددی یوڅوتوجیهات دی [الف] دلته جردجوارد وجه نه راغلے دے، او دا په کلام دعربوکښ شائع ذائع ده [ب] چهٔ داپه رؤس عطف دے اودمسح دلاندی دے، لیکن دمسح معنی مونږه غسل خفیف کوو، اودمسح معنی غسل خفیف راځی لکه عرب وائي!..مسح الارض المطر.. دا هغه وخت وائي چه باران د زمکے مخ لوند کړی، نوبناپدی مسح په دوه معنوسره شوه، په معنی د ،،امرار الید المبتلّة ،، او په معنی د ،،غسل خفیف.. سره، په ،،رؤس،، کښ ترینه اوله او په ،،رجلین،، کښ ترینه معنی ثانی مراد اخلو، اوس دښپو دغسل نه ولی تعبیرپه مسح (غسل خفیف) سره وشو؟ **جواب**: دا د دے دپاره چه څوک دښپو په وینځلو کښ اسراف ونکړی بلکه غسل خفیف ئي هم کافي دے، ځکه عام طور دښپو په وینځلوکښ اسراف کیږی، د دوه[۲] وجونه، یوخوښپي کندګئ ته نیزدی وی او په خاورو الوده کښږی، نوخلق پری اوبه ډیری اړوی، دویم[۲] دا چه دنوربدن په نسبت باندی ښی لګی زګی وی، اوکله پکښی چاؤدونه هم وی

خاصکرد زمی به موسم کښې تواسراف یکښې کیږي، تواسازه دنه شوه چه عسل حمسف ۵۵ل د ... ... نه به کوی،

اج ابعض حواب داکړے چه دغه حروالله فراء حمل د ... به ... دتخفف ... دی، حو ... ... دے، حکه چه ... به مسح دحمص ان الکعس واحب ... ... مسح درحلس وه لیکن ... ممسوح سوه به قراءة دحر ... دی ... ... الطحاوی رَحِمَهُ اللّٰهُ في شرح معانی الآثار (۱ ۳٤) ... فرص الرحلس في الوضوء ...

باب ما جاء في نضح الماء في مواضع الطهور

حدیث ... ۱۲ ابوحنیفه عن منصور عن مجاهد عن رجل من ثقیف یقال له الحکم او ابن الحکم عن ابیه قال توضا النبی ﷺ واخذ خفنة من ماء فنضحه في مواضع طهوره

دا یو مسنون عمل دے چه د اودس نه روسته به لیه کښې اوبه راواخستے شي او شرمګاه طرف ته وشیندلے شي، اوس داعمل ولې مسنون شو؟ نو یو حکمه یکښې دا دے چه شیطان کومه وسوسه غورځوي دهغې انسداد وشي، حکه چه "ولهان" نومې شیطان ... ... به اودس ... ... کښې شک کوی او دا شیطان هم ددی کاردپاره مقرر دے، کله دغه شیطان ... ... وهمی کړي او وسوسه ... ... نوتعلیما للامة نبی کریم ﷺ ددفع د وسواسو دپاره دا عمل اکړو چه خه نوبدوانے خوک او ... یو ... نه چه دا اوبه حوما شندلی دی، دمنیر و وعیره وهم خود بخود ختم شو، دوېم حکمه دا دے چه به اودس سره ظاهری پاک راځي اومقصود خوباطنی طهارة دے چه هغه به طهارة دشرمګاه ... ... ﷺ به داودس نه پس دوما؟ کاره کول یوبه في اوبه وشیندلے به طرف دننګ، دوېم ... ... وحکلی، ددی دپاره چه طهارة باطنی طرف ته اشاره اکړی چه اصل مقصودهم دغه دے، حدیث ... ... مقصد کښې واضح دے.

باب ما جاء في اثبات المسح علي الخفين

حدیث ۱٤\۵۵ ابوحنیفة عن الحکم عن القاسم عن شریح قال سالت عائشة امسح على الخفين قالت ائت علیا فاساله فانه کان یسافر مع النبی ﷺ قال شریح فاتیت علیا فقال لی امسح.

په مسئله دمسح علی الخفین کښې اختلاف دے، چه دری [1] ۳ مذهب دی

[۱] خوراج، او امامیه وائي چه مسح على الخفین مطلقا ناجانزده بلکه مسح درجلـین ده، د اطـلاق معنـی دا چه که حضروی، که سفروی ،

[۲] دجمهورو اهل السنة والجماعة مسلک دا دے چه مسح على الخفین مع شرائطها جـائز ده پـه حضرـ او سفر دواړو کښ،

[۳] بعض موالیک وائي چه مسح على الخفین په سفرکښ جـائزده او پـه حضرـ کښ ناجـائزده بلکـه غسـل درجلین دے،

دلائل د امامیه اوخوارجودپاره دلیل دقران کریم دایة الوضوءد: وَأَرْجُلَكُمْ اِلَى الْكَعْبَيْنِ قراة دجـردے، چـه دا به عطف شی په «رُءُوسِكُمْ»، او کله چه په رجلین مسح راغله نو په خفین باندی مسح تـه ضرورة پـاتی نشو،

جواب: چه استدلال ددینه تام ندے ورنه بیا به مسح دکعبین پوری لازم شی، ولاقائل به،

دلیل دبعض موالیک دپاره قیاس دمسح على الخفین دے په قصر الصلوة بان دی،چه قصر الصلوة خـاص دے ترسفرپوری نومسح هم، خواحادیث الباب ددواړومذهبونوتردید کوی او دجمهورودمذهب تائیدکوی،

ترجیح مذهب دجمهورومختاره دے، ځکه مسح على الخفین تقریبا داتیا۸۰ صحابه کرامو نـه نقـل ده، چـه عشره مبشره پکښ هم دی،(فتح الملهم ۱-۴۳۰) او امام صـاحب رَحِمَهُ اللَّهُ فرمـائي! ..ماقلت بالمسح حتی جائنی فیه مثل ضوءالنهار.. او امام کرخی رَحِمَهُ اللَّهُ فرمـائي! ..اخاف الکفر على من لایرالمسح على الخفین..

اوامام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ نه چاد اهل سنة والجماعة د تعریف په باره کښ تپوس اکړوهغه ورتـه جـواب ورکـړو چه! نفضل الشیخین ونحب الختنین ونری المسح على الخفین. اوحسن بصری رَحِمَهُ اللَّهُ فرمـائي! ادرکت سبعین بدریا من الصحابة کلهم یری المسح على الخفین (عمدة القـاري شرح صـحیح البخـاري - ٤ / ٤٤٢)

هم دغه وجه ده چه مصنف رَحِمَهُ اللَّهُ هم دی باب کښ مختلف رویـات پـه کثیرتعـداد سره ذکـر کـړی چـه دمسئلے خه وضاحت اوشی، او دا ټول دلائل دجمهورو دپاره دی،

قوله ! قالت ائت علیا فاساله: مصنف علیه الرحمة داروایة په اول کښی راوړو دیکښی یوی خـوبئ تـه اشاره ده هغه دا چه!شیعه ګان ځان تـه دعلی رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ معتقیـدین وائي، خپـل مشرـئي ګنـړی، او دهغـه وینـا دمسح على الخفین ده پکار ده چه دوی منلی وے،

حدیث۱۵\۵۵ ابوحنيفة عن علقمة عن سليمان بن بريدة عن ابيه ان رسول الله ﷺ توضا ومسح على الخفين وصلى خمس صلوات.

حدیث۱٦\٥٦ ابوحنيفة عن علقمة عن ابن بريدة عن ابيه عن النبی ﷺ يوم فتح مكة صلى خمس صلوات بوضوء واحد ومسح على خفيه فقال له عمر مارايناک صنعت هذا قبل اليوم فقال النبی ﷺ عمدا صنعته ياعمر.

حدیث تفصيل دماقبل اکرِوچه دغه ېنځه مونځونه نبي ﷺ فتح مکه کښي کړی دی، اوقصدا نبي ﷺ کړی وو چي مسئله ښکاره شی،

حدیث۱۷\۵۷ ابوحنيفة عن عبدالكريم ابی امية عن ابراهيم حدثنی من سمع جريربن عبد الله يقول رايت رسو ل الله ﷺ يمسح على الخفين بعدما انزلت سورة المائدة .

حديث کښې د «حدثني من سمع» نه مرادهمام بن الحارث دے، اودفع دوهم ده، چه ېنځم نمبرحديث کښې ئي تفصيل دے چه ممکن ده دغه مسح په ابتدا د اسلام کښې وه او بيا په اية الوضوء دسورة مائده باندی منسوخ شوی وی، چه حکم دغسل درجلين ېکښې دے؟ دی روایة سره دغه وهم دفع شوچه نبي کريم ﷺ دغه مسح على الخفين دسورة مائده دنزول نه پس کړی ده.

حدیث۱۸\۵۸ ابوحنيفة عن حماد عن ابراهيم عن همام بن الحارث انه رای جرير بن عبد الله توضا ومسح على خفيه فساله عن ذلک فقال انی رايت رسول الله ﷺ يصنعه وانما صحبته بعد مانزلت المائدة .

حديث کښې تفصيل دماسبق دے، په حالاتودجريربن عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کښې معلومه شوی ده چه ده دنبي کريم ﷺ دوفات نه څلويښت ورځې مخکښې ايمان راوړے دے، نو ظاهره ده چه دسورة المائده دنزول نه ډير روسته د ده ليدل دمسح واقع شوی دي،

حدیث۱۹\۵۹ ابوحنيفة عن حماد عن الشعبی عن ابراهيم بن ابی موسی الاشعری عن المغيرة بن شعبة انه خرج مع رسول الله ﷺ في سفرفانطلق رسول الله ﷺ فقضى حاجته ثم رجع وعليه جبة رومية ضيقة الكمين فرفعها رسول الله ﷺ من ضيق كمها قال المغيرة فجعلت اصب عليه من اداوة معی فتوضاوضوءه للصلوة ومسح على خفيه ولم ينزعهما ثم تقدم وصلى.

حديث کښې دمسح على الخفين سره سره دا هم معلومه شوه چه اسباب د غير مسلمو استعمالولے شي كله چه هغه پاک وی، دا هم معلومه شوه چه نارينه دتنگ نستونړوواله لباس اغوستلےشي، بياد ..فرفعها.. مقصد دا چه ويستله ئے،

راوی الحدیث مغیرة بن شعبة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ابوعيسى يا ابومحمد ئې كنيه ده، المغيرة بن شعبة بن ابي عامر بن مسعود بن معقب بن مالك بن كعب بن عمرو بن سعد بن عوف بن قيس الثقفي. باديدارانسان وو، دحديبيه نه مخکښې دخندق په کال مسلمان شوے دے، دنبي كريم ﷺ نه ئي «۱۳٦» روايات نقل كړی دی، عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په بصره گورنرجوړ کړو، بيا معزول شو، بيا ورته دكوفي گورنري وركړے شوه عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ معزول کړو، پس دقتل د عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه ئې جدائی اختيار كړه دقتل قتال نه، بيا ئې دحكمينو سره حاضری اکړه، بيائی د معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره بيعت اکړو، هغه دكوفے گورنرکړوتردی چه وفات شو، په ٥٠ يا ٥١ ھ کښې د ٧٠ كالويه عمر كښ، ډير زيرک اوهوښياراوصاحب الرائی وو، پدی مسندكښ ئےخلور ٤ روايات دی ،

حديث ۲۰\۱٦۰ ابوحنيفة حمادعن الشعبى عن المغيرة بن شعبة قال وضات رسول الله ﷺ وعليه جبة رومية ضيقة الكمين فاخرج يديه من تحتها ومسح على خفيه وفي رواية ان رسول الله ﷺ (الحديث الخ)

حديث ۲۱\۱٦۱ ابوحنيفة عن حماد عن عن الشعبى عن المغيرة بن شعبة قال رايت رسول الله ﷺ يمسح .

حديث ۲۲\۱٦۲ ابوحنيفة عن ابى بكربن ابى الجهم عن ابن عمرقال قدمت على غزوة في العراق فاذا سعدبن مالک يمسح على الخفين فقلت ماهذا فقال يا ابن عمر اذا قدمت على ابيک فسله عن ذلک قال فاتيته فسالته فقال رايت رسول الله ﷺ يمسح فمسحنا وفي رواية قال قدمت (الحديث الخ)

دا حديث په مختلف طريقوسره نقل دے، اول دوه طريقي يوشان دی، په دريمه طريقه کښې ددغه غزوه نوم «جلولاء» ذكر دے، څلورمه طريقه هم دماقبل په شان مضمون واله ده،

پوهه شه: چه فعل، صنع، اوعمل کښې فرق دے، فعل نفس كاركول عام ده كه بالاختيار وی كه بلا اختياره كه په طريقه دعادت وی كنه، اوصنع په طوردعادت سره يواختياری کارکول، اوعمل په نيت سره يوكاركول، چونكه دلته صنع ذكر شوی ده نودنبي كريم ﷺ مسح په خفين باندی يو عادت ووبالاختيار.

بیاپوهه شه: چه پدی مسئله کښی هم اختلاف دعلماء دے، چه په مسح اوغسل درجلین کښی کوم يوافضل دےپس داتفاق نه په جوازالمسح؟ امام اصفهانی رَحِمَهُ اللهُ فرمائي! چه مسح افضله ده، ځکه چه دی سره مقصودهم اداء کیږی اورد په فرقه باطله باندی هم کیږی، امام نووی رَحِمَهُ اللهُ فرمائي!چه غسل افضل دےځکه مسح رخصت دےاوغسل عزیمت دے، او عمل بالعزیمت اولی دے دعمل نه په رخصت بان دی، امام طحاوی رَحِمَهُ اللهُ فرمائي! تطبيق سه دے چه کله موزی ئی په استعمال کښي نوی، بیا غسل افضل دے او چه موزی ئي اغوستلی وی بیامسح افضله ده موزه به هراودس ته نه اوباسی، حاصل دا چه دا دواړه جدا جدا افعال دی په خپل خپل ځائي بهتردی .[معانی الاثار۲۱]

حدیث۲۳\۶۳ ابوحنيفة عن حماد عن سالم بن عبد الله بن عمر انه تنازع ابوه وسعد بن ابی وقاص في المسح على الخفين فقا ل سعد امسح وقال عبد الله ما يعجبنى قال سعد فاجتمعنا عند عمرفقال عمر عمک افقه منک سنة .

حدیث کښي اجتماع عند عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ذکرده، تطبيق دا دے چه ممکنه ده چه ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يواځي هم تپوس کړے وی، بیا په بله موقع باندی ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اوابن ابی وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دواړو ملاقات کړے وي، **فوائد:** ددی روایاتونه ښوخبری معلوم شوے (۱) بيان جوازالمسح على الخفين (۲) دا هم معلومه شوه چه کله کله په یوجلیل القدرصحابی هم مسئله ددين پته کيدے شی داسی مسئله چه نورو ته ښه واضحه وی، ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته دمسح على الخفين واضح مسئلی پته نه وه (۳) عظمت د سعد ابن ابی وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم معلوم شو (٤) دا هم معلومه شوه چه خبر واحد کله مقرون بالقرائن شی نوافاده ديقين کوی (۵) دجرير بن عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دحدیث نه دا هم معلومه شوه چه صحابه کرام په نسخ دسنة بالقران قائل دی، ځکه خوهغه وائي، يمسح على الخفين بعدما انزلت سورة المائدة ،، دا ځکه وائی چه څوک گمان دنسخ ونکړی،

باب ماجاء في توقيت المسح

حدیث۲٤\٦٤ ابوحنيفة عن عبدالله بن دينار عن ابن عمر رايت النبی ﷺ يمسح على الخفين في السفرولم يوقته.

مسئلة الباب کښي اختلاف دے، چه دمسح على الخفين دپاره وقت شته يانه؟ دوه مذهبه دی،

(۱) امام ابوحنیفه، سفیان ثوری، عبدالله بن مبارک، اسحق بن راهویه، مذهب د جمهورو ائمه رحمهم الله او د اکثرو صحابه کرامو رضی الله عنهم دی، د دوی په نزد د مسح موده د مقیم د پاره یوه ورځ او یوه شپه ده او د مسافر د پاره دری ورځی او دری شپې ده۔

(۲) امام مالک رحمه الله فرمائی چه د مسح د پاره توقیت نشته بلکه څو چې موزې نه وی ایستلی مسح دې پرې کوی ... امام مالک رحمه الله مشهور قول دے د دې نه علاوه نور قول ئې توقیت دے (عمدة القاری ۱۱۴۳)

دلائل د امام مالک رحمه الله دلیل اول حدیث الباب دے چه قول د عبدالله بن عمر رضی الله عنه دے، د جمهورو دپاره دلائل دغه روسته روایت دی۔

حدیث نمبر ۳ ابوحنیفة عن حماد عن ابراهيم النخعي عن ابي عبدالله الجدلي عن خزيمة بن ثابت عن النبي ﷺ انه قال في المسح على الخفين للمقيم يوما وليلة وللمسافر ثلثة ايام ولياليهن لاتخرج حفيه اذا لبسهما وهو متوضئ وفي رواية المسح (الحديث الخ)

دا اول دلیل د جمهورو دے په توقیت د مسح علی الخفین باندی۔

حالات راوی خزیمة رضي الله عنه خزیمة بن ثابت بن الفاکه بن ثعلبة بن ساعدة بن عامر بن غیان بن عامر بن خطمة بن جشم بن مالک بن الاوس الانصاری الخطمی، کنیه ئې ابوعماره ده، ملقب په ذو الشهادتین دے، مشهور صحابی دے، بدر او نورو غزاګانو ته حاضر شوے دے، دا تر شرکو صحابو وو، او د فتح مکه په ورځ د بنو خطمه جنډه ئې په لاس کښې وه، د علی رضي الله عنه سره په صفین کښې وو، چه کله عمار بن یاسر رضي الله عنه شهید شو، دهٔ هم خپله توره د کانړی نه راښکاره کړه او جنګ ئې شروع کړو تردې چه شهید شو۔ تاریخ وفات ئې ۳۷ هـ دے، په دې مسند کښې ترې دری حدیثونه نقل دی۔

قوله لاینزع خفیه: د نزع الخف څه حکم دے؟ په دې کښې اختلاف دے، امام صاحب رحمه الله مسلک دا دے چه که نزع الخف په حالت د اودس کښې شوی وی نو بیا پښې وینځل لازم دی، وجه ئې دا ده چه وجوبا وینځی، او بیا نه مسح استعمالوی، او که په اودس کښې وو او مسح د موزو ئې کړې او وروسته ئې بیرته مسح کړی وی بیا صرف غسل درجلین لازم دے، بیا اودس نه ضروری نشته، امام شافعی رحمه الله د امام صاحب رحمه الله سره په اول صورت کښې متفق دے، خو په دوهم صورت کښې امام شافعی رحمه الله غسل لازم نه وائی، داؤد ظاهری وائی چه په هر حال کښې، چه نزع الخف کړی هیڅ بیرته هم څه نه دی لازم، د مذکوره حکم د احنافو دپاره دلیل ... مسح ... ضروری نشته۔

قوله! اذا لبسهما وهو متوضئ: دی مسئله کښې هم اختلاف دے چه ایه دموزودپاره طهارة کامله شرط دے کنه د طهارة ناقصه په صورة کښې (چه صرف ښپې اووینځی) هم اغوستلے شی ؟ امام شافعی رَحِمَهُ اللهُ فرمائي چه طهارة کامله شرط دے، دا مذکوره جمله ئي دلیل دے، چه مراد د وضوء نه وضوء کامله ده، امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ فرمائي چه ښه خبره دا ده چه پوره اودس اکړے شی او بیا موزه واغوستلے شی، لیکن که دطهارة ناقصه په صورة کښې واغوستلے شی بیا هم جائزده، دلیل ئي هم داجمله ده خومراد دوضوء نه وضوء عند اللبس نده بلکه عندالحدث ده، ثمرة الاختلاف پدی صورة کښې ظاهریږی چه یو سړی اول ښپې وینځلے، اوموزی ئي په ښپوکړی، او بیا ئی اودس پوره کړو قبل الحدث (یعنی دښپو دوینځلو او دنورو اندامونو د وینځلو په مینځ کښې ئی اودسه نشو) او بیا بے اودسه شو، زمونږه په نیز مسح جائزده، لاعندالشافعي، یا چا مرتب اودس کولو یوه ښپه ئی وینځله دبلے د وینځلو نه مخکښې ئي دیته موزه واغوستوله بیا ئی بله ښپه او وینځله نوعندنا مسح جائزده بعد الحدث عند الشافعي نده جائز، خوحق خبره دا ده چه دامسئله بنا ده په مسئلې دوجوب الترتیب في الوضوء وعدمه،

حدیث۲٦\٦٦ ابوحنیفة عن سعیدعن ابراهیم التیمی عن عمروبن میمون الاودی عن ابی عبد الله الجدلی عن خزیمة بن ثابت ان النبیﷺ سئل عن المسح علی الخفین قال للمسافر ثلثة ایام ولیالیهن وللمقیم یوما ولیلة .

دا د جمهورودپاره دویم دلیل دے په مسئلة الباب باندی ،

حدیث۲۷/٦۷ ابوحنیفة عن الحکم عن القاسم بن محمد عن شریح بن هانئ عن علی عن النبی ﷺ یمسح المسافر علی الخفین ثلثة ایام ولیالیهن والمقیم یوما ولیلة .

دجمهورو دپاره دریم دلیل دے ، پاتی شوروایة دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نودهغی جوابات،

تاویلات د دلیل د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ ، چونکه تعارض راغے، اواحادیث دتوقیت دمختلفو صحابه کرامونه نقل دی،اودعدم توقیت قول صرف دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دے، نومونږه دده په قول کښې تاویلات کوو،

[۱] چه داخبره عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دخپل علم موافق کړی ده، ځکه چه ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خو اول دسرنه دمسح علی الخفین قائل نه وو، کله چه ورته روایات ورسیدل نوبیائي قول دجواز اکړو، ممکنه ده چه د توقیت روایات به هم ده ته نه وورسیدلی، ځکه ئي دغه قول کړے دے،

[۲] روایات مثبته دتوقیت مقدم دی په نافیه بان دی،ځکه چه دا قاعده مسلمه ده،

[۳] مسح یوضروة دے،او ،، الضرورة تتقدر بقدر الضروة ،،

تنبیه! دبیکسی دمفه به منست جد هم مسائل ذکرکوی‌شی چه دمسح علی الخفین سره متعلق دی.

(۱) په شرائطو موزوکښ اختلاف دے، امام صاحب رحمه الله په جورېش مسح نا جائز واني. صاحبین، امام شافعي رحمهم الله په جوربش مسح جائز واني، خوچه دغه جوربش ثخین وی ایعنی دومره دبل وی چه بے خپنه ودریدلے شی ا یا منعلین وی، او مجلدین وی، معلومه شوه چه دموجوده جوراب و مسح سره هیڅ قسم تعلق نشته، کوم حدیث چه ددی په باره کښي دمغیرة بن شعبة رضی الله عنه پیش کیری هغه ئدی امام ابوداود رحمه الله کلام کړے دے. نوقابل د استدلال ندے.

(۲) چه موزه سوری شی نوامام مالک رحمه الله فرمائي خرق قلیل معاف دے او خرق کثیر معاف ندے، امام صاحب رحمه الله فرمائي چه د دری ۳۱ گوتونه کم مقدار سره خرق معاف دے، او زیات غیر معاف دے، بیا مخکښی طرف ته عین دغه گوتی معتبر دی، اوپل طرف ته به د دری ۳۱ وړو گوتو مقدار معتبر وی. امام شافعي رحمه الله فرمائي چه مخی طرف ته د دری ۳۱ گوتو په مقدار خرق سره مسح نا جائزده، او د شا طرف ته خرق لره هیڅ اعتبار نشته که هرخومره غټ سورے وی مسح بری جائزده، سفیان ثوری رحمه الله فرمائي چه بس موزه قدری ورته ویلے شی مسح پری جائزده، اوچه کله تربنه نوم د موزی لری شی نو مسح پری ناجائزده،

(۳) محل د مسح بالاتفاق ظاهرطرف دموزےدے خکه شریعت پدی وارد دے عقل سره دبیکسی اعتبار نشته،

(۴) ابتداء دمسح کښ اختلاف دے، دجمهورو په نیزد اودس د ماتیدلونه روسته ددے وخت شروع کیری، دبعض په نیز د موزی داغوستلونه موده د مسح شروع کیری، والله اعلم

باب ماجاء في حكم الجماع في الجنابة

حدیث ۲۸۰۶۸ ابوحنيفة عن ابي اسحق عن الاسود عن الشعبي عن عائشة قالت كان رسول الله ﷺ يصيب من اهله اول الليل فينام ولايصيب ماء فاذا استيقظ من اخرالليل عاد واغتسل.

دجنابة په حالت کښ بغیرد غسل نه دوباره جماع اوخوب کول دالاتفاق جائز دی، خو دغسل نه علاوه بل څه عمل په مینځ کښ شته اوکنه؟ مسئله کښ اختلاف دے،

(۱) داؤدظاهری، ابن حبیب مالکی، فرمائي چه دهرعمل دپاره پس دجماع نه اودس کول واجب دی، هغه عمل که خوب وی، که دوباره جماع کول وی، یابل څه عمل کول وی.

[۲] جمهورفرمائي: چه دويم ځل جماع يادخوب دپاره اودس كول مسحب دي واجب ندى، بغيرداودس نه په حالة دجنابة كښ دوباره جماع اوخوب جائزدے (العرف الشذي للكشميري - ۱ / ۱٤٦)

د جمهوردپاره اول دليل دويم حديث الباب دے، مقصدئ واضح دے.

حديث ۲۹/۶۹ حماد عن ابى حنيفة عن ابى اسحق عن الاسو د عن عائشة قالت كان رسول الله ﷺ يصيب اهله اول الليل ولايصيب ماء فاذ ا استيقظ من اخرالليل عاد واغتسل.

د داؤدظاهرى دپاره دليل دريم حديث الباب دے،

حديث ۳۰\۷۰ ابوحنيفة عن حماد عن ابراهيم عن الاسود عن عائشة قالت كان رسول الله ﷺ اذا اراد ان ينام وهو جنب توضا وضوءه للصلوة .

هغه فرمائي‌اچه دوضوءنه قبل النوم وضوء شرعى مراده،،للصلوة ،، لفظ پدى دلالت كوى، اوظاهره دا ده چه دا به د دويم ځل جماع دپاره وى، دويم دليل ئي حديث دبخارى شريف دے،ا ذكر عمر بن الخطاب لرسول الله ﷺ انه تصيبه الجنابة من الليل فقال له رسول الله ﷺ توضا واغسل ذكرك ثم نم (صحيح البخاري ـ ۱ / ۱۱۰) دلته امر شوے دے او امر دوجوب دپاره وى،

جواب: د اول دليل نه جمهورداجواب كوى چه دغه وضوء قبل النوم وه، او نبى كريم ﷺ به دخوب دپاره اودس كولو بعدالجنابة او دا عادة مستمره وو د نبى ﷺ ليكن ددينه وجوب نه ثابتيږى ځكه ددغه دوه۲ روايتونونه معلوم شوه چه د بيان دجوازدپاره نبى كريم ﷺ دغه اودس ترك كړے هم دے، دا دليل ددےخبرى شوچه دجنابة نه روسته اودس كول فعل اخر د دپاره واجب ندى ، البته مستحب عمل دے او د دينه څوک انكار نه كوى، دي سره د دويم دليل نه هم جواب اوشوچه عمر رضي الله عنه ته كوم امر شوے دا د استحباب دپاره شوے دے،

اشكال: د جنابة نه روسته دخوب دپاره وضوء مصطلحه كول خو يو عبث كار ښكارى ځكه چه خوب خوناقض دپاره د اودس دےنود دےاودس فائده څه شوه؟

جواب نبى ﷺ به دجنابة نه روسته اكثراودس كولو، ددے دپاره علماء كرامو ډير حكمتونه بيان كړى دى،چه من جمله دهغى نه دادى :

[۱] **لتخفيف النجاسة** هغه داسى چه مثلاچاته جنابة لاحق شونو ممكن ده چه دبيګاه نه دغه ځائي اوبه شته او ده پرى اودس اكړو، كله چه صباح شو او به كمې دي چه ټول بدن پرى نه لمديكى، نود اودس

داناامونو نه دی علاوه (څکه هغه خوبیګاه مغسول شوی دی) نور بدن مغسول کړی، پدی سره د
جنابة نه او وتلو او د اودس دپاره دی تیمم اوهی، نو تخفیف في النجاسة راغے،
[۲] **لاحترام الملائکة**: پدی شاه چه دهرانسان سره الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ څه فرشتے مقرر کړی دی .ده
دحفاظت دپاره الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ فرمائي: لَهُۥ مُعَقِّبَٰتٌ مِّنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهِۦ يَحۡفَظُونَهُۥ مِنۡ أَمۡرِ ٱللَّهِۗ
(الاية) ﴿سُورَةَ الرَّعۡدِ﴾ او د فرشتو طبیعت دپاکۍ دے پاکی ښوښوی څکه خو نبی کریم ﷺ فرمائي اچه د
دری ۳/ کسانو نه فرشتی ډډه کوی، جیفة الکافرنه، دخلوق خوشبولګونکی نه، دجنبی نه، البته که دغه
جنبي اودس اکړی (الحدیث) اوس خومره چه سړے پاک وی نوفرشتي به ورسره ډیری وی د حفاظت دپاره
اودهغواحترام ضروری دے، او خومره چه سړے ګنده وی نوفرشتو ته به دهغه نه تکلیف وی ،
[۳] **لادب حضورالرب** د قران نه داخبره په صراحت سره معلومه ده چه حضور دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ ته ارواح په
دوه۲ وختونو کښ خیژی الله پاک فرمائي! ٱللَّهُ يَتَوَفَّى ٱلۡأَنفُسَ حِينَ مَوۡتِهَا وَٱلَّتِي لَمۡ تَمُتۡ فِي مَنَامِهَاۖ
فَيُمۡسِكُ ٱلَّتِي قَضَىٰ عَلَيۡهَا ٱلۡمَوۡتَ وَيُرۡسِلُ ٱلۡأُخۡرَىٰٓ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّىۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٍ لِّقَوۡمٍ
يَتَفَكَّرُونَ ﴿سُورَةَ الزُّمَرِ﴾ یعنی عندالموت اوعند النوم الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ ته دغه ارواح خیژی، اوس کله چه
ظاهرپاک وی باطن ورسره هم پاک شی چه روح دے، او که ظاهر ګنده وی په باطن به هم دغه اثر وی، او
ظاهر خو په اودس سره پاکیږی، نوچه اودس دجنابة نه روسته او شو روح پاک شواوس چه په خوب سره
دغه روح بره لاړو نو ادب د بارګاه خداوندی وشو،
[٤] **لنشاط الطبیعة**: کله چه دیوانسان نه فضله جات خارج شی نو په طبیعت دانسان کښی انقباض او
بندیز راشی، چه دهغی سره روح هم خفه شی اوس که دغه بې اودسی حدث اصغروی اوسړے اودس اکړی
نو مکمل نشاط حاصل شی، او که حدث اکبر وی نو مکمل نشاط خو په غسل سره حاصلیږی، لیکن په
اودس سره هم څه نه څه نشاط راځی، (شاه ولی الله رحمه الله)
[٥] **لصیانة البدن عن الموذیات** کله چه انسان جنب شی نوفرشتی ترینه لرې شی او شیاطین ورته نیزدی
شی، اوس ددغه شیاطینودفعیه پکارده او دا دفعیه په اودس سره راځی، څکه نبی کریم ﷺ فرمائي!
الوضوءسلاح المؤمن (الحدیث) نو اودس به دشیطان ددفعیه دپاره اسلحه شی، او دا یو حقیقة دے چه
سړے په اودس کښ وی نو که ښره او بیابانو نوکښ د ده سفرولی نوی خو دے به په امن کښ وی او هیڅ
قسم یره به ئي نوی ،

[واقعه] ملاجیون رَحِمَهُ اللّٰهُ دعالمگیر بادشاه استاذ وو، د دواړو په مینځ کښې یوځل په څه خبره ورانـه راغلـه بادشاه د ملاجیون په خلاف باندی د فوج کشئ اراده اکړه، ملاجیون ته چاددے خبری اطلاع ورکړه چه بادشاه داقسم اراده لری، ملاجیون اووئیل چه مـاله څما اسـلحه برابرکـړئ، شـاګردانو ورتـه وئیـل کومـه اسلحه؟ هغه اووئیل ،،اوبه په لوټه کښی،، چه اودس اکړم دا څما اسلحه ده،کله چه داخبره عالګـیر بادشاه ته ورسیده نو هغه فوج واپس کړو، اودمعذرة دپاره ئي داستاذ په خدمت کښې سرے را ولیږو چه څه ستاد دغه اسلحه مقابله نشم کولے څماسره د دے په خلاف څه طاقت نشته، [والله اعلم]

باب حكم الجنب

حديث۷۱\۳۱ ابوحنيفة عن حماد عن ابراهيم عن رجل عن حذيفة ان رسول الله ﷺ مدّيده اليه فدفعها عنه فقال رسول الله ﷺ مالك فال انى جنب قال له رسول الله ﷺ ارنا يديك فان المؤمن ليس بنجس وفي رواية المؤمن لاينجس.

جنبي هغه چاته وائي چه شرعا پری غسـل واجـب شـوے وی، بیاهغـه کـه د منئ د اخـراج پـه وجـه وی یادحیض، یانفاس په وجه وی، اوس د داسی جنبي څه حکم دے؟ نـوځنی احـکام خوهغـه دی چـه دهغی دپاره طهارة شرط دے، لکه مونځ، تلاوت، جنازه، اومس المصحف شو، د دی باره کښې خو ظـاهرحکم دے چه بغیردطهارة نه دغه افعال نشی کولے، پاتی شوعام طبعی کارونه لکه..خوراک، څښاک، قیام، قعود، دغه شان کلام کول د خلقو سره، نوداکارونه بغیردطهارة نه دجنبي دپاره جائزدی ، بیا څنګه چه بدن د ده طاهر دے نوځوله (عرق) اولاړې، اواوښکي ئې هم پاک دی، دغه د مسلمان کافر یوشان حکم دے، حدیث الباب هم دغه باره کښې دے، خو دا ټول صورتونه هله دی چه ظاهری ګندګی اونجاست پوری نه وی انختلے، بیا پوهه شه چه دجنبي دپاره څلور۴ صورتونه او حالتونه دی ،

[۱] دا چه دغه جنبي غُسل اکړی اودطهارة کامله نه پس دغه امورطبعیه کـوی، دا اعلى حالـة دے اوغـوره صورة دے،

[۲] دا چـه غُسـل ونکـړی خـوشرعی اودس اکـړی او بیـا دغـه امورکـوی دا صـورة في نفسـه بهـتر دے خودمخکښې نه ادون دے،

[۳] دا چه پس دجنابة نه جنبي غسـل اواودس خـو ونکـړی لیکـن لغـوی وضـوء چـه اسـتنجاء اکـړی اولاسونه پاک کړی، داصورة هم في نفسه جائزدےخو د مخکښې دواړو صورتونو نه ادون دے،

[٤] چه جنبي پس دجنابة نه هيڅ عمل دطهارة ونکړي، او دغه کارونه کوي دا ډير قبيح صورة دے چه د دينه احترازپکاردے،

حديث ۲۲\۷۲ ابوحنيفة عن حمادعن حذيفة ان رسول الله ﷺ مديده اليه فامسکها عنه فقال رسول الله ﷺ ان المؤمن لا ينجس.

قوله!لا ينجس: مقصد دا چه دجنابة سره حکما پليتي راځي خو ظاهر پاک دے،

حديث۲۳\۷۳ ابوحنيفة عن حمادعن ابراهيم عن الاسود عن عائشة ان رسول الله ﷺ قال لها ناوليني الخمرة فقال اني حائض فقال ان حيضتک ليست في يدک.

حديث دسابقه باب سره متعلق دے، خومخکښ دجنبي حکم وودلته د حائضي۔ زنانه حکم دے، چه حيض سره هم حکمي نجاسة راځي نه چه ظاهري پليتي،

باب حکم المراة في الاحتلام

حديث۲٤\۷٤ ابوحنيفة عن حمادعن ابراهيم قال اخبرني من سمع ام سليم انها سالت النبي ﷺ عن المراة ترى مايرى الرجل فقال النبي ﷺ تغتسل.

دنارينه حکم دمخکښي نه معلوم شوچه احتلام ورته وشي نوغسل پرې واجب شو، خو دښخوڅه حکم دے؟ دلته دوه/۲ مقامه دي يو: دښځوحکم په صورة داحتلام کښي، دويم: دا چه ايه ښځوته احتلام کيږي کنه؟

اوله خبره: دجمهورو پدې اتفاق دے چه په ښځې په خروج دماء سره غسل واجب دے، صرف دابراهيم نخعي رَحِمَهُ اللهُ نه دعدم وجوب رواية نقل دے، ليکن جمهور وائي' چه رواية دابراهيم نخعي رَحِمَهُ اللهُ پدې محمول دے چه خروج الماء الى الفرج الخارج ته نوي شوي، بلکه صرف احساس دلذة ني کړےوي (کمافي الدرالمختاروبه يفتى) ځکه چه په حق دښځو کښې مدار دغسل په خروج الماء الى الفرج الخارج دے، حديث الباب د جمهورو تائيد کوي ،

دويمه خبره: چه خزوته احتلام کيږي يانه، اودښځوماده منويه شته کنه؟ دحديث نه معلومه شوه دښځو ودپاره ماده منويه شته،اودهغي خروج هم کښږي، خود اطباؤ يوه لويه ډله ددينه انکارکوي، هغوی وائي! چه دامني نده بلکه يوخاص رطوبة دے، نور ښځو ته بغيردلذة نه نورڅه نوي، ليکن دحديث سره ددےخبرې څه تعارض نشته، ځکه دايوحقيقة دے چه د ښځودپاره مني شته خواکثراوعموما دهغي انزال رحم ته دننه

كبرى، او كله كله ددغه انزال بهرته هم شاذ ونادر كبرى، حديث كښې ددغه نادر صورة ذكر دے نه د كبرى عمومي صورة ، او دا نادرصورة اكثرهغه زنانه ته كښېږي چه پوخ عمر واله وي، كم عمرواله ته نه كيږي خكه ترينه ډيرى زنانه ناخبره وي . ام سليم رَضِيَ اللهُ عَنْهَا هم دپوخ عمر زنانه وه، ممكن ده چه ديته دا احتلام راغلےوو، خكه ئي تپوس كړے دے، دليل ددے دا دے چه نورو رواياتو كښې دى چه پدى خبره ام المؤمنين ام سلمة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ام سليم رَضِيَ اللهُ عَنْهَا لره زورنه وركړه چه ښځى دى وشرمولےدادى خنكه تپوس اكړو؟ هغى ورته جواب وركړوچه! ان الله لا يستحيي من الحق.. (سنن الترمذي - ١ / ٢٠٩) ددى اعتراض وجه هم دغه قلة وقوع ده دعاموزنانونه، نوتعارض نشته، دا تحقيق د ابو علي سيناهم دے،

حالات ام سليم رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ام سليم بنت ملحان بن خالد انصاريه، دانس بن مالك بن نظر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مورده ام سليم ئى كنيه ده، خپل نوم ئي رميله يامليكه يارمثه ده، خاوند ئي مشرك قتل شوے، بيا ابوطلحه زيد بن سهل په نكاح اوغوښتله ليكن دامسلمانه او ابوطلحه مشرك وو، دى انكارا كړودنكاح نه مگر په شرط دايمان، ابوطلحه مسلمان شونو د ام سليم نكاح ورسره دشرط موافق وشوه ، لقب ئى رميصاء وو، غزواتوكښې دنبي ﷺ سره شريكه شوى ده، دزخميانوعلاج به ئي كولو، نبي ﷺ ورله دجنة زيرے وركړے دے، په خلافت دعثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كښې وفات شوى ده، دى كتاب كښې ئى دا يوروراية دے.

باب ماجاء في ذم الحمام

حديث ٢٥/٧٥ ابوحنيفة عن عطاءعن عائشة قالت قال رسول الله ﷺ بئس البيت الحمام هو بيت لا يستر وماء لايطهر.

دى حديث كښې دحمام ذم بيان دے، دحمام نه مرادهغه حوض دے چه نارينه اوزنانه پكښې مخلوط لامبي اواكثرى حجابه وى، په ښارونوكښې دا قسمه حمامونه په كثرت سره شته او په يورپى ممالكو كښې خو ډيرزيات دى چه په »سونمنگ پول« نوم سره ياديږى، دورجاهليت كښې هم دغه حمامونه وو او حديث الباب هم د دغه په ذم كښې دے،

[تنبيه] كومه حمامونه چه نن صبا په بازارونو كښې دى، ياكوركښې دى اوحمام ورته وائي دغه ندى مراد، خكه دا باپرده ځايونه دى ديكښې دغسل كولوهيڅ قسم كراهة نشته، فقه كښې چه كومه مسئله ذكرده چه د داسي سړي گواهي نه قبليږى چه په حمام كښې لامبي، د دينه هم دغه دجاهلية د دور يا دهغى مثل حمام مراد دے، بياپوهه شه: چه نبي كريم ﷺ ددغه حمام ذم پدى وجه بيان كړے دے چه دغه كښې يو ستر

د عورة نه کیږی، دویم اوبه هم نوی پاکی څکه هرسړے ورته ښکته کیږی که پلیت وی او که پاک او داوبو د ونلو لار هم نوی ،

باب ماجاء في حكم المنى

حديث٣٦/٧٦ ابوحنيفة عن حمادعن ابراهيم عن همام بن الحارث عن عائشة قالت كنت افرك المنى من ثوب رسول الله ﷺ .

حکم دمنۍ په اعتباردطهارة نجاسة سره څه دے؟ مسئله کښې اختلاف دے،

تحريرالمحل: منی یود انسان ده، اودویم دغیرانسان یعنی عام حیوان ده، د دواړو په حکم کښې اختلاف دے، د حیوان دمنۍ باره کښې د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ مذهب دا دے چه منی د حیوان مطلقا نجسه ده، د امام شافعی رَحِمَهُ اللهُ اوامام احمدبن حنبل رَحِمَهُ اللهُ نه مختلف اقوال نقل دی، [الف] دسپی اوخنزیرمنی نجسه او د باقی ټولوحیواناتوپاکه ده [ب] دغیر ماکول اللحم نجسه او د ماکول اللحم پاکه [ج] دټولوحیواناتومنی نجسه ده، اول قول مختاره دے، **کماقال النووی وهو مذهب الشافعی** (شرح النووي على مسلم - ٣ / ١٩٨)

دانسان دمنۍ په حکم کښې هم اختلاف دے، او دا اختلاف دصحابه کرامود دور نه زاروان دے، عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اوعبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قول کوی په طهارة دمنۍ باندی، اوعمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عائشه، او جمهورصحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ په نجاسة دمنۍ باندی قائل دی، بنا پدی د ائمه دین په مینځ کښې هم پدی مسئله کښې اختلاف دے، دوه/٢مذهبه دی ،

[۱] امام ابوحنیفة ،امام مالک،لیث بن سعداوحسن بصری رَحِمَهُمُ اللهُ منۍ ته نجسه وائي په نجاسة غلیظه سره، دبدن اوجامی پاکوالے د دینه ضروری دے، البته په طریقه او حصول د طهارة کښې د دی ائمؤاختلاف دے، د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ مسلک دا دے چه دغه منی که وچه (یابسه) وه نوفرک (مږل) یاحک (توکل) یاحط (انږول) هم کافي دی او که لمده(رطبه) وه بیائي غَسل ضروري دے، د امام مالک رحمه الله په نیز باندی هر صورة کښې غَسل ضروری دے، البته دده په نیزنضح الماء (شندل د اوبو په دغه ځائی) هم کافي کیږی، لیث بن سعد رَحِمَهُ اللهُ فرمائي!چه منی نجسه ده خوکه په منۍ پلیتی جامی سره مونځ اوشی، نودغه مونځ واجب الاعاده ندے، حسن بصری رَحِمَهُ اللهُ فرمائي!چه جامه په منۍ پلیته وی او مونځ پری وشی نوواجب الاعاده ندے اګر که ډیره وی، او که په بدن وه نو واجب الاعاده دے اګر که لږه وی . (شرح النووي - ٣ / ١٩٨)

[۲] امام شافعي، امام احمد، اسحق بن راهویه او داؤدظاهری رَحِمَهُمُ اللّٰهُ بنا په یو قول فرمائي چه مني که دنارینه ده او که دزنانه خو پاکه ده، دویم قول دا چه مني د دواړو نجسه ده، دریم قول دا چه دسړی طاهره ده اودخزی نجسه ده،اول قول مختاره دے کماقاله النووی رَحِمَهُ اللّٰهُ في شرح المسلم

دلائل: داول مذهب واله دلیل حدیث الباب دے، عائشه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا فرمائي «کنت افرک المنی » معلومیږی چه مني نجسه ده ځکه خوئي دنبي کریم ﷺ د جامو نه لری کوله، دویم دلیل حدیث دصحیحینودے په روایة دعائشه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا باندی فرمائي! عَنْ عَائِشَة قَالَتْ كُنْتُ اغسِلُ الْجَنَابَة من ثوب النَّبِيِّ ﷺ فَيَخْرُجُ اِلَى الصَّلَاة وَانَّ بُقعَ الماء فِي ثَوْبِهِ (صحیح البخاري ـ ۱ / ۲۸٤) ددینه هم دامعلومه شوه چه مني نجسه ده ورنه دومره تکلف ته ضرورة نه وو، دریم دلیل روایة د بخاری دے! عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ قَالَ سَالْتُ عَائِشَة عَنْ الْمَنِيِّ يُصِيبُ الثَّوْبَ فَقَالَتْ كُنْتُ اغسِلُهُ مِنْ ثَوْبِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ فَيَخْرُجُ اِلَى الصَّلَاة وَاثرُ الْغَسْلِ فِي ثَوْبِهِ بُقَعُ الْمَاء (صحیح البخاري ـ ۱ / ۳۸٥) دغه شان نبي ﷺ به خپله جامه یا بدن باندی چرته هم مني نده پریخودی حتی چه دمونځ نه یوځل کورته تلے او جامی ئي دمني نه صفا کړی دی (کمافي الحدیث المشهور) که مني پاکه وه نو دبیان دجوازدپاره به نبي ﷺ یوځل چرته پریخودی وے، اومونځ به ئي ورسره کړےوے ، معلومیږی مني نجسه ده.څلورم دلیل راروان حدیث دے،

حدیث۲۷،۷۷ ابوحنیفة عن حمادعن ابراهیم عن همام ان رجلا اضافته عائشة ام المؤمنین فارسلت الیه بملحفة فالتحف بها اللیل فاصابته جنابة فغسل الملحفة کلها فقالت ماارادبغسل الملحفة انما کان یجزیه ان یفرکه لقدکنت افرکه من ثوب رسول الله ﷺ ثم یصلی فیه.

حدیث نه دمني نجاسة معلوم شوځکه خو دغه صحابي دغه ملحفه [څادر یا برستن] او وینځله، که مني پاکه وے نو وینځل به ئي نه کولےلکه دبدن خوله (عرق) پاکه ده که په هغی برستن لمده شی څوک ئي وینځی خونه،

دلائل دفریق ثانی: اول دلیل دفریق ثانی دکتاب الله نه دےالله جل شانه فرمائي! وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ مِنَ ٱلْمَآءِ بَشَرا فَجَعَلَهُۥ نَسَبا وَصِهْراً وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيرا ﴿٥٤﴾ (سُورَةِ الفُرْقَانِ) دا اية په مقام د ذکر دنعمو کښې دے، که مني نجسه شی نونجس شی ځنګه سبب دنعمة ګرځیدلےشی ؟ دویم مني نه اوبه ویلے شوی دی او اوبه خو پاکې دی نومني هم پاکه شوه،

جوابات: ددے اية کریمه نه دلیل نیول په طهارة دمني باندےهسی توجیه برائی توجیه ده، ځکه که د دے

اية نه طهارة دمنئ ثابت شي نوبياخوبه د هر زنده سرمنی پاکه شی ځکه الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ فرمائي! وَٱللَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَآبَّةٍ مِّن مَّآءٍ فَمِنْهُم مَّن يَمْشِي عَلَىٰ بَطْنِهِۦ الاية ، سُورَةَ النُّورِ) حالانکه دټولو حیواناتو دمنئ په طهارة باندې خوخصم هم قائل ندے.

دویم جواب: قران کریم کښې دغه منئ ته ماء مهین هم ویئلے شوی دی فرمائی : اَلَمْ نَخْلُقكُّم مِّن مَّآءٍ مَّهِينٍ (سُورَةَ المُرسَلَاتِ) او دا نوم هله صحیح کیږی چه منی نجسه شی.

دریم جواب: د بدر په موقع چه په صحابه کرامو کوم حالات راغلی وو د هغی تذکره الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ کوی په هغی کښې فرمائی !اذْ يُغَشِّيكُمُ ٱلنُّعَاسَ امَنَةً مِّنْهُ وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً لِّيُطَهِّرَكُم بِهِۦ وَيُذْهِبَ عَنكُمْ رِجْزَ ٱلشَّيْطَٰنِ وَلِيَرْبِطَ عَلَىٰ قُلُوبِكُمْ وَيُثَبِّتَ بِهِ ٱلْأَقْدَامَ (سُورَةَ الانفَالِ) په اتفاق دمفسرینوددغه رجزالشیطن نه مراد منی ده، او گندگی دشیطان به څنګه پاکه شی ؟ عقلا هم داحنافو مسلک راجح دے ځکه چه دعلماء رَحِمَهُمُ اللَّهُ تحقیق دا دے چه دشارع طریقه دا ده چه په خروج د یو شی سره دسابقه حالت دتغیرحکم اکری دغه خارج شئ به نجس وی، لکه بول، غائط، دم، قیح وغیره شو، او که په خروج دیو شئ سره د تغیر حکم ونکری دغه مُخرَج شی به نجس نوی لکه خروج دریق (لاړی) بذاق (خراچکے) وغیره وشی نواودس نه ماتیږی نودغه بذاق وغیره نجس هم ن دی، اوس مونکه چه اوکتل نودمنئ په خروج حکم بدلیږی ځکه غسل لازمیږی نودا به په طریق اولی سره نجس وی، دغه شان دویم قانون دا دے چه شریعة دیوشئ دتغیر حکم اکری نو هغه شئ به نجس وی لکه ماخرج من السبیلین شو، او که ونکری نوطاهربه وی لکه ریق، یاعرق شوه، اوس د منئ په باره کښې حکم دتغیرشته چه فرک، یاحت، یاغسل دے، نو دا دلیل د نجاسة دمنئ دے، بلکه د دےطهارة دپاره د تغلیظ لفظ استعمال شوے فرمائي: وَان كُنتُمْ جُنُبًا فَٱطَّهَّرُوا الاية) سُورَةَ المَائدة) دا دومره تشدید چه راغلے دا دلیل د نجاسة دمنئ دے، دا دلیل زعیم الاحناف امام طحاوی رَحِمَهُ اللَّهُ ذکر کړے دے.

.دویم۲ دلیل د مذهب ثانی دپاره:- چه مني سبب دپاره دتوالد تناسل ده، د دینه انسانان (چه اشرف المخلوقات دی) او بیا په انسانانوکښې انبیاء کرام (چه اشرف البشر دی) پیدا دی اوس که منی نجسه شی نو دا کرامة دانسانانو اوانبیاء کرامو خو به ثابت نشی ځکه ددوی اصل فاسد شو،

جواب: دادلیل هم کمزورےدےځکه دا هم توجیه براني توجیه ده،ځکه چه په اتفاق د اطباء سره په رحم دمادرکښې خوراک دهرانسان دحیض وینه ده اووینه دحیض بالاتفاق نجسه ده پياخوړی سره هم دانسان

کرامة او شرافة ختمیدلے شی، فماجوابکم؟

دویم جواب- دا هم اتفاق مسئله ده چه منی دوینی نه پیدا کیږی نواصل د منی نجس شو کرامة بیاثابت نشو، معلومه شوه چه منی نجسه ده او کرامة برقرار دے، ځکه کومه کرامة چه په ایة کښی ذکر دے دغه جدا کرامة دے د طهارة نجاسة سره ددغے تعلق نشته، بهرحال دا ظاهره ده چه منی نجسه ده،

اعترض- چه منی نجسه شوه نوبیا پکارده چه ددے طهارة بغیردغَسل نه نه حاصیلیدلے که رطب (لمده) وی که یابسه (وچه) وی حالانکه تاسو وائی چه منی وچه وی نو په فرک، حت وغیره سره د دی طهارة راتلے شی ؟

جواب-دا اعتراض په ځائي ووخوکه دطهارة دپاره دغه یوه طریقه د غسل متعینه وے، خو په شریعة کښی دبعض اشیاء طهارة په نورو طرقو سره هم کیدے شی لکه د زمکی طهارة وچ والےدے، د سرمن طهارة په دباغة سره دے، دقطن طهارة په نفش سره راځی، دتوری اوسکین طهارة په مسح سره راځی، نومنی چه لمده وی طهارة ئي په غسل سره اوچه وچه وی نو فرک، حت، یاحک سره دے [والله اعلم]

باب ماجاء في الدباغة

حدیث ۳۸\۱۷۸ ابوحنیفة عن سماک عن عکرمة عن ابن عباس ان رسول الله ﷺ قال ایما اهاب دبغ فقد طهر.

دباغة په لغة کښی رنګ کولوته وائي،اصطلاح کښی دسرمن نه په څه طریقه نجاسة زائله کول، یوه طریقه د دے دا ده چه ځاروے [حلال وی که حرام وی] خوچه په ذبح شرعی سره ذبح کړے شی نودغه سرمن پاکه شوه، که وچه وی که لمده وی، او که ځاروے مردار شو نو دهغی سرمن لمده نجسه ده، د پاکولو دپاره ئي مختلف طُرق دی،یودا چه په نمرباندی وچه کړے شی، دویم دا چه په مالګه یاخاوره یاپه نورو دوایانو یا کیمکل باندی رنګ کړے شی حتی چه لوندوالے ئی زائل شی، حدیث کښی هم دغه بیان دے.

حدیث ۳۹\۱۷۹ ابوحنیفة عن سماک عن عکرمة عن ابن عباس ان رسول الله ﷺ مربشاة لسودة فقال ما علی اهلها لوانتفعوا باهابها فسلخوا جلد الشاة فجعلوه سقاء في البیت حتی صارت شنا.

دا حدیث هم دسابقه باب سره متعلق دے،خودلته د مردارځاروی د دباغة بیان دے چه داپه دباغة سره پاکه کرځی [سقاء] عامه مشکیزه[شنا] چه زړه شی.

کتاب الصلوة

چند خبری بطور اجمال: ربط، معنی لغوی، معنی اصطلاحی، تجزیة الاحادیث

[۱] **ربط**:- مخکښې مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ بیان دطهارة اوکړو چه هغه شرط وو دپاره د مونځ اوس یې په بیان دمشروط کښې شروع اوکړه چه هغه مونځ دے، یادا چه اول لازم په هر انسان باندې ایمان بالله دے، دویم عبادات دی،دریم معاملات دی،څلورم کفارات، اوپنځم عقوبات دی،کله چه مخکښې کتاب الایمان ذکر شونو په عباداتوئي شروع اوکړه، اهم په عباداتو کښې مونځ دے، البته ددے دپاره طهارة شرطوو، کله چه دبیان دشرط نه فارغ شو نو په بیان دمشروط کښې ئي شروع اوکړه.

[۲] **معنی لغوی**:- صلوة په لغة کښې په ډیرومعانیوسره راځی (۱).. دعاء: لکه: وَصَلِّ عَلَيْهِمْ اِنَّ صَلٰوتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ وَاللّٰهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ (سُورَةَ التَّوْبَة) (۲).. رحمة: لکه: اِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِكَتَهٗ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ يٰٓاَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا (سُورَةَ الاحْزَابِ) (۳).. صله اوتعلق: مناسبت ئی ظاهر دے چه په مونځ کښې هم دعاء شته، سبب درحمة دے، او هم تعلق بین العبد والمعبود وی (٤).. قوام: لکه عرب وائي اصليت العود على النار: مونځ هم بنده لره دالله تَبَارَكَ وَتَعَالٰى په طاعة سيده كوى (٥).. لزوم: مونځ هم په بنده باندې لازم دے (٦).. تحريک الصلوين: په مونځ کښې هم تحريک دصلوين[دونکو] وی.

[۳] **معنی اصطلاحی**:- الصلوة عبارة عن اداء ارکان مخصوصة في اوقات مخصوصة بافعال مخصوصة.

[٤] **تجزیة الاحادیث**- دی کتاب الصلوة کښې کل احادیث <u>۱۱٦</u> دی چه په مختلفو ابوابو مشتمل دی.

باب ماجاء في فضيلة كثرة السجود

حديث ۸۰\۱ ابوحنيفة عن حماد عن ابراهيم عن عبد الله عن ابی ذرانه صلی صلوة فخففها واكثر الركوع والسجود فلما انصرف قال له رجل انت صاحب رسول الله ﷺ وتصلی هذه الصلوة فقال ابوذر الم اتم الركوع والسجود قال بلی قال فانی سمعت رسول الله ﷺ يقول من سجد لله سجدة رفع بها درجة في الجنة فاحببت ان تؤتی لی درجات اوتكتب لی درجات وفي رواية عن ابراهيم (الحديث الخ)

پوهه شه چه یوفرض مونځ دے اودویم نفل، فرض مونځ کښې په هر صورة کښې تخفیف پکاردے، ځکه

دفرض مونځ د شان نه دا خبره ده چه دا به په جمع جماعت سره وي، او نبي كريم ﷺ فرمايلي دي: اذا صلى احدكم للناس فليخفف فان فيهم الضعيف والسقيم والكبير واذا صلى لنفسه فليطول ما شاء" (سنن ابي داود ـ ۱، ۲۹۲) دغه شان په معاذ رضي الله عنه باندې شكايت شوے وو چي دے اوږد مونځ كوي، نبي كريم ﷺ ورته په غصه كښې اوفرمايل: « يا معاذ افتان افتان انت افتان انت اقرا بكذا اقرا بكذا » (سنن ابي داود ـ محقق ۱، ۲۹۰) معلومه شوه چه فرض مونځ كښ به دسنت په مطابقت باندې تخفيف كولے شي، هرچه نفلي مونځ دے نو ددے د اداء كولودپاره دوه طريقي دي (۱) يودا چه قرات لنډ كړے شي خو ركعتونه زيات اكړے شي، نو كثرة دركوعاتو او سجدو به راشي (۲) صورة دا چه قرات اوږد كړے شي اوركعتونه كم كړے شي، نو طول القيام به راشي، پدى دواړوطريقوكښ چه په كومه طريقه عمل وشي نو په سنة طريقه عمل وشو، البته اختلاف پديكښې دے چه كومه طريقه افضله ده؟

بعض علماء فرمائي چه: كثرة السجود افضل دے دطول القيام نه او دغه مذهب په صحابه كراموكښې د ابن عمر رضي الله عنه دے، او د امام شافعي رحمه الله نه يو رواية دے، اوهم دامذهب د امام محمد رحمه الله دے، امام صاحب رحمه الله فرمائي: چه طول القيام افضل دے دكثرة السجود نه او دا د امام شافعي رحمه الله نه هم يورواية دے، او په دغه رواية دشوافعو فتوى ده (شرح النووي على مسلم ۲ / ۲۳۰) (عمدة القاري ۱۱ / ۲۸۸)

امام ابويوسف، اسحق بن راهويه فرامائي: چه دورځى كثرة السجود او د شپې طول القيام افضل دے، امام احمد رحمه الله پدى مسئله كښي توقف كړے،

دلائل: د اول مذهب واله دپاره دليل حديث الباب دے، ځكه چه ابوذر رضي الله عنه لنډقيام اكړو اوزيات ركعتونه ئي اكړه نوظاهره ده چه ډيرى سجدى او ركوع گاني ئي اكړي، يوكس پرى اعتراض اكړ، نود ابوذر رضي الله عنه سره غم پيداشو چه: ولى ما ركوع اوسجده پوره ونكړه؟ هغه ورته او ويل چه نه ركوع اوسجده خو پوره وه ليكن ركعتونو كښ دى قيام لنډ اكړو، ابوذر رضي الله عنه ورته حديث پيش كړو، ظاهره شوه كثرة السجود افضل دے د طول القيام نه،

د امام صاحب رحمه الله دليل فعل دنبي ﷺ دے چه نبي كريم ﷺ به نفلي مونځ دومره اوږد كوو چه نبي مبارك به ئي اوپړسيدلى، اوكله به اوچاؤدلى ، دغه شان دا هم نقل دى چه اول ركعت كښ ئي سورة بقره، دويم كښ ئي سورة ال عمران، په دريم كښ ئي سورة نساء، په څلورم كښ ئي سورة المائده لوستلى دى، او دا هم معلومه ده چه دنبي كريم ﷺ قراءة به خومره په ترتيل، او په قلاره قلاره وو، معلومه شوه چه طول القيام افضل دے د كثرة السجود نه، او ترمذى كښې قولي حديث هم شته: عن جابر قال: قيل للنبي ﷺ

اي الصلاة افضل ؟ قال طول القنوت (سنن الترمذي - ۲ ، ۲۲۹)

پاتې شوروایة د ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نوفي نفسه دغه خبره صحيح ده ليكن د دغی نه افضلية دكثرة سجود نه معلوميږی، خكه دنبي كريم ﷺ خپل عمل داسی ندے، عقلی دليل هم دجمهورو او احنافو رَحِمَهُمُ اللهُ معاضد دے، هغه داسی چه په طول القيام كښ قراة زيات كيدے شی، چه دا د مونځ يو ركن دے، او كثرة السجود كښ تسبيحات زيات شو چه يوسنت عمل دے ركن ندے، والله اعلم.

حالات راوی ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: په نوم د ده كښی اختلاف دے، بعض وائي! جندب بن جناده، بعض وائي! بُرير مصغريا بَرير مكبر دے، والثابت المشهور جندب بن جنادة بن سفيان بن عبيد بن حرام بن غفار بن مليل (معرفة الصحابة ـ محقق - ٤ / ٤٩٨) دپلار نوم ئي جندب ياعشرقه ياعبدالله اوياسكن دے قديم الاسلام صحابی دے، بعض وائي! خامس خمس في الاسلام دے، دجنګ خندق نه بعدئي هجرة كړے دے، د بعثت نه مخكښی به ئي د شپي عبادة كوو، صوفي زاهد صحابی وو، دا اول هغه كس دے چه نبی كريم ﷺ ورته دسلام تحيه وړاندی كړی ده، جمع كول دمال به ئي مطلقا ناجائز ګڼړل، خلقو سره به ئي پدی خبره چيرچاړ هم كولواوخلق به ئي تنكول، عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپل دورخلافت كښ ربذه نومی مقام ته وليږو، هلته به اوسيدوهم دغه دورعثمانی كښی په كال ۳۲ هـ په دغه ربذه كښی وفات شو،عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ئی كفن دفن جنازه وغيره كړی ده، صرف اتهٔ ۸ كسان د ده په جنازه شريك شوی دی، دی مسندكښ د دنه كل ٤ روايات نقل دی ،

باب ماجاء في ان مابين الركبة والسرة عورة

حديث ۲۸۱ ابوحنيفة عن حمادعن ابراهيم قال قال عبد الله قال رسول الله ﷺ مابين السرة والركبة عورة .

ربط: دمونځ دپاره څه شرائط دی، يويكښی طهارة دے چه مخكښ ئي بيان وشو، دلته نه دويم ۲ شرط ذكر كوي چه سترالعورة دے، بيا عورة درجل د كوم ځائي نه تركوم ځائي پوری دے؟ ديكښی اتفاق دے چه نوم (سُرَه) په عورة كښی داخل ندے، ليكن اختلاف پديكښی دے چه زنګون (ركبه) په عورة كښ داخل دے كه نه؟ دری ۳ مذاهب دی ،

[۱] امام مالک،امام شافعي، امام احمد رَحِمَهُمُ اللهُ فرمائي!چه ركبه عورة كښی داخل نده،

[۲] امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ فرمائي! ركبه داخل ده په عورة كښی [۳] داو د ظاهری فرمائي! چه عورة دسرى

صرف سوءتان دی،

.لائل: حدیث الباب ظاهرکښی داهل ظواهرودلیل دےځکه چه په مینځ د دی دوه اندامونو کښی سوءتان دی،

د امام مالک، شافعی، احمد رَحِمَهُمُ اللّٰهُ دپاره دلیل عمل دنبی کریم ﷺ دے امام بخاری رَحِمَهُ اللّٰهُ تعلیقا حدیث نقل کړے!قَالَ انَسُ بْنُ مَالِكٍ حَسَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ فَخِذِهِ: د احنافو دپاره دلیل روایت دعمروبن شعیب عن ابیه عن جده دے، چه! ان ماتحت سرته الی رکبته عورة [دارقطنی ۱ / ۲۳۱] غایه په مغیا کښی داخله ده، دویم بل روایة د دارقطنی دے!سَمِعْتُ عَلِيًّا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ الرُّكْبَةُ مِنَ الْعَوْرَةِ (سنن الدارقطني ـ ۱ / ٤۳۱)

اما عمل دنبی کریم ﷺ نو هغه په عذرباندی بنا دے، احتیاط هم پدیکښی دے چه په مذهب حنفي عمل اکړےشی، ځکه که رکبه عورة وی او مستورنه شی نوګناه ده او که نوی اوبټ شی نوهیڅ ګناه نشته امام بخاری رَحِمَهُ اللّٰهُ هم دغه فیصله کړی ده، قَالَ ابو عَبْد اللّٰهِ وَحَدِيثُ انَسٍ اسْنَدُ وَحَدِيثُ جَرْهَدٍ احْوَطُ حَتَّى يُخْرَجَ مِنْ اخْتِلَافِهِمْ وَقَالَ ابو مُوسَى غَطَّى النَّبِيُّ ﷺ رُكْبَتَيْهِ حِينَ دَخَلَ عُثْمَانُ(صحيح البخاري ـ ۲ / ۱۱۲) بیا دا مذکور عورة دنارینه دے، دزنانه ټول بدن عورة دےعلاوه دځه حصی د مخ، دواړه لاسونو، اوښپونه، وینځه(جاریه) په عورة کښې پشان دسړوده ، البته شا اوخیټه ئي هم عورة دے،

باب جوازالصلوة في ثوب واحد

حدیث ۳\۸۲ ابوحنیفة عن عطاءعن جابر انه امهم في قمیص واحد وعنده فضل ثیاب یعرفنا بسنة رسول الله ﷺ ابوقرة قال ذکرابن جریج عن الزهری عن ابی سلمة عن عبد الرحمن عن ابی هریرة عن رجل قال یارسول الله ایصلی الرجل في الثوب الواحد فقال النبی ﷺ او لکلکم ثوبان قال ابوقرة فسمعت اباحنیفة یذکر عن الزهری عن سعیدبن المسیب عن ابی هریرة انه سال النبی ﷺ عن الصلوة في الثواب الواحد فقال النبی ﷺ لیس کلکم یجد ثوبین.

مسئله اتفاق ده صرف ابتداء کښی دابئ بن کعب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، او عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په مینځ کښی اختلاف وو، ابئ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په جوازدصلوة في ثوب واحد قائل وو،ابن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په عدم جوازقائل وو،ابئ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په دلیل کښی داویل چه مونږدنبی ﷺ په وخت کښی صلوة في ثوب واحد کولو، او دا دعیب خبره نه وه، ابن مسعود ﷺ به جواب کولوچه هغه وخت کښی دجاموکموت وو، اوس خوالله

تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ وسعت راوستے دے نو دوه۲ جامی ضروری دی، عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دواړه جمع کړه اوملامته ئې کړه چه دایه څه خبره ستاسوجګړه ده حال دا دے چه ستاسو نه خلق فتوی طلب کوی؟ دنبی کریم ﷺ دملګرودپاره دانده ښکارچه اختلاف په داسی مسائلو کښې اکړی، او بیائي فیصله اکړه په حق دابئ بن کعب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ کښې (السنن الکبری للبیهقي ۲ / ۲۳۸)

د دینه روسته بیا اتفاق دامة راغلےدے چه مونځ په یوه جامه کښې جائز دے، حدیث په مسئلة الباب ښکاره دلیل دے،

مسئله خو دغه ده چه دضرورة په صورة کښې په یوه جامه کښې مونځ بغیر کراهته روا دے، البته اضافي جامه دانسان زینت دے، اوالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ حکم کړے،انسان ته په وخت دعبادة کښې چه دغه زینت اختیارکړی، فرمائي! ﴿يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ خُذُواْ زِينَتَكُمۡ عِندَ كُلِّ مَسۡجِدٖ وَكُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ وَلَا تُسۡرِفُوٓاْۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُسۡرِفِينَ﴾ (سُوۡرَۃ الاعۡرَافِ) ښکار ده چه په جامو دزینت کښې انسان عبادة اکړی ،اوزینت د انسان شرعا هر هغه لباس دے چه ده ته په هر مجلس کښې په هغی کښې ځان ښه ښکاری، اوس که یوکس نستونړی رانغښتی وی نوکم ازکم دخپل مشر یا استاذ مخکښی ورته ځان بد ښکاری، یاسرتورسروی نوهم دغه حالت وی، دغه شان په پینځ شرټ کښې انسان ته ځان د دیندارو په مجلس کښې بد ښکاره کښېږی، نو په دغه هیئاتوکښې به مونځ ادا کول مکروه وی، او که یو کس مسنون لباس اغوستےوی توپئ ئي په سروی نوهرمجلس ته په داده زړه ورتلےشي اوخان ورته هم ښائسته ښکاری، نو په دغه طریقه مونځ ادا کول دایه سنة طریقه مونځ ادا کول دی ،

حدیث۲۸۳ ٤ ابوحنیفة عن ابی الزبیرعن جابران رسول الله ﷺ صلی في ثوب واحد متوشحا به فقال بعض القوم لابی الزبیر غیر المکتوبة قال المکتوبة وغیر المکتوبة .

قوله!متوشحابه: صیغة داسم فاعل ده دباب تفعل نه «توشح» په معنی د «تغشي» پټولو سره راځي، ددی مقصد دا چه په یوخاص هیئة په ځان پوری جامه کلکول، هغه داسی چه یو طرفته جامه د اوږی دپاځه راتاؤکړي اودبل طرف داوږی دلاندی ئي بوځي، بیا په دویم ځل بل پلوډی مخالف بوځي، او په سینه ئی وتړی، دیته اشتمال الاصم او التحاف هم ویلے شي، والله اعلم

باب فضل الصلوة في مواقيتها

حديث ٥\٨٤ ابوحنيفة عن طلحة بن نافع عن جابرقال سئل رسول الله ﷺ ايّ العمل افضل قال الصلوة في مواقيتها.

دمونځ دپاره خپل مقرراوقات دی چه جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ نبی کريم ﷺ ته ښودلی دی، رواياتو کښی دهغی ابتداء او انتهاء خودلے شوی ده، اوځنی اوقات داسی دی چه اختلاف پکښی هم شته چه تفصيل ئي پوره په فقه کښی دے، دلته حديث الباب کښی فضيلة د اداء د مونځ په خپل اوقاتوکښی ذکر دے، چه دحديث نه ظاهردے،

قوله ! ايّ العمل افضل: دا تپوس دنبی کريم ﷺ نه په مختلفومواقعو شوے دے، او جواب د افضليت دمختلفو اعمالوورکړے شوے، کله جواب ورکړے شوے «الايمان بالله» کله «الجهاد في سبيله» (کمافي رواية البخاری) کله «الصلوة في مواقيته» لکه دلته، کله «برالوالدين» وغيره جو ابونه راغلی دی، نوسوال دا دے چه کوم يو عمل افضل شو؟

جواب: داټول اعمال په خپل ځائی باندی افضل دی، او د نبی ﷺ مختلف جو ابونه پدی بنياد دی چه نبی کريم ﷺ دغه سامع اوسائل ته کتلی دی چه ده کښی کمے دکومی خبری دے چه دهغی ترغيب ورکړے شی، نو چاکښی د مونځ په خپل وقت نه کولو کمےوو، چاکښي دسخاوت کمےوو، چاکښی د مورو پلار دحقوقو دخيال نه ساتلوکمے وو، چاکښي دجهاد د شوق او د جذبی کمے وو، وغيره، نبی کريم ﷺ دهغی مطابق جواب ورکړے دے،

باب ماجاء في فضيلة الاسفار في الصبح

حديث ٦\٨٥ ابوحنيفة عن عبدالله عن ابن عمر عن النبی ﷺ اسفروا بالصبح فانه اعظم للثواب.

د مونځونو د اداء کولودپاره يومطلق اوقات فرضيه دی،دويم اوقات مستحبه دی،په حديث د امامة جبرئيل کښی د اوقات فرضيه بيان دے، دی رواياتو کښي داوقات مستحبه بيان دے،

ضابطه: د امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ په نيزباندی په هرمونځ کښی تاخير بهتردے سوا د مابنام د مونځ نه، او د امام شافعی رَحِمَهُ اللَّهُ په نيز په هرمونځ کښی تعجيل اولی دے علاوه د ماسخوتن نه، هم په دغه بنياد دسحريه وقت مستحبه کښي اختلاف دے، دری مذهبه[٢] دی ،

[١] امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نیز د دغه مذکوری قاعدې موافق اسفار اولی دے خو دغه اسفار به تر به اوږده دوام وی. صحابه کرامو کښي علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ددی قائل دی،

[٢] دائمه ثلاثه په نیز باندی تغلیس في الصبح ابتداء او انتهاء اولی دے، او دا مذهب د اوزاعی، داؤد ظاهری. ابوثور، اسحق رَحِمَهُمُ اللهُ دے، او به صحابه کرامو کښي دعثمان، ابوهریرة، ابوموسی اشعری، اوانس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ دے. (نیل الاوطار ١ / ٤٢٠)

[٣] د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په نیز تغلیس في الصبح دے ابتداء اواسفار دے انتهاء، او په دغه مذهب فتوی د امام طحاوی رَحِمَهُ اللهُ ده، بهرحال غټ دوه مذهبه شو امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ او ائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ.

دلائل: دائمه ثلاثه دلیل روایة دعایشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دے چه فرمائی ' کنا نساء المؤمنات یشهدن مع رسول الله ﷺ صلاة الفجر متلفعات بمروطهن ثم ینقلبن الی بیوتهن حین یقضین الصلاة لا یعرفهن احد من الغلس (صحیح البخاري ـ ج ١ / ٢١٠) د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ دپاره دلیل حدیث الباب دے، چه دا حدیث قولی دنبي کریم ﷺ دے چه امر بالاسفار ئي کړے دے،

جواب: پاتی شو دلیل د ائمه ثلاثه نواول خو هغه فعل د نبي کریم ﷺ دے، او کله چه تعارض دقول اوفعل راشي نو ترجیح به قول لره وی په فعل بان دی، ځکه څنی افعال داسی وو چه خصوصیة د نبي کریم ﷺ وو، یا د زمانے د نبي کریم ﷺ وو، نو پیغمبر ﷺ بخپله اګرچه په تیاره کښي مونځ کړے دے خوامة ته ئي د اسفار حکم کړے دے، دویم: چونکه صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ د شپي د مونځ (تهجدو) عادت وو، نو جماعت به په غلس (تیاره) کښي موجود وو، نبي کریم ﷺ به د سحر مونځ ځکه وختي کولو، ځکه د تاخیر دپاره علة تکثیر د جماعة دے، او دنبي کریم ﷺ په وخت کښي به دغه تکثیر په تیاره کښي وو، هم دغه وجه ده چه په رمضان المبارک کښي داحنافو په نیز هم وختي په غلس کښي مونځ کول اولی دی وجه دا ده، چه په رمضان المبارک کښي په تیاره کښي تکثیر دے نه په اسفار کښي (نیل الاوطار من احادیث سید الاخیار شرح منتقی الاخبار للشوکانی)

علاوه لا دا وایو چه په روایة دعایشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا کښي ,,من الغلس،، مدرج دے، دلیل د دے دا دے چه په روایة دابن ماجه کښي ,,تعنی من الغلس،، دے، عَنْ عَائِشَةَ . قَالَتْ : كُنَّ نِسَاءُ الْمُؤْمِنَاتِ . يُصَلِّينَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الصُّبْحِ . ثُمَّ يَرْجِعْنَ الَى اَهْلِهِنَّ . فَلَا يَعْرِفُهُنَّ اَحَدٌ . تَعْنِي مِنَ الْغَلَسِ. (سنن ابن ماجة ـ ١ /٤٢٦) پاتی شوه ددغه ښځو عدم معرفت نودا دتیاره په وجه نه بلکه هغو به

پرونی اوخادرے دخانه راتاؤ کړی وو، لکه چه الفاظ دحدیث ,,متلفعات بمروطهن،، د دے ظاهردلیل دے، قانون دا دے چه,,اذاجاء الاحتمال بطل الاستدلال،،

اعتراض: شوافع زسونږه په دلیل اعتراض کوی چه مراد د اسفارنه رنړا نده بلکه معنی دا ده چه ,,دصبادختوښه وضاحت کوئ،، چه چرته مونځ د سحر د صبا د ختلونه مخکښی په شپه کښی ونکړئ،

جواب: دا توجیه ضعیفه ده،ځکه سیاق دحدیث د دی په ضعف دلالت کوی، ځکه چه روسته لفظ د ,,اعظم،، ذکر دے چه داصیغه داسم تفضیل ده، او اسم تفضیل کښی نفس فعل وی سره دزیادت نو نومقصد دا شوچه په اسفار (یعنی فجر) کښی ثواب ډیردےاو د دینه مخکښی مونځ کول نفس ثواب لرئ حالانکه داخبره اتفاقی ده چه دصبادختلونه مخکښی دسحرپه مونځ کولو کښی نفس ثواب هم نشته ځکه دغه مونځ خود وخت نه مخکښی دے، معلومه شوه په اسفار(په معنی درنړا) کښی مونځ کول ثواب ډیرلری، او د اسفارنه مخکښی نفس ثواب شته خوفضیلة نشته، والله اعلم

باب ماجاء في التبكير بالعصر في يوم غيم

حدیث ۷\۱۸٦ ابوحنیفة عن شیبان عن یحی عن ابن بریدة قال قال رسول الله ﷺ بکروا بصلوة العصر وفي روایة عن بریدة الاسلمی قال قال رسول الله ﷺ بکروا بصلوة العصر في یوم غیم فان من فاته صلوة العصر حتی تغیب الشمس فقد حبط عمله

دعصرپه وقت اول کښی دائمه رَحِمَهُمُ اللهُ اختلاف دے، خودلته دهغی په باره کښی څه روایة نشته. اماوخت مستحبه دمازیکر؟ نو په هغی کښی هم اختلاف دے، دائمه ثلاثه په نیز باندی تعجیل مستحب دے اوداحنافو په نیز تاخیر اولی دے خودومره تاخیر چه نمرښه روښانه وی، دائمه ثلاثه دپاره دلیل حدیث الباب دے، د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ دپاره دلیل هغه روایات دی چه حکم دتاخیرد صلوة العصرپکښی ذکر دے، روایة دام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا کښی راځی ' عن ام سلمة انها قالت : کان رسول الله ﷺ اشد تعجیلا للظهر منکم وانتم اشد تعجیلا للعصر منه (سنن الترمذي - ۱ / ۳۰۲) دویم دلیل روایة د ابوداؤد دے! علی بن شیبان قال قدمنا علی رسول الله ﷺ المدینة فکان یؤخر العصر ما دامت الشمس بیضاء نقیة . (سنن ابي داود محقق - ۱ / ۱۵۸)

اوس کله چه تعارض راغلونو تساقط خو کیدے نشی، نوتاویل به کوو، دغه تاویل په دغه بل روایة کښی شوے ,,وفي روایة عن ابن بریده .. سره خبره واضح شوه چه دغه تبکیر دوریځ (غیم) په ورځ باندی

مراد دے، اوتاخير په عامو ورځوکښې مراد دے، اوددےتاويل دپاره دليل دا مابعدكلام دے ,,فان من فاته صلوة العصر» يعنى دوريخ په ورځ تعجيل ځكه پكاردے چه هسى نه چه د مازيګر مونځ فوت شى اولوئ نقصان وشى، ترجيح مذهب حنفي ته مونږه ځكه وركوو چې په تاخيردعصركښې تكثيردنوافلودے، او دا اولى ده دعدم تنفل نه،

باب الوعيد بفوات صلوة العصر

حديث ۸\۸۷ ابوحنيفة عن شيبان عن يحى عن ابن بريدة قال قال رسول الله ﷺ من فاته صلوة العصر فكا نما وتر اهله وماله:

صلوة العصرچونكه يو لوړمقام لرى په مونځونوكښى نو ددے په فوت كيدو په حديث الباب كښې وعيد ذكر دے، يووعيدمخكښې حديث كښں بيان شو، دا بل وعيد دے، په عبارة دحديث كښں دوه توجيه دى ،

[۱] وُتِرَفعل مجهول په معنى د ,,اخذ» سره ,, اهلُه ومالُه» معطوف معطوف عليه مرفوع دى نائب فاعل ددغه فعل مجهول شو، معنى به داسى شى ,,كوياچه واغستلې شو اهل اومال د ده,,

[۲] وُترفعل مجهول په معنى د ,,سُلِبَ» سره اوسُلب فعل متعدى دے مفعولينو ته، ضمير مستتره ورلره نائب فاعل دے او په اصل كښں دغه مفعول اول دے، او,, اهلَه ومالَه,, ورلره مفعول ثانى دےمعنى به داسى شى ,,كويا چه سلب كړے شو او لوټ كړے شو د دنه اهل او مال د ده ,,

باب النهى عن الصلوة في الاوقات المكروهة

حديث ۹\۸۸ ابوحنيفة عن عبدالملك عن قرة عن ابى سعيد قال قال رسول اللهﷺ لاصلوة بعدالغدوة حتى تطلع الشمس ولابعدصلوة العصرحتى تغيب ولايصام هذان اليومان الاضحى والفطر ولا تشد الرحال الا الى ثلثة مساجد الى المسجد الحرام والمسجد الاقصى والى مسجدى هذا ولا تسافر المراة يومين الامع ذى محرم،

دى رواية كښى پنځه مسائل بيان شوى دى، خو بنيادى مسئله د ترجمة الباب ده دانور به ورسره تبعا ذكر كيږى، وضاحت د بنيادى مسئلى دا دے، چه اوقات مكروهه په دوه۲ قسمه دى،يوهغه وخت دے چه هيڅ قسم مونځ پكښى نه كيږى نه فرض نه نفل، نه صلوة جنازه نه سجده تلاوت، دوجه دكراهة في الوقت نه چه هغه درى ۳ اوقات دى (۱) وخت د طلوع الشمس (۲) وخت د استواءالشمس (۳) وخت دغروب الشمس، دلته د دغه اوقاتو ذكر نشته، دويم۲ هغه اوقات دى چه په هغى كښى فقط نوافل او واجبات

ذوات السبب مكروه دي دوجه دكراهة د لحق الفرض نه، نه د وجه دكراهة في الوقت نه، هغه دوه٢ وختونه دي،يودصباختلونه پس تر نمر د راپورته كيدو پورى، چه ديكښې عند الاحناف صرف د سحر د سنتونه علاوه نورنوافل ياواجبات ذات السبب (لكه ركعتين دطواف) كول مكروه دي،البته واجبات غيرذات السبب (لكه نذرمونځ) ياقضاء مونځ، جنازه، سجده تلاوة پكښې كولے شي، دويم٢ دمازيكردمونځ نه پس تر غروب الشمس پورى، چه ديكښې هم عندالاحناف نوافل غيرذات السبب اوذات السبب نشي كولے، اوچه نوررزيږشي نوقضاء مونځ هم نشي كولے، الا عصر يومه عند الاحناف ، البته نبي ﷺ به دماسپخين دوه ركعته سنت پدى وخت كښې كول خو دا دهغه خصوصية وو بل څوك داسې نشي كولے، هم دغه وجه ده چه عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حضور دصحابه كرامو كښي هغه چاله سزا وركوله چه دمازيكردمونځ نه به ئې روسته ركعتين كول اوچا پرى نكير ندے كړے، دادليل ددى دے چه دا خصوصية دنبي كريم ﷺ دے (عمدة القاري: ٨/ ٥)

د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نيزيدى اوقاتوكښې فرض اونوافل ذات السبب (لكه ركعتين دطواف. يا تحية المسجد) جائزدي، اوعند البعض پكښي هيڅ قسم مونځ جائز ندے نه نفل اونه فرض، او د بعض نوروپه نيزيه مكه كښې جائز او نورو مواضعو كښي ناجائز، ددوى دلائل شته خودهغى نه دليل نيول تام ندى، تفصيل دپاره (عندة القاري شرح صحيح البخاري - ٨/ ٧)

قوله! ولايصام هذان اليومان: دويمه مسئله پدى رواية كښې نهي عن صوم الفطر و الاضحى ده، ټول كال كښې پنځه ورځې داسې دي چه روژه نيول په هغى كښې مكروه تحريمي ده، دوه ورځې د اختراودرى ايام التشريق، ځكه دا ورځې دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ دضيافة دي پديكښې روژه نيول دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ دضيافة نه انكار كول دي،

[فائدة] اوس كه چاد دغه ورځوصوم نذراكړو نوامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ فرمائي! چه نذرئي هم لغودے، البته امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ فرمائي! نذر ئي منعقدكښيږى خو روژه نيول ورلره ناجائز دى قضاء به ئي كوى، ځكه في نفسه په دغه ورځوكښې څه قباحت نشته دغير دوجه نه پكښې قباحت راغلےدے چه ايام دضيافة دالله تعالى دى،دليل د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ حديث دبخارى دے! جاء رجل الى ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فقال رجل نذران يصوم يوما قال اظنه قال الاثنين فوافق يوم عيد ؟ . فقال ابن عمر امر الله بوفاء النذرونهى النبي ﷺ عن صوم هذا اليوم (صحيح البخاري : ٢/ ٧٠٢) د دى مقصد هم دغه دے كوم چه

احناف وائي، چه د دغه ورځ روژه دې ترک کړي او بيا دې قضاء روژه ونيسي، ځکه په نص دقران دنذر ايفا واجبه ده! وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ [الحج : ۲۹] اوحديث الباب کښې منع راغلې نو تطبيق به ئې هم په دغه شان وشي، بيا ترک دصوم به کوي په مقتضي۔ د حديث اولا ځکه قاعده دا ده! (اذا اجتمع المانع والمقتضي قدم المانع) دې سره عمل بالنصين راغلو او دا عادة د امام صاحب رَحِمَهُاللّٰهُ دے۔

قوله! ولاتشد الرحال الا الى ثلثة : دريمه مسئله دا ده چه دثواب په نيت سامان د سفر تړل په طرف ديومسجد ندی جائزمګردری ۳ مساجدوته جائزدی، ځکه چه دغه دری مساجدو کښې بيت الله شريف کښې يومونځ په يولاکه دے، اوبيت المقدس، اومسجد نبوی ﷺ هر يو کښې يو مونځ په پنځوس زره دے، د دينه علاوه د دنياء ټول جماتونه په اعتبار دثوا ب سره يوشان دی، پس نورومساجدوته په نيت دثواب سامان سفر تړل ناجائز دی،اما دا چه د روضه اطهر دنبي کريم ﷺ څه حکم دے؟ پديکښې د جمهور واوعلامه ابن تيميه رَحِمَهُاللّٰهُ اختلاف دے جمهور وائي چه صرف په نيت دروضۂاطهر سفر کول اوهلته حاضری کول مستحب دی،علامه ابن تيميه رَحِمَهُاللّٰهُ فرمائي! چه د مسجد نبوی ﷺ دپاره سامان سفر تړل اوتلل جائز دی،په تبع د دغه د روضۂاطهر زيارة هم کولے شي، ليکن يواځې درضۂ اطهردپاره سامان سفر تړل ناجائز دی،دليل کښې دا حديث پيش کوی، طريقه داستدلال ئي دا ده چه دلته ،،الا،، استثنائی ده او دامستثنی مفرغه ده بالاتفاق نوتقدير د عبارة عنده دا دے ،،لاتشد الرحال الى شئ من الاشياء الا الى ثلثة مساجد،، نوروضه خارجه شوه، علامه صاحب پدی مسئله کښې ډيره تيزی هم کړی ده او پدی مسئله ئي کتابونه هم ليکلي دی او دامسئله په عنوان د ،،شد الرحال،، سره مشهوره ده، دشيخ سراج الدين الهندي الحنفي د ده سره مناظره هم پدی مسئله راغلی ده چه دايو فصيح انسان وو، علامه دده خبره کټ کوله او دځان بچ کولو کوشش ئی کوو، هندی ورته او ويل! ما انت يا ابن تيمية الا كالعُصفور، اوپدی مسئله کښې دوه ځله په شام کښې جيل شوے هم دے،او وفات ئي په جيل کښې راغلےدے، جمهوروائي!چه مونږه هم منوچه مستثنی مفرغه ده، مستثنی منه مقدره ده،خو دغه نده کومه چه علامه صاحب وائي،بلکه اصل په مستثنی کښې متثنی متصله ده، چه د هغې تقدير داسې دے،،لاتشد الرحال الى مسجد من المساجدالا الى ثلثة مساجد،، دليل ددی استثنی رواية دمسند احمد دے!«لَا تُشَدُّ الرِّحَالُ الى مسجدٍ لِيُصَلَّى فيه الا الى ثلاثة مَساجِدَ» بحواله (فيض الباري - ٤ / ٤٤) بنا پدی باندی سفرد روضۂاطهردسرنه په استثنی کښې داخل ندے، نودغه ناجائز نشو، او که بالفرض مونږه مستثنی منه ،،شئ

من الاشیاء.. کړونو یا دا نقصان راځي چه ډیر شرعي سفرونه به حرام شي، لکه سفردجهاد، دطلب العلم، دتجارة ، د عبرت، دملاقات د احباء، د ملاقات دخپلوانو، داستاذانووغیره، مختاره مذهب هم د جمهورو دے، اما دا خبره چه دی باقی مساجدوته په نیت دثواب سامانِ سفرتړل ولی ناجائز دی؟ د هغی وجه دا ده چه د دنیا ټول جماتونه په اعتباردثواب سره برابر دی،اوس بل جمات ته په نیت دثواب سامان سفر تړل انکارد ثواب دے د خپل نیزدی جمات نه، البته په کثرت دجمع سره ثواب کښې زیادة راځي خوسفرپسې ممنوع دے۔والله علم

قوله اولاتسافرالمراة : داځلورمه مسئله ده، چه زنانه په مقداردسفرباندی یواځي سفر نشي۔ کولے، په مسئله کښې اختلاف شته،پنځه مذاهب دی،

[١] حسن بصری رَحِمَهُ اللّٰهُ قتاده رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمائي اچه بغیردمحرم یا خاوندنه زنانه د دوه ورځو په مقدار سفرنشي کولے، د دینه په کم مقدارکولےشي،

[٢] اصحاب الظواهر،امام شعبی، ابراهیم نخعی رَحِمَهُمُ اللّٰهُ فرمائي اچه زنانه مطلقا بغیر د محرم نه سفرنشي۔ کولے، که سفرلړ وی که نیزدی،

[٣] بعض ظاهریه، عطاء، سعید بن کیسان رَحِمَهُمُ اللّٰهُ فرمائي! په مقداردبرید سفر کولےشي زیات نه، برید دوه٢یا څلور٤فرسخ دے، یوفرسخ دوه میله دے،

[٤] امام مالک، شافعی، اوزاعی، لیث رَحِمَهُمُ اللّٰهُ فرمائي اچه دورځ نه په کم مقدار باندی سفرکولے شي زیات نه، البته امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ شافعی رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمائي! حج له بغیر دمحرم نه زنانه تلے شي عام ده که مقداردسفرمکی ته جوړیږی کنه، ځکه داسفر واجبه دے، اونهي دسفرغیر واجبه نه ده،

[٥] امام ابوحنیفة ، صاحبین، سفیان ثوری رَحِمَهُمُ اللّٰهُ فرمائي اچه په مقدار د سفر د دری٣ ورځو او د دینه زیات سفربلا محرم حرام، اوعلاوه د مقدار دسفر نه چه امن وی او فتنه نوی نوزنانه وتلےشي، اومقداردسفر کښې که اشد ضرورة ولی نوی خوسفر یواځي جائزندے، حتی که د حج دپاره تګ ولی نوی خو چه محرم ورسره نوی نودحج فرضیت تری ساقط دے،

ددی ټولودپاره دلائل شته، خواحناف فرمائي! چه په اکثرو روایاتوکښې تقید د ..ثلثة .. دے، اوس که په مادون دثلثة کښې سفر جائزنشي نوذکردثلثة به بے فائده اولغو شي، اوکلام درسول ﷺ دلغویاتونه منزه دے،

بيا به بعض رواياتوكښې ..يومين.. اوبعض نوروكښې ..ثلثة ايام.. ذكر دے، مقصود پدې سره مقدار دسفردے خو په ژمي كښې ورځ ډيره لنډه وى نو مقدار دسفردرى ٣١ ورځې جوړيږى، او دمتوسط موسم دوه ورځې جوړيږى،

ابواب لاذان

جند خبرى بطوراجمال او بيا تفصيل، ربط، معنى لغوى داذان، معنى اصطلاحي د اذان، مشروعية الاذان، اختلاف في كلمات الاذان،

[١] **ربط:** كتاب الصلوة شروع دے، اذان دمونځ دپاره اعلان دے ځكه ئي په ضمن دكتاب الصلوة كښې ابواب الاذان وضع كړه،

[٢] **معنى لغوى:** اذان په معنى داعلام يعنى خبروركولوسره راځي .والاذانُ: الاعلامُ. (الصحاح- ١ / ٨)

[٣] **معنى اصطلاحي:** هواعلام مخصوص بالفاظ مخصوصة في اوقات مخصوصة للصلوة الخمس والجمعة .

باب بدء الاذان

حديث١٠١٨٩ ابوحنيفة عن علقمة عن ابن بريدة ان رجلامن الانصار مربرسول الله ﷺ فراه حزينا وكان الرجل اذاطعم تجمع اليه فانطلق حزينابمارای من حزن رسول الله ﷺ فترک طعامه وماكان يجتمع اليه ودخل مسجده يصلى فبينماهوكذلک اذنعس فاتاه ات في النوم فقال هل علمت مماحزن رسول الله ﷺ قال لا قال فهولهذ التاذين فاته فمره ان يامربلالا ان يوذن فعلمه الاذان الله اكبرالله اكبرمرتين اشهدان لااله الاالله مرتين اشهدان محمدا رسول الله مرتين حى على الصلوة حى على الفلاح مرتين الله اكبرالله اكبرلااله الاالله ثم علمه الاقامة مثل ذلک وقال في اخره قدقامت الصلوة قد قامت الصلوة الله اكبرالله اكبرلااله الاالله كاذان الناس واقامتهم فقبل الانصارى فقعد على باب النبي ﷺ فمر ابوبكر فقال استاذن لى وقدراى مثل ذلک فاخبره النبي ﷺ ثم استاذن للانصارى فدخل فاخبربالذى راى فقال النبي ﷺ قداخبرنا ابوبكرمثل ذلک فامربلالا يوذن بذلک وفي رواية ان رجلامن الانصار.(الحديث الخ)

[٤] **مشروعية الاذان:** يعنى اذان كله مشروع شوے دے،حديث الباب كښې ددى بيان دے، دا خبره اتفاق ده چه مكه مكرمه كښې اذان نه وو،كله چه صحابه كرام مدينې منورى ته لاړه نودمونځ دپاره دجمع كيدو

د ترتيب سوچ ئې شروع کړو، (تردغه وخته پورې به دوی په لارو کښې دا اواز کولو .الصلوٰة الصلوٰة .) غونډه کيناسته، چا مشوره ورکړه چه دمونځ په وخت کښې به جنډه ودرو خلق به هغې لره وينې يوبل به خبروي، دا مشوره دنبي ﷺ خوښه نشوه، چاد اوربلولو مشوره ورکړه خو دا هم ردشوه ځکه داعمل د مجوسو دے، چادناقوس [چه دايو دوه ډانګې وو يو اوږد بل لنډ چه يوبل لره به ئې راغرول د هغې نه به اواز جوړيدو] مشوره ورکړه خو دا هم ردشوه ځکه داعمل دنصارى دے، چا د قرن (ښکر کښې د اواز کولو چه ديته ..بوق، شبور، قُنع،، هم وائي) مشوره ورکړه ليکن دا هم ردشوه ځکه چه داعمل ديهودودے، عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دامشوره ورکړه چه ،، الصلوٰة جامعة ،، الفاظ به وايو، خه اتفاق رانغلوخو په رائي د عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ في الحال عمل شروع شو، صحابه كرام پاسيدل،يو صحابي عبدالله بن زيد بن عبدربه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خوب وليده چه اذان ورته اوخودلےشو، دغه خوب ابوبكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وعمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او دغه شان نورصحابه کرامو هم ليدلے وو، بعض وائي چه لسوکسانو، بعض وائي څوارلسو کسانو دغه خوب ليدلےوو، ليكن ددغه يوصحابي اخلاص ډير وو لکه چه دحديث نه معلوميږی نونسبت ده ته اوشو،حديث الباب كښې هم دغه واقعه نقل ده،

قوله انعس: خوب ډرې ۳ قسمه دے ..سنه.. چه په دماغودخوب اثروی او په سترږو اوزږه اثرنه وی ..نعس.. چه په دماغواوسترږو خوب راغلے وی اوزړه بيدار وی ..نوم،، چه په ټول بدن سره دزړه اودماغوخوب راغلےوی ،

[۵] **اختلاف في كلمات الاذان: قوله! فعلمه الاذان:** پوهه شه په تعداد دکلمات الاذان کښې دعلماء کرامو اختلاف دے، ليکن دا اختلاف داولوية افضلية دے، نه دجوازعدم جواز، او دغه اختلاف په دريو ځايه کښې دے، په تربيع او عدم تربيع دتکبير کښې، امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په اثنينيت قائل دے نورائمه په تربيع، دويم اختلاف په ترجيع اوعدم ترجيع دشهادتينوکښې دے، ترجيع ديته وائي چه يوځل شهادتين په ښکته اوازيه ارام سره اووائي، دويم ځل ئې په زوره اووائي،

مواليک، شوافع په اولوية دترجيع قائل دی ،واحناف ،حنابله په عدم اولوية دترجيع قائل دی، ټول دري مذاهب دی،معلومه شوه چه د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نيزباندی کلمات الاذان ټول ۱۹ دی څلور تکبيرات، اته څله شهادتين، څلورحيعلتين، دوه ځله روسته تکبير، يوځل لااله الا الله، نو:۴+۸+۴+۲+۱=۱۹: د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نيز ۱۷ دی،تفصيل ئي دمخکښې مذهب پشان دےخوابتدا کښې دوه تکبيره وائي، داحنافو اوحنابلو رَحِمَهُمُ اللهُ په نيز کلمات الاذان ۱۵ دی ځکه دوی په تربيع د تکبيراتوقائل دی نه په ترجيع د

شهادتینو،

دلائل: د امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ دپاره دلیل په اثنینیت دتکبیرباندی روایة دترمذی دے ! عن انس بن مالك قال : امر بلال ان يشفع الاذان ويوتر الاقامة (سنن الترمذي : ۱/ ۳۶۹) په باب د ترجيع کښې دِمواليکو، او شوافعو دپاره دلیل اذان د ابومحذوره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دے، د احنافو او حنابلودپاره دلیل په دواړه مسئلو کښې حدیث الباب دے، دا روایة دبانی د اذان دے، دیکښی دغه دواړه خبری (اثنینیت. او ترجیع) نشته،

جواب: د امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ داستدلال نه جواب دا دے چه د «شفع» مقصد اثنینیت ندے بلکه ایتار پکښې نه وو، اوځلورتکبیره هم شفع ده، علاوه لادا وایو چه په اذان کښې دوه تکبیره په یوساه ویلے شي چه داپه منزله دیو دی، د ترجیع داستدلال نه یو جواب دا دے چه د ابومحذوره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روایة په خپل ځائي صحیح دےلیکن ترجیح روایة دعبدالله بن زیدبن عبدربه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ته حاصله ده ځکه دا بانی د اذان دے، دویم دغه اذان درئیس المؤذنین بلال رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ هم دے اوهم دغه قسمه اذان دنبی کریم ﷺ د دویم مؤذن عبدالله بن ام مکتوم رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ هم دے، دریمه وجه دا ده چه ترجیع د ابومحذوره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د هغه خصوصیة وو، ځکه دغه شان اذان دهغه د ایمان سبب جوړ شوے وو، واقعه ئي دا ده چه یوځل نبی کریم ﷺ دصحابه کراموسره په یوه موقع په لاره باندی وو چې دمونځ وخت شونبی ﷺ د اذان دپاره یوصحابی ته وینا اکړه، صحابی چه اذان شروع کړو نو د کفاروماشومان په هغه ځائي کښې موجود وو چې ابومحذوره پکښې هم وو، دغه ماشومانو دصحابی د اذان حکایة [پیښی] شروع کړے، نبی ﷺ دهغوئ دنیولوحکم اکړو، ټول وتختیدل صرف ابو محذوره گرفتارشو، نبی ﷺ هغه ته اوویل! چه شابه وایه تاځنګه پیښی کولےهغه شروع اکړه تکبیرئي په زوره اووی، ځکه دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ په لوئي خومشرکین هم قائل وو، چه شهادتین ئي اداکول نودائي په کمزوری اواز اوویل چه خوک ئي وانه وری، ځکه اصل خو په شهادتین کښې جګړه وه، نبی ﷺ ورته دزوره ویلوحکم اکړو، نو هغه دوباره په زوره ادا کړه، ددےسره دهغه . په زړه کښې الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ اسلام نن باسلےوو، بیاچه کله مسلمان شو اومؤذن شونو په هغه طریقه به ئي اذان ویلو، چاورته او ویل چه داسی ولی کوی ؟ هغه ورته جواب ورکروچه پدی طریقه ماته الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ ایمان نصیب کړے دےهم دغه شان اذان به وایم، معلومه شوه چه داخصوصیة د ابومحذوره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دے،

قوله!ثم علمه الاقامة : پوهه شه چه په کلمات الاقامة کښې هم اختلاف دے، د امام شافعی رَحِمَهُ اللّٰهُ او امام احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ په نیز کلمات الاقامة ۱۱ دی،دوه تکبیره، شهاتین، حیعلتین، اقامتین، بیا دوه تکبیره،

بیاتهلیل، د امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ په نیز ۱۰ کلمات دی،خکه چه عنده ..قدقامت الصلوة .. مرة واحدة دے، داحنافو په نیزکلمات الاقامة ۱۷ دی ۱۵ کلمات داذان اودوه۲ ځل.. قدقامت الصلوة ..

دلائل: دایمهٔ ثلاثه دپاره دلیل دغه مخکښی روایة د ترمذی دے ا عن انس بن مالك قال : امر بلال ان يشفع الاذان ويوتر الاقامة (سنن الترمذي: ۱/ ۳۶۹) د احنافودپاره دلیل حدیث الباب دے، چه دیکښی تصریح وشوه چه اقامة په شان د اذان دے، صرف دوه کلمی پکښی زیاتی دی،دغه اقامت درئیس المؤذنین بلال رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ هم دے، اوعبدالله بن ام مکتوم رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ هم دے، دائمه ثلاثه د استدلال نه جواب دا دے چه د،، ويوتر الاقامة ،، مقصد دا دے چه داقامة مرکب کلمات په یو ساه ویل پکار دی،یعنی اول خلورتکبيرات په يوساه بیاشهادتين دتوحيد په يو ساه، بیاشهادتين درسالت،غرض هر دوه جملی په يوساه ویل مسنون دی ،

تنبیه: مسئله دا ده چه اذان اواقامة کښی سمع لره اعتبار دے،اوس اقامت دنبي ﷺ نه په موقوف طریقه نقل دے، یعنی دغه دوه جملی په یوساه ویل خو اخردکلمی ساکن کول څنګه چه وقف کیږی، که ساه پکښی اخلی او کنه خواخربه ساکن وائی ،

قوله ! فمر ابوبكر فقال استاذن لی : دی مقام کښی روايات مختلف دی،بعض روایاتو کښی دی چه ابوبکر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ راغے، بعض کښی راځی عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ راغے، دلته حدیث الباب کښی دعبدالله بن زید رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ذکر دے، تطبیق دا دے چه دا اذان نبی ﷺ په شب معراج کښی په خپله اوریدلے وو، خو د ویلو اجازت ورته نه وو میلاوشوے، ممکنه ده الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ ترینه هیرکړے وو د دے دپاره چه لږ د خلقو کړاؤیری وشی چه اهم ئي وګنړی، بیا ددی صحابی دخوب لیدلونه شل ورځی مخکښی عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دغه خوب لیدلے وو لکه ابوداؤد کښی په صحیح روایة کښي دی ا وكان عمر بن الخطاب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قد راه قبل ذلك فكتمه عشرين يوما قال ثم اخبر النبى ﷺ فقال له « ما منعك ان تخبرنى ». فقال سبقنى عبد الله بن زيد فاستحييت (سنن ابي داو د ـ محقق ۱ / ۱۸۶) دغه شان ابوبکر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ هم دغه خوب لیدلے وو، کله چه دغه صحابی دحدیث البا ب دنبی کریم ﷺ خواته راتلو نو اول ابوبکر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ راغلے وو. هغه خپل خوب بیان کړو، بیا دغه صحابی بیان اکړو کله چه بلال رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته حکم د اذان دکولو وشو، اوعمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دغه اذان واوریدلونوخپل خوب ورته رایادشویه جلتئ سره راروان شوچه خپل څادرئي راښکودلو، نبی کریم ﷺ ته وائي ا چه ماهم دغه شان خوب لیدلے دے،نبی ﷺ دخوب تصدیق

اکروچه رشتیا خوبونه دی،پوره تفصیل علامه ابن حجر رَحِمَهُ اللهُ کړے (فتح الباري لابن حجر ۲ / ۸۱)

فوائد: (۱) **اشکال:** چه اثبات داذان په خوب باندی صحیح ندے، ځکه په خوب د غیر انبیاء کرامو سره اثبات دحکم شرعی نشی کیدے، اونه دلیل کرځی؟

جواب: مسئله هم دغه ده خودلته دخوب سره مقارنة دوحی راغلے، لکه چه ثابته شوي ده چه نبی کریم ﷺ ته دا اذان په معراج کښی خودلے شوے ووفوق سبع سموات وهو اقوی من الوحي، دغه شان اول اذان جبرئیل عَلَيْهِ السَّلَامُ کړے وو، نودغه خوب په حقیقت کښی دوحی سره موافق شوے دانه چه اذان په خوب سره ثابت دے،

(۲) **اعتراض:** چه اذان په خوب دصحابه کرامو باندی متعین کیدونو په ژبه دنبي کریم ﷺ باندی ولی نه متعین کیدولکه د نورواحکامو په شان؟

جواب: چونکه اذان کښی مدحه درسول ﷺ ده یدی شان سره چه دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ د ذکر اوشهادة سره درسول ﷺ ذکراوشهادة هم دے، نو الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ دغه مدح په ژبه دغیر دنبي ﷺ جاری کړه ځکه دا طریقه ډیره ارفع اوافخره ده دشان درسول ﷺ دپاره،لکه قران فرمائی: وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ [الشرح ٤] ځکه خپله مدحه پخپله کول ښه کار ندے،

(۳) نبي کریم ﷺ پخپله چرته اذان کړے کنه؟ په روایة دترمذی، اوبیهقی کښی دی چه په یو سفر کښي نبي کریم ﷺ اذان اکړو او بیا ئی صحابه کرامو له مونځ اکړو(عمدة القاري - ۸ / ۷۸)

(۴). حدیث الباب نه ثابته شوه چه ابتدا د اذان کښي تکبیرات څلوردی، دی سره رد اوشویه امام مالک رَحِمَهُ اللهُ باندی، دغه شان ثابته شوه چه ترجیع في الاذان هم نشته،

باب ماجاء في اجابة المؤذن

حدیث ۱۱\۱۹۰ ابوحنیفة عن عبدالله قال سمعت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ یقول کان النبی ﷺ اذااذن المؤذن قال مثل یقول المؤذن:

داذان جواب ورکول شرعی مسئله ده، دی مسئله کښی دوه۲ خبره احتلاف دے.

[۱] حکم ددی اجابة څه دے؟ اصحب الظواهر، ابن وهب مالکی،امام احمدبن حنبل رَحِمَهُ اللهُ بنا به جوزونه فرمائي چه د اذان جواب ورکول واجب دی دلیل ئي هغه حدیث دے چه هغی کښی امر دلاجبه راغلے دے،عن ابي سعید الخدری ان رسول الله ﷺ قال اذا سمعتم النداء فقولوا مثل ما یقول

المؤذن (صحيح البخاري ـ ۲ / ٤٧٧) جمهور فرمائي‌چه دغه اجابة مسنون او مستحب دے، او دغه امر دپاره د استحباب دے،

[۲] اختلاف په الفاظوداجابة کښې: پديکښې اتفاق دے چه دحيعلتين نه علاوه نورالفاظ به هغه وی کوم چه مؤذن وائی، البته حيعلتين کښې اختلاف دے، امام مالک في رواية ، احمد في رواية ، امام شافعی فرمائی چه ديکښې به هم دغه الفاظ دحيعلتين وئيلے شی حديث الباب نه دليل نيسی- چه د «مثل مايقول المؤذن» نه مرادهم دغه ده، احناف ، سفيان ثوری، احمد في الاصح، او باقی ائمه رَحِمَهُمُ اللهُ فرمائي‌چه دحيعلتين جواب په حوقله (لا حول ولاقوة الابالله) سره ورکولے‌شی ، دليل د دوی دپاره رواية د بخاری دےتعليقا! قَالَ يَحْيَى وَ حَدَّثَنِي بَعْضُ اخْوَانِنَا انَهُ قَالَ لَمَّا قَالَ حَيَّ عَلَى الصَّلَاة قَالَ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ الَّا بِاللَّهِ وَقَالَ هَكَذَا سَمِعْنَا نَبِيَّكُمْ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ (صحيح البخاري ـ ۲ / ٤٧٩) دغه شان د ..الصلوة خيرمن النوم.. جواب به په ..صدقت وبررت.. او د ..قدقامة الصلوة .. جواب په «اقامهاالله و ادامها.. سره ورکوی،

پدی دواړوطريقوکښې چه په کومه طريقه عمل وشونوصحيح ده،البته مونږه ترجيح مذهب ثانی ته ورکوو، وجه دا ده چه دحيعلتين جواب په حيعلتين سره ورکولو کښې يوه نوعه تمسخردے،ځکه مؤذن تا ته ترغيب د مسجد درکوی چه دکاميابئ ځائي دےاوته ورته وائي چه کاميابی مثلا ځماسره ده، نودا تمسخرشو،البته په حوقله سره جواب ډيرمناسب دے، ځکه مقصدبه داشی چه ستاخبره صحيح ده او داهرسره دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَى په طاقت اوتوفيق سره کيږی،

فوائد: (۱)..دجمعی داذان، او د اقامة ، جواب ورکول هم پکاردی،

(۲) د اذان اواقامة په وخت کښې مناسب ده چه سامع خبری بندی کړی، دقران تلاوت ودروی، سلام اوجواب سلام نه کوی، خوراک څڅاک نور کاروبار ترک کړی صرف جواب د اذان ته ځان فارغ کړی، نبي کريم ﷺ به چه کله اذان واوريدلو اوحمله به ئی کوله په دشمن باندی نوحمله به ئی پريخوده دپاره داجابة د مؤذن،

(۳) يوځائی کښې مختلف اذانونه ويلے کيږی نودکوم يوجواب به ورکوی؟ مسئله کښي اختلاف دے، بعض وائی دټولو جواب پکاردے، بعض وائي د اذان اول، بعض وائی دخپلی محلی د اذان، اخرالذکر قول راجح دے،

(٤) په مونځ کښي څوک مشغول وی، يا بيت الخلاء کښي وی، يا په حين د جماع کښي وی، نو اجابة

دمؤذن نشي کولے، که مونږ کښې چا اجابة اکړو نو مونږ نی فاسد شو، دغه شان په چا چه وجوب دمونږ نشته په هغې هم اجابة نشته، که چا اجابة اکړو خومسجدته حاضرنشو ده هډو اجابة ندے کړے،

باب ماجاء في فضيلة بناء المسجد

حديث۱۹۱\۱۲ ابوحنيفة قال سمعت عبدالله بن اوفي يقول سمعت رسول الله ﷺ يقول من بنى لله مسجدا ولو كفحص قطاة بنى الله له بيتا في الجنة .

دجمع دمونږ ادا کولو دپاره ځائی جمات دے، چه دمسلمانانو د اتحاد او اتفاق یوه ذریعه ده، حدیث الباب کښې د بناءالمسجد فضیلت ذکر دے په بلیغ اندازسره، حدیث الباب کښې دری خبری قابل غوردی ،

[۱] **مقام الحديث:** دا حدیث دویم حدیث دوحدانیاتود امام صاحب نه دے، چه د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ او د نبي کریم ﷺ په مینځ کښې یوه واسطه د صحابی عبدالله بن اوفي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ده، چه داعالی سند دے،

[۲] دا چه حدیث کښې الفاظ دادی چه ,,من بنى لله مسجدا,,دیکښې اخلاص طرف ته اشاره ده، داثواب په هغه صورة کښې دے چه دغه جمات دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ درضاء دپاره جوړشوے وی د ریا نوم ناموس، یاد تعصب په بنا باندی نوی جوړشوے، لکه مسجدضرارچه دعبادة نه علاوه د بل غرض دپاره جوړشوےوو، ځکه د داسی جمات په جوړولوکښې بیا ثواب مذکور نشته دے، البته مسجدضرارهغه یومسجدوو چې نبي کریم ﷺ رغړولے وو، دهغی نه علاوه بل مسجد ته مسجدضراروئیل صحیح ندی که په هرنیت جوړ شوے وی، البته مشابه دمسجد ضرار ورته ویلےشی ،

[۳] خبره قابل غوردا ده چه دی حدیث کښې تشبیه د ,,فحص قطاة ,, (د خراړی د ژالې) سره په څه کښې ده؟ ددی مختلف توجیهات شوی دی ،

(۱).. بعض محدثین فرمائي!چه داتشبیه په تعاون کښې ده، چه دجمات په جوړولو کښې دچا طاقت دمال نشته البته دومره وسع ني ده چه د خراړی دژالے هومره ځائي پری جوړیدلےشی نوهم دغه ثواب به ورته میلاویږی، دانه چه دے به خامخا د مالدارو اوصاحب وسعت غونډی خرچه کوی یا به مکمل جمات ابادوی نوهله به دغه ثواب وی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ داسی نده،

(۲) بعض وائي! دغه تشبیه په اطلاق دبیت کښې ده، مقصد دا چه که وړوکے جمات دے او که غټ دے، خوچه دبیت اطلاق پری کیږی نودغه ثواب به ورته میلاویږی ،

(۳) بعض وائي! داتشبیه پدیکښې ده چه دغه جمات په طوردجمات وی، دجمات نښه به پکښې وی

مثلاً محراب بکښې وی خنکه چه ددغه مرغی کور محراب نه شکل کښې وی.

(۴) بعض واني داتشبیه په دیکښې ده چه دغه جمات نه به رمکه جوړوی خنکه چه ددغې مرغی زنه به زمکه جوړه وی، ځکه شرعی جمات هغه دے چه به رمکه جوړوی داسې نه چه لاندې نورحصه وی وبرا جت جمات وی ځکه چه دجمات حدود دتحت الثری نه واخله تراسمانه پورې دے.والله اعلم.

حالات راوی عبدالله بن اوفي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نوم نسب دده دے،عبدالله بن ابی اوفي علقمة بن خالد ابن الحارث الاسلمي، کنیه ئی ده ابو معاویة ، په شپږ غزواتو کښې دنبی کریم ﷺ سره شریک شوے، په حدیبیه کښې په مت لګیدلے وو، دا هغه صحابي دے چه دنبی کریم ﷺ نه روسته ډیر وخت ژوندے وو، د امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ ملاقات ورسره په کوفه کښې شوے دے، په ۸۶ یا ۸۷ یا ۸۸ کښې په کوفه کښې وفات شوے دے « هذا اخرمن مات بالکوفة » دی کتاب کښې دده نه صرف دابو روایة نقل دے.

[ملاحظــــه] د امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ دسماع الحدیث عن الصحابة تفصیل په مقدمه د امام سنبلی رَحِمَهُ اللَّهُ کښې ذکر دے.

باب النهی عن انشاد الضالة في المسجد

حدیث۱۲۹۲ ابوحنیفة عن علقمة عن ابن بریدة عن ابیه ان النبي ﷺ سمع رجلاینشد جملافي المسجدفقال لاوجدت وفي روایة سمع رجلاینشد بعیرا فقال لاوجدت ان هذه البیوت بنیت لمابنیت له وفي روایة ان رجلا اطلع راسه في المسجد فقال من دعاالی الجمل الاحمرفقال له ماوجدت انما بنیت هذه المساجدلمابنیت له

پوښتنه: که یوشی په جمات کښې ددنه ورک شي یا بهرد مسجد نه خو په جمات کښې ددغه شي اعلان کول ناروا دی،حدیث الباب ددغه باره کښې دے، باحدیث کښې ذکر د بعیر دے خو حکم عام دے هرورک شوے شي چه وی که ورکے دےاو که لوی.

مسئلة الاعلانات في المساجد: بعض روایاتوکښې مساجدوکښې اعلان ثبت دے لکه نبی کریم ﷺ دیوحاجت مند غریب سړی دپاره اعلان کړے دے، اودلته منع راغله. اوس دا معلومول غواړی چه کوم قسم اعلان جائز او کوم ناجائزدے؟ تفصیل دا دے چه جمات کښې شرعی اعلان بالاتفاق جائز دے. مثلااذان،اعلان برائی تعلیم، اعلان سحری وافطاری، اعلان چنده برائی مدرسه ومسجد. اعلان دبی حاجتمنددپاره، البته دخان دپاره نشی کولے که خومره هم حاجت مندولی نه ئی. غیرشرعی اعلان چه د

هغې تعلق ددینې خبرې سره نه وي مثلادورک شوې څیزاعلان که انسان وي (لوي وي یا ماشوم لیونے وي که روغ وي) که حیوان وي کـه عام مـال وي (سـره سـپین روپۍ اشرفۍ) او کـه دکارکسـب اله وي، ځکه مسجد ددےخبرودپاره ندے جوړ شـوے حـدیث پـه علـة تصریـح کـړی ده چـه..انما بنیت هذه المساجدلمابنیت له.. بیا دغه شئ که عین په جمات کښې ورک شوے دے بیاهم اعلان ناجائز دے البتـه هسې د خبر په ذریعه چه یوکس دوه خبرکښې په جمات کښې بغیردشورنه او بغیر داعلان درسـې طـریقې نه نوجائزده،

البته اعلان دحنازې په جمات کښې څنګه دے؟ نودعلماء احتلاف دےبعص وائي جائز دے، ځکـه دغـه هم یودینې عمل دے خو بغیر د لاوډ سپیکر نه، محققین علماء فرمائي چه دا هم ناجائزدے، وجه دا ده چـه اول خو دجنازے دپاره اعلان شته نه، لکه حدیث کښې راځـي' عن عبد الله : عن النبيﷺ قـال ایاکم والنعي فان النعي من عمل الجاهلية قال عبد الله والنعي اذان بالميت (سنن الترمذي ۳ / ۳۱۲) صـحابه کرامو به کوشش کونوچه څوک زمونږد مرګ خبر ورنکړی لکـه دترمـذی روایـة دے' عن حذيفة بن اليمان قـال : اذا مت فلا تؤذنوا بي اني اخاف ان یکون نعیا فـاني سمعت رسـول اللهﷺ ینهی عن النعي (سنن الترمذي - ۳/ ۳۱۳) بلکه دجنازې خبر ورکول دي، بیا په اعلان او خبرکښې فرق دا دے چـه د اعلان دپاره پوره اهتمام وي، چه یو کس ورلره مقررشي چه ته به دا کار اکړې، او پـه اوچـت اوازبـه وي د شور سره، او خبر کښې دا اهتمام نه وي خوچه چا دچاسره په څـه ذریعـه خـبره اکـړه، مثلاپـه خبرواتـرو کښې ئې خبر ورکړو بغیر دشورنه، یادتیلفون موبائل پـه ذریعـه بـان دي، وغـیره، بهرحـال دجنـازې دپـاره اعلان نشته، بیا چه دجمات په لاوډسپیکر شي نو قباحت ئې نورهم زیات شو، ځکه اصل علة په منع ددغه اعلاناتو کښې شورشغب دے په جمات کښې، او د لاوډسپیکر سره خو شور لازم دے، دویـم دا چـه دغـه سپیکردجمات وقف شئ دے، او وقف شئ په خپل استعمال کښې راوستل حرام دي،بل دحـدیث البـاب نـه معلومه شوه چه جمات ددے دپاره نـدےجوړ، ددے مسائلو نه دا هم معلومه شوه چه پـه جمـات کښـې ذاتي سوال کول هم حرام دي،دحدیث الباب نه دا هم معلومه شوه چه چادورک شوې څیزاعلان په جمات کښـې اکړونومسون عمل دا دے چه .لاوجدت.. (الله دې نې درمونـدے نکړې) به وائي

قوله! من دعا الى الجمل الاحمر: معنی دا چه څوک دے چه اوازاکړی په طـرف دسـور اوښ، مقصـد دا چه څوک به مانه اووائي چه هغه دےستاهغه جمل احمر.

باب ماجاء في رفع اليدين الى شحمتي الاذنين

حديث ١٤٩٢ ابوحنيفة عن عاصم عن ابيه عن وائل بن حجران النبي ﷺ كان يرفع يديه حتى يحاذي بهما شحمة اذنيه وفي رواية عن وائل انه راى النبي ﷺ برفع يديه في الصلوة حتى يحاذي شحمة اذنيه.

ربط: دلته نه بيان دصفة الصلوة شروع شو، اول سردمونځ كښې رفع اليدين ده، رفع اليدين في افتتاح الصلوة اتفاق ده، البته په درې ځايونو كښې پكښې اختلاف دے، په حكم د دې كښې، په حدد رفع كښې (چه دارفع به ترکوم ځاى پورې وى)؟ او په وخت د اوچتولوكښې ،

[١] **حكم رفع اليدين في افتتاح الصلوة**: په نيزداهل ظواهرو واجب دى،په ترک ددے سره مونځ فاسد دے او واجب الاعاده دے،

عندالجمهوررفع ديدينوفي الافتتاح مسنون عمل دے، كه صرف په تكبير سره چا افتتاح اكره من غير رفع الايدى نو مونځ ئې كيږى،

[٢] **حد رفع اليدين**: امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ في رواية وائى ' چه دا به ترمنكبين پورې وى، او په نادر الرواية كښې ترصدره (سينه) پورې دهغه نه نقل دے، د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نيز تر نرمو د غوږنو (شحمتي الاذنين) پورې رفع ده، د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نيز ترا على الاذنين پورې رفع ده، د امام احمد رَحِمَهُ اللهُ نه مختلف روايات نقل دى،

دلائل: د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ دليل حديث الباب دے چه .. يحاذي بهما شحمة اذنيه .. تصريح ده، بيا د حديث نه معلومه شوه چه محاذات ترنرمودغوږونو سنت دے، جنكول دلاسونو ضرورى ن دى،البته كه يوكس دتيقن د محاذات دپاره ګوتى د نرمو سره ولګوى نوخه باک نشته، البته دا به مستقل سنت نه ګنړى، دنوروائمه كرامو دپاره دلائل هغه روايات دى چه هغى كښى الفاظ د ..منكبين،، يـاد،،مدا،، راغلى دى،لكه ابوداؤد شريف كښى رواية دوائل بن حجر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نقل دے! انه ابصر النبى ﷺ حين قام الى الصلاة رفع يديه حتى كانتا بحيال منكبيه وحاذى بابهاميه اذنيه ثم كبر. (سنن ابي داود محقق -١ / ٢٦٤) او معانى الاثار كښي د ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په روايـة نقـل دى! كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذا قَامَ الَى الصَّلَاة رَفَعَ يَدَيْهِ مَدًّا " (شرح معاني الاثار -١ / ١٩٥)

جواب دغه روايات په خپل ځائي صحيح دى،كه په هره طريقه اختيار شي نو عمل بالسنة دے، البته مونږ

ترجیح مذهب حنفي لره ورکوو پدی وجه چه په دی عمل وشی نوجمع بین الروایات راځی، اودری ۳۱ واړه روایات په یووخت کښې معمول بهار کرځي، پدی شان چه حقیقتا دید اطلاق دمړوندنه تر کو نودسرونوپوری کیږی، اوس چه غټه کوته دنرمو سره برابرشی نومړوند به دمنکبین سره برابر شی، او دکوتوسرونه دبره طرف دغوږنوسره برابرشی په دری ۳۱واړه روایاتوعمل اوشو،

حالات راوی وائل بن حجر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نوم نسب: وائل بن حجر بن سعد بن مسروق بن وائل بن ضمعج بن وائل بن ربیعة بن وائل بن النعمان بن زید بن مالك بن زید الحضرمي. جلیل القدر صحابي دے، دیمن دبادشاهانو د اولادنه دے، نبي ﷺ ته چه راتلو نو نبي کریم ﷺ صحابه کرامونه اطلاع ورکړه چه دلری زمکی نه یوسړے را روان دے، رغبت کونکے الله او رسول دهغه ته، نبي کریم ﷺ ورته خپل څادر خور کړو اوبخیرراغلےئي ورته اوویل،اوځان سره ئی ممبر ته اوخیژوو، او دعاء ئي ورلره اوکړه، په حضرموت ئي وابس عامل(ګورنر) جوړ کړو، په زمانه دمعاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کښې په کوفه کښې وفات شوے دے (معرفة الصحابة لابي نعیم ٥ / ٢٧١١) دی مسندکښې ترینه څلور٤١ روایات نقل دی ،

[۲] وقت رفع الیدین؟ دویم حدیث کښې دغه مسئله ذکر کوي ،

حدیث ۱۵\۹٤ ابوحنیفة عن عاصم عن عبدالجبارعن وائل بن حجرعن ابیه قال رایت رسول الله ﷺ یرفع عند التکبیر ویسلم عن یمینه ویساره.

مسئله کښې اختلاف دے، دری ۳۱ مذاهب دی ،

(۱) امام مالک، ابویوسف او احمدبن حنبل رَحِمَهُمُ اللهُ فرمائي چه لاسونه به مع التکبیر اوچتوی، دویم حدیث درجمة الباب د دی مذهب واله دلیل دے، په روایة دوائل بن حجرکښې ,,مع التکبیر,, لفظ دے! عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ قال : صَلَّيْتُ خلف رَسُولِ اللَّهِ ﷺ فَلَمَّا كَبَّرَ رفَعَ يَدَيْهِ مَعَ التَّكْبِيرِ (السنن الکبری للبیهقي ۲ / ۲٦)

(۲) امام شافعی رحمه الله فرمائی ! رفع دیدینوبه بعدالتکبیروی، د امام شافعی رَحِمَهُ اللهُ دلیل روایة دبیهقی دے! عن ابی قلابة : انَّهُ رای مَالِكَ بنَ الْحُوَيْرِثِ اذا صَلَّى كَبَّرَ . ثُمَّ رَفَعَ يَدَيهِ (السنن الکبری للبیهقي - ۲ / ۲۷)

(۳) امام ابوحنیفة رَحِمَهُ اللهُ اوامام محمد رَحِمَهُ اللهُ فرمائي چه. لاسونه به قبل التکبیر اوچتوی، د طرفینو دپاره دلیل روایة دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دے! عَنْ سَالِمٍ انَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ اذا قام الى

الصلاة رفع يديه حتى تكونا حذو منكبيه ثم كبر وساق الحديث (السنن الكبرى للبيهقي ۲ ۲٦)
پدی ذری ۳۱ طریقوکښی چه په کومه عمل اوشی نوجائزده، ځکه په هر یو باندی دلیل شته، لیکن ترجیح مذهب دطرفینوته ده، وجه دا ده چه اصل حکمة په رفع د یدینو کښی دهرڅیزنه د دستبردارئ اعلان کول دی،او هغه پدغه طریقه سره کامل حاصلیږی ځکه رفع دیدینو په مرتبه دنفی او تکبیر به منزله د اثبات دے، اونفی مقدم ده په اثبات باندی لکه «لااله الاالله» کښی چه نفی مقدم ده، دغه شان رفع دیدینو مرتبه دتخلی ده او تکبیر مرتبه دتحلی ده او تخلی مقدم ده په تحلی باندی .والله اعلم

قوله! ویسلم عن یمینه ویساره: ددی تفصیل روسته راځی په خپل مقام باندی،

باب ماجاء في ان رفع اليدين في الافتتاح فقط

حديث١٦\٩٥ ابوحنيفة عن حمادعن ابراهيم انه قال في وائل بن حجراعرابی لم یصل مع النبي ﷺ صلوة قبلهاقط اهو اعلم من عبدالله واصحابه حفظ ولم تحفظوا یعنی رفع الیدین وفي روایة عن ابراهیم (الحديث الخ)

مسئله رفع اليدين په معرکة الآراء مسائلوکښی ده، دائمه کرامو خلاف پکښی دمحکسی نه را روان دے، خو دا خبره دیاد قابله ده چه دا اختلاف دراجح مرجوح دے، نه دجوازاوعدم جواز، ځکه دنبی کریم ﷺ نه دواړه طریقی نقل دی،البته احناف عدم درفع اليدين لره ترجیح ورکوی او باقی ائمه رفع اليدين ته ترجیح ورکوی، کومه غیرمقلدینو چه دوجوب رویه اختیار کړی ده دا دهغوی دجهل ښکاره علامه ده،

تحریر المحل: څه ځایو نه داسی دی چه اتفاقا په هغی کښی رفع د یدینو مسنون ده، چه یو په هغی کښی عندافتتاح الصلوة دے (خلافا للزيدية ولايعتد بهم) اوڅه مواضع داسی دی چه اتفاقا په هغی کښی عدم درفع مسنون دے، چه بین السجدتين اوفي كل خفض ورفع دے، اختلاف في مواضع درفع اليدين عندالرکوع، وعندالرفع منه، وعند القيام الى ثالث دی،چه دوه مذهبه دی پکښی،

[۱] دشوافع اوحنابلہ په نیزیه دغه مواضعوکښی رفع اليدين اولی ده، بیا امام شافعی رَحِمَهُ اللهُ صرف عندالرکوع والرفع منه کښی قائل دے، او د امام احمدبن حنبل رَحِمَهُ اللهُ په نیزورسره عند القيام الى ثالث کښی هم رفع شته، په صحابه کرامو کښی دامذهب د عبدالله بن عمر، وائل بن حجر،او ددی سره تقریبا دلسوصحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ دے،

[۲] مذهب د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ او په قول صحیح کښی د امام مالک، ابراهیم نخعی، سفیان ثوری، او ابن

ابی لیلی رَحِمَهُمُ اللهُ مذهب دا دے چه علاوه دافتتاح الصلوة نه به نورو مواضعو کښی رفع الیدین نشته، صحابه کراموکښي دا مذهب دخلفء راشدین، عبد الله بن مسعود، براء، سمرة، اواخرا دعبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ دے. او علامه عینی رَحِمَهُ اللهُ فرمائی روی عن ابن عباس انه قال العشرة الذين شهد لهم رسول الله بالجنة ما كانوا يرفعون ايديهم الا في افتتاح الصلاة (عمدة القاري ۹۰ / ٥)

دلائل: دمذهب اول دپاره دوه دلیله دی، یوروایة دوائل بن حجر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دے؛ عن وائل بن حجر. قال: " رايتُ رسُول الله صَلَّى اللّهُ عليهِ وَسلَّمَ حِينَ يُكَبِّرُ للصَلاة. وحِينَ يَرْفعُ رَاسهُ مِن الرُّكُوعِ يرفعُ يديه حيال اذنيه " (شرح معاني الاثار ۱ / ۲۲۳) دويم روایة دعبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دے، چه فرمائي؛ عن الزهري اخبرني سالم بن عبد الله عن عبد الله بن عمر رضي الله عنهما قال: رايت رسول الله ﷺ اذا قام في الصلاة رفع يديه حتى تكونا حذو منكبيه وكان يفعل ذلك حين يكبر للركوع ويفعل ذلك اذا رفع راسه من الركوع ويقول (سمع الله لمن حمده) . ولا يفعل ذلك في السجود (صحيح البخاري ــ ۱ / ۲۵۸)

د دويم مذهب واله دپاره يودليل روایة دعبدالله بن مسعو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دے؛ كان لايرفع يديه الاعند افتتاح الصلوة ولايعود لشئ من ذلک: چه روسته ئې تفصيل راځي. ددينه علاوه دبراء بن عازب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایة هم د احنافو مستدل دے؛ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: " كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذَا كَبَّرَ لِافْتِتَاحِ الصَّلَاة. رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى يَكُونَ ابْهَامَاهُ قَرِيبًا مِنْ شَحْمَتَيْ اذُنَيْهِ. ثُمَّ لَا يَعُودُ " (شرح معاني الاثار - ۱ / ۲۲٤) په درى طريقوسره ئې دا روایة نقل كړے دے،

جوابات: د احنافو د طرف نه جوابات په كتاب كښي ذكر دى، داول روایة نه (چه دوائل بن حجر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایة دے) جواب په قول دابراهيم نخعي رَحِمَهُ اللهُ سره دے، چه حاصل ئې دا دے چه دوائل بن حجر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اختلاط دنبي ﷺ سره ډير زيات ندے شوے، نو هغه ته احكام او مسائل دومره ندى معلوم لكه چه عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دنبي كريم ﷺ سره څومره ډيرپاتې شوے دے، ځكه وائل بن حجر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په ۹ هـ كښي مسلمان شوے دے، او عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په اول كال دنبوة ايمان راوړے دے، او بيا ۲۲ كاله دنبي كريم ﷺ سره پاتې شوے، په حضراو سفر كښي دنبي كريم ﷺ خادم خاص پاتې شوے، صاحب الوسادة والنعلين والحصيرو، ظاهره ده چه ده به په نبي ﷺ پسې ډير مونځونه كړي وى په نسبت دوائل بن حجر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. اوس عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به دنبي كريم ﷺ مونځ ښه ياد كړے وى، هغه به ډيرځه ليدلى وى، اوس چه عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رفع اليدين نه كوى

معلوميږی چه دا به منسوخ شوی وی کنه، بیاچه ابراهیم رَحِمَهُ اللّٰهُ د ,,اعـرابی ,, تکـےوائي نـودا د صحابی تنقیص اوسپکاوےنه کوی بلکه د علی رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دخبری ترجمانی کوی چه هغه دوائل بن حجر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په باره کښی دا الفاظ استعمال کړی دی .

ددویم۲ دلیل نه جواب یو په اعتباردمتن سره دے، دویم په اعتبار دسند سره، هرچه جواب باعتبار المتن دےنو هغه دا چه! دغه رِوایة باعتبارالمتن مضطرب دے، دعبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه دا روایة په شپږو۶ طریقوسره نقل دے، چه تفصیل ئي دا دے،

(۱) یوسندسره نقل دی ! عن سالم بن عبد الله عن ابیه ان رسول الله ﷺ كان يرفع يديه حنو منكبيه اذا افتتح التكبير للصلاة (المدونة الكبرى - ۱ / ۱٦٦) ددینه معلومه شوه چه صرف په ابتدا کښی رفع ده بیا نسته،

(۲) دموطا امام مالک در وایة نه دوه ځایه رفع ثابت ده فرماني احدثني يحيى عن مالك عن بن شهاب عن سالم بن عبد الله عن عبد الله بن عمر :ان رسول الله ﷺ كان اذا افتتح الصلاة رفع يديه حنو منكبيه واذا رفع راسه من الركوع رفعهما كذلك ايضا وقال سمع الله لمن حمده ربنا ولك الحمد وكان لا يفعل ذلك في السجود (موطا مالك - ۲ / ۱۰۲)

(۳) صحاح سته کښی دری۳ ځایه رفع ثابت ده احدثنا محمد بن مقاتل قال اخبرنا عبد الله قال اخبرنا يونس عن الزهري اخبرني سالم بن عبد الله عن عبد الله بن عمر رضي الله عنهما قال: رايت رسول الله ﷺ اذا قام في الصلاة رفع يديه حتى تكونا حذو منكبيه وكان يفعل ذلك حين يكبر للركوع ويفعل ذلك اذا رفع راسه من الركوع ويقول (سمع الله لمن حمده) . ولا يفعل ذلك في السجود (صحاح ستة ولفظه للبخاری : ۱ / ۲۵۸)

(٤)..دبخاری شریف په روایة څلورځائی رفع ثابت ده په روایة دنافع! عن نافع : ان ابن عمر كان اذا دخل في الصلاة كبر ورفع يديه واذا ركع رفع يديه واذا قال (سمع الله لمن حمده) . رفع يديه واذا قام من الركعتين رفع يديه ورفع ذلك ابن عمر الى نبي الله ﷺ (صحيح البخاري ـ ۱ / ۲۵۸)

(۵) په روايت د نافع عن ابن عمر رضي الله عنه کښې دغه مواضع اربعه او عند السجدة رفع نقل دے، عن نافع عن ابن عمر عن النبي صلى الله عليه وسلم انه كان يرفع يديه اذا ركع . واذا سجد (جزء رفع اليدين في الصلوٰة ١ ٦٦)

(٦) په بل روايت کښې ترينه عند كل خفض ورفع نقل دے (مشكل الاثار للطحاوي)

ندو مره اضطراب سره نه څنګه دغه روايت نه رفع اليدين کښې قائل د استدلال شي؟ البته احنافو سره ددے يوه توجيه شته چه دا ټول روايات په خپل ځاى صحيح دى، خو دمونځ ختم دنقل او حرکه نه په طرف دسکون او قرارى تلے دے، ابتدا کښې رفع ديدينو في كل خفض ورفع وه، بيا روسته تدريجاً نسخ راتله حتى چه صرف په افتتاح دمونځ کښې باقى شو او باقى منسوخ شو او داځکه چه اصل لم او علت او حکمت نه رفع ديدينو کښې داوو، چه د دنيانه د بانيکانو اظهار وشي، او شانه واچولى شي او الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ ته توجه اکبر شي، په ابتدا د اسلام کښې صحابه كرام چونکه قريب العهد وو، هغو ته به د دنيا او دګى وهى سوچ بار بار راتلو، نو رفع ديدينو به هم بار بار کيده، چه کله د دنياسره محبت ختم شوا و توجه صرف الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ طرف ته شوه نو رفع ديدينو چه دکوم مقصد دپاره کيده هغه صرف په اول کښې باقى شو نو افتتاح دصلوٰة کښې رفع ديدينو برقرار پاتې شوه او نوره منسوخ شوه، لکه چه په ابتدا کښې په مونځ کښې خبرى کول سلام کول نور حرکات کول جائز وو، خو چه ﴿حَٰفِظُوا عَلَى ٱلصَّلَوَٰتِ وَٱلصَّلَوٰةِ ٱلْوُسْطَىٰ وَقُومُوا لِلَّهِ قَٰنِتِينَ﴾ (سُوْرَةُ الْبَقَرَة) نازل شو نو دغه ټول کارونه منسوخ شو، دا توجيه غوره ده ځکه په بعض مواضعو کښې خصم هم قائل دنسخ دے،

هر چه جواب باعتبار السند دے نو دے بل رواية کښې دهغى تفصيل دے،

حديث١٧\٩٦ سفيان بن عيينة قال اجتمع ابوحنيفة والاوزاعى في دارالحناطين بمكة فقال الاوزاعى لابى حنيفة مابالكم لاترفعون ايديكم في الصلوة عندالركوع وعندالرفع منه فقال ابوحنيفة لاجل انه لم يصح عن رسول الله ﷺ فيه شئ قال كيف لايصح وقد حدثنى الزهرى عن سالم عن ابيه عن رسول الله ﷺ انه كان يرفع يديه اذا افتتح الصلوة وعندالركوع وعند الرفع منه فقال له ابوحنيفة وحدثنا حماد عن ابراهيم عن علقمة والاسود عن ابن مسعود ان رسول الله ﷺ كان لايرفع يديه الا عند افتتاح الصلوة ولايعود لشئ من ذلك فقال الاوزاعى

اسندتک عن الزهری عن سالم عن ابیه ونقول حدثنی حماد عن ابراهیم فقال له ابوحنیفة کان حماد افقه من الزهری وکان ابراهیم افقه من سالم وعلقمة لیس بدون ابن عمر في الفقه وان کانت لابن عمر صحبة وله فضل صحبة فالاسودله فضل کثیر وعبد الله هوعبد الله فسکت الاوزاعی.

هغه د چه روایة د ابن عمر ﷺ سندا اګرچه دمحدثینو په نیز سلسلة الذهب دے، خو بیا هم د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه د روایة د سند سره مقابله نشی کولے، په دی مذکور بحث کښی امام صاحب رحمه الله د امام اوزاعی رحمه الله سره د سند په اعتبار سره په روایة دابن عمر رضي الله عنه کلام کړے دے، په دی مناظره کښی اوزاعی رحمه الله علو د سند په فقت د رسنحو ثابت کړه، او امام صاحب رحمه الله په فقاهة سره ترجیح ورته د سند ثابت کړے دے، او د حدیثو په حرح د محدثینو سره ثابت ده چه علو په فقاهة ده نه په فقت د رسنحو. حکه خو امام د اوزاعی رحمه الله خاموشی ختیار کړی ده او خبره ني منلی ده.

قوله ! وعلقمة لیس بدون ابن عمر في الفقه خبره هم دغه ده چه یوه مرتبه د صحابیت ده چه هغی کښی دغو دصحابی دخپلو ورونه هم نشی رسیدلے. اسره په تفقه او علمیت کښی تابعی دصحابی مساوی کیدے او حصه هم شی. اودے منلے شوی هم ده. لکه شریح رحمه الله تابعی دے خو دعمر رضي الله عنه په دور خلافت کښی د قاضی منصب شوی وو، سره ددینه چه دغه وخت کښی دیر صحابه موجود وو. لکه دغه د علی رضي الله عنه د دوره شوری قاضی وو، حتی چه دامیرالمؤمنین علی رضي الله عنه او د یو یهودی په مینځ کښی چه کوم قضیه وه هغی نه راغلے وو دغی فیصله هم ده کړی وه. اوعجیبه دا چه د علی رضي الله عنه په خلاف او دیهودی په حق کښی فیصله کړی وه. رحضرت جندی هم رد نه کړے خکه چه قضیه وه. نو امام صاحب رحمه الله د خبره چه وعلقمة لیس بدون ابن عمر في الفقه صحیح ده. علامه ابن حجر رحمه الله لیکلی دی صحابه کرامو د علقمه رحمه الله نه فتوی طلب کولے سره ددینه چه ابن عمر رضي الله عنه ژوندے وو. قال في ابوس بن ابي ظبیان عن ابیه ادرکت ناسا من اصحاب النبي ﷺ یسالون علقمة ویستفتونه (تهذیب التهذیب ۷ ...)

دغه سی دابن مسعود رضي الله عنه دغه دوه شاګرد اسود رحمه الله هم دوی فضیلت خاوند دے. اوعبدالله بن مسعود خو عبدالله دے چه ښی اکرم ﷺ فرمائلی ما حدثکم ابن مسعود فصدقوه (الحدیث)

اوفرمائي رضيت لامتی مارضی له ابن ام عبد (الحديث) او دا هم ده، باره کښې دی چه کنيف ملئ علما.مناقب ئې بخيل ځائي راروان دي،

باب ماجاء في افتتاح الصلوة

حديث ۱۸\۱۹۷ ابوحنيفة عن طريف ابی سفيان عن ابی نضرة عن ابی سعيد الخدری ان رسول الله ﷺ قال الوضوء مفتاح الصلوة والتكبيرتحريمها والتسليم تحليلها وفي كل ركعتين فسلم ولاتجزی صلواة الا بفاتحة الكتاب ومعها غيرها وفي رواية اخرى عن المقرى عن ابی حنيفة مثله وزادفي اخره قلت لابی حنيفة مايعنی بقوله في كل ركعتين فسلم فقال يعنی التشهد قال المقری صدق وفي رواية نحوه وزاد في اخره ولايجزی صلوة الابفاتحة الكتاب ومعها شی.

حديث الباب کښې پنځه مسائل بيانيږی بنيادی مسئله دترجمة الباب ده، حديث اصل ددغه دپاره راوړے شوے، تفصيل ددے مسائلودا دے،

قوله!الوضوءمفتاح الصلوة : اوله مسئله دا چه اودس دمونځ چابی ده، تشبيه د .,صلوة ,, ئې د مكان مقفل سره ورکړه، چه بغيردچابئ نه دغه ته ننوتل ممکن نه وی، دغه شان بغيرداودس نه مونځ ته دحول ممکن ندے، ځکه بې اودسه مونځ کيږی نه، دامسئله خواتفاقی ده،

مسئلة فاقدالطهورين: په ضمن کښې مسئله دفاقد الطهورين دذکرقابل ده، يعنی چه يوکس نه اوبه مومی چه اودس پری اکړی اونه ورته تيمم کول ميسر وی نوځه به کوی ؟ دامسئله په ظاهرکښې نادره ښکاری خو وجود ددے شته اونن صباخوډيرزيات کيدے شی، مثلا يو سړے په درياب کښې سفرکوی دوسپنې اولرګی نه جوړشوی جهاز کښې. اودنه اوبه نوی اوتيمه هم نشی کولےځکه چه خاوره نشته، يا په جيل کښې يو کس داسې بند کړے شی چه نه اوبه شته اونه تيمم کولےشی (په زمانه حال کښې داسې واقعات ډير راغلی دی دمسلمانانو جيليانو سره) نو دمونځ به څه کوی چه وخت د مونځ شی ؟ دی باره کښې پنځه۵ مذاهب دی :

[۱] اما صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ فرمائي چه في الحال به مونځ نه کوی وجوبا اوچه قادر شی نو قضا به راوړی وجوبا، حاصل ددےمذهب دادے چه,,لايصلی بل يقضی وجوبا,, د امام صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ دپاره يودليل دامذکوره

تکړه دحدیث دہ چه.. الوضوء مفتاح الصلوة .. دویم دلیل روایة دترمذی شریف دے! عن ابن عمر: عن النبي ﷺ قال لا تقبل صلاة بغير طهور و لا صدقة من غلول (سنن الترمذي - ١ ، ٥)

[٢] امام مالک رَحِمَهُ ٱللَّهُ فرماني! في الحال به مونځ نه اداکوی اویس دقدرة نه چه وخت وتلے وی قضا پری هم نشته، حاصل ددےمذهب داسوچه .. لايصلى ولا يقضى .. دليل مونځ به خکه نه کوی چه طهارة نشته، قضابه خکه نه وی چه تکليف بمالايطاق نشته.

[٣] امام شافعی رَحِمَهُ ٱللَّهُ نه خلور٤اقوال نقل دی،یوقول د امـم صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ پشان چه ..لا یصلی بل يقضى.. دويم٢ قول دا دے چه في الحال به استحبابا مونځ اکړی چه متهم نشی اوروسته به قضا راوړی، دریم٣ قول دا دےچه في الحال به وجوبا مونځ اداء کړی اوقضاء پری نشته روسته یعنی .. يصلى وجوباولايقضى .. خلورم٤ قول اداء به کوی وجوبا اویس دقدرة نه چهورته وخت میلاو شی نوقضا به راوړی وجوبا،

[٤] امام احمدبن حنبل رَحِمَهُ ٱللَّهُ فرمانی چه ..يصلى وجوبا ولايقضى . . کوم چه دریم قول د امام شافعی رَحِمَهُ ٱللَّهُ وو،

[٥] امام محمد رَحِمَهُ ٱللَّهُ اوامام ابویوسف رَحِمَهُ ٱللَّهُ فرماني (او دا قول د امام صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ دے) چه! في الحال به تشبيه بالمصلين اکړی او روسته به قضا راوړی وجوبا، دلیل دصاحبین دیاره دنبي کريمﷺ دا حدیث دے ..فاذا امرتكم بشيء فاتوا منهٔ ما استطعتم واذا نهيتكُم عن شيء فدعوهُ ». (صحيح مسلم ـ مشكوة ٤ ١٠٢)

ترجيح: دصاحبین قول لره علماء ترجیح ورکړی ده خکه چه دا قرین قیاس دے، د دے نظائر په شریعة کښی موجود دی،هغه دا چه مثلا یوسړے کافروو او په مینځ د رمضان کښی دصبا ستلونه روسته دورخی په څه حصه کښی مسلمان شو، یا حائضه د رمضان د ورځی په څه حصه کښی پاکه شوه، یانابالغ روږه نه وه نیولی او د ورخی بلوغ ته ورسیدلو دا دری واړه کسان به باقی ورځ وجوبا خوراک څکاک نه کوی ..تشبها بالصائمين » او روسته به وجوبا قضا ددغه ورځ د روژی راوړی، دغه شان یو کس په حج کښی قبل الوقوف جماع اکړه نو حج ئي فاسد دےخو وجوبا به بقايه اعمال دحج کوی تشبيه بالحجاج به کوی، هم دغه شان مسئله د فاقد الطهورين ده (العرف الشذي للكشميري ١٠ ، ١٣)

قوله: والتکبیر تحریمها: د دوهمه مسئله ده او د تحریمې مسئله ده کوم دپاره چې ترجمة الباب وضع شوے دے، په دې مسئله کښې دریے ۳ ځایه اختلاف دے.

(۱) د شروع في الصلوة دپاره څه مسنون ذکر شته که؟ امام زهري فرمائي چې د شروع في الصلوة دپاره څه مسنون ذکر نشته، که یو کس نفس لاس اوچت کړي په نیت د دخول في الصلوة نو شروع في الصلوة في صحیح ده. حسن بصري، اوزاعي او سعید بن المسیب رحمهم الله فرمائي چې تکبیر افتتاح مسنون دے، البته د رکوع تکبیر د تحریمې د مقام کیدے شي.

جمهور ائمه رحمهم الله فرمائي چې د موبح د شروع دپاره مسنون ذکر دے چې په هغې شروع کول واجب دي.

(۲) اختلاف دویم په دې کښې دے چې د دغه مسنون ذکر دپاره څه خاص لفظ دے که په هر ذکر سره شروع صحیح کیږي؟ امام صاحب رحمه الله او امام محمد رحمه الله فرمائي چې هر هغه لفظ چې مشعر بالتعظیم وي په هغې شروع صحیح ده. مثلاً الله اکبر، الله اجل، الله اعظم، وغیره.

ائمه ثلاثه او امام ابویوسف رحمهم الله فرمائي چې خاص لفظ سره به شروع کوي چې هغه صیغې د تکبیر دي. بیا امام شافعي رحمه الله فرمائي چې معرف: الله الاکبر، منکر: الله اکبر، دواړه طریقو سره شروع صحیح ده. امام مالک رحمه الله او امام احمد رحمه الله وائي چې صرف په منکر طریقه سره شروع صحیح ده نه نه. امام ابویوسف رحمه الله فرمائي چې بس ماده د تکبیر وي، بوځه مجرد وي که مزید، منکر وي که معرف، په هره طریقه سره شروع صحیح ده.

دلائل: د ائمه ثلاثه دپاره دلیل د قرآن کریم ایت دے: وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ (سورة المدثر) د دغه شان عمل د نبي کریم ﷺ دے په روایت د عائشه رضي الله عنها: كان النبي يفتتح الصلاة بالتكبير. د امام صاحب رحمه الله دپاره دلیل یو خو دا ایت دے: وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ فَادْعُوهُ بِهَا ۖ وَذَرُوا الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِي أَسْمَائِهِ ۚ سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٨٠﴾ او د دغه شان بل ځائي کښې راځي: وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّىٰ ﴿١٥﴾ (سورة الأعلى) په دې کښې عموم دے، که الله اکبر وي، که الرحمن اکبر وي، که الله اجل وي، د دې ټولو سره د دې دلیل قول د ابو العالیه الریاحي تابعي رحمه الله دے: عن زیاد بن ابي مسلم، قال: سمعت ابا العالیة سئل بأي شيء كان الانبياء يستفتحون الصلاة؟ قال: بالتوحيد، والتسبيح، والتهليل (مصنف ابن ابي شيبة ۱/۲۳۸) قیاس هم د دې دلالت کوي.

جواب: دانمه کرامو ددلیل نه جواب دا دے چه ددغه اية مقصد هم دغه دے چه درب لوئي بيان کړه تعین دلفظ د..اکبر.. ندےمراد، ځکه اکبر په معنی د اعظم راځی، کما قال تعالیٰ: فَلَمَّا رَأَيْنَهُ أَكْبَرْنَهُ ابوسف ۳۱] یعني : اعظمنه . (تفسیر مجاهد ۱ / ۱۷۱) او هرچه عمل دنبی کریم ﷺ دےنو اګر که ظاهره کښی دقول اوفعل تعارض ښکاری لیکن تطبیق ممکن دے چه دعمل نه مقصود تعظیم دے، یعنی معنی مقصوده ده، نه چه دغه الفاظ به ضروروائی، لکه چه حدیث کښی راځی نبی ﷺ فرمائی !امرت ان اقاتل الناس حتی یقولوالااله الاالله (الحدیث) اوس که یو کس دلااله الاالله په ځائی ،،لااله الاالرحمن.. یا ..لااله الاالعزیز.. او وائي نو په اتفاق سره دغه سړے هم محقون الدم دے، معلومه شوه اعتبار معنی لره دے نه الفاظولره (عمدة القاري- ۸ : ٤٩٤)

[تنبیه] داکثرواحنافو رَحِمَهُمُ اللّٰهُ په نیزباندی الله اجل وغیره سره صرف ذمه فارغیږی نور تکبیرپه لفظ د..الله اکبر.. ویل واجب دی که چا ددینه علاوه نورالفاظ استعمال کړه نومونځ ئي واجب الاعاده دے:دامذهب دابن همام رَحِمَهُ اللّٰهُ دے هغه ددی دپاره قوی دلائل پیش کړی دی، او دشامی په متن کښی هم دغه حکم ذکر دے،

[۳] اختلاف پدیکښی دے چه تکبیررکن دے دمونځ که شرط دے؟د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ په نیز باندی شرط دے، اودصاحبینو په نیزباندی رکن دے، او دا مذهب د امام مالک، شافعی، احمد رَحِمَهُمُ اللّٰهُ هم دے،
ثمرةالاختلاف پدیکښی ظاهریږی چه چامثلامونځ شروع کړواو،،الله اکبر.. ئي او ویلو اوسمدست ئي اودس مات شو نوعندالامام رَحِمَهُ اللّٰهُ بنانښی کولےپس د اودس کولو په دغه تکبیر باندی بلکه بیا به مستقل نیت کوی او تکبیر به وائي، ځکه شرط دشئ خارج وی دشئ نه نوداکس په مونځ کښی ندے داخل شوے، او د.صاحبینو په نیز باندی بنا کولےشی، ځکه چه رکن داخل وی نو دا سړے په مونځ کښی داخل شوے دے،

قوله!والتسلیم تحلها:دا دریمه مسئله ده، پدی مسئله کښی هم اختلاف دے، دائمه ثلاثه په نیز باندی خروج دمونځ نه په لفظ دسلام سره فرض دے بغیر دسلام نه که څوک دمونځ نه او وتلو مونځ ئی باطل دے، حتی چه امام نووی رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمائی! چه که د ،،السلام علیکم ،، په حروفوکښی ئی څه خلل راوستو نو هم ئي مونځ باطل دے،

د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ په نیز باندی خروج دمونځ نه په صنع دمصلی سره فرض دے، اوسلام واجب دے

فرض ندے،

دلائل: دليل دائمه ثلاثه دپاره داتکړه دحديث ده،، والتسليم تحليها ،، د امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ دپاره دليل روايۃ دابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ چه حديث دمسيئ الصلوة دے، او اورد روايۃ د ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دے چه اخرکښے فرمائی: « فاذا فعلت هذا فقد تمت صلاتك وما انتقصت من هذا شيئا فانما انتقصته من صلاتك » (سنن ابي داود ـ محقق ١ ، ٣١٨) دغه مذهب په صحابه کرامو کښي د ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دے او په تابعينو کښي سعيد بن المسيب، ابراهيم نخعي، سفيان ثوری، اوامام اوزاعی رَحِمَهُمُ اللَّهُ دے، ليکن دلته هم داخبره د ياد قابله ده چه سلام په لفظ دسلام فرض خو ندے البته واجب دے، که چا قصدا ترک کړونو ذمه ئی فارغ شوه خو مونځ ئي واجب الاعاده دے،

اشکال: احناف دحديث الباب نه فرضية دتکبير تحريمه ثابتوی نوسلام ته ولی فرض نه وائی؟

جواب: اصل کښي دتکبيرفرضية په کتاب الله سره ثابت دے! وَذَكَرَ ٱسْمَ رَبِّهِۦ فَصَلَّىٰ ﴿١٥﴾ (سورة الاعلى) دغه شان! وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ﴿٣﴾ (سورة المدثر) حديث ددی بيان کړے دے، او د سلام فرضية په کتاب الله سره ندے ثابت نو دحديث الباب نه وجوب ثابت شو،

قوله! وفي كل ركعتين فسلم: داخلورمه مسئله ده:ددےتکړے دحديث دوه مقصده کيدے شي، يو دا چه په هردوه رکعتونو سلام ګرځوه: بنا پدی معنی باندی مراد درکعتينونه رکعتين دنوافلو دی، اوامربرائي استحباب دے، نوافلو کښي غوره دا ده چه په هردوه رکعته باندی سلام و ګرځولے شي، صاحبين دغه استحباب مطلقا وائي که ورځ وی که شپه وی، اوامام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ وائي! چه نوافل الليل کښي غوره دا ده چه څلور څلور وشي، او که اته٨ رکعته په يوسلام وشی هم جائزده، اونوافل النهارکښي غوره دوه دوه رکعته دی ،

دويم مقصد دا چه دسلام نه تشهد مراد دے، څکه چه په تشهدکښي سلام شته نومعنی دا چه ،،په هردوه رکعته تشهد وايه،، نودا امردپاره دوجوب دے، څکه تشهد په قاعده کښي واجب دے، دامعنی راجح ده څکه امام صاحب رحمه الله دراوی په تبوس هم دغه مقصد بيان کړے دے په . .يعنی التشهد الى المقرى صدق.. سره.

قوله!ولاتجزئ صلوة : داپنځمه مسئله ده: چه انده باب کښي ئی پوره تفصيل را روان دے،

باب ماجاء في القراءة في الصلوة

حديث ۱۹۸\۱۹ ابوحنيفة عن عطاءبن ابی رباح عن ابی هريرة قال نادی منادی رسول الله ﷺ بالمدينة لاصلوة الابقراءة ولوبفاتحة الكتاب:

تجزيه: دي مقام کښي دوه مسئلې قابل غور دی، يوه دا چه فاتحه په مونځ کښي رکن دے کنه؟ دويمه مسئله دقراءة خلف الامام ده، دا دويمه مسئله روسته را روانه ده. دلته دغه اوله مسئله ذکر کوو، مسئله کښي مذاهب ثلاثه دی،

[۱] د امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ په نيزمطلق قراءة په مونځ کښي رکن دے که فاتحه وی که غير د دينه وی. اوفاتحه اوضم دسورة معها په مونځ کښي واجب دی، که چاونه ويل نومونځ ني وشوخو واجب الاعاده دے.

[۲] عندالشافعي رَحِمَهُ اللهُ فاتحه رکن اوفرض ده، بغيرددينه مونځ نه کيری.

[۳] د امام احمدبن حنبل رَحِمَهُ اللهُ په نيزيه مونځ کښي قراءة فرض دے تعين د فاتحه دسرنه شته نه که ددينه علاوه نور قراءة چا اکړو نومونځ وشو واجب الاعاده هم ندے،

دلائل: د احنافودليل يوکتاب الله دےفرمائي: فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ المزمل ۲۰] دلته لفظ د..ما.. عام دے، فاتحه غيرفاتحه دواړو ته شامل دے، نونفس قراءة ددے اية کريمه په وجه فرض شو، اوقراءة د فاتحه د حديث الباب دوجه نه واجب شو، فاتحه فرض کولے نشو ځکه بيانسخه داطلاق دکتاب الله په خبرواحد سره راځي وذالايجوز،

دشوافعواستدلال يو د ظاهرحديث الباب نه دے، دويم دليل سابقه باب واله روايه دے، او ډير ښکاره اوعمده دليل رواية دعبادة بن صامت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دے چه امام بخاری نقل کړے' عَنْ عُبادَةَ بنِ الصَّامِتِ انَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لا صَلَاةَ لِمَن لَم يَقرا بِفَاتِحَةِ الكِتَابِ (صحيح البخاري ـ ۳ ، ۲۰٤)

جوابات د دے دلائلونه مختلف جوابات شوی دی،

(۱) لاصلوة کښي ..لا.. دنفي دکمال دپاره دے، دليل ددے دپاره رواية د ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دے، چه هغی کښي 'مَن صَلَّى صَلَاةً لَم يَقرا فِيهَا بِامِّ القُرْآنِ فَهِيَ خِدَاجٌ ثَلَاثًا غَيرُ تَمَامٍ (صحيح مسلم ۲ ۳۵۲) الفاظ راغلی دی، او په دغه خو مونږه هم قائل يوچه تام ندے بلکه واجب الاعاده دے، خو دا جواب ضعيف دے، ځکه که..لا.. د نفي دکمال دپاره شي نوبيادا حديث نه وجوب هم نشي۔ ثابتيدلےځکه بل حديث کښي راځی ' لا صَلَاةَ لِجَارِ المَسجِدِ الا فِي المَسجِدِ (سنن الدارقطني ـ مكنز ٤ ٢٤٣) دی حديث کښي هم

..لا..دنفي دكمال دپاره دے، اوس ددغه قاعدي په موافقت كښي به كوركښي مونځ كول دجار د مسجد دي هم واجب الاعاده شي، حالانكه پدى هيڅ څوک هم ندى قائل،

(۲) صحيح جواب دا دے، چه..لا..دپاره دنفي د ذات دے، نعنى دسرنه مونځ نه كيږى خو دلته بواخي فاتحه نده مراد بلكه مطلق قراءة مراد دے دليل ددے توجيه دا دے چه په نورو رواياتو كښي ورسره ..ومعهلغيرها.. (في رواية) او ..فصاعدا.. (في رواية عبادة بن صامت رضي الله عنه كما في مسلم والنسائى) دغه شان..فماذاد.. وغيره الفاظ هم شته، ددى مقصد دا شو چه فاتحه سره د مازاد نه چاونه ويله نومونځ نه كيږى پدى وجه چه قراءة مكمل ترک شو، چه نه فاتحه اونه د قران كريم څه نوره حصه او ويلےشوه، نوركن باتي شواو په ترک دركن سره نفي د ذات راځي، اوس كه څوک وائي چه نفي د ذات صرف په ترک دفاتحه سره ده نوبيا خو ضرورى ده چه دفصاعدا (يعنى دضم دسورة) په ركنية هم خصم قائل شي، حالانكه پدى هغوى هم ندى قائل، ددينه دا معلومه شوه چه حديث مذكور د احنافو دپاره دليل دے په ركنية دمطلق قراة باندى نه دخصم دپاره په ركنية دفاتحه، ..سبحان الله..

(۳) كه اومنو بالفرض چه د..فصاعدا.. او..فمازاد.. وغيره زيادت ثابت ندے، نو بيا هم حديث د احنافو دليل دے په فرضيت دمطلق قراءة باندى نه په فرضيت دفاتحه بواخي، هغه دا چه دلته دقراءة په صله كښي ..ب.. راغلى ده،

قانون: دبعض افعالو په صله كښي كله ..با.. راځي اوكله نه راځي، كله چه..با.. راغلى وى نومدخول د..با.. به بعض مفعول دفعل مذكور وى، يعنى ددى مفعول سره به په مفعولية كښي بل شي شريک وى، او كه ..با.. نه وه راغلى نودغه مفعول دفعل به كل مفعول دفعل وى چه پدى مفعولية كښى به ددى سره بل شي شريک نوى ..قرا.. فعل هم ددےقبيلےنه دے كله ددے په صله كښي باراځي لكه حديث كښي راځي ..صلّى بنا رسولُ الله ﷺ فقرا (ق والقرانِ المجيد) حتّى قرا (والنّخل بَاسقاتٍ) (صحيح مسلم ــ مشكول : ۲ / ۳۹) ددے مقصد دا چه دغه مدخول د ..با.. بعض مقروء دنبي كريم ﷺ وو، ځكه نبي ﷺ به بواخي سورة ..ق.. دسحريه مونځ كښي نه ويلو بلكه فاتحه به ئي ورسره هم ويله، اوكله ددے په صله كښي ..با.. نه راځي لكه بل حديث كښي راځي ..قراعليهم سورة الرحمن(بخارى شريف) نوددے مفعول به كل مقروء وى مقصد دا چه دنبي كريم ﷺ جنانوته كل مقروء سورة رحمن وونور څه نه، دلته حديث كښي په صله د..بقرا.. كښي ..با.. راغلى دو نو فاتحه به بعض مقروء شي نومعنى دا چه چا بعض

قراءة هم ونکړوچه فاتحه ده نومونځ ني ونه شوځکه بعض مقرو، چه ونه شوځومکمل قراءة باتی شوچه رکن دے. (فیض الباري - ۳\۱٥٤)

باب ما جاء في عدم الجهر بالتسمية في الصلوة

حدیث ۲۰۱۹۹ ابوحنیفة عن حمادعن انس قال کان النبي ﷺ و ابوبکروعمر لایجهرون ببسم الله الرحمن الرحیم.

تجزیه: تسمیه في الصلاة کښې په دری ۳ مواضعوکښې اختلاف دے.

[۱] چه تسمیه جزءمن سورالقران ده کنه؟ د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ اوامام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ په نیز باندی د سورة نمل بسم الله چه په وسط دسورة کښې ده هغه جزء ددغه سورة ده، د دینه علاوه کومه بسم الله چه په اوائلو دسورتونوکښې ده جزء دسورة نه نده، بیاد امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ په نیزدغه بسم الله جزء من القران ده نه دیومعین سورة نه، او د امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ په نیز باندی دقران نه هم جزء نده، د امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ په نیزد هرسورة نه جزء ده، خو دا اختلاف دلته نه چیړوددی تفصیل به خپل ځائی کیدے شی.

[۲] اختلاف پدیکښې دے چه بسم الله ویل په مونځ کښې مسنون دی کنه؟

[۳] اختلاف پدیکښې دے چه تسمیه په مونځ کښې سرا مسنون ده که جهرا؟ باب ددے دریمې خبرې دپاره وضع شوے دے، البته دویمه خبره به هم ضمنا ذکر شی، د امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ په نیز باندی په مونځ کښې ثنا، تسمیه، اوتعوذ دسره مسنون ندی بلکه تکبیر پسی به متصل شروع په الحمدلله کوی، د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ او د امام احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ مذهب دا دے چه مونځ کښې تسمیه مسنون ده خو سرا نه چه جهرا، او دغه د جمهورو صحابه کرامو تابعینو مذهب دے علامه ابن تیمیه رَحِمَهُ اللّٰهُ اوعلامه ابن القیم رَحِمَهُ اللّٰهُ هم دی ته ترجیح ورکړی ده، د امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ په نیزتسمیه مسنون ده خوجهری مونځ کښې جهرًا سرّي مونځ کښې سرًا.

دلائل: د امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ دپاره دلیل متهورحدیث دانس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په روایة باندی دے! عن انسِ بن مالكِ ان النَّبيَّ ﷺ وابا بكرٍ وعُمرَ كَانُوا يَفتتِحُونَ الصَّلاةَ بِ{ الْحَمْدُ لِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ } (صحیح البخاري - ۳ ۱۸٦)

د احنافو اوجمهورودپاره دلائل په مسنونیة دبسم الله وغیره هغه روایات دی چه هغې کښې دتسمیه ذکر راغلے دے چه دهغې نه انکارنشی کیدے.

شوافعو دپاره قوی دلیل په جهربالتسمية باندی روایة د ابوهریره رضي الله عنه دے چه نعیم مجمر نقل کړے دے.

عن نعيم المجمر قال صليت وراء ابي هريرة فقرا بسم الله الرحمن الرحيم ثم قرا بام القران حتى اذا بلغ{ غير المغضوب عليهم ولا الضالين }فقال امين فقال الناس امين ويقول كلما سجد الله اكبر واذا قام من الجلوس في الاثنتين قال الله اكبر واذا سلم قال والذي نفسي بيده اني لاشبهكم صلاة برسول الله ﷺ (سنن النسائي - ۳ - ٤٥۹) د احنافو دپاره دلائل احادیث الباب دی چه مقصد ئي واضح دے.

حدیث ۲۱\۱۱۰۰ ابوحنيفة عن ابی سفيان عن يزيدبن عبدالله بن مغفل انه صلی خلف امام فجهربسم الله الرحمن الرحيم فلما انصرف قال ياعبدالله احبس عنانغمتک هذه فانی صليت خلف رسول الله ﷺ وخلف ابی بکر وعمروعثمان فلم اسمعهم يجهرون بها،هذا صحابی.

دادویم دلیل دے داحنافودے چه مقصد ئي واضح دے چه نغمه اوسندره دی بنده کړي دا د توبیخ الفاظ دی

جوابات د امام مالک رحمه الله داستدلال نه جواب دا دے چه شروع دجهربه په مونځ کښی د فاتحی نه کوله دانه چه فورابه ئي الحمدلله ویلو، خکه دنبی کریم ﷺ نه مختلف دعاګانے نقل دی چه بین التکبیروالحمد نی ویلی دی انظر(سنن النسائي - ۳ ٤٤٥)

د امام شافعی رحمه الله داستدلال نه یوجواب دا دے چه یوخو دغه روایة شاذ او معلول دے، خکه د ابوهریره رضي الله عنه ۸۰۰ شاګردان دی په هغی کښی صرف دغه یونعیم مجمرجهر بالتسمیه نقل کوی او ۷۹۹ تلامذه ئي نه نقل کوی معلومیږی چه روایة کښی څه خلل راغلے دے،

دویم جواب دا دے چه جهربالتسمیه په مکه مکرمه کښی وه خو بیا په احادیثو سره دهغی نسخ ثابت ده.

دریم جواب دا دے چه خبره په جوازاوعدم جوازکښی نده بلکه په اولوية او غیر اولوية کښی ده نبی کریم ﷺ چه جهر بالتسمیه کړے نودپاره دبیان دجواز،

څلورم جواب چه نبي کريم ﷺ جهر بالتسميه کړےتعليما للامة چه دبسم الله محل اوځاني د ويلو وښاني چه داد فاتحه نه مخکښې په دغه مقام کښی ده ، داسی نه چه څوک په اول دمونځ کښی ددے ګمان اکړی

فائده: قال الجامع وروى جماعة هذا الحديث عن ابي حنيفة [illegible]
[illegible] عن عبدالله بن مغفل [illegible] ابن [illegible] صحيح [illegible]
عبدالله بن مغفل [illegible]
بلكه عبدالله بن مغفل [illegible] مشهور [illegible]

حالات راوي عبدالله بن مغفل رضي الله عنه [illegible] بن مغفل [illegible]
ابو عبدالرحمن [illegible] رضي الله عنه [illegible] صحابي [illegible]
[illegible] صحابي [illegible]
[illegible] حكومت [illegible] رضي الله عنه [illegible]
[illegible] عبدالله [illegible]
[illegible]

تنبيه [illegible] حكم [illegible]
موجود [illegible] منقول [illegible]
[illegible] رحمه الله [illegible] منقول [illegible]
[illegible] مسئله [illegible]

باب ما جاء في القراءة المسنونة

حديث ۲۲/۱۰۱ ابوحنيفة عن [illegible] مع رسول الله ﷺ [illegible]
والزيتون

[illegible]
مذكور حديث [illegible] ذكر [illegible]
[illegible] رحمه الله [illegible] مسنونه في [illegible]
[illegible] فالسنة ان يقرأ في الصبح والظهر [illegible] الصبح [illegible]
وفي العشاء والعصر اوساطه وفي المغرب [illegible]
[illegible]

حالات راوي براء بن عازب رضي الله عنه [illegible]
[illegible] صحابي [illegible]
[illegible]

شریک شوے دے، دبدر احد نه دماشوم والی په وجه واپس کړے شوے وو، د علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره په جنګ صفین وغیره کښی هم شریک شوے دے، کوفه کښي ئی خان له کور جوړ کړےوو خو بیا ترینه واپس مدینی ته لاړو، په ۷۳ھ کښی په زمانه دمصعب بن زبیرکښی په کوفه کښی وفات شوے دے. (معرفة الصحابة لابي نعيم - ١ / ٣٨٤) پدی مسند کښی ترینه کل ۳ روایات نقل دی.

حدیث ۲۳\۱۰۲ ابوحنیفة ومسعرعن زیاد عن قطبة بن مالک قال سمعت رسول الله ﷺ یقرا في احدی رکعتی الفجر والنخل باسقات لهاطلع نضید:

حدیث دسابقه باب سره متعلق دے، دسحردمونځ مسنون قراة پکښی ذکر دے چه د طوال مفصل یوسورة دےچونکه دسحرمونځ لراوږد دے په نسبت دنورو مونځونو، نو مسنون پکښی طوال مفصل دی چه دسورة محمد، یا دسورة الفتح نه ترسورة بروج پوری دی،

حالات راوی قطبة بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نوم نسب ئي دا دے، قطبة بن مالک الکوفي، دوفات تاریخ ئي پوره معلوم ندے، دی مسندکښی ترینه دا یوروایة نقل دے،

باب ماجاء في القراءة خلف الامام

حدیث ۲٤\۱۰۳ ابوحنیفة عن موسی عن عبدالله بن شداد عن جابربن عبدالله ان رسول الله ﷺ قال من کان له امام فقراة له قراة وفي روایة ان رجلا قراخلف النبي ﷺ في الظهر اوالعصر و اوما الیه رجل فنهاه فلما انصرف قال اتنهانی ان اقرا خلف النبي ﷺ فتذاکرا ذلک حتی سمع النبي ﷺ فقال رسول الله ﷺ من صلی خلف الامام فان قراءة الامام له قراءة وفي روایة (الحدیث الخ.

مسئله دقراءة خلف الامام دمحکښی نه معرکة الاراء مسئله ده، البته پدیکښی داختلاف نوعیت دنورو مسائلونه جدا دے، څکه نورو مسائلو کښی اختلاف داولویة اوعدم اولویة دے، خو دلته اختلاف دوجوب او دکراهة تحریمي دے، مسئله کښی مذاهب اربعة دی،

[۱] امام مالک رَحِمَهُ اللهُ فرمائی ' چه قراءة خلف الامام په جهری مونځ کښی مباح او سری کښی مستحب دے،

[۲] امام احمد رَحِمَهُ اللهُ فرمائی ! چه جهری مونځ کښی قراءة خلف الامام مکروه تحریمي او سری کښی مستحب دے،

[۳] امام شافعي (په قول قديم كښي) داو د ظاهري اسحاق بن راهويه رَحِمَهُمُ اللهُ فرمائي ! چه سري او جهري دواړو مونځونو كښي قراءة خلف الامام واجب دے، په قول جديد كښي امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ فرمائي اچه سرّي كښي واجب او په جهري مونځ كښي مكروه دے (كمافي كتاب الام والفتوى على قوله الجديد)د دينه دامعلومه شوه چه قراءة خلف الامام په جهري مونځ كښي بالاجماع نشته صرف اهل ظواهراوغيرمقلدين خلاف كوي،

[٤] امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ فرمائي اچه سري اوجهري دواړو مونځونوكښي قراءة خلف الامام مكروه تحريمي دے، دغه مذهب دعبدالله بن مسعود، علي، جابربن عبدالله، بلكه دامذهب د ۸۰ صحابه كرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ نه نقل دے، د دلائلو نه معلومېږي دوه خبري قابل غوز دي،يودا چه منفرد،اوامام كښي اتفاق دے چه د دوي دپاره قراءة فرض دے، دويم دا چه احناف د قراءة خلف الامام په هيڅ خائي كښي قائل ندي نه سري مونځ كښي نه جهري كښي، باقي ائمه په څه نه څه صورة كښي قائل دي دقراءة خلف الامام ,,لهذا,, مونږه به دوه فريقه جوړكړو چه بحث كښي اودلائلو كښي اسانتيا راشي، فريق اول ائمه ثلاثه، فريق ثاني احناف،

دلائل: دفريق اول دپاره دليل روايـة دعبادة بن صامت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دے په روايـة دمسلم: عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ ﷺ « لا صَلاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأ بفاتحة الكتاب » (صحيح مسلم (۲/ ۸). داستدلال طريقه دا ده چه دلته ,,**من**,, دعموم دپاره دے،امام، منفرد، اومقتدي ټولوته شامل دے،اوس د امام اومنفرد په حق كښي خو تاسو هم قائل يئ، نود مقتدي په حق كښي هم د قراءة خلف الامام قائل كيدل پكاردي دعموم په وجه،

جواب: [۱] دا حكم د امام اومنفرد دپاره دے فقط، دمقتدي دپاره ندے،او ,,**من**,, په هرخائي كښي دعموم دپاره نه راځي بلكه احتمال دخصوص هم لري لكه علامه فخرالاسلام رَحِمَهُ اللهُ فرمائي! وكذلك قوله من شاء من عبيدي عتقه فهو حر يتناول البعض الا انه موصوف بصفة عامة فسقط بها الخصوص وهذه الكلمة يحتمل الخصوص لانها وضعت مبهمة في ذوات من يعقل (اصول البزدوي - (۱ / ٦٨) دغه شان علامه ملاجيون رَحِمَهُ اللهُ فرمائي!ومن ومايحتملان العموم والخصوص (نورالانوار) معلومه شوه چه. **من**,,نص په عموم كښي ندے،

[٢] امام رازی رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمائي چه ,,من،، صرف دعموم دپاره ندے که شي نو لازم به شي په كتاب الله كښې د قواعدوشرعيه نه اخوا كيدل: ځكه قران كښې راځي ' وَيَسْتَغْفِرُونَ لِمَنْ فِي الْأَرْضِ أَلَا إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ' (الشورى) اوس که.. لمن.. دعموم دپاره شي نو تعارض به ئي راشي د دې اية د اية دسورة توبه سره الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ فرمائي' مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوا أُولِي قُرْبَىٰ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ ' التوبة | دغه شان قران کښې راځي ' أَأَمِنْتُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ أَنْ يَخْسِفَ بِكُمُ الْأَرْضَ فَإِذَا هِيَ تَمُورُ ﴿١٦﴾ أَمْ أَمِنْتُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ أَنْ يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ۖ فَسَتَعْلَمُونَ كَيْفَ نَذِيرِ ﴿١٧﴾ | الملك | اوس که.. من.. دعموم دپاره شي نوثابت به شي تصرف دغيرالله چه ملائک دی او عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ دے، دغه شان ثابت به شي تصرف دارواحو دانبياء اواولياء دپاره، ځکه دغه ټول په اسمان کښې دی ،

[٣] که ,,من،،دعموم دپاره شي مطلقا نوتاسوخوهم ددے خلاف کوئ ځکه چه مدرک د رکوع تاسومدرک درکعة وائي حالانکه هغه خو قراءة ندے کړے (فماهو جوابكم فهو جوابنا)

[٤] ځنې رواياتوکښې ددغه الفاظوسره,,فمازاد. فصاعدا. ماتيسر . معهاشئ.. وغيره الفاظ هم راغلی دی چه مراد ترینه بالاتفاق ضم دسورة دے، اوس تاسو خو په وجوب دقراءة د سورة نه يئ قائل(فماهو جوابكم في ضم السورة فهو جوابنا في الفاتحة)

[تنبيه] ددینه علاوه چه دائمه ثلاثه دپاره کوم دلائل دی هغه یاصحیح ندی او یاصریح ندی چه استدلال دهغی نه تام ندے.

دلائل احناف: كثر الله سوادهم: [١] دليل كتاب الله دے: وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٢٠٤﴾ سُورَةَ الاعْرَافِ، امامجاهد رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمائي چه دا اية دمونځ په باره کښې دے،فرمائي! عن ابن ابي نجيح ، عن مجاهد قال : كان رسول الله ﷺ . في الصلاة فسمع قراءة فتى من الانصار فنزل : { وَإِذَا قُرِىءَ القران فاستمعوا لَهُ وَانصِتُوا } | الاية : ٢٠٤ | (تفسير مجاهد -١ / ١٢٤) دغه شان قرطبي رَحِمَهُ اللّٰهُ هم فرمائي چه دادمونځ په باره کښې دے روايت ئي نقل کړےفرمائي! عن بشير بن جابر قال: صلى ابن مسعود. فسمع ناسا يقراون مع الامام. فلما انصرف قال: اما ان لكم ان تفقهوا! اما ان لكم ان تعقلوا؟ (واذا قرئ القران فاستمعوا له وانصتوا) كما امركم الله.جامع البيان (تفسير

شریح ... دغه شان بوشمیرین وائي چه د مونځ په باره کښې نازل شوې ده، او د جهري سري دواړه مونځونو په باره کښې ده خکه دغه په دغه کریمه کښې حکم د ستماع او انصات شوی دی نو که څوک وائي چه ستماع خو صرف جهري مونځ کښې راځي؟ نو مونږه وايو چه وریسې د نصت حکم دی چه دیکښې شمول دی سري مونځ ته هم شامل دی.

دغه شان علامه ابن تیمیه رَحِمَهُ اللَّهُ فرمائي چه دې په کریمه کښې دری ۳ احتمالات دي (۱) چه دا د مونځ په باره کښې شي په خوارو مونږه معنی ثابته شوه (۲) چه د مونځ او خطبې دواړو په باره کښې شي، په هغه دواړو معنی ثابته شوه (۳) چه د صرف د خطبې په باره کښې شي، خو دا احتمال مردود دی خکه چه دا مکي ده او مکه کښې صرف مونځ وو خطبه نه وه خکه خطبه خو په مدینه منوره کښې شروع شوې ده یوره تفصیل فتاوي کبری د ابن تیمیه رَحِمَهُ اللَّهُ ... کښې لیده شي د تعیین

[۳] دلیل د حنفیه حدیث جب دی که څوک وائي چه د خو د جهري مونځ سره تعلق لري؟ نو دا خبره هم رد شوه خکه د قصه دمسچیین په سر کې به مونځ کښې راغی نه چه دواړه سري دي، معلومه شوه چه قراءة خلف الامام مکروه ده، او بیا کراهة څنګه ثابت شوه؟ نو هغه دا دی چه نبي کریم ﷺ منع او نهی کړې د قراءة خلف الامام نه او که ادنی درجه د نهی کراهة ده او مکروه چه مطلق راشي نو مکروه تحریمي وي، بیا مکروه وزنه ویو نه حرام محض، خکه حدیث یکښې منع راغلې دی، نو مونږه ترجیح محرم لره ورکوو په مبیح باندې.

قوله: وفي رواية: دې سره د سري مونځ دپاره مختلف روایات پیش کوي دي،

[۳] دلیل د حنفیه دپاره روایة د مسلم شریف ده، په روایة د ابوموسی اشعري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ باندې چه نبي ﷺ فرمائي فاذا كبّر فكبّروا واذا قال غير المغضوب عليهم ولا الضالين فقولوا امين. (صحيح مسلم ـ ۲)

(۱) دې حدیث کښې په بعض روایتو کښې امر بالانصات دی، دویم ..اذا قال غير المغضوب.. نه معلومه شوه چه فاتحه به فقط امام وائي خکه ..قال.. صیغه د مفرد ده که مقتدی باندې فاتحه لازم وې نو بیا به دې سې لیکل وو..اذا قال وقلتم غير المغضوب.. په صیغه د جمع لیکلې وه لکه چه ..امين.. په جمع ویلې کیږي نو دهغې دپاره صیغه د جمع (فقولوا) استعمال شوې ده،

ددې دلائلونه علاوه د صحابه کرامو اثارهم د قراءة خلف الامام نه د منع په باره کښې نقل دي، په خوردسولې باندې یوخو پیش کړلې شي، موطا د امام محمد رَحِمَهُ اللَّهُ کښې دیرا ثار نقل کړي دي چه اکثرو صحابه کرامو به ددې نه منع کوله لکه فرمائي ذكر الشيخ الامام السبذموني في " كشف الاسرار " عن

عبد الله بن زيد بن اسلم عن ابيه انه قال :عشرة من الصحابة ينهون عن القراءة خلف الامام اشد النهي: ابو بكر وعمر وعثمان وعلي وعبد الرحمن بن عوف وسعد وابن مسعود وزيد وابن عمر وابن عباس انتہی (الموطا رواية محمد بن الحسن -۱ / ۱۹۱) دغه شان دعبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اثر نقل کوی فرمائي: عن ابن عمر قال : من صلى خلف الامام كفته قراءته (الموطا رواية محمد بن الحسن-۱۹۲/۱) دغه شان دعبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه چاتپوس اکړو د قراءة خلف الامام په باره کښې، هغه جواب ورکړو: عن عبد الله بن مسعود قال : إنصت للقراءة فان في الصلاة شغلا وسيكفيك الامام (الموطا رواية محمد بن الحسن ۱/۱۹۹) اوعمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به فرمايل ليت في فم الذى يقراخلف الامام حجر. دغه شان سعدبن ابي وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: وددت ان الذى يقراخلف الامام في فيه جمرة (موطاعن داو د بن قيس) ددينه علاوه نور اثار هم شته لکه چه علامه سنبلي رَحِمَهُ اللهُ نقل کړي اګرچه بعض کښې سندا بحث شته نيکن اکثر صحيح دي،

حاصل الكلام: داحنافو پاره معاضد كتاب الله، سنة رسول ﷺ (كما مر) او دريم اجماع الامة ده كما في الهداية: وعليه اجماع الصحابة رضي الله عنهم (الهداية شرح البداية ۱ ۵۵) ځکه دقراءة خلف الامام نه تقريب اتيا ۸۰ صحابه کرامو منع کړې ده، بلکه خصم هم په بعض مواضعوکښې په عدم دقراءة باندې قائل دے لکه چه دمذاهبودتفصيل نه واضح شوه **لهذا** اجماع الامة هم راغله، **څلورم** قياس هم معاضد داحنافو دے، ځکه چه امام ضامن شونو د مقتدى قراءة کول ځنکه په ضمن دقراءة د امام کښې شو، والله اعلم.

باب ماجاء في نسخ التطبيق

حديث ۱۰۴/۲۵ ابوحنيفة عن ابى يعفورعمن حدثه عن سعد بن مالك قال كنا نطبق ثم امرنا بالركب.

تطبيق ديته وائي چه د دواړولاسونو ګوتې په يوبل کښې (په طريقه دتشبيک) ورکړے شي او بيا په حالت درکوع اوقعده کښې دېتنانو(فخيذ ين) په مينځ کښې پريخودے شي، په ابتدا د اسلام کښې په زنګنانو دلاسونو ايخودو په ځاې په رکوع اوسجده کښې دا عمل کولے شو، ليکن بيا منسوخ شو او دا خبره اتفاق ده، بعض وائي چه ابتدا کښې عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پدې عمل لګ کلک وو اوعمل به ئي پرې کوو خوچه کله ورته دنسخ روايات را ورسيدل نورجوع ئي اکړه، خوحق خبره دا ده چه هيڅ اختلاف نه دے شوے بديکښې بلکه ابتدا کښې تخير وو په مينځ دتشبيک اواخذالرکب کښې بيا نسخ راغله، او داخبره

غلطه ده جه عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (چه خادم رسول في السفر والحضر وو) ته نسخ نه وه رسیدلی، بلکه بالاتفاق داعمل منسوخ دے، لهذا اوس پدی عمل کول دسنة نه خلاف دی،حدیث هم دی باره کښی دے.

قوله: عمن حدثه: مراد مصعب بن سعد دے لکه په روایة دبخاری کښی پدی تصریح ده، (صحیح البخاري- ۲: ۲۰۱)

باب ماجاء في ان وظيفة الامام التسميع و وظيفة الماموم التحميد و فضل التحميد

حدیث ۳۶\۱۰۵ ابن ابی السبع بن طلحة قال رایت اباحنیفة یسال عطاءعن الامام اذاقال سمع الله لمن حمده ایقول ربنالک الحمد قال ماعلیه ان یقول ذلک ثم روی عن ابن عمرصلی بنا النبيﷺ فلما رفع راسه من الرکعة قال سمع الله لمن حمده فقال رجل ربنالک الحمد حمداکثیرا طیبا مبارکا فیه فلما انصرف النبي ﷺ قال من ذا المتکلم بهذه قالها ثلث مرات قال الرجل انا یا نبی الله قال فو الذی بعثنی بالحق لقد رایت بضعة و ثلثین ملکا یبتدرون ایهم یکتبها لک واول من یرفعها.

پدی خبره کښی اتفاق دے چه امام به تسمیع اومقتدی به تحمیدوائي، دیکښی هم اتفاق دے چه منفرد به دواړه وائي، خواختلاف پدیکښی دے چه چه امام به دتسمیع سره تحمید، اومقتدی به دتحمید سره تسمیع وائي کنه؟ د امام صاحب، امام مالک، او د احمدبن حنبل رَحِمَهُمُ اللهُ مسلک دا دے چه دیکښی تقسیم دے، امام به فقط تسمیع اومقتدی به فقط تحمیدوائي، عندالبعض (شافعی صاحبین) به امام اتیان په دواړوکوی او مقتدی کښی اکثروائي چه تحمید به وائي نه تسمیع دلیل ئې! صلوا کما رایتمونی اصلی.. دے، د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ دپاره دلیل حدیث الباب دے، چه ابتدائي حصه دروایة مقطوع په حدیث د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره مرفوع شوه، استدلال ترینه داسی نیسی چه نبيﷺ دلته تسمیع ویلے د تحمید ذکر نشته او مقتدی تحمید ویلے دتسمیع ذکر نشته، اوس که وینا شوی وے نو ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به نقل کړی وے، خکه صحابی خو عمل دنبی کریمﷺ نقل کوی، بیا پدی باب کښی قولی روایات هم شته، د ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایة دے فرمائي! ان الرسولﷺ قال (اذا قال الامام سمع الله لمن حمده فقولوا اللهم ربنا لك الحمد فانه من وافق قوله قول الملائكة غفر له ما تقدم من ذنبه) (صحیح البخاري: ۱۱۰۷۴)

او دانس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه هم دغه شان روایة نقل دے.

دامذهب د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ دے، دنبي ﷺ د انداز کلام نه دا معلومیږي، ځکه نبي کریم ﷺ ده د کلماتونه تعبیریه..**تکلم**..سره اکړو او تکلم خو په مونځ کښي جائزندے، معلومه شوه چه ابتدا کښي نبي ﷺ ته ددے سړي عمل خوښ نه وو، ځکه چه یوخو امام به تسمیع زیادت نه کوی دوجه دتطویل في الصلوة نه نود مقتدی دپاره په تحمید زیادت مناسب ندے دوجه دمتابعت د امام نه، دویم مونځ کښي د فرنجي دپاره تحمید ویل خو ښه کار ندے، ځکه خو د دی جواب په یرحمک الله سره په چا واجب ندے، او که چا ورکړو مونځ ئې فاسد شو، خوچونکه ددغه صحابي اخلاص نبي ﷺ ولیدلو پس دنظر کولونه دغه صحابي ته نوځکه ئي دده دعمل فضیلة بیان کړو،

فوائد:(۱)..دحدیث نه دامعلومه شوه چه د امام نه په تسبیحاتو وغیره کښي په مونځ کښي مخالفت کول ندی پکار ځکه د امام متابعت واجب دے، نو امام به دجمع په مونځ کښي زیات تسبیحات نه وائي چه دا دتخفیف في الصلوة سره منافي عمل دے چه امام ته د دغه تخفیف حکم دے، اومقتدی به هم زیادت نه کوی ځکه ده ته دمتابعت حکم شوے، البته په ځانله مونځ کښي چه ځوک خومره تطویل کولےشي نوکوی دی .

[تنبیه] بعض امامان حضرات چه رکوع له لاړ شي نودپورته کیدو فکرني بیانه وی اوچه پورته شي نودښکته کیدوسوچ ئي نوی، دامناسب نده لکه چه بعض امامان دقومے جلسي هډو خیال نه ساتی خو راپورته کیږی او فورا بیا ښکته شوے وی خاصکر دتراویحو په مونځ کښي، دا افراط او تفریط په دین اسلام کښي نشته ددینه ځان ساتل پکاردی اوصراط مستقیم باندی روانیدل پکاردی ،

(۲) حدیث نه فضیلة دتحمید اوذکرهم معلوم شو،او جوازدرفع الصوت بالذکر احیانا هم معلوم شو خو پدی شرط چه په خواکښي دچاپه مونځ کښي خلل رانشي ،

(۳) جواز د تحمید العاطس في الصلوة بغیر کراهة اوبغیر د جواب هم معلوم شو،

قوله ! فقال رجل: دا سړے رفاعة بن رافع الزرقی رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دے، کمافي روایة البخاری.

قوله لقد رایت بضعة و ثلثین ملکا دی خاص شمیرکښي لِم دا دے چه دغه کلمات څلور دیرش حروف دی، دهرحرف دپاره یوه فرښته راغلی وه تعظیما و تکریما،

(٤) حدیث نه دا هم معلوم شوه چه د حفظه ملائکونه علاوه نور ملائک هم څه اعمال لیکی،

باب ماجاء في وضع الاعضاء عند الانحطاط في السجود

حديث ۲۷\۱۰۶ ابوحنيفة عن عاصم عن ابيه عن وائل بن حجر قال كان رسول الله ﷺ اذاسجد وضع ركبتيه قبل يديه واذا قام رفع يديه قبل ركبتيه.

داخبره روسته روایة کښې را روانه ده چه سجده په وه۷ اندامونو کیږی، قدمین، رکبتین، یدین، اووجهه، پدیکښې خوقدمین دمخکښې نه په زمکه پراته وی اومخ به هم اتفاقا اخریه زمکه لګی او د تولونه به اول دزمکې نه راپور ته کیږی، البته په یدین اورکبتین کښې اختلاف دے چه عند الانحطاط به کوم یومخکښې کیښودے شی، اوعندالرفع به کوم یو مخکښې اوچتولےشی ؟ مسئله کښې دوه مذهبه دی ،

[۱] امام مالک، اوزاعی، او احمدبن حنبل (في رواية) فرمائي عندالانحطاط وضع اليدين قبل الركبتين، اوعندالرفع رفع الركبتين قبل اليدين اولی ده،

[۲] امام صاحب،امام شافعي اواحمد (في رواية) فرمائي چه ددغه ماقبل طريقه عکس اولی دے، معلومه شوه اختلاف په جوازعدم جواز کښې ندے بلکه په اولوية اوعدم اولوية کښې دے، د فريق ثاني دپاره دليل حديث الباب دے، دا حديث هم صحيح دے او هم صريح دے په خپله دعوی بان دی،دفريق اول دپاره قوی دلیل روایة د ابوهريره رضي الله عنه دے چه نبي ﷺ فرمائي! « اذا سجد احدكم فلا يبرك كما يبرك البعير وليضع يديه قبل ركبتيه » (سنن ابي داود : محقق ۱ : ۳۱۱) دیکښې تصریح ده چه اول به لاسونه او بیا به رکبتین وضع کوی ،

اشکال: په ظاهر دحديث باندی اشکال راځی چه د اوښ قانون بلکه دهر خاروی د ناستی طريقه دا ده چه اول مخکښې ښپې ماتی کړی او بیا روسته، نو حديث خو د داسی ناستی نه منع اکړه او بیا بعينه وائي چه «واليضع يديه»، نو دغه شان ناسته خو داوښ ده نو منع ترینه څنګه اوشوه؟ دا خو تعارض دے ظاهرا.

جواب چه په څناورو اوخاروو کښې رکبتین (زنګونان) په یدین دهغی کښې وی چه مخکښې ښپې د هغی دی،اورجلين ئي روسته ښپوته وائي او په انسانانو کښې رکبتين په رجلين کښې وی، او يدين د انسانانو د رکبتین نه خالی وی، اوس تعارض دفع شوځکه چه داوښ پشان وضع الركبتين مخکښې مه کوئ بلکه وضع الركتبين روسته کوئ او وضع دیدینو مخکښې کوئ چه خالی دی د رکبتینونه، استدلال دحديث نه ظاهردے،

جواب ددې استدلال نه کثیر جوابونه شوي دي. حدیث د وائل بن حجر رضی الله عنه به مقابله د حدیث د ابوهریره رضی الله عنه کښې اصح، اثبت، ارجح او صریح دے، ځکه حدیث د ابوهریره رضی الله عنه معلول دے، او د وائل بن حجر رضی الله عنه حدیث غیر معلول دے، تفصیل ئې دا دے

[۱] ددے وجه نه چه د روایة د وائل بن حجر رضی الله عنه تائیدات شته نه د روایه د ابوهریره رضی الله عنه هغه دا چه په صیح د ابن خزیمه کښې دي عن مصعب بن سعد عن سعد قال: **كنا نضع اليدين قبل الركبتين فامرنا بالركبتين قبل اليدين**:(صحیح ابن خزیمه ۱: ۳۱۹) د عمر رضی الله عنه نه هم په دغه باب کښې یو اثر نقل دے،

[۲] حدیث د وائل بن حجر رضی الله عنه قرین قیاس دے، ځکه چه سجدے ته چه څوک ځي نوکوم اندامونه چه زمکې ته نیزدې وی پکار ده چه اول هغه کیخودے شی، نبي خو هسې هم په زمکه لګیدلی وی نو دوبم نیزدې رکبتین دی او بیا یدین دی او په رفع کښې ددے عکس پکار دے، او پدې باندې عمل په مذهب د امام صاحب رحمه الله کښې کیږی ،

باب ماجاء في ان السجود على سبعة اعظم

حديث ۲۸\۱۰۷ ابوحنيفة عن طاوس عن ابن عباس اوغيره من اصحاب النبي ﷺ قال اوحى الى النبي ﷺ ان يسجد على سبعة اعظم.

دی حدیث کښې دغه ووه اندامونه اجمالاذکردی او دویم روایة کښې تفصیلا دی ،

حديث ۲۹\۱۰۸ ابوحنيفة عن ابى سفيان عن ابى نضرة قال قال رسول الله ﷺ اذا سجد احدكم فلا يمد رجليه فان الانسان يسجد على سبعة اعظم جبهته ويديه وركبتيه ورجليه وفي رواية اذاسجداحدكم فلا يمد صلبه وفي رواية (الحديث الخ)

مسئلة: په سجده کښې چه کوم اندامونه مکرر دی نو په هغې کښې دبو لګول واجب دی. که دواړه ونه لګیدل نو د مونځ اعاده به کوی، او که په یو ئې اکتفاء اکړه نو خلاف سنة کار ئې اکړو، هر چه مخ دے نو دا یو اندام حسابیږی لیکن په مخ کښې دوه ځیونه په سجده کښې لګی، تندے او پوزه اوس ددے دواړو څه حکم دے؟ مسئله کښې اختلاف دے دری ۳ مذاهب دی ،

[۱] امام احمد، ابراهیم نخعی رحمهم الله فرمائي چه د دواړو لګول واجب دی اکتفاء په جبهه یا انف بلا عذره صحیح نه دی،

[۲] موالیک، شوافع، صاحبین رَحِمَهُمُ اللهُ فرمائي اقتصار په جبهه صحیح دے بلا عذره البته په انف (پوزه) اقتصار ندے صحیح،

[۳] امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ فرمائي اقتصار په انف باندی هم صحیح دے، بیا دا تفصیل دبے عذره دپاره دے معذور چه په څه طریقه سجده کولے شي جائز ده،

دلائل: داول مذهب دپاره دلیل حدیث الباب دے، دغه رنګ دویم روایة دباب کښی وجهه ذکر ده او دهغی اطلاق په جبهه انف دواړو کیږی، او دا دواړه په سجده کښي یو اندام حساب شوے ورنه بیاخو اندامونه وما ۷ نه جوړیږی،

د دویم مذهب واله دیاره دلیل هم دغه روایات دی خوهغو وائی چه د فرضیت دسجدی دپاره دلیل دقران کریم ایة کریمه دے چه ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا ٱرۡكَعُوا وَٱسۡجُدُوا وَٱعۡبُدُوا رَبَّكُمۡ وَٱفۡعَلُوا ٱلۡخَيۡرَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ﴾ (سُورَةِ الحَجِّ) اوس دیکښی اختلاف دے چه ایه دا ایة کریمه مجمل دے که مطلق دے که نه مثبت دے حقیقة ؟ دویم دا چه معنی لغوی دسجدی څه ده؟ دیکښی دائمه کرامو اختلاف دے، دائمه ثلاثه اوصاحبینو رائي دا ده چه ایة مجمل دےحدیث ئي بیان کړے دے اوخومره احادیث چه په باب دسجده کښی راغلی دی نو د ،،جبهة ،، د ذکرنه خالی ندی او ،،انف،، په شان دتابع ده لهذا دایة کریمه نه مراد هم جبهه شوه،

هرچه معنی لغوی دسجدی ده نودوی وائي چه معنی لغوی دسجدی ،،وضع الجبهة علی الارض،، ده نوکه وضع دجبهه ونه شی دغه سجده و نشوه،

د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ دلیل روایة دبخاری دے چه اقتصار په انف باندی صحیح دے، دابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایة دے په ،،باب السجود على الانف،، کښی عن ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قال قال النبي ﷺ امرت ان اسجد على سبعة اعظم على الجبهة واشار بيدہ على انفه واليدين والركبتين واطراف القدمين ولانكفت الثياب والشعر (صحيح البخاري - ۱۱۰۸۲) نو پوزی ته اشاره وشوه معلومه شوه چه پدی اقتصار صحیح دے،

جوابات هرچه ایة کریمه دے نودغه ایة مجمل ندے بلکه مطلق دےنوحدیث بیان ددے دپاره نشی کیدے، پس معمولی مایطلق علیه السجده پدی شان چه وضع د یوجزء دمخ په زمکه وشی قلیل وی که کثیروی، صغیرجزء وی که کبیروی، نوکافي ده، البته په اجماع دامة سره خد (اننکی) او ذقن (زنه)

خارجه ده دمعنی دسجدی نه نوجبهه، اوانف پاتی شو، پدیکښی چه کوم یو په زمکه کیخودے شی نوسجده متحققه شوه، تائید ددے دپاره مخکښی روایة دابن عباس رضی الله عنه ذکر شوے دے،
هرچه معنی لغوی دسجدی ده نود امام صاحب رضی الله عنه په نیزباندی دغه مخکښی تعریف نده بلکه معنی دسجدی لغة ده,,وضع الوجه علی الارض من غیر سخریة ,, بنا پدی اطلاق د مخ خو په خد، جبهه، انف، ذقن، تولو کیږی خو مراد صرف جبهه اوانف ده، ځکه قیدورسره د ,, من غیرسخریة ,, لګیدلے دے او دخد (اننګی) اوذقن (زنی) په کیخودو کښی خوسخریه وی، نو انف، او جبهه پاتی شو پدیکښي چه کوم یووضع شی سجده به متحقق کیږی،
[تنبیه] اوس په معنی دسجده کښی نورهم ترمیم شوے دے چه,,وضع الوجه علی الارض,, معنی ده ,,کیخودل دمخ په کلک ځیز،، ځکه بعض اوقاتوکښی په زمکه سجده ممکنه نه وی مثلا هوائي جهازکښي څوک سفرکوی اومونځ په جهازکښي کوی، نوزمکه باندی سجده ممکنه نده، بهرحال د امام صاحب رحمه الله دمذهب دپاره تائیدات شته: بعض علماء فرمائي چه امام صاحب رحمه الله دخپل مذهب نه رجوع کړی ده ځکه اکثر روایاتو کښی د سجدے په باب کښی ذکر دجبهة راغلے دے، نو معلومیږی دا چه دتندی لګول ضروری دی او دا به دومره جوښت لګوی چه زورمحسوس کړے شی په تندی کښي ورنه سجده په معمولی بلسولو دتندی سره په زمکه نه کیږی بعض خلق دا احتیاط نه کوی دغه مونځ واجب الاعاده کرځی -والله اعلم

حدیث ۲۹\۱۰۹ ابوحنیفة عن ابی سفیان عن ابی نضرة عن ابی سعید قال قال رسول الله ﷺ الانسان یسجد علی سبعة اعظم جبهته ویدیه ورکبتیه ومقدم قدمیه واذا سجد احدکم فلیضع کل عضو موضعه واذا رکع فلایدبح تدبیح الحمار.

دا حدیث هم مخکښی باب سره متعلق دے چه دغه اندامونه دسجدی پکښی متعین شو،
قوله! فلایدبح تدبیح الحمار: دی ټکره دحدیث کښی هیئة مسنونه درکوع ذکر کوي چه نه خو به سر دیربنکته ساتی اونه به سرنیغ ساتی بلکه دملا سره به هموارروی، او که سربنکته بره ساتی نوداهیئه ئي غلط دے دخر (حمار) سره ددےتشبیه ورکړےشوه، ځکه دخردپاره دوه حالته دی کله چه دے سریږی (واخه خوری) نوسرئي بنکته وی دملانه،اوچه سریږی نه نوسرئي بره وی د ملانه دخردے دواړه حالتونوته،، ,,تدبیع,, وائي ،

باب ما جاء في هيئات السجود

حديث ۲۰\۱۱۱۰ ابوحنيفة عن ابى سفيان عن ابى نضرة قال قال رسول الله ﷺ اذا سجد احدكم فلا يمد رجليه فان الانسان يسجد على سبعة اعظام جبهته ويديه وركبتيه ورجليه وفي رواية اذا سجد احدكم فلايمد صلبه وفي رواية قال نهى رسول الله ﷺ ان يمد الرجل صلبه في سجوده.

دی روایاتوکښی دسجدې هیئات او اداب ذکر کوي چه سجده کښی سړے الټه پروت وی خو دا بـه داسی نه وی چه مکمل پرمخ پریوځی اوخپې ئې شاته غزولی وی. بلکه خپې به راغونډې ساتی، دغه شان اعضاء سبعه به په زمکه ساتی، اوملابه نه راکاږی چه اورده ئې کړی او د سملاستو شکل جوړ کړی، اوسربـه مخکښی طرف ته بوځی، دا اداب داول حدیث نه معلوم شو،

حديث ۲۱\۱۱۱۱ ابوحنيفة عن عكرمة عن ابن عباس قال قال رسول الله ﷺ امرت ان اسجد على سبعة اعظم ولا اكف شعرا ولا ثوبا.

دي روایة کښی نوراداب ذکر کوي ،

قوله! ولااكف شعرا دکف الشعریو مقصد دا چه سړے دخپلو ویختو سره لوبې کوی مثلا په ګوتو سره ئې ګول کړی بیائي خواره کړی، چونکه دایوعبث کار دے نو ندے پکار، دویم: مقصد دا چه په لوشن یا بلـه څه دوائي سره خپل ویخته جوښت کړی چه یوبل پوری انختی وی، دا هم په مانځه کښـی ممنوع ده ، ځکـه ددی راغونډول هم یوعبث کار دے، دریم : مقصد دا چه مثلا یو سړی په مسنونه طریقه ویختـه پریخودی وی اوهغه دسجدې په حالت کښی راخوریکی اودے ئې را غونډوی واپس، دا هم نده پکار پریـدوه چـه دا هم سجده اکړی په خپل حال بان دی، بنا برهرتقدیرداعمل په مونځ مکروه دے روایاتوکښـي ددی ،،کف الشعر،، (چه دیته عقص الشعرهم وائی) وجه دا ذکر شوی ده چه دغه ځائی شیطان کینی،

قوله! ولاثوبا: دکف الثوب مطلب دا دے چه مثلاسجدې له کله سړےځی نوځان پورې دی جامې نه ضم کوی ګنی چه دا به دوړژنی شي، بلکه به خپل حال به وی په زمکه دې لګی خیرد ے، ددینه دامعلومه شوه چه مونځ کښي داسی هیئة جوړول چه دعجزخلاف وی مکروه دے، لکه! نستونړی رانغښل، سرتورمـونځ کول، ویښته راغونډول، جامې دخپل هیئة نـه بـل شـان کـول داټـول مکـروه دی، کـمـا قـال العیـنی! اتفق العلمـاء على النهي عـن الصلاة وثوبـه مشمر او كمـه او راسـه معقـوص او مـردود شـعره تحـت عمامته او نحو ذلك وهو كراهة تنزيه فلو صلى كذلك فقد اساء وصحت صلاته (عمدة القاري ۹/ ۳۲۱)

حدیث ۳۲\۱۱۲ ابوحنیفة عن جبلة بن سحیم عن عبدالله بن عمرقال قال رسول الله ﷺ من صلی فلا یفترش ذراعیه افتراش الکلب.

ترجمة الباب سره متعلق دریم حدیث دے،دا ادب ذکر کوي چه کله یو کس سجده کوی نو داسی به نه کوی چه لاسونه اومتی په زمکه جوښت ولګوی لکه سپے چه څنګه کیني چه دواړه مځکښی خپی چه دمغه بدین ډی په زمکه خواره کړی، بلکه دا به اوچت ساتی ،

باب ماجاء في القنوت في صلوة الصبح

حدیث۳۳\۱۱۳ ابوحنیفة عن حمادعن ابراهیم عن علقمة عن ابن مسعودان النبي ﷺ لم یقنت في الفجر قط الا شهرا واحدا لم یُرقبل ذلک ولابعده یدعو علی ناس من المشرکین.

دوه خبری ضروری دی: یودقنوت معنی، دویم بیان الاختلاف في القنوت،

(۱) دقنوت ګڼړی معانی دی،په معنی دخشوع، عبادة ، طاعت، سکوت، طول القیام، دا معانی مشهوره دی غیرمشهور نوری معانی هم شته ،

(۲) بیان الاختلاف: دی مسئله کښی په ګڼروضریقوسره اختلاف دے،

[۱] اول اختلاف پدیکښی دے چه قنوت مستقله په کوم مونځ کښی دی ؟ پس ددینه چه قنوت في الوتروالصبح دواړه ثبت دی،دوه مذهبه دی،امام مالک، امام شافعي رحمهماالله فرمائي چه مستقل قنوت في الفجردی نه في الوتر، مقصد دا چه په سحرکښی کالوسر قنوت ویلے شی په خلاف د قنوت في الوترامام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ فرمئي چه صرف په رمضان المبارک کښی قنوت في الوتر دی،وامام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمائي چه صرف درمضان په اخره عشره کښی قنوت في الوتر دی،د امام احمدرَحِمَهُ اللَّهُ نه هم یورروایة داسی نقل دے،

د امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ اوامام احمد رَحِمَهُ اللَّهُ (في روایة) مذهب په عکس دمځکښی مذهب دے، یعني قنوت في الوترمستقل دی نه في الفجربلکه په سحر کښی دحالاتو په وجه صرف ویلی شي عام نه.

[۲] اختلاف پدیکښی دے چه قنوت في الفجربلاسببه جائزدی کنه؟دوه مذهبه دی،امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمائي چه قنوت في الفجرمستقل دائمادی که حوادث نوازل وی کنه.

امام صاحب، عبدالله بن مبارک، امام احمدبن حنبل، بلکه اکثرعلماء رَحِمَهُمُ اللَّهُ (په قول د امام ترمذی) فرمائي چه قنوت في الفجربه دسبب په وجه وی بلاسبب نه نشي ویلے.

[۲] ختلاف به ئې کښې دے چه دوترو اوسحرنه علاوه په نورو مونځونو کښې دقنوت څه حکم دے؟ دوه مسلک دی،جمهوروائي چه بقيه مونځونو کښې مطلق قنوت نشته، امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ نه يوروايت نقل دے چه که حادثه وی مسلمانانوته نو په نوروموتخونوکښې هم قنوت ويلے شي ،

دلائل: د امام صاحب دپاره دليل حديث الباب دے چه دواړه خبرې ترينه معلوميږی، يودا چه قنوت في الفجرغيرمستقل دی،دويم دا چه دغه قنوت به په وخت دنوازلو او حوادثو کښې وی بلاسببه به نه وی، د امام شافعي ؓ دليل هغه روايات دی چه نفس قنوت في الفجر ترينه ثابت دی،خو مونږه جواب کوو چې دنفس ثبوت نه نه استقلال ثابتيږی نه اطلاق چه گنی دغه قنوت به مستقلا اومطلقا ويلے شي ،

حديث ۳٤\۱۱٤ ابوحنيفة عن عطية عن ابي سعيدعن النبي ﷺ انه لم يقنت الا اربعين يوما يدعو على عصية و ذكوان ثم لم يقنت الى ان مات:

دادويم دليل دے د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ ددواړوخبرودپاره، البته مخکښې حديث کښې يوه مياشت ذکر وه هته صحابي حذف الكسركړے دے چه لس ورځې دی،دی روايه کښې ورسره کسرهم ذکر شوے دے، **[ملاحظه]** دوترويوره بحث په خپل ځائي راروان دے تفصيل به هلته وشي

باب ماجاء في ترك التورك في الصلوة

حديث ۳۵\۱۱۵ ابوحنيفة عن عاصم عن ابيه عن وائل بن حجر قال كان رسول الله ﷺ اذا جلس في الصلوة اضجع رجله اليسرى وقعد عليها ونصب اليمنى .

رَحِمَهُ اللهُ [۱] **تربع**- په لغتې کيناستل (پرلت وهل)

[۲] **اضجاع القدمين**- چه خپې سملولےشي او په پوندوباندی ناسته وشي ،

[۳] **اقعاء**- يوه طريقه خو دا ده چه دواړه لاسونه په زمکه ولګوی اوملاپری ورښکته کړے شي يعنې ملابرې تکيه کړےشي، دويمه طريقه دا ده چه دسپي پشان کوناتےاوخپې په زمکه ولګوی او زنګونان رجت کړی، اولاسونه مخکښې طرف ته او باسی ،

[٤] **تورك**- ددی دپاره يوه طريقه دا ده چه دواړه خپې ښئ طرف ته بهر وکاږی او په کس کوناتي ناسته وکړے شي کمافي (سنن ابي داود: محقق: ۱ / ۳٦٤) او دا طريقه معمول بها عند الشوافع ده، واذا جَلَس في الرابعة اَخْرَج رِجْلَيْهِ مَعًا من تَحْتِهِ وَافضٰى بِاَلْيَتَيْهِ الَى الارضِ (الام ـ للشافعي - ۱ / ۱۱٦) دويمه طريقه دا ده چه چه ښئ خپه صرف بهرته اوباسي اوګسه خپه د ښئ خپې د پنډئ لاندی کړی او په

کس کوناتي باندی ناسته وکړی (کمافي مسلم عن ابن الزبير)
دریمه طریقه دا ده چه ښیٔ خپه ودروی، اوکسه خپه ترینه لاندی راولی نو هم په څه حصه ددغه خپې اوکس کوناتي باندی ناسته وشي، (کمافي ابی داؤد) او دا طریقه مختاره ده په نیزد امام مالک رَحِمَهُ اَللّٰهُ
[٥] افتراش: چه کسه ښپه خوره کړےشي په هغې باندی ناسته وشي او ښئ خپه بالکل نيغه ودرولے شي چه کوتی ني قبلےته مخامخ کړےشي،
احکم: دمعذور دپاره هره طریقه چه هغه ته اسانه وی جائزده بلا کراهة ، دغیر معذور دپاره اول دری طریقي بالاتفاق مکروهه دی،اوتورک او افتراش بالاتفاق جائزدی خواختلاف په اولویة کښی دے چه څلورمذهبه دی ،
[١] امام مالک رَحِمَهُ اَللّٰهُ فرمائي! چه قاعده که هره یوه (اوله که اخره) وی، تورک پکښی اولی دے کوم چه په دویم روایة د ابوداؤد سره ثابت وو،
[٢] امام شافعي رَحِمَهُ اَللّٰهُ فرمائي:کومه قاعده کښی چه سلام دےهغه کښی تورک اولی دے، او نوروکښی افتراش اولی دے،
[٣] امام احمدبن حنبل رَحِمَهُ اَللّٰهُ فرمائي: چه دوه رکعتونو واله مونځ (لکه دسحربا سفرانه مونځ یادوه رکعته نفلی مونځ) کښی افتراش اولی دے، اودری ۳۱ یاخلور٤١ رکعتونو واله مونځ کښی په اوله قاعده کښی افتراش اواخره کښی تورک اولی دے،
[٤] امام صاحب رَحِمَهُ اَللّٰهُ فرمائي!چه دنارینو دپاره مطلقا افتراش دے او دزنانو دپاره مطلقا تورک دے، وجه دا ده چه دزنانو هرحالت په تستر بنادے او تورک کښی سترزیات دے د افتراش نه په خلاف دسړوچه د دوی عبادات وغیره په علانیت اومشقت بنادی او دا دواړه په افترش کښی دی،حدیث الباب داحناقو دپاره په ناسته دسړو باندی دلیل دے،
حدیث ۳٦\۱۱۶ ابوحنیفة عن نافع عن ابن عمرانه سئل کیف کن النساءیصلین علی عهد رسول الله ﷺ قال کن یتربعن ثم امرن ان یحتفزن.
داودویم دلیل د احنافودے په دویم جزء دمسئلی باندی چه ناسته د زنانو ده په مونځ کښی ،

باب ماجاء في التشهد

حديث ٢٧\١١٧ ابوحنيفة عن ابى اسحق عن البراء عن النبي ﷺ كان يعلمنا التشهد كمايعلم السورة من القران.

دى روياتو كښې دوه خبرې ذكر كوي يو اهمية د تشهد لكه دى اول حديث كښې بيان شو چه داسې تعليم به ئي دتشهد راكوولكه دقران كريم يو سورة اوتعليم د سورة خو اهمية لرى نو تشهد هم اهم شو، دويم رواية ــــ

حديث ٢٨\١١٨ ابوحنيفة عن القاسم عن ابيه عن عبدالله قال علمنا رسول الله ﷺ خطبة الصلوة يعني التشهد.

دبكښې هم اهمية دتشهدته اشاره وشوه چه باقاعده تعليم وو، اوخطبة الصلوة ورته او ويلے شوه.

دويمه خبره: چه دلته ذكر كوي اوقابل غورده نو هغه يوه اختلافي مسئله ده چه دريم رواية كښې ورته اشاره شوې ده.

حديث ٢٩\١١٩ ابوحنيفة عن حماد عن ابراهيم عن ابى وائل شقيق بن سلمة عن عبدالله بن مسعود قال كنا اذا صلينا خلف النبي ﷺ نقول السلام على الله وفي رواية زيادة من عباده السلام على جبريل وميكائيل فاقبل علينا النبي ﷺ فقال ان الله هوالسلام فاذا تشهد احدكم فليقل التحيات لله والصلوة والطيبات السلام عليك ايها النبي ورحمة الله وبركاته السلام علينا و على عبادالله الصالحين اشهد ان لا اله الاالله واشهد ان محمدا عبده ورسوله (الحديث الخ)

دى مسئله كښې اتفاق دے چه تشهد في الصلوة په قاعده اخره كښې واجب دے، البته قاعده اوله كښې اختلاف شته، دامسئله هم اتفاقى ده چه تشهدات ډيردى اوكوم يوچه چا او ويلو واجب اداء شو، خواختلاف پديكښې دے چه كوم يو تشهداولى دے؟ تشهدات ټول تقريبا ٢٤ دى د ٢٤ صحابه كرامونه نقل دى چه نومونه ئي دا دى : تشهد دابن مسعود. ابن عباس. ابوموسى اشعرى. جابر. عمر. ابن عمر. عائشه. سمرة بن جندب. على . ابن الزبير. اميرمعاويه. سلمان فارسى ، ابوحميد ساعدى. ابوبكرصديق. طلحة بن عبيدالله. ابوسعيد خدرى . انس. ابوهريره. فضل بن عباس. ام سلمة . حذيفة . مطلب بن ربيعة . عبدالله بن ابى اوفي. امام حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. درى ٢١ مذهبه دى په اولوية كښې.

[١] امام مالك رَحِمَهُ اللهُ فرمائي چه تشهد دعمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ غوره دے اوهغه امام طحاوى نقل كړےچه يعلم

النَّاس التَّشَهُّدَ على الْمِنبرِ وهُوَ يقُولُ: " قُولُوا: التَّحِيَاتُ لِلّٰه الزَّاكِيَاتُ لِلّٰهِ . الصَّلَوٰاتُ لِلّٰهِ . السَّلامُ عَلَيكَ ايُّهَا النَّبِيُّ..... بيا دغه عام تشهد دے (شرح معاني الاثار - ۱ : ۲٦۱)

[۲] امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمائي :دابن عباس رَحِمَهُ اللّٰهُ غوره دے دبخاری نه علاوه تولو صحاحو نقل کړے دے:عَن ابنِ عبَاسٍ انَّهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ يُعَلِّمُنَا التَّشَهُّدَ كَمَا يُعَلِّمُنَا السُّورَةَ مِنَ الْقُرَانِ فَكَانَ يقُولُ « التَّحِيَاتُ الْمُبَارَكَاتُ الصَّلَوٰاتُ الطَّيِّبَاتُ لِلّٰه السَّلَامُ عَلَيْكَ ايُّهَا النَّبِيُّ.. مخکښې بيا يوشان دے. (صحيح مسلم - ۲ : ١٤)

[۳] امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ اوامام احمدبن حنبل رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمائي ! غوره تشهد د ابن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دے چه کوم حديث الباب کښې ذکر شو،

دلائل- امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ وجه دترجيح داوائي اچه عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دغه تشهد برسر ممبر ويلے دے او چاپرې نكيرندے كړے،

جواب دا دے چه منم چه برسر ممبرويلےشوے دے ليكن دغه رواية موقوف دے نو مقابله دهغه تشهد نشي كولےچه مرفوع رواياتو سره ثابت دے،

امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ وجه دترجيح دا وائي !چه عبدالله بن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اصغرسنا دے نودے ډير اضبط شو،

جواب دا دے چه صغر په اعتباردسن سره هيڅ چاهم سبب دترجيح ندے كرخولے ورنه بيا به په ډيرومسائلوكښې خلقو د ابوبكرعمراوعبدالله بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم خبره ترک كړې وے او د كشرانوصحابه كراموخبره به ئي اغستلے، خو داسې يوخائي هم نده شوى، بلكه دا چه په مسئله دقراءة في الظهر والعصر كښې شوافع پخپله دابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ رواية د ابوقتادة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په مقابله كښې پدى وجه رد كړے دے چه دغه ابوقتادة اكبر سنا دے او ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اصغرسنادے، (انظر شرح المهذب للنووى)

احناف حنابله ترجيح تشهدعبدالله بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ لره وركوى، ددى دترجيح دپاره څه وجوه دى علامه سنبلي رحمه الله تقريبا ۲۲ وجوه ذكر كړې دى، بعض دهغې نه دادى ،

(۱) داتشهدپه صحاح سته كښې په مختلف راوياتوسره په دغه يوقسم الفاظو سره نقل دے، چا هم خلاف ندے كړےدادليل ددےخبرى دے چه دا تشهد ډيرمضبوط دے،

(۲) دا حديث مسلسل باخذاليددےيعنى دومره اهتمام سره نقل شوے دے چه د الفاظو سره سره راوى

فعل د نبي كريم ﷺ هم نقل كړے دے پدې شان چه نبي كريم ﷺ دابن مسعود هغه دعلقمه هغه دابراهيم هغه دحماد او حماد د امام صاحب لاس په وخت دبيان ددغه حديث كښې نيولے وو،

(۳) امام ترمذي فرمائي! والعمل عليه عند اكثر اهل العلم من اصحاب النبي ﷺ ومن بعدهم من التابعين (سنن الترمذي - ۲ / ۸۱) نو دا معمول داكثرينو شو،

(٤) امام ترمذي يوروايه هم نقل كړے! عن معمر عن خصيف قال رايت النبي ﷺ في المنام فقلت يا رسول الله ان الناس قد اختلفوا في التشهد ؟ فقال عليك بتشهد ابن مسعود (حوالہ سابقہ) لا، دادليل ددې دے چه داراجح دے،

(۵) پدې تشهد د ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كښې صيغه دامرده، په خلاف دنورو تشهداتو چه په هغې كښې نفس اخباردے،

(٦) پدې تشهدكښې ,,السلام عليك اوالسلام علينا,, معرف باللام راغلےچه دا مفيد للاستغراق دے په خلاف دهغه نورو چه هغه كښې منكردے،

(۷) پدې تشهد كښې اضافه د ,,واو,, ده ,,والصلوة والطيبات,, كښې هغه نوركښې دا اضافه نشته او دا اضافه غوره ده ځكه داپه جديد كلام دلالة كوي ، نو دا به ځانله ځانله ثناشي ،

[لطيفة] د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ نه يوسړي تپوس اوكړوچه,, بواوٍ او بوا وين,, ؟ امام صاحب جواب وركړو ,,بوا وين,,هغه كس جواب كښې اوويل,,بارك الله عليك كما بارك في لاولا ,, امام صاحب اوويل! امين، سړےلا ړوحاضرين مجلس حيران شو او د امام صاحب نه ئي ددے ماجرى تپوس اوكړو؟ امام صاحب اوويل! دې كس مانه دتشهد په باره كښې تپوس اوكړو چه په دوه ,,واوه,, نقل دے هغه او وايم چه تشهد د ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دے، كه هغه چه په يو ,,واو,, سره ثابت دے دابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه او وايم كوم يوغوره دے؟ نو ما ورته اوويل چه چه واوين واله چه دابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دے ، هغه ماته دعاء اوكړه چه الله دې داسې بركتي كړه لكه دزيتون ونه چه قران دهغې نشاندهي داسې كړې ده ,,شَجَرَةٍ مُبَارَكَةٍ زَيْتُونَةٍ لَا شَرْقِيَّةٍ وَلَا غَرْبِيَّةٍ [النور : ۳۵] ,, نوما امين او ويلو،

[۷] په تشهدابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كښې تاكيد د تعليم دے،چه,,علمني ,,په خلاف د هغه نوروهغه خالي دے دتاكيداتونه،

كتاب كښې تشهدعبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په مختلف طرقوسره نقل دے چه شان ورود د دغه تشهد نه

پکښې هم اشاره وشوه،

باب ماجاء في التسليم

حديث ۱۲۰\٤٠. ابوحنيفة عن حمادعن ابراهيم عن علقمة عن ابن مسعودقال كان رسول الله ﷺ يسلم عن يمينه السلام عليكم ورحمة الله حتى يرى شق وجهه وعن يساره مثل ذلک وفي رواية حتى يرى بياض خده الايمن وعن شماله مثل ذلک.

په اعتبارد حکم سره په سلام کښې اختلاف مخکښې ذکر شوے دے، چه عندالبعض دمونځ نه په لفظ دسلام سره وتل فرض دی،عندالاحناف دمونځ نه په صنع دمصلی سره وتل فرض دی، دويم۲ اختلاف په تعداد دسلام کښې دے چه دوه مذهبه دی:

[۱] امام مالک، حسن بصری، امام اوزاعی رَحِمَهُمُ اللهُ په شيعه کانوکښې فرقه اماميه وائی اچه امام به صرف يوسلام کرځوی تلقاء وجهه، اومقتدی به دری۳ سلامه کرځوی يو مخې ته د امام دپاره دويم دښئ طرف خلقو او فرشتو دپاره، دريم دګس طرف خلقو او فرشتودپاره،

[۲] احناف ، شوافع، حنابله رَحِمَهُمُ اللهُ، بلکه جمهورفرمائي اچه سلامونه دهر چا دپاره (امام. منفرد. مقتدی) دوه\۲ دی ښئ ګس طرف ته، بيا دغه اول سلام واجب دے، اودويم سنة او مستحب دے، ګويه دغه مصلی په تکبير تحريمه سره دمخلوق نه غائب شوےدالله تَبَارَكَ وَتَعَالىٰ دربار ته حاضرشوے وو، نواول سلام به دالله تَبَارَكَ وَتَعَالىٰ د دربارنه د انقطاع او رخصتئ اکری، اودويم سلام به دغه حاضرينو ته دتحيه په طورباندی اکری ،

دلائل: دفريق اول مستدل رواية دعائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دےفرمائي:عن عائشة : ان رسول الله ﷺكان يسلم في الصلاة تسليمة واحدة تلقاء وجهه يميل الى الشق الايمن شيئا(سنن الترمذي-۲۹٦) خو د دينه جواب دا دے چه د.. تلقاء وجهه ,,دامعنی نده چه صرف مخې ته به ئې سلام کرځولوبلکه مقصد دا چه شروع به ئي دمخې نه کوله، اواختتام به ئي په يوجانب کولواود.. تسليمة واحدة ،، معنی دا چه دواړه سلامونو کښې په اعتباردالفاظو سره فرق نه وو، بلکه يو شان سلام وو، علاوه لا دا وايوا چه ددے په سندکښې ..زهير بن محمد.. دے چه په ده کلام شوےچه مناکيررانقل کوی والله اعلم،

دجمهورودپاره دليل حديث الباب دے، حديث نه صفامعلومه شوه چه نبي کريم ﷺ دواړه طرف ته سلام کرځولےدے، او دا هم معلومه شوه چه مقتدی به هم اقتداء د امام کوی نو هغه به هم دوه سلامه کرځوی،

دوپه ذيں د بل روايۀ دے.

حديث ۱۲۱\۱۱ ابوحنيفة عن القاسم عن ابيه عن عبدالله قال كان رسول الله ﷺ يسلم تسليمتين عن يمينه وعن يساره تسليمتين.

حديث پدی خبرہ بكاره دنیں دے چه امام اومقتدی به دوه سلامه كرخوی په عند سره ذكر شوونكى، وجهه سلام هم نشته خكه تصريح وشوه چه دغه سلامين نبی كس طرف ته وو

باب ماجاء في تخفيف الصلوة للامام

حديث ۴۲\۱۲۲ ابوحنيفة عن حمادعن ابراهيم قال كان عبدالله بن مسعود وحذيفة و ابو موسى وغيرهم من اصحاب النبي ﷺ اجتمعوا في منزل فاقيمت الصلوة فجعلوا يقولون تقدم يافلان لصاحب المنزل فابى فقال تقدم انت يا اباعبدالرحمن فتقدم فصلى صلوة خفيفة وجيزة اتم الركوع والسجود فلما انصرف قال القوم لقد حفظ ابوعبدالرحمن صلوة رسول الله ﷺ.

مسئله اتفاق ده چه امام به مونځ كښي تخفيف كوی، البته دواجباتو سنتو او اد ابو خيال به ساتی، مقصد د حديث واضح دے،

باب جواز الصلوة على الحصير

حديث ۴۳\۱۲۲ ابوحنيفة عن ابی سفيان عن جابرعم ابی سعيد انه دخل على رسول الله ﷺ فوجده يصلى على حصير يسجد عليه.

دامسئله هم اتفاق ده چه په چټائي، قالين، جائي نماز، څادر، رومال وغيره هر يا ک خيز باندی مونځ كول جائزدی، دی روايۀ كښی ذكر د حصير دے نوروروایاتوكښی ذكر د بساط، خمار، هم راغلے، خوشرط پكښی دا دے چه سجده پری لګوی نومحسوس كوی به ئی يعنی زور به اخلی،

باب ماجاء في صلوة المعذور والمريض

حديث ۴۴\۱۲۳ ابوحنيفة عن عطاءعن ابن عباس ان رسول الله ﷺ صلى قاعدا وقائما ومحتبنا.

دامسئله هم اتفاق ده چه معذوراوبيماريه كومه طريقه طاقت لری نو په هغه طريقه دی مونځ اكړی، عمل دنبی كريم ﷺ دجوازدپاره دليل دے چه نبی ﷺ دعذر په وجه په ناسته، او د احتباء په شكل (چه په كوناتوكينی اوزنكونان نيغ ودروی لاس ترينه تاؤ كړی، ياد ملانه كپړه تاؤكړی اوزنكونان پری وتړلی) مونځ كړے دے ، هغه عذرڅه وو؟ را روان حديث كښی دهغی بيان دے،

حديث ۱۲٤\٤٥ ابوحنيفة عن ابى سفيان عن الحسن ان رسول الله ﷺ صلى محتبنا من رمد كان بعينه.

حديث کښې بيان دهغه عذر دے چه دنبي ﷺ په ستره باندې درد وو، کله چه يوسړے د احتباء په شکل باندی ناست وی نوسترګی له زورنه څي، په باقي هيئاتوکښې ستره درد منده کيږی ،،رمد،، دسترګی دردته وائي. و الرَّمَدُ بالتحريك : هَيَجَانُ العَيْنِ وانتفاخُها . (تاج العروس من جواهر القاموس- ۸ / ۱۱٦)

حديث ۱۲۵\٤٦ محمدبن بكيرقاضى الدامغان قال كتبت الى ابى حنيفة في المريض اذا ذهب عقله كيف يعمل به في وقت الصلوة فكتب الى يخبرنى عن محمدبن المنكدر عن جابربن عبدالله قال مرضت فعادنى النبي ﷺ ومعه ابوبكر وعمر وقد اغمى على في مرضى وجاءت الصلوة فتوضارسول الله ﷺ وصب على من وضونه فافقت فقال كيف انت ياجابرثم قال صل ماستطعت ولوان تومى.

دسابقه باب سره دا حديث هم متعلق دے چه معذور په کومه طريقه کيدے شي مونځ دی کوی، بيا د ذهاب العقل نه بې هوشي مراده ده نه جنون، ځکه مجنون خومرفوع القلم وی، هغه ته حکم دمونځ متوجه نوی.

فوائدالحديث: حديث نه دامعلومه شوه چه که لوئ فقيه ولی نه وی خوچه يوه مسئله ورته معلومه نوی نودبل فقيه نه دی په تپوس کولو کښې شرم نه کوی دغه محمدبن بکير رَحِمَهُ اللهُ قاضی دےخو چه مسئله ورته نده معلومه نود امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ نه په تپوس کولوکښې شرم نه کوی،

دويم: دا هم معلومه شوه چه مجيب ديوےخبری جواب ورکوی نومدلل جواب به ورکوی، لکه امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ چه حديث سره جواب ورکړو،

دريم: معلومه شوه چه دمريض عيادة کول سنت عمل دے اوعبادة دے،

څلورم: معلومه شوه چه مونځ اهم عبادة دے په مرض سره هم نه ساقطيږی که په ولاړه نشی په ناسته او که په ناسته نشی په اشاره دی کوی ،

باب من احق بالامامة

حديث ۱۲٦\٤٧ ابوحنيفة عن حمادعن ابراهيم عن علقمة عن عائشة ام المؤمنين قالت لما اغمى على رسول الله ﷺ قال مروا ابابكر فليصل بالناس فقيل ان ابابكر رجل حصر وهوبنفسه يكره

ان يقوم مقامك قال افعلوا ما امركم به.

امامة يومنصب دے او په نولومنصبونوکښې اوچت منصب دے، ددې دپاره د اوچت ..... عقل مني بيا داهم عقل سلموی چه دیراولی په استاذنوکښې ..... دی ..... کښې ..... کس چه نبي کريم ..... نه ..... وی، اوس نبي ..... نه چه ..... نو نه علومو سره نه چه به مال وغيره سره، بيا په علومو کښې اهم علم دقران کريم دے، نو نه ..... محکمي کول هم عقل مني. بيا يو دقران کريم لفظ دی ددی صحيح اداء کونکي نه اقرا وائي، دوهم دقران کريم معني ..... يوهه نه اعلم وائي، اوس امامة خو بلا کراهته دا دواړه کولے شي خودی ..... حق ..... دے؟ دوه مذهبه دی.

(۱) امام احمد، امام ابويوسف، اسحاق، ابن سيرين رَحِمَهُمُ اللهُ فرمائي چه احق بالامامة اقرء دے.

(۲) احناف او جمهور رَحِمَهُمُ اللهُ فرمائي چه احق بالامامة اعلم دے.

دلائل: دفريق اول دپاره دوه دليله دی، عقلی، نقلی عقلی ..... دے چه قراءة ..... رکن دے رکوع سره چه دغه رکن په صحيح طريقه اداء کولے شي نو هغه احق دے چه امامت کړی.

نقلی: دليل في رواية دمسلم شريف دے عن ابي مسعود الانصاري قال قال رسول الله ..... يوم القوم اقرؤهم لكتاب الله فان كانوا في القراءة سواء فاعلمهم بالسنة فان كانوا في السنة سواء فاقدمهم هجرة فان كانوا في الهجرة سواء فاقدمهم سلما ولا يومن الرجل الرجل في سلطانه ولا يقعد في بيته على تكرمته الا باذنه قال الاشج في روايته مكان سلما سنا اصحيح مسلم .....

داحناف و دپاره هم دوه قسمه دليله دی، عقلی دليل (او دا به جواب دهغو دعقلي دليل هم شي) ..... دے چه دقراءة تعلق ديو رکن سره دے او د علم تعلق دکل رکنو سره دے، نو ..... سره ..... حق دے.

نقلی دليل حديث الباب دے، چه نبي کريم ..... ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته حکم کړے د امامة ورکولو سره ددې ..... چه د نبي ..... دقول موافق ،،اقرا،، په صحابه کرامو کښې ابی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دے، اوس که اقرا حق بالامامة وے نونبي ..... به ابی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته حکم کړے وے، او په اتفاق د امة سره ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اعلم دے او اقرا نه دے خکه بيا تکذيب لازميږی په قول دنبي ..... کښې، معلومه شوه چه اعلم احق بالامامة دے نه اقرا.

جوابات: دفريق اول دعقلي دليل نه جواب په ضمن کښې وشو، دنقلي دليل نه يو جواب دا شوے دے چه

دنبي ﷺ اوصحابه کرامو په دورکښي هر اعلم اقرا اوهراقرا اعلم وو، ليکن دا جواب ضعيف دے ځکه که داسې شي نو بيا دابي رضي الله عنه تخصيص بے فائده گرځي اونبي ﷺ عبث خبرى نه کوى، بلـه دا چه په حديث دمسلم شريف کښي تقسيم شوے دے چه د اقرا په مقابله کښي ئې اعلم ذکر کړے دے، اوس که مساوات بينهما په صحابه کرامو کښي نو ذکر د اعلم روسته داقرا نه مستدرک گرځي اوکلام دنبي ﷺ د مستدرکاتونه هم پاک دے، اصل جواب دا دے چه دغه کلام نبي کريم ﷺ په ابتدائي اوقاتو کښي کړے وو، ځکه په صحابه کرامو کښي علماء زيات وو ليکن د قراء کمے وو، نو ترغيبا نبي کريم ﷺ داقرا دمخکښې کولوحکم اکړو، خوکله چه قراء زيات شو، نو دغه خبره نبي ﷺ په عمل سره بدل کړه چه اعلم ته ئي حکم دتقديم اکړو سره دوجود د اقرا نه او دا اخري حکم دنبي ﷺ دے چه بيا پکښې نسخه نده راغلې.

حديث ۱۳۷\۴۸ ابوحنيفة عن حمادعن ابراهيم عن علقمة عن عائشة ام المؤمنين قالت لما اغمى على رسول الله ﷺ قال مروا ابابکر فليصل بالناس فقيل له يارسول الله ان ابابکر رجل حصر وهو يکره ان يقوم مقامک فقال مروا ابابکر فليصل بالناس ياصويحبات يوسف وکررا.

دا حديث هم دفريق ثاني مستدل دے،چه اعلم احق بالامامة دے،

قوله! ياصويحبات يوسف: مقصد ددے جملےنه تشبيه ورکول دى دحالت دامهات المؤمنين دغه زنانوسره چه زليخې راغوښتلےوى دپاره ددے چه معذوره وګڼړلےشي زليخه په محبت ددى کښي ديوسف عليه السلام سره، خو هغه خزودزليخې دمعذوره ګڼړلو په ځاي د زليخې سره په طلب دهغه فعل کښي چه هغې ديوسف عليه السلام نه کوو موافقت اکړو، دغه شان تاسومه کوئ اےامهات المؤمنين چه د ابوبکر رضي الله عنه سره دهغه په وينا کښي اتفاق کوئ چه دهغه خبره په ما باندى تسليم کړئ، ترجمة الباب سره مطابقت ظاهر دے،

دويم مقصد دا چه مراددصويحبات يوسف نه دا چه.. انهٗ من کيدکنّ انّ کيدکُن عظيمٌ [يوسف ۲۸] (ملا علي قاري رحمه الله)

دريم: مقصد دا چه' تاسو هغه جنس ئي چه په يوسف عليه السلام ئي زندگي ګډه وډه کړى وه په ملامتيا او تشويشاتوکښي ئي اچلولےوو، حتی چه هغه جيل له ترجيح ورکړه، هم پدغه وجه ئي صويحبات جمع کړه ځکه جنس ته پکښې اشاره ده، (عمدة القاري ۸ / ۳۳۵)

دحديث نه ورسره يوه بله خبره هم معلومه شو چه دنبي ﷺ دامريه خلاف باندي ځوک اصرارکوی هغه ته به رجرورکولےشی، ځکه چه ناروا عمل دے ځان ترینه ساتل پکاردی ،
ورسره دا هم معلومه شوه چه ځنکه ابوبکر رضی الله عنه د امامة صغری مستحق دے، نو د امامة کبری مستحق هم دا دے،

باب صلوة القائم خلف القاعد

حديث ٤٩١١٢٨ ابوحنيفة عن حماد عن ابراهيم عن الاسودعن عائشة ان النبي ﷺ لمامرض المرض الذى قبض فيه خف من الوجع فلما حضرت الصلوة قال لعائشة مرى ابابكرفليصل بالناس فارسلت الى ابى بكر ان رسول الله ﷺ يامرك ان تصلى بالناس فارسل اليها انى شيخ كبير رقيق وانى متى لاارى رسول الله ﷺ في مقامه ارق لذلك فاجتمعى انت وحفصة عندرسول الله ﷺ فيرسل الى عمرفيصلى بهم ففعلت فقال رسول الله ﷺ انتن صواحب يوسف مرى ابابكر فليصل بالناس فلما نودى بالصلوة سمع النبي ﷺ المؤذن وهو يقول حى على الصلوة فقال رسول الله ﷺ ارفعونى فقالت عائشة قدامرت ابابكر ان يصلى بالناس وانت في عذر قال ارفعونى فانه جعلت قرتى عينى في الصلوة قالت عائشة فرفعت بين اثنين وقدماه تخدان الارض فلماسمع ابوبكر نحس رسول الله ﷺ تاخر فاوما اليه رسول الله ﷺ فجلس النبي ﷺ عن يسار ابى بكروكان النبي ﷺ حذاءه يكبر ويكبر ابوبكر بتكبير النبي ﷺ ويكبر الناس بتكبير ابى بكرحتى فرغ ثم ماصلى بالناس غيرتلك الصلوة حتى قبض وكان ابوبكر الامام والنبي ﷺ وجع حتى قبض.

مسئلة صلوة القائم خلف القاعد هم اختلافي ده، درى ۳مذاهب دى پکښى، تفصيل ئې دا دے سره ددلائلونه

[۱] امام مالک رحمه الله اوامام محمد رحمه الله فرماني! چه دقائم مونځ په قاعدپسی مطلقا نه کیږی دلیل ئی دا حدیث دے؛عن جابر عن الشعبي قال قال رسول الله ﷺ لا يؤمن رجل بعدي جالسا (مصنف عبد الرزاق - ۲: ٤٦٣)

[۲] امام ابویوسف رحمه الله، امام احمدبن حنبل رحمه الله فرماني؛چه دقائم مونځ په قاعد پسی جائز دےلیکن دغه مقتدیان به هم په ناسته ورسره مونځ کوی، برابره ده که چا ته عذرشته او کنه، بیاامام احمد رحمه الله فرماني، که دابتدا نه امام معذوره وی نومقتدیان به ورسره وجوبا کینی او که په مینځ دمونځ کښی امام ته

عذر راغلو اوکیناستلو نوبیا دمقتدیانو اختیار دےخکه شروع اماه قائما کړی ده نوخه پاک نشته که ودریږی دوی، اوامام ابویوسف رَحِمَهُ اللهُ فرمائی ' چه په مینخ کښی عذرراغلو بیا به هم مقتدیان د امام سره لازما کیني، دلیل ئي حدیث دانس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دے: انما جعل الامام لیؤتم به فاذا صلی قایما فصلّوا قیاما (صحیح البخاري ۳ ۹٤)

[۳] امام ابوحنیفة ،امام شافعي سفیان ثوری رَحِمَهُمُ اللهُ فرماني'چه قائم په قاعد پسي اقتداء کولے شي، اوناسته به هم غیرمعذورنه کوی بلکه وجوبا به قائما اقتداء کوی دلیل حدیث الباب دے، چه نبي ﷺ ناست وو او ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اونورصحابه کرام ولاړوو او دا اخری مونځ دنبي کریم ﷺ وو لکه چه حدیث کښی تصریح ده نودا ناسخ دهغه نورو شو،

جوابات امادلیل دفریق اول، نودهغی نه جواب دا دے چه' دغه حدیث ضعیف دے، هرچه دلیل دفریق ثاني دے دهغی جواب دا دے' چه دغه حکم په ابتدا کښی ووبیا منسوخ شوځکه دا اخرے فعل دنبي کریم ﷺ دے کوم چه دی حدیث کښی بیان شو،

فواند: حدیث نه چندمسائل معلومیږی، **یو**: دا چه ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دنورو صحابه کرامونه احق بالامامة الکبری والخلافة دے اکه ځنکه چه دے احق د امامت صغری دے.

دویم: احق بالامامة به اعلم وی نه اقرا ،کمامر في الباب السابق،

دریم: دا چه اقتدا د فاضل په مفضول پسی جانزده ځکه نبي کریم ﷺ خو ددے دپاره راغلے وو چه د ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه شاته مونځ اکړی دا خو جدا خبره ده چه هغه روسته شو،

څلورم: معلومه شوه چه دشارع دحکم په خلاف اصرارکول ناروا کار دے،

پنځم:دا هم معلومه شوه چه کنږه وی نومقتدی د امام په جنب کښی هم ودریدلے شي که یووی نوز ... طرف ته به ودریږی ،

شپږم: دا چه د امام اوازخلقوته نه رسیږی نومقتدی تکبیرخلقوته په جهر سره ویلےشی ،

[انتباه] البته دی کښی دا احتیاط ضروری دے چه مکبربه په تکبیرتحریمه کښی د تکبیرد اعلام سره سره دخپل تکبیرتحریمه نیت هم کوی که صرف داعلام دخلقونیت ئي اکړو نه د تکبیرتحریمه خپل نو نه دده مونځ وشوانه پده پسی داقتداء کونکومونځ وشو، البته که تکبیرات الانتقالات کښی صرف داعلام نیت اکړی نوخه حرج نشته،

دویم دغه مکبربه دمونځ نه دبهر سړی په ویناتکبیر نه کوی چه مثلاامام رکوع ته سکته کیدو جه او نه اکبروچه، ،فلانکیه الله اکبرپه زوره وایه،، اوس که دغه مکبردمنادی داواز په وجه امتثالا للامرتکبیر په زوره اوویلو نو د مکبر مونځ فاسد شو او د ښاته خلقو مونځ هم فاسد شو، د مکبر مونځ خو ځکه فاسد شو چه ده فتح د غیر مصلی واغسته، او د اقتدا کونکو ځکه چه ددغه مکبر مونځ فاسد شو نود دوی اقتدا هغه پسی غلطه شوه کنه ،،انتهی،،

اووم: دا هم دحدیث نه معلومه شوه چه دبدن هغه دوه اندامونه چه دهغی په مینځ کښی تلازم وی دهغی نه په مفرد لفظ سره تعبیرکولےشی لکه دلته ،،قرة عینی ،، ذکر وشو،

باب ماجاء في امامة الخسيس

حدیث ۱۱۲۹: حماد عن ابيه عن ابراهيم قال يوم القوم ولد الزنا والعبد والاعرابی اذا قرا القران.

خسیس هغه چاته وائي چه عام طوردخلقو په نظرکښی کمزورے ښکاری، یو هغه خسیس دے چه اوچت عالم وی هغه که عبددے، که اعرابی وغیره دی، د هغه امامة خو بلا کراهة جائزدے، دویم هغه خسیس دے چه هغه ته څه حصه دقران کریم خو یاده ده خو پوره عالم ندے، د ده امامة جائز دے خومع الکراهة، حدیث الباب کښی ددغه دویم قسم خسیس د امامة تذکره ده اوحدیث موقوف دے، وجه دنفس جواز د امامة ني دا ده چه په ذات د دغه افرادو کښی څه کمے خو نشته لکه ولد الزنا دے نو نقصان خو دهغی دمور دے نه ددغه ولد، دغه شان عبد او اعرابی پسی مونځ جائزدے، وجه د کراهة ني دا ده چه ولدالزنا په نظر دخلقوکښی حقیر ښکاری نومونځ کښی توجه نه برابربری، اوعبد چونکه په خدمت دمولی کښی اکثر مشغول وی نو په احکامو او مسائلو ني علم نه وی، او اعرابی کښی هم جهل اوحماقت زیات وی او مسائلو نه ناخبره وی، ځکه اکثره تعلقه ددوی دڅاروو سره وی، پدی وجه مونځ پسی مکروه دے.

باب ماجاء في اقتداء المراة بالرجل

حدیث ۱۱۳۰: ابوحنيفة عن الهيثم عن عكرمة عن ابن عباس ان النبي ﷺ صلى برجل فصلى خلفه وامراة خلف ذلك صلى بهم جماعة.

مسند اتفاقی ده، حدیث دلیل دجواز دے، البته طریقه دصف جوړولونی دا ده چه که دغه مقتدی بو وی نو ... په یوځائی ولاړوی او زنانه به دمقتدی نه روسته وی، اګر که بواځی وی، ځکه محاذات ... مونځ دسړو فاسد وی.

باب ماجاء في فضيلة تسوية الصفوف

حديث ۱۳۱:۵۲ ابوحنيفة عن عطاء بن يسار عن ابی سعيد الخدری قال قال رسول الله ﷺ ان الله وملائكته يصلون على الذين يحلون الصفوف.

صف برابرول په مونځ کښې ضروري دی البته په حکم د دے کښې اختلاف دے،

[۱] امام ابوحنيفة رَحِمَهُ ٱللَّهُ، امام مالک رَحِمَهُ ٱللَّهُ امام شافعي رَحِمَهُ ٱللَّهُ فرماني چه تسويه د صفوفو في الصلوة سنة مؤكده دی په اكدالمؤكد سره،

[۲] امام احمدبن حنبل رَحِمَهُ ٱللَّهُ فرماني چه تسويه واجب ده، بغير د تسويه نه مونځ واجب الاعاده دے،

[۳] اهل ظواهر واني چه تسوية الصفوف في الصلوة فرض ده، بغيرددينه مونځ دسره کيږی نه، د امام احمد رَحِمَهُ ٱللَّهُ او اهل ظواهرو دپاره دليل روایة د بخاری دے په روایة د نعمان بن بشير رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ بان دی،قال النبي ﷺ لتسون صفوفكم او ليخالفن الله بين وجوهكم (صحيح البخاري ۱۴۲۱۳) داسی وعيد په ترک دفرض یاواجب کښې راځي نه په ترک دسنتو کښې، جمهور جواب ورکوی چه داسی وعيد کله په ترک دسنت کښی هم راځي چه دغه ترک په وجه دسستی سره وی ځکه دغه اهانة دسنة دے، حديث الباب کښی نفس فضيلة د صفوفو د برابرولو دے،

باب ماجاء في فضيلة صلوة الفجر والعشاء بالجماعة

حديث ۱۳۲\۵۳ ابوحنيفة عن عطاء عن ابن عباس قال قال رسول الله ﷺ من شهد الفجر و العشاء في جماعة كانت له براءتان براءة من النفاق وبراءة من الشرک.

وجه دتخصيص ددے دوه مونځونو دا ده چه دا دواړه مونځونه په داسی وخت کښی ادا کيږی چه ديکښی حاضری لکه ګرانه وی، سحرکښی دخوب غلبه وی اوماسخوتن کښی دستړی والی او ستوماني غلبه وی

حديث ۱۳۳\۵۴ ابوحنيفة عن عطاء عن ابن عباس عن رسول الله ﷺ قال من داوم اربعين يوما على صلوة الغدوة والعشاء في جماعة كتب له براءة من النفاق وبراءة من الشرک.

حديث کښی ددغه دوه تړوانو چه ورکړے کيږی به مصلي ته په دغه دوه مونځونو باندی دهغي دوخت تحديد خودلے شوے چه څلويښت ورځی به دا پابندی کوی.

باب ماجاء في ترخيص الخروج للنساء

حدیث ۵۵\۱۳٤ ابوحنیفة عن حمادعن ابراهیم عن الشعبی عن ابن عمران النبيﷺ رخص في الخروج لصلوة الغدوة والعشاء للنساءفقال رجل اذا یتخذونه دغلا فقال ابن عمراخبرک عن رسول الله ﷺ وتقول هذا.

مسئله اتفاقي ده چه زنانه په دی دوه وختونو کښی خصوصا اوعام مونځونو کښی عموما د جمع دمونځ دپاره جمات ته تلےشي، حدیث هم په دغه غرض سره راوړے شوے دے،

[تنبیه] دنبی کریمﷺ په زمانه کښی زنانه دمونځ دپاره مسجدته بې شکه چه تلې دی،البته نبی کریمﷺ پخپله ترغیب دوتلو ندے ورکړے، بلکه ترغیب ئي دنه وتلو ورکړے دے، لکه حدیث کښی راځی چه دزنانه مونځ په کور چه خومره دننه وی هغه د بهر مونځ نه بهتردے په داخل د کمره کښی مونځ دزنانه دصحن اوبرامدی دمونځ نه غوره دے او په برامده کښی مونځ کول دبهرچار دیوالئ دمونځ نه بهتراوغوره دے.د ابوداو د روایة دے ؛ عن عَبْدِ اللّٰهِ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ « صلاة المرأة فی بیتها افضل من صلاتها فی حجرتها وصلاتها فی مخدعها افضل من صلاتها فی بیتها ». (سنن ابي داو د ۱/ ۲۲۳) اوس داترغیب نبی کریم ﷺ په مکه یامدینه کښی ورکړےچه مسجدحرام کښی یومونځ په بولاکه او مسجد نبوی کښی یومونځ په پنځوس زره دے. نودعامو جماتونو فیصله پخپله پکارده، دویم دا چه دغه رخصت د پابندئ سره وو چې بافرده به وی، دریم دا چه دغه رخصت په عام مونځونو کښی علی الاعلان نه وو بلکه صرف دسحر ماسخوتن په مونځ کښی وولکه دی روایة کښی ظاهره ده، څلورم دا رخصت دعامو زنانو دپاره نه بلکه دعجائزو دپاره وو لکه نورو روایاتو کښی راځی، پنځم هغه زمانه زمانه دخیر وه، فتن نه وو، کله چه فتن زیات شو بیا به هغه چاهم منع کولی چه حدیث دهغوی نه نقل وو، څکه دا رخصة یو په روایة دعائشه رضي الله عنها اودویم په روایة دابن عمر رضي الله عنه باندی نقل دےحالانکه عائشے رضي الله عنها به په پخپله په اخری عمرکښی ویل چه که په موجوده وخت کښی نبی ﷺ دخزوحالت لیدلےوے نوچری به ئي هم رخصت نه وےورکړے،؛ عَنْ عمرة بنت عَبْدِ الرَّحْمٰنِ انها اخبرته انّ عائشة زوج النَّبِيِّ ﷺ قالت لو ادرک رسول اللّٰهِ ﷺ ما احدث النساء لمنعهن المسجد کما منعه نساء بنی اسرائیل. قال یحیی فقلت لعمرة امنعه نساء بنی اسرائیل قالت نعم. (سنن ابي داو د ۱ ۲۲۳)اوابن عمر رضي الله عنه به د جمات په جهت ناست وو او کومی زنانه چه به جمات ته راتلې هغه به ئي په کتو وشتلې چه دجمات نه توری شي،

زندي نو خبرونه نه معلومه شوه چه رخصت شته دهغي نه نکار نشته خو د زړنو کور کښي مونځ کول

زیات ښه دي د جماعت د مونځ نه

فوائد: خبرک عن : مقصد د چه د حدیث په مقابله کښي د ته رائي مه پیش کوه

باب ماجاء في الصلوة بحضرة الطعام

حدیث : ابوحنیفة عن الزهری عن انس بن مالک قال قال رسول الله ﷺ اذا نودی بالعشاء

واذن المؤذن فابدءوا بالعشاء.

مسئله خو اتفاقي ده چه د خوړو وجود تو به بناء د جمع مونځ ترک کولے شي، یو سبب پکښي خوراک هم

دے، بیا په دے کښي څه دے؟ څکه د هر قسم خوراک په وجه ترک د جمع جماعة جائز ندے نو په علة د

دیکښي اختلاف دے د یمه کړمو،

[۱] امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ د دےعلة قلة طعام وائي چه خوراک کم وی که دے په مونځ مشغولیږی نو خلق

ئي ترینه ختموی، دا دی په مثل بندی نور اسباب هم شته مثلا بزار کښي یوشی که دے او دیو طرف ده په

خوراک رکښي رغبے که په جمع مشغولیږی نو هغه ختمیږی نو جمع ترک کولےشی، معلومه شوه که

خوراک زیات وی نو ترک الجماعة جائز ندے،

[۲] امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ ورله علة فقروائي چه داسړے محتاج اوفقیر دے که دغه وخت دے خوراک

ونکړی یا حصول د طعام ونکړی نو بیا ورته نه میلاویږی یامیلاویږی خو په قیمت میلاویږی او د ده

طاقت د غستو نشته: معلومه شوه چه یوسړے محتاج ندےنو هغه دپاره ترک د جماعة جائز ندے،

[۳] امام وکیع رَحِمَهُ اللّٰهُ ورله علة فساد د طعام وائي، چه که دے په مونځ کښي مشغول شي نو طعام داسې

طعام دے چه په وخت تیریدلو سره خرابیږی مثلا سړیږی یاوراتیږی نو جماعة ترک کولے شي البته کوم

خوراک چه نه خرابیږی نو ترک د جماعة جائز ندے،

[۴] امام ابوحنیفة رَحِمَهُ اللّٰهُ او امام احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ ورله علة انتشار الذهن او شغل القلب وائي، او دا په وخت

د جوع او لوږه کښي کیږی، چه سړے وږے دے که په مونځ مشغول شي نو توجه ئي نه برابریږی نو اول دی

خوراک مونږ کړی، د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ مشهوره مقوله ده: ..لان یکون اکلی کله صلوة احب الی من ان

یکون صلاتی کلها اکلا.. معلومه شوه چه یوسړے موړ دے هسي اضافي خوراکه ده یا توجه د ده خوراک ته

نشته دهغه دپاره ترک الجماعة جائز ندے،

۵ امام طحاوی رحمه الله فرمائي چه دغه حکم فقط د صبا د پاره دے، په نورو مونځونو کښې نه دے.
نبي ﷺ د سحری د ... چه ... د عشاء.. ذکر راغلے چه د مسجد ... والي، د دے نه معلومه شو، چه رمضان شریف کښې د مسجد مونځ به وختي سره ... چه خلق روژه مانه کړی او سحر ی مونځ به ... ، هم دغه قول ... عمل عام احناف کوی چه رمضان المبارک کښې د مسجد مونځ به ... کوی. ليکن عمو ورځو کښې تعجيل ... د مسجد به مونځ کښې حکمه چه ... دے.

باب من ادرك الجماعة بعد ماصلى في بيته

حديث ٥٧/١٣٦ ابوحنيفة عن الهيثم عن جابربن الاسود اوالاسودبن جابر عن ابيه ان رجلين صليا الظهر في بيوتهما على عهدالنبي ﷺ وهمايريان ان الناس قدصلوانه اتيالمسجدفاذا رسول الله ﷺ في الصلوة فقعدا ناحية من المسجد وهما يريان ان الصلوة لاتحل لهمافلما انصرف رسول الله ﷺ وراهما ارسل اليهما فجيي بهم اوفرائصهما ترتعد مخافة ان يكون قدحدث في امرهما شي فسالهما فا خبراه الخبر فقال اذا فعلتما ذلك فصليا مع الناس واجعلا الاولى هي الفرض وقدروى هذالحديث جماعة عن ابي حنيفة عن الهيثم فقالوا عن الهيثم يرفعه الى النبي ﷺ

كه چه يوسرے فرض مونځ خانله اكړی او بياجماعة لاندی كړی نوحديث يدی خبره كښې ظاهردے چه دغه مونځ كښې ددغه جماعة سره شركة كولے شي، ليكن به كوم فرض مونخونو كښې شركة كولےشي اوكوم كښې نه؟ مسئله كښي اختلاف دے، دری مذهبه دی .

(۱) امام شافعي، امام احمد، سفيان ثوری، اسحق بن راهويه رحمهم الله فرمائي چه به ټولو مونخونو كښې شركة كولےشي، دليل ورلره رواية دترمـذي دے. حدثنا جابر بن يزيد بن الاسود [العامري] عن ابيه قال : شهدت مع النبي ﷺ حجته فصليت معه صلاة الصبح في مسجد الخيف [قال] فلما قضى صلاته وانحرف اذا هو برجلين في اخرى القوم لم يصليا معه فقال على بهما فجيء بهما ترعد فرائضهما فقال ما منعكما ان تصليا معنا ؟ فقالا يارسول الله انا كنا قد صلينا في رحالنا قال فلا تفعلا اذا صليتما في رحالكما ثم اتيتما مسجد جماعة فصليا معهم فانها لكما نافلة (سنن الترمذي ۱ - ۴۲۴)

البته دماښام په مونځ كښې به ورسره د امام شافعي اواحمد رحمهما الله به نيز هيڅ نه ضم كوی بلكه دغه دری ركعته به نفل شي، اوسفيان ثوری رحمه الله فرمائي چه يوركعت به ورسره يوځائي كړی چه ... شي

شي خکه دری رکعته نفل نشته،

[۲] امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمائی: په خلورومونخونو کښې په امام پسې دغه سرے اقتداء کولےشی، د ماښام په مونځ کښې به اقتداء نه کوی خکه چې د امام خلاف لازمیږی که څلوررکعته کوی، یا نفل دری۳ رکعته جوړیږی او دا دواړه باطل دی،دلیل روية دابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دے، عَنْ نَافِعٍ . انَّ عَبْدَ اللّٰهِ بن عُمَر كان يقول : من صلّى المغربَ او الصبحَ . ثمّ ادركهما مع الامام . فلا يَعُدْ لهما.(الموطاروایة یحي بن یحي اللیثي الاندلسي ۱۹٤)

بیافرماني قال مالك : ولا ارى باسًا ان يصلّي مع الامام من كان قد صلّى في بيته . الا صلاة المغرب فانّه اذا اعادها . كانت شفعًا. (الموطاروایة یحي بن یحي اللیثي الاندلسي:۱۱ ۱۹۵)

[۳] امام ابوحنیفة رَحِمَهُ اللّٰهُ فرماني:چه صرف دماسپخين اوماسخوتن مونځ کښې دوباره اقتدا کولےشی باقی دری مونخونو کښې نشي کولے، د ماسپخين مونځ کښې خو دا حديث دليل دے، او دماسخوتن پری قیاس دے علة مشترکه پکښې دا دے چه د دی دواړومونخونو روسته نفل کيدے شی، اودسحراوماښام مونځ کښې دمنع دپاره حديث مذكوره د ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مستدل دے او مازیګر مونځ کښې منع عن الاقتدا قیاس ده په سحر باندی، علة د دواړومشترک دے چه روسته ترینه نفل جائزن دی، نو دغه دوه مونځونه پاتی شو، احتیاط هم پدیکښې دے،

قوله ! واجعلا الاولى هي الفرض: پدی مسئله کښې هم اختلاف دے چه کوم یو مونځ به دغه دواړوکښې فرض اوکوم یونفل شو؟ جمهورروائي:چه دغه اول مونځ به فرض اوثانی به نفل شي، یوه شرزمه قلیله وانی ' چه اول نفل ثانی به فرض حسابیږی، دجمهورو دپاره دليل حديث الباب دے، چه حد دشهرت ته رسیدلے دے،

ابواب الجمعة عن رسول الله ﷺ

ددې ظاهر دے خکه صلوة الجمعة هم دمونخ يوقسم دے چه په مدينه منوره کښې ئې وجوب راغے، ددغې احکام اومسائل بيانيږی،

باب الغسل للجمعة

حديث ۵۸۱/۱۳۷ ابوحنيفة عن يحيى عن عمرة عن عائشة قالت كانوا يروحون الى الجمعة و قدعرقوا وتلطخوا بالطين فقيل لهم من راح الى الجمعة فليغتسل وفي رواية كان الناس عمار ارضهم وكانوا يروحون يخالطهم العرق والتراب فقال رسول الله ﷺ اذاحضرتم الجمعة فاغتسلوا:

غسل دجمعې په ورځ څه حکم لری ؟مسئله کښې اختلاف دے، دری۳ مذهبه دی.

[۱] داؤد ظاهری وائي چه غسل دجمعه واجب دے، علامه ابن قيم رَحِمَهُ اللّٰهُ هم دغه قول کړے وئي چه غسل دجمعې دوترمونځ نه هم زيات مؤکد دے [۲] جمهوروائي غسل دجمعې سنة دے.[۳] امام محمد رَحِمَهُ اللّٰهُ وائي چه حسن دے.

دلائل: د اهل ظواهرودپاره دليل هغه روايات دی چه په امرباندی مشتمل دی دغسل دجمعې په باره کښې. لکه حديث الباب شو، يارواية دبخاری عن عبد الله بن عمر رضي الله عنهما ان رسول الله ﷺ قال اذا جاء احدكم الجمعة فليغتسل (صحيح البخاري ۳ ۳۹۰) شو، دريم رواية د شيخينو په روية د ابوسعيدالخدری فرمائي: انّ رسول الله ﷺ قال غسل يوم الجمعة واجب على كل محتلم (صحيح البخاري ـ ۳ / ۳۹۲)

جواب: جمهورفرمائی چه دغه امر برائي استحباب دے، اوهرچه دويم رواية د وجوب على كل محتلم دے. نودغه غسل په خاص حالت باندی بنادے چه هغه احتلام دے، او داخو اتفاقي مسئله ده، يا په ابتداء د اسلام کښې دغه غسل واجب وو، خکه صحابه کرام د طهارة سره عادی نه وو، بيا دغه وجوب منسوخ شو، او دا دنورو رواياتو نه معلوميږی چه صحابه کرام په ابتدئ دورکښې په عربت کښې وو، دوړی جامې به وې، کار به ئې کولو دبدن نه به خوله وتله، اوجمعې په ورځ به يه جمات کښې ګڼړه هم وه، مسجد سوی وړوکے وو، خلقو ته به د بدبوئي په وجه تکليف وو، نو خکه دغه غسل د يوم الجمعة واجب وو، که چه فراختياراغله نو هغه علة ختم شو، حکم د وجوب هم ختم شو.

حديث ۵۹/۱۱۳۸ ابوحنيفة والمسعود ومحمد بن بشر كلهم عن نافع عن ابن عمر ان رسول الله ﷺ قال الغسل يوم الجمعة على من اتى الجمعة :

غسل الجمعه په باره کښې دوېم بحث دا دی چې کښې اختلاف دی چې دا غسل ليوم الجمعه دی که لصلوة الجمعه دی؟ په دې کښې دوه قولونه دي.

(۱) امام محمد رحمه الله او داؤد ظاهري او په روايت د حسن بن زياد سره د امام صاحب رحمه الله قول دا دی چې دا غسل د يوم الجمعه دپاره دی، ځکه دا ورځ سيد الايام ده، ددې د شرافت دپاره داغسل مسنون دی،

(۲) امام ابويوسف رحمه الله او جمهور وائي چې داغسل لصلوة الجمعه دی، ثمره داختلاف دا ده که يوکس په صبحولو نه روسته غسل اوکړي او هم په دغه غسل سره د جمعې مونځ اداء کړي نو د دواړو مذهبونو په مطابق بالسنه دی، او که د غه وخت غسل اوکړي خو بيا اودس مات کړي او د مونځ د جمعې دپاره صرف اودس اوکړي نو بنا په اول مذهب اتى بالسنة دی نه په بنا د مذهب ثاني، او که د صلوة الجمعه نه لږ مخکښې غسل اوکړي او هم په دغه غسل مونځ اداء کړي نو بنا په مذهب ثاني اتى بالسنه دی نه بنا بر مذهب اول، البته که پس د صلوة الجمعة نه غسل وشي نو اتفاقا اتى بالسنة نشو، بهر حال دوه حالته داتفاق شو او دوه حالته اختلافي، ترجيح مذهب د جمهورو او د امام ابويوسف رحمه الله لره ده، حديث الباب کښې ،، على من اتى الجمعة ،، ئي تائيد کوي، ځکه جمعې ته چې څوک راځي نو د صلوة الجمعه دپاره راځي نور د جمعې ورځ خو هر ځاني کښې وي، دويم علة د غسل دپاره دا دی چې د خلقو نه بدبوئي خيږي نو تکليف وی عام خلقو ته دا تکليف د جمعې په مونځ کښې جوړيږي،

باب ما جاء في جلوس الامام قبل الخطبة

حديث ۶۰/۱۱۳۹ ابوحنيفة عن عطية عن ابن عمر قال كان النبي ﷺ اذا صعد المنبر يوم الجمعة جلس قبل الخطبة جلسة خفيفة .

مسئله اتفاقي ده مسنون عمل دی چې امام لږ شان کيني بيا دخطبې دپاره اودريږي،

باب ما جاء في ان الخطبة قائما

حديث ۶۱/۱۱۴۰ ابوحنيفة عن حماد عن ابراهيم ان رجلا حدثه انه سال عبدالله بن مسعود عن خطبة النبي ﷺ يوم الجمعة فقال اما تقرا سورة الجمعة قال بلى ولكن لا اعلم قال فقرا عليه واذا راوا تجرة او لهوا انفضوا اليها وتركوك قائما

دی مسئله کښی هم اتفاق دے چه خطبه په ولاړه وی داتیوس خکه شوے دے چه روسته پکښی خلقوبدعات اومحدثات ایجادکړی وودبنوامیة په دور حکومة کښی او په ناسته به ني خطبه کوله دتیوس مقصد هم دغه دے چه دا یه ولاړه پکارده که په ناسته؟ جواب دلیل سره میلاؤ شو،

باب مایقرابه في صلوة الجمعة

حدیث ٦٢\١١٤١ ابوحنیفة عن احمدبن محمدبن اسمعیل الکوفي عن یعقوب بن یوسف بن زیاد عن ابی جنادة عن ابراهیم عن سعیدبن جبیر عن ابن عباس ان النبيﷺ کان یقرافي یوم الجمعة سورة المنافقین.

حدیث کښی دجمعی په مونځ کښی دمسنون قراءة تذکره ده، البته دغه سورتونه لازم ندی ګنړل پکاربلکه کله کله ترک ددغه سورو اودنورو ویل هم پکاردے،

حدیث ٦٣\١١٦٢ ابوحنیفة عن ابراهیم عن ابیه عن حبیب بن سالم عن النعمان بن بشیرعن النبيﷺ انه کان یقرافي العیدین ویوم الجمعة سبح اسم ربک الا علی وهل اتاک حدیث الغاشیة .

دا حدیث هم دسابقه باب سره متعلق دے، مسنون قراءة دنبیﷺ دا هم وو، معلومه شود چه نبیﷺ یځیله هم همیش ګیری نده کړی په قراءة د یو سورة باندی ،

حالات راوی نعمان بن بشیر رضي الله عنه: نوم نسب ئي دا دے، نعمان بن بشیربن سعدبن ثعلبة الانصاری الخزرجی صحابی ابن صحابی دے، دهجرة نه څوارلس میاشتی بعدپیدا شوے، په انصارو کښی اول مولود بعد الهجرة دے، لکه چه عبدالله بن زبیر رضي الله عنه په مهاجرینوکښی اول مولود بعد الهجرة دے، دنبی کریم ﷺ دوفات په وخت کښی دده عمراته ٨ کاله او وه ٧ میاشتی وو، شام کښی دحمص ګورنریانی شوے، بیاورته دکوفي ګورنری میلاو شوه، په زمانه د مروان کښی بیاحمص ته اوغوښتلےشو، او په ٦٠ ھ کښی په حکم دمروان باندی هلته حمص واله شهید کړو (معرفة الصحابه ـ ١٨ ، ٣٣٢) دی کتاب کښی دده کل روایات څلوراځ نقل دی

باب ماجاءفي فضیلة لیلة الجمعة

حدیث ٦٤\١١٤٣ ابوحنیفة عن قیس عن طارق عن ابن مسعودقال قال رسول الله ﷺ مامن لیلة جمعة الاوینظرالله عزوجل الی خلقه ثلاث مرات یغفرالله لمن لایشرک به شینا.

دحدیث مقصدواضع دے، دشرک قباحة هم دحدیث نه سرګندشو، او دا هم معلومه شوه چه شرک

ملانوبه نه معاف کیږی کمافي[النساء ٤٨]

باب ماجاء في فضيلة يوم الجمعة

حدیث ٦٥\١١٤٤ ابوحنيفة عن الهيثم عن ابی هريرة قال قال رسول الله ﷺ من مات يوم الجمعة وُقي عذاب القبر.

مقصد دحدیث واضح دے، يو بل روایة کښې دافضيلة دليلة الجمعة هم وارد دے، خو دا خبره د ياد قابله ده چه دا فضائل دمرګ دی په ليلة الجمعة يا يوم الجمعة کښې د دفن ن دی،ځکه موت فعل غيراختياری د عبد دے، اودفن فعل اختياری دعبادو دے، اوس که دا فضيلة د دفن شي نو بيا خوبه خلق دفن دغه شپې ورځې ته حصاروی، نو دهر چا وقاية به د عذاب قبرنه راځي، او داسې خونده بلکه داالله تَبَارَكَوَتَعَالَى خوښه ده چه چاله عذاب ورکوی اوچاله نه،

ابواب العيدين

باب ماجاء في ترخيص الخروج للنساء الى العيدين

حدیث ٦٦\١١٤٥ ابوحنيفة عن حمادعن ابرهيم عمن سمع ام عطية تقول رخص للنساء في الخروج الى العيدين حتى لقد كانت البكران تخرجان في الثوب الواحد حتى لقدكانت الحائض تخرج فتجلس في عرض الناس يدعون ولايصلين.

مسئله اتفاق ده دزنانوخروج دعيدينو دپاره جائزدےخود ستر اهتمام به وی، لکه چه دحديث الباب نه واضح ده، په زمانه دنبي کريم ﷺ کښې دومره اهتمام وو چه چاسره به اضافي جامه نه وه نو رخصت دےفردګی نه وو بلکه دبلې زنانه سرحبه په جامه کښې پټيدله، دويم دنبي کريم ﷺ په زمانه کښې به اکثرزنانه دتعليم تعلم په نيت داسې مجالسو ته حاضريدلے او د دعاء دپاره لکه دا هم دحديث نه واضح ده،

حالات راويه ام عطية رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: ام عطية بنت كعب الانصارية ،خپل نوم ئې نسيبة بنت كعب ده، دکبار صحابياتو نه ده، دنبي کريم ﷺ سره په ډيرو غزوات کښې دمريضانو اوزخميانودخدمت دپاره او هغوته دعلاج معالجې دپاره شامله شوی ده، جنګ خيبرته هم حاضره شوی ده، غاسله دمړو زنانوهم وه، ډيرخدمات ئې وو، بصره کښې اوسيدله (معرفة الصحابة لابي نعيم -٦٠/ ٣٤٥٥) دی مسندکښې ئې دوه٢١ روايته دی ،

حديث ١١٤٦\٦٧ ابوحنيفة عن عبدالكريم عن ام عطية قالت كان يرخص للنساء في الخروج الى العيدين من الفطر والاضحى وفي رواية قالت ان كان الطامث لتخرج فتجلس في غرض النساء فتدعو في العيدين (الحديث الخ)

حديث دسابقه باب سره متعلق دےاودهغې تفصيل دے پکښې ،

باب ماجاء في النهى عن التنفل في المصلى

حديث ١١٤٧\٦٨ ابوحنيفة عن عدى عن سعيدبن جبيرعن ابن عباس ان النبي ﷺ خرج يوم العيد الى المصلى فلم يصل قبل الصلوة ولابعدها شيئا.

مسئله اتفاق ده چه عيدګاه کښې دنارنه زنانؤدپاره داخترډمونځ نه مخکښې روسته هيڅ قسم نفل جائز ندى ځکه په اعمالوکښې طريقه دنبي کريم ﷺ ضرورى ده، کوم عمل چه نبي کريم ﷺ ندےکړے نودغه عمل عمل صالح ندے، معلومه شوه چه هر يو عمل چه انسان ته به عمل ښکارى دا به هله بنه عمل اوصالح عمل وى چه په طريقه درسول ﷺ وى، امّا داخبره چه کورکښې داختر په ورځ دنفلوځه حکم دے؟ نو دسرو دپاره قول فيصل دا دے چه په کورکښې هم په دغه ساعت وخت کښې نفل د دوى دپاره جائزندى نه قبل صلوة العيد اونه بعدها،

ابواب السفر

باب القصرفي السفر

حديث ١١٤٨\٦٩ ابوحنيفة عن محمدبن المنكدر عن انس بن مالک قال صلينا مع رسول الله ﷺ الظهر اربعا والعصر بذى الحليفة ركعتين.

په سفرکښې قصردمونځ بالاتفاق ثابت دے، البته اختلاف په ديکښې دے چه قصر عزيمة دے که رخصة دے؟

[۱] جمهورصحابه کرام، جمهوراحناف ، مواليک، اوامام احمد (في رواية) فرمائي چه په سفر کښې قصرفي الصلوة عزيمة دےاوپوره مونځ کول مکروه دى په کراهة تحريمى سره اوکونکے ئې ګنهګاردے،

[۲] امام شافعى رحمه الله فرمائي قصرفي الصلوة رخصة دےاو اتمام عزيمة دے،

دلائل: د امام شافعى رَحِمَهُ ٱللَّهُ دپاره اول دليل داايه کريمه دے وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِى ٱلْأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَقْصُرُوا۟ مِنَ ٱلصَّلَوٰةِ إِنْ خِفْتُمْ أَن يَفْتِنَكُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِنَّ ٱلْكَٰفِرِينَ كَانُوا۟ لَكُمْ عَدُوًّا

مُبِينًا (سُورَةِ النِّسَاءِ) نفي دجناح كښې اشاره ده ديته چه قصر رخصة دے نو اتمام عزيمة شو،

دويم دليل عمل دعائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا او د عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دے چه هغوئ به په سفر د حج كښې اتمام كولو چه روسته دعثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دعمل تذكره راروانه ده،

داحنافو اوجمهورو دپاره مشهوردليل رواية دعائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دے، عَنْ عَائِشَة قَالَتْ فُرِضَتِ الصَّلَاة رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ فِى الْحَضَرِ وَالسَّفَرِ فَاقِرَّتْ صَلَاةُ السَّفَرِ وَزِيدَ فِى صَلَاةِ الْحَضَرِ. (سنن ابي داود:١١٤٦٤)

معلومه شوه چه قصرفي السفراصل اوعزيمة دے، دويم دليل حديث الباب دے، چه په مدينه منوره كښې نبي كريم ﷺ د ماسپخين مونځ څلور ركعته اكړو اوكله چه په سفر روان شونو په ذوالحليفة كښې چه (دا په لاره راځى) دمازيګرمونځ ئې دوه ركعته اكړو كه قصر- عزيمة وى نونبي كريم ﷺ به پرى عمل كړے وے كنه؟

دحديث نه دا هم معلومه شوه چه مسافردفناءالمصر نه اووتلونو قصر كولے شى اواحكام دسفر ورته متوجه شو اګر كه منزل ته نوى رسيدلے، دريم دليل....

حديث ٧٠\١١٤٩ ابوحنيفة عن حماد عن ابراهيم عن علقمة عن عبدالله بن مسعود قال كان رسول الله ﷺ يصلى في السفر ركعتين و ابوبكر وعمر لايزيدون عليه.

معلومه شوه چه قصرعزيمة دے كنه نبي كريم ﷺ اودى جليل القدرصحابه كرامو به اتمام كولے،

جوابات د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ د اول دليل نه چه اية كريمه ني استدلال كښې پيش كړے وو جواب دا دے چه ..**لاجناح**.. په اتفاق د مفسرينو باندى دپاره د تطييب دخاطر دصحابه كرامو ويلے شوے او ددے نظير شته په كتاب الله كښې الله تَبَارَكَ وَتَعَالَى فرمائي، اِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِن شَعَآئِرِ اللَّهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ اَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ ان يَطَّوَّفَ بِهِمَا وَمَن تَطَوَّعَ خَيْرًا فَاِنَّ اللَّهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ .. (سُورَةِ الْبَقَرَة) دلته هم دا قيد بالاتفاق معتبرندے بلكه سعى دصفا مروه واجب ده بالاتفاق نودلته هم قصر واجب دے،

هرچه رواية دعثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دےنودهغى نه جواب په دى دريم رواية سره به وركړےشي ،

حديث ٧١\١١٥٠ ابوحنيفة عن حمادعن ابراهيم عن علقمة عن عبدالله انه اتي فقيل صلى عثمان بمنى اربعا فقال انالله وانا اليه راجعون صليت مع رسول الله ﷺ ركعتين ومع ابى بكرركعتين ومع عمر ركعتين ثم حضرالصلوة مع عثمان فصلى معه اربع ركعات فقيل له استرجعت وقلت ماقلت ثم صليت اربعا فقال الخلافة ثم قال وكان اول من اتمها اربعابمنى .

عمل دعثمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ خو دغه شولیکن فقیه عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ پری نکیر اکړو پاتی شوه دا چه بیاني پسي ولی مونځ اکړو؟ دهغی جواب پخپله هغه اکړوچه ..الخلافة .. ددی یو مقصد دا دے چه که ما دعثمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ خلاف کولے نو چونکه دےخوخلیفه وونوبیا په امر د خلافة کښی بکړاؤ راتلو او د انتشار في الناس اوبغاوت یره وه، چونکه دامسئله داصولو سره تعلق نه ساتی بلکه دفروعی احکامو او اعمالوسره تعلق ساتی اوفقیه سړے همیشه دپاره په فروعی احکاموکښی دخلقو داتفاق اواتحاد خیال ساتی، لاکبعض الناس، فافهم "

دویم مقصد ..دالخلافة .. دا دے چه عثمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ پسی اقتدا د یوتاویل په بنیاد ماکړي ده چه هغه تاویل هغه دخلافة دوجه نه کولو، هغه تاویل یو دا دے چه عثمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ به ویل چه څه خلیفة اوامیرالمؤمنین یم اوخلیفة په منزله دپلارروی درعیت دپاره، اوپلار چه د هر بچی سره وی نو دےمتاهل دے پوره مونځ به کوی لهذا که څه په هربنارکښی یم پوره مونځ به کوم،

دویم تاویل به ني داکولوچه داموقع دحج وه، اوحج ته د دنیادهرکوټ نه به خلق راتلل چه په هغی کښی به نومسلم هم وو بیا خاصکریه زمانه د عثمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ کښی ډیربلاد فتح شوی وو، اوس که په خلیفة ا وامیر المؤمنین پسی هغوی د څلور رکعاتوواله مونځ دوه رکعته کړے وے نو بیا به دغه نومسلم خلقو هم دغه دوه رکعته گنړلے، او په خپلوعلاقوکښی به ني هم دوه رکعته کولے، او دلیل به ئی د خلیفة المسلمین مونځ په منی کښي پیش کولے، نود مسلمانانو په مینځ کښی اختلافات جوړیدل چه خلیفه دغه مونځ دوه رکعته کړےاوتاسوني څلورکوئ؟ نوعثمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د خلافة خیال وساتلواودغه نقصان د دفعیه دپاره ئي د دوه رکعته په ځائي څلور وکړه،

دریم تاویل دا هم کیدے شي ،چه عثمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ متاهل في المدينة والمكة دواړه وو، او کله چه یوسړےدوه ځایه مقیم وی نو په دواړه ځایه کښی به پوره مونځ کوی، پاتی شود عائشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا عمل نودهغی هم دغه تاویل دے چه چونکه هغه ام المؤمنین ده په نص قران کریم باندی نو هغه گویه په هر ځائي کښی متاهله وه نوځکه ني پوره مونځ کوو،

ابواب الوتر

پوهه شه چه په وترکښی په گنړوجهاتوسره اختلاف دے:

- په حکم شرعی ددی کښی چه دا واجب دی ،که سنت، که فرض دی ؟
- په توقیت کښی چه ددی دپاره متعین وقت شته که نشته؟

- په قضاء د دی کښی چه قضاء ددی شته که دعامو تطوعاتو غوندی قضاء نه لری ؟
- په تعداد د رکعات الوتر کښی ؟
- دغه رکعات الوتر به وصلاوی که فصلا یعنی په یوسلام به وی که په سلامینو؟
- په محل د قنوت کښی چه قبل الرکوع به وی که بعد الرکوع؟
- په قنوت کښی چه دا به ټول کال ویلے شی او که په څه حصه دکال کښی ؟
- په کلماتو د قنوت کښی هم اختلاف دے چه کوم الفاظ به ویلےشی ؟

ضروری نده چه دغه ټول اختلافات دلته بیان کړےشی ،البته ځنې اختلافات به دلته بیانولے شی ،

باب مااستدل به علی وجوب الوتر

حدیث ۷۲۱۱۵۱ ابوحنیفة عن حماد عن مجاهد انه صحب عبدالله بن عمر من مکة الی المدینة فصلی ابن عمر علی راحلته قبل المدینة یؤمی ایماء الاالمکتوبة والوتر فانه کان ینزل لهما عن دابته قال فسالته عن صلاته علی راحلته ووجهه الی المدینة فقال لی کان رسول الله ﷺ یصلی علی راحلته تطوعا حیث کان یؤمی ایماء .

په حکم شرعی دوترو کښی اختلاف دے دوه مذهبه دی،

[۱] ائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ فرمائي:چه وترسنة مؤکده دی به اکد المؤکدسره،

[۲] د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ نه په مختلف روایاتوسره دفرضیة ، سنتیة ، وجوب اقوال نقل دی،لیکن عندالاحناف وترمونږ واجب دے، د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ د اقوالو تطبیق داسې شوے دے، چه وترفرض دی عملا، واجب دی اعتقادا، اوسنة دی ثبوتا،

دلائل دائمه ثلاثه دپاره مختلف دلائل دی،مشهوربو دلیل حدیث دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دےفرمائي:عن سعید بن یسار قال : کنت [امشي] مع ابن عمر في سفر فتخلفت عنه فقال این کنت ؟ فقلت اوترت فقال الیس لك في رسول الله اسوة ؟ رایت رسول الله ﷺ یوتر علی راحلته (سنن الترمذي ۲ / ۳۳۵) او داخو اتفاقی مسئله ده چه واجب به سورلۍ باندی نه کیږی ،البته سنن نوافل اداکیدے شی ، معلومه شوه چه وتر سنت دی، دویم دلیل ئي قول د علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دے چه چا ترینه تپوس اکړو د وترو د حکم په باره کښی هغه جواب ورکړوچه: الوتر لیس بحتم کهیئة الصلاة المکتوبة ولکن سنة سنها

رسول الله ﷺ (سنن الترمذي ٢ ، ٣١٦) داروایة روستہ دالفاظو د تغیر سرہ را روان دے هلته به جواب وشی،

داحنافو دپارہ هم ډیردلائل دی چه یودهغی نه حدیث اول دباب دےاودی سره به داول دلیل دانمه ثلاثہ نه جواب هم وشی ،چه ګوره ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دسورلئ نه کوزیدلو، پاتی شو عمل دنبی کریم ﷺ چه هغه په سورلئ وتر کړی دی دهغی جواب دا دے: چه ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نقل دیوی واقعی اویو حال کړے دے چه لاعموم لها ممکنه ده چه دنبی کریم ﷺ عمل بناوی په عذر باندی اودعذر سره خوفرض هم په دابة باندی کیدےشي، مثلاباران دے ختې خاوری دی یابله ګندګی ده،

دویم داتاویل هم کیدے شی چه نبی کریم ﷺ ممکنه ده وتر علی الدابة قبل التغلیظ کړی وی اوابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ هم دهغه حالت نقل کړےوی، ځکه چه دا ځنګه کیدے شی چه یوعمل دنبی کریم ﷺ ده خپله لیدلےاونوروته هم دهغی ترغیب ورکوی او بیا پخپله دهغی خلاف کوی ؟

حدیث ۷۳۱۱۵۲ ابوحنیفة عن ابی یعفورالعبدی عمن حدثه عن ابن عمرقال قال رسول الله ﷺ ان الله زادکم صلوة وهو وتر وفي روایة ان الله افترض علیکم وزادکم الوتروفي روایة ان الله زادکم صلوة وهی الوتر فحافظواعلیها.

داداحنافودپارہ دویم دلیل دے په وجوب دصلوة الوتربان دی،طریقه داستدلال دا ده چه دی حدیث کښی د ،،زیادة ،، لفظ راغلےاودهغی نسبة الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ ته شوے دےنه چه نبی کریم ﷺ ته، بناپدی پکارده چه وتر فرض شی ځکه دکوم شی زیادة چه الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ اکړی هغه فرض وی، خو چونکه ثبوت ئې په سنة رسول ﷺ سره وشو نه په کتاب الله سره نوموږه ئې درجه لږه ځکته کړه چه وجوب دے،

دویم دا چه تطوعات محصورالعدد نه وی اودلته داوتر محصور العدد دی معلومه شوه چه داواجب دی سنت ن دی،ځکه چه محصورالعدد فرائض اوواجبات وی، (انظرحاشیة سنبلی رحمہ اللہ)

دریم دا چه دلته دی مونږ ته نسبت دزیادة شوے دے چه منسوب دے مکتوباتو ته اوزائددجنس دمزیدعلیه نه وی، خو دغه زیادت ثابت په حدیث سره شوځکه ورته مونږه واجب وایو

څلورم دا چه دلته ،، فحافظواعلیها ،،امردےاومطلق امردپارہ دوجوب وی ،

حدیث ۷۴۱۱۵۳ ابوحنیفة عن ابی اسحق عن عاصم بن ضمرة قال سالت علیا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عن الوتر احق هوقال اماکحق الصلوة فلاولکن سنة رسول الله ﷺ فلاینبغی لاحد ان یترکه.

داحنافو دپاره دریم دلیل دے په وجوب دصلوة الوتر، او د ائمه ثلاثه د دلیل ثانی نه جواب دے، چه دسنت مقصد دا دے چه ثابت به سنه رسول ﷺ دے او اخر کښی واٸي.. فلاینبغی لاحد ان یترکه .. داسی تغلیظ په تطوعاتو او نوافلو کښی نه وی، ددینه علاوه نور هم ډیر دلائل دی چه محشی علامه سنبلی رَحِمَهُ اللَّهُ نقل کړی دی،چه بعض کښی د وترو د ترک په باره کښی ډیر تغلیظ راغلے دے چه داسی تغلیظ په ترک دواجب کښی راځی نه دسنتو کښی، هم د دغه کثرة د ادلهٔ په وجه باندی چه دمذهب حنفي تائید کوی د غیرمقلدینو مشر عالم جناب نواب صدیق حسن خان صاحب دا اقرار کړے چه دوترو په باره کښی د امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ قول دوجوب راجح دے (انظر هدية السائل : ٢٥٩)

خو دا نزاع لفظی ده اصل اختلاف پدیکښی دے چه ایه صلوة وتر اوصلوة اللیل یو دی او که جداجدا؟ ائمه ثلاثهٔ ئي یوکړی نوصلوة اللیل خوسنت دے نو وترهم سنت شو، احناف ئي جدا کړی اومستقل حکم ئي کړی نو واجب شو، مذهب داحنافوراجح دے لکه شاه انورشاه کشمیری رَحِمَهُ اللَّهُ ددی تائیدات پیش کړی دی فرمائي! وان في ايقاظ النبيِّ ﷺ اهلَهٗ للوتر دون صلاة الليل. والامرِ باداءها في اوّل الليل لِمَنْ لا يَثِقُ بالانتباه في اخر الليل. وايجاب القضاء على مَن فاتته. وافرازها بالقراءة . وتعيين وقتها وركعاتها لَاياتُ دالَّة على الوجوب. واتفقوا على عدم جواز تَرْكِها ايضا. فحينئذ لم يبق نِزَاعٌ الا في اطلاق لفظ الوجوب. وهذا كما ترى مما لا ينبغي فيه النزاع. (فيض الباري ٣/ ١٨٢)

باب ماجاء في ان الوتر ثلاث ركعات

حديث ٧٥\١٥٤ ابوحنيفة عن حمادعن ابراهيم عن الاسود عن عائشة قالت كان ﷺ يوتربثلث يقرافي الاولى سَبِّحِ ٱسۡمَ رَبِّكَ ٱلۡاعلَى وفي الثانية بقُل يَاۤيُّهَا ٱلۡكَفِرُون وفي الثالثة بقُل هُوَ ٱللَّهُ احَدٌوفي رواية كان رسول الله ﷺ يقرا في الركعة الاولى من الوتربام الكتاب وسَبِّحِ ٱسۡمَ رَبِّكَ ٱلۡاعلَى وفي الثانية بام القران و قُل يَاۤيُّهَا ٱلۡكَفِرُونَ وفي الثالثة بام الكتاب وقُل هُوَ ٱللَّهُ احَدٌ وفي رواية ان رسول الله ﷺ كان يوتربثلث.

مسئله کښی اختلاف دے، دائمه ثلاثهٔنه دیونه واخله تراوه٧١ رکعاتوپوری تعداد باندی اطلاق دوتر راغلےدےسره ددینه چه دا به په سلامینو سره وی . تفصیل ئی دا دے:

[١] امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ فرمائي! یورکعت وترمکروه دے، چه مخکښی تربنه مونځ نه وی بلکه اول به دوه رکعته په یوسلام سره اکړی بیا به یورکعت جدا یواځی اکړی، وقال مالك: لا ينبغي لاحد ان يوتر

بواحدة ليس قبلها شيء لا في حضر ولا في سفر. ولكن يصلى ركعتين ثم يسلم ثم يوتر بواحدة.
(المدونة الكبرى ١ ٢١٢)

[٢] امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ نه مختلف اقوال نقل دی يو قول دا دے چه يورکعت وتر جائز دے اگر که مخکښې ترينه رکعتين نوی، دويم قول د امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ غوندی کوی، دريم قول چه دري رکعته علي سلام واحد دی،

[٣] امام احمدبن حنبل رَحِمَهُ اللَّهُ فرمائي چه دری رکعته وتراولی دی او يو رکعت هم جائزدے،

[٤] سفيان ثوری رَحِمَهُ اللَّهُ فرمائي چه وتر ديورکعت نه واخله تر يولس١١ رکعاتو پوری هرطاق عدد کښې جائزدی، بهرحال دا معلومه شوه چه نورو مذاهبو واله په څه نه څه حصه کښې په يورکعت وتر قائل دی،

[٥] امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللَّهُ فرمائي چه وتردری ٣ رکعته دی او په يوسلام دی، او يو رکعت وترناجائز دے،

دلائل: دائمه ثلاثه دپاره مشهور دليل حديث دبخاری شريف دے: عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ ﷺ صَلَاةُ اللَّيْلِ مَثْنٰى مَثْنٰى فَاِذَا اَرَدْتَ اَنْ تَنْصَرِفَ فَارْكَعْ رَكْعَةً تُوتِرْ لَكَ مَا صَلَّيْتَ (صحيح البخاري ١/ ٧٣)

داحنافو و دپاره يودليل اول حديث الباب دے چه ددينه يو استدلال په بيان العدد سره دے چه نبی کريم ﷺ به دری رکعات کول، دويم په تعداد د سورتونو سره چه دری٣ سورتونه به ئې پکښې ويل چه دهغې تعين په حديث کښې وشو، ددی سره سره مسنون قراءة دصلوة الوتر هم معلوم شو،

حديث ٧٦\١٥٥ ابوحنيفة عن زبيدبن الحارث اليامی عن ابی عمرعن عبدالرحمن بن ابزی قال كان رسول الله ﷺ يقرافي وتره سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰى وقُلْ يٰاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ في الثانية وقُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ في الثالثة وفي رواية ان النبي ﷺ كان يقرافي الوتر في الركعة الاولى سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰى وفي الثانية قل للذين كفروا يعنى قُلْ يٰاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ فهكذافي قراة ابن مسعود وفي الثالثة قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ (الحديث الخ)

دادويم مستدل د احنافودے چه په مخکښې دوه طريقوسره د دينه استدلال نيول کيږی، او ..كان.. ئې ويلے چه مفيدللاستمراردے، ددينه علاوه نور روايات هم شته چه احناف ترينه دليل نيسی په تثليث درکعات الوتر، من جمله دهغې نه يو روايه د امام نسائی رَحِمَهُ اللَّهُ دے: عن محمد بن علي بن عبد الله بن عباس عن ابيه عن جده قال: كنت عند النبي ﷺ فقام فتوضا واستاك وهو يقرا هذه الاية حتى

فرغ منها { ان في خلق السماوات والارض واختلاف الليل والنهار لايات لاولى الالباب} ثم صلى ركعتين ثم عاد فنام حتى سمعت نفخه ثم قام فتوضا واستاك ثم صلى ركعتين ثم نام ثم قام فتوضا واستاك وصلى ركعتين واوتر بثلاث (سنن النسائي ٣ ٢٣٧) قال الشيخ الالباني : صحيح'
ددينه علاوه تشبيه دصلوة الوتردصلوة المغرب سره هم په رواياتوكښي شته لكه په مصنفه دابن شيبه كښي دي ' عَنْ عَبْدِ الرَّحْمنِ بْنِ يَزِيدَ . قَالَ : قَالَ عَبْدُ اللهِ : الوِتْرُ ثَلاثُ رَكَعَاتٍ كَصَلاةِ الْمَغْرِبِ. (مصنف ابن ابي شيبة ٢/ ٢٩٣) دا هم دليل د تثليث الوتردے، په دی مصنف كښی نور هم په ګڼرتعدادسره روايات نقل دی

جوابات:هرچه دليل دفريق اول دے چه ..فاركع ركعة ،، يا .. اوتربواحدة .. وغيره دی نو دهغی نه جواب دا دے چه، اصل خبره دا ده چه دصلوة الليل اطلاق په قيام الليل (تهجد) او په صلوة الوتر دواړوباندي راغلےدے، دنبی كريم ﷺ د شپې مونځ عام طوردوه دوه ركعته وولكه چه په رواياتوسره ثابته ده، بيا هغه اخری دوه ركعته سره به ئې يوركعت ضم كړونوټول مونځ به ئې وتر كړو حالانكه وتربه دری٣ ركعته اخری وو، خونسبت دوترو به دغه ټول مونځ ته وشو، هم دغه وجه ده چه دنبی كريم ﷺ په صلوة الليل دصلوة الوتر اطلاق ددری ٣ نه واخله تر١٧ ركعاتو پوری شوے دے، دهغې طريقه دا وه چه نبی كريم ﷺ به دبيداريدلونه پس اودس اكړو بيا به ئې دوه ركعته لنډ اوخفيف دتحية الوضوء اكړه بيا به ئې اته٨ ركعته طويل اكړه چه په هردويم ركعت به ئې سلام ګرځولو، عمومی تهجد دنبی كريم ﷺ هم دغه وو، لكه عائشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا فرمائي:فلاتسال عن حسنهن وطولهن (الحديث) بيا به نبی ﷺ دری ركعته وتراكړه، دا به دريالس١٣ ركعات شوبيا به دوترونه پس نبی ﷺ دوه ركعته كول اكثر په ناسته، چه نبی كريم ﷺ به فارغيدلو نوسحر به ختلے وو، نبی كريم ﷺ به سمدست ركعتين د سحر اكړه په مختصرانداز كښي، بيا به ئې لكه ډېره ولكوله، داټول ١٧ ركعات شوبعض راويانودغه ټول ركعات په صلوة الليل كښی حساب كړی دی نو ١٧ركعاته وترشو، بل راوی دغه دصبا سنت لری كړی دی خكه دغه خودشپې مونځ نه وو، نو١٥ ئې نقل كړی دی، بل راوی دغه دناستی دوه ركعته هم حذف كړی دی خكه دغه به احياناوو، نو١٣ ركعات ئې نقل كړی دی، بل راوی هغه دوه ركعته د تحية الوضوء هم سلب كړی دی نو١١ ركعات ئې نقل كړی دی، او په دغه مقدار نبی ﷺ ډيره پابندی كړی ده، لكه په رواية دبخاری كښی راځی ! عن ابي سلمة بن عبد الرحمن : انه سال عائشة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا كيف كانت صلاة رسول الله ﷺ في رمضان ؟ .

فقالت ما كان يزيد في رمضان ولا في غيره على احدى عشرة ركعة (صحيح البخاري ٢/ ٧٠٨) دغه شان امام طحاوي رَحِمَهُ ٱللَّهُ حديث د عائشه رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهَا پيش كړے په باره دشپې مونځ دنبی كريم ﷺ كښې فرمائي: عن ابي سلمة بن عبد الرحمن. انه اخبره انه سال عائشة كيف كان صلاة رسول الله صلى الله عليه وسلم في رمضان فقالت: ما كان رسول الله ﷺ يزيد في رمضان ولا في غيره على احدى عشرة ركعة يصلي اربعا فلا تسال عن حسنهن . وطولهن . ثم يصلي اربعا . فلا تسال . عن حسنهن وطولهن . ثم يصلي ثلاثا قالت عائشة فقلت: يا رسول الله اتنام قبل ان توتر . قال: " يا عائشة ان عيني تنامان ولا ينام قلبي " (شرح معاني الاثار ١/ ٢٨٢)

بياكله چه دنبي كريم ﷺ په بدن كښې ثقل پيداشو نو د شپې مونځ به ئي كله كم اكړو، كله دوه ركعته كم كړى كله غلوركله صرف په دوه ركعته او وترو باندى اكتفاء كړى نو راويانو ٩ او ٥ هم نقل كړى دى بيا چه كله نبي كريم ﷺ ډير ضعيف شودبمارئ په وجه نوفقط وتربه ئي اكړه نوصرف د درى ركعاتو نقل شوے دے، بهرحال ددغه روايه نه دليل نيول تام ندى، بلكه زمونږه تائيدات شته ددى خبرى چه وتريه يوركعة سره دهغې مقصد هغه دے چه مونږه بيان كړوامام طحاوي رَحِمَهُ ٱللَّهُ په رواية ابن عمر رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ دغه تائيد پيش كړے: عن نافع. عن ابن عمر: ان رجلا. سال النبي ﷺ عن صلاة الليل فقال: " مثنى . مثنى . فاذا خشيت الصبح . فصل ركعة توتر لك صلاتك "(شرح معاني الاثار١ / ٢٧٨) اوددينه روسته په كنږشميرهغه ددى تائيدات پيش كړي دى،والله اعلم وعلمه اتم:

حالات راوى عبدالرحمن بن ابزى رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ دده نوم عبدالرحمن بن ابزى الخزاعى دے، دده په صحبت كښې اختلاف دے،ابن حبان رَحِمَهُ ٱللَّهُ په تابعين كښې حساب كړے دے، حقه دا ده چه صحابى دے، اوماشوم وو چي نبي كريم ﷺ ئي ليدلےوو، مونخونه ئي پسى كړى دي، دعمر رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ په دور خلافة كښې بلوغ ته رسيدلےوو، على رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ په خراسان باندى والى (گونر) جوړ كړو، زيات روايات ئي دعمر رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ نه نقل كړى دي، اصل دكوفي دے، هم دغه كوفه كښې وفات شوے دے، دى مسند كښې ئي دا يورواية دے،

باب لافصل في الوتر

حديث ٧٧\١٥٦ ابوحنيفة عن ابى سفيان عن ابى نضرة عن ابى سعيدقال قال رسول الله ﷺ لافصل في الوتر.

دی مسئله کښی اختلاف دے چه وتر به وصلا (په یوسلام دری رکعته) کوی که فصلا (دری رکعته په سلامینو) کوی ؟

[١] عندالاحناف دری رکعته په یوسلام او په دوه قاعدوسره کول دی ،

[٢] عندالائمة الثلاثةؒ واسحق بن راهویه دوه رکعته په یوسلام او بیا یورکعت جدا کول دی، حدیث الباب داحنافو مستدل دے، ددی دپاره هم نور تائیدات شته لکه نسائی کښی په روایة د عائشه رضی الله عنها فرمائی!

عن سعد بن هشام ان عائشة حدثته : ان رسول الله ﷺ كان لا يسلم في ركعتي الوتر (سنن النسائي ٣ / ٢٣٤) دغه شان په مصنف دابن ابی شیبه کښی په روایة عائشه رضی الله عنها سره حدیث نقل دے اعَنْ عَائِشَة . قَالَتْ : كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لا يُسَلِّمُ فِي رَكْعَتَيِ الْوِتْرِ. (مصنف ابن ابي شيبة ٢ / ٢٩٥) بلکه په کثرو طرقو سره هغه روایات نقل کړی دی پدی مسئله باندی لکه!

حَدَّثَنَا وَكِيعٌ ، عَنْ هِشَامِ بْنِ الْغَازِ ، عَنْ مَكْحُولٍ ؛ أَنَّهُ كَانَ يُوتِرُ بِثَلاثٍ ، لا يُسَلِّمُ الا فِي اخِرِهِنَّ.

حَدَّثَنَا وَكِيعٌ ، عَنْ مِسْعَرٍ ، عَنْ قَتَادَةَ ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ ، قَالَ : لا يُسَلَّمُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ مِنَ الْوِتْرِ.

حَدَّثَنَا وَكِيعٌ ، عَنْ مِسْعَرٍ ، عَنْ حَمَّادٍ ، قَالَ . نَهَانِي اِبْرَاهِيمُ اَنْ اُسَلِّمَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ مِنَ الْوِتْرِ.

حَدَّثَنَا وَكِيعٌ عَنْ زِيَادِ بْنِ اَبِي مُسْلِمٍ قَالَ سَأَلْتُ اَبَا الْعَالِيَةِ وَخِلاسًا عَنِ الْوِتْرِ ؟ فَقَالا اَصْنَعُ فِيهِ كَمَا تَصْنَعُ فِي الْمَغْرِبِ.

حَدَّثَنَا وَكِيعٌ ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ ، عَنْ ثَابِتٍ ، عَنْ اَنَسٍ ؛ اَنَّهُ اَوْتَرَ بِثَلاثٍ ، لَمْ يُسَلِّمْ الا فِي اخِرِهِنَّ.

حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ. عَنْ شُعْبَةَ . عَنْ اَبِي اِسْحَاقَ . قَالَ : كَانَ اَصْحَابُ عَلِيٍّ . وَاَصْحَابُ عَبْدِ اللهِ لا يُسَلِّمُونَ فِي رَكْعَتَيِ الْوِتْرِ. (مصنف ابن ابي شيبة ٢ / ٢٩٤)

باب ماجاء في توقيت الوتر

حدیث ٧٨\١٥٧ ابوحنيفة عن عبدالله عن ابن عمرقال سمعت رسول الله ﷺ يقول الوتر اول الليل مسخطة للشيطان واكل السحور مرضاة الرحمن.

دوتر مونځ وخت دماسخوتن دمونځ دوخت د داخلیدو نه ترسحره پوری دے په اول اخر او وسط دشپه هر وخت کښی کیږی البته دنبی ﷺ معمول دا وو چه اخری وخت کښی سحرته نیزدی به ئې وترکول، او دا دهغه چا دپاره چه دشپې مونځ ته پاسي غوره هم ده، لکه د ابوداؤد په روایة کښی دی! عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ قُلْتُ لِعَائِشَةَ مَتٰى كَانَ يُوتِرُ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ قَالَتْ كُلَّ ذٰلِكَ قَدْ فَعَلَ اَوْتَرَ اَوَّلَ اللَّيْلِ وَوَسَطَهُ وَاٰخِرَهُ

وَلَكِنِ انْتَهى وِتْرُهُ حِينَ مَاتَ الَى السَّحَرِ. (سنن ابي داو د ۱ / ۵۳۹) او د روسته باب په روايت کښې هم دغه ارشاد دے، حديث الباب په مسئله کښې واضح دے،

باب لاوتران في ليلة

حديث ۷۹\۱۵۸ ابوحنيفة عن حماد عن ابراهيم عن ابى عبدالله الجدلى عن ابى مسعود الانصارى قال، اوتر رسول اللهﷺ اول الليل واوسطه واخره لكىٔ يكون واسعا على المسلمين اي ذلک اخذوا به كان صوابا غير انه من طمع لقيام الليل فليجعل وتره في اخرالليل فان ذلک افضل وفي رواية عن ابى عبدالله الجدلى عن عقبة بن عامر وابى موسى الاشعرى انهما قالاكان رسول اللهﷺ يوتر احيانا اول الليل واوسطه واخره ليكون سعة للمسلمين.

يوکس دشپې په اوله حصه کښې وتراکړی او بيادشپې تهجدوته پاسيږی نو وتر به بيا کوی کنه دغه مخکښې وتريوره دی ؟ مسئله کښې اختلاف دے:

[۱] اسحق بن راهويه رَحِمَهُ اللهُ وائي:چه يوکس وتراکړه او بيا اوده شو، دشپې بيا الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ توفيق ورکړو دتهجدو نو د هغه مخکښې وترو نقض به اکړی او بيا به دوباره وترکوی، دليل ئي حديث دبخاری دے! نَافِعٌ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنْ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ اجْعَلُوا اخِرَ صَلَاتِكُمْ بِاللَّيْلِ وِتْرًا (صحيح البخاري۱/ ۸۱)

[۲] جمهورفرمائي! په يوه شپه کښې دوه ځله وترنشته يودليل حديث الباب دے چه نبی کريم ﷺ دشپې په هره حصه کښې وتر مونځ کړے دے خو دا عادی روايـة هيڅ چاهم نـدے نقـل کـړے، ددينـه عـلاوه نوروروايات‌وکښې تصريح هم شته چه دوه وتره نشته لکه روايـة د ابـوداو د شريـف دے! عَنْ قَيْسِ بْنِ طَلْقٍ قَالَ زَارَنَا طَلْقُ بْنُ عَلِيٍّ فِي يَوْمٍ مِنْ رَمَضَانَ وَامْسَى عِنْدَنَا وَافْطَرَ ثُمَّ قَامَ بِنَا تِلْكَ اللَّيْلَةَ وَاوْتَرَ بِنَا ثُمَّ انْحَدَرَ الَى مَسْجِدِهِ فَصَلَّى بِاصْحَابِهِ حَتَّى اذَا بَقِيَ الْوِتْرُ قَدَّمَ رَجُلًا فَقَالَ اوْتِرْ بِاصْحَابِكَ فَانِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ « لا وِتْرَانِ فِي لَيْلَةٍ ». (سنن ابي داو د ۱/ ۵۴۰) پاتې شودليل داسحق بـن راهويـه دهغې نه جواب دا دے چه دغه امردپاره داستحباب دے د هغه چا دپاره چه وترئي نوی کړی کنه په دغه روايـة د ابوداودکښې به دغه طلق ابن علی داسی نه کولے،

باب سجدتی السهو

حديث ۱۵۹، ۸۰ ابوحنيفة عن حمادعن ابراهيم عن علقمة عن عبدالله بن مسعود ان رسول الله ﷺ صلى صلوة اما الظهر واما العصر فزاد او نقص فلمافرغ وسلم فقيل له احدث في الصلوة ام نسيت قال انسى كماتنسون فاذا انسيت فذكرونى ثم حول وجهه الى القبلة وسجد سجدتى السهو وتشهد فيها ثم سلم عن يمينه وعن شماله.

ربط مخکښې دهغه مونځونوبيان اوشوچه هغه صحيح سالم وو، اوس په مونځ کښې چه څه نقصان راشي او دهغې ازاله په څه سره کیږی دهغې بیان کوی، په مونځ کښې په ترک د واجب، یاتکرارد واجب، یاپه ترتیبې دفرضو سره چه کوم نقصان راشي سهوا لاعمدا نود دغه جبیره په سجده سهو سره کیږی بالاتفاق، البته که ترک دفرضو وشي ولو که سهوا وی یاترک د واجب اکرے شي عمدا نومونځ فاسدے اعاده به پې کوی، دامسئله هم اتفاق ده، خو اختلاف پدیکښې دے چه دغه سجده سهوه به قبل السلام وی که بعدالسلام؟ (قبل السلام مقصد دا چه تشهد او درود شریف په قاعده اخره کښې او وبل شي اوسلام کرحولونه مخکښې سجدتين دسهو اکرے شي بیاسلام وکرځول شي. او د بعد السلام مقصد دا دے چه داخری قاعدی دتشهد وبلونه پس سلام وکرځوی بیا سجدتین دسهو اکری بیا تشهد دوباره او واني سره د درود او دعاء نه اوسلام وکرځوی) دغه دواړه طريقې صحيح او جائز دی په کومه يوه چه عمل وشي، البته اختلاف په اولويۀ کښې دے، څلور ٤ مذاهب دی :

[۱] امام ابوحنيفة رَحِمَهُ ٱللَّهُ فرمائي چه دغه سجدتين دسهوبه مطلقا بعد السلام وی، داطلاق معنى دا چه که په مونځ کښې زيادت راغلےوی که نقصان،

[۲] امام شافعي رَحِمَهُ ٱللَّهُ فرمائي چه دغه سجدتين به مطلقاقبل السلام وی ،

[۳] امام مالک رَحِمَهُ ٱللَّهُ فرمائي چه په صورة دزيادة کښې به بعدالسلام وی، او په صورة د نقصان کښې به قبل السلام وي، دده دمذهب نه تعبيريدی الفاظو سره کيږی .. القاف بالقاف والدال بالدال..

[٤] امام احمدبن حنبل رَحِمَهُ ٱللَّهُ فرمائي چه دنبي کريم ﷺ نه په کومه سهوه کښې قبل السلام سجده سهوه نقل ده هلته به قبل السلام وی اوكوم ځائي چه بعد السلام سجده سهوه نقل ده هلته به بعدالسلام وی، اوکوم ځائي چه دنبي کريم ﷺ نه ثبوت نشته هلته به بيا دمذهب د امام مالک رَحِمَهُ ٱللَّهُ مطابق عمل کولےشي، بهرحال ائمه ثلاثه په څه نه څه ځائي کښې د سجده سهو قبل السلام په اولويۀ قائل دی، او

حناف په هيڅ صورة کښې هم ددې داولوية قائل ندى، بنا پدې احناف يوفريق شواوائمه ثلاثه بل فريق شو،

دلائل: دفريق ثانى دلائل هغه روايات دى چه دنبي ﷺ نه پکښې سجده سهو قبل السلام منقول ده څکه دنبي کريم ﷺ نه تولى پنځه سهوشوى دى په تول عمرکښې،

د احنافودپاره دليل هغه روايات دى چه هغې کښې نبي کريم ﷺ بعد السلام سجده سهو کړې ده چه يودهغې نه حديث الباب دے، ترجيح احناف دى لره څکه ورکوى چه دا اخرى عمل دنبي کريم ﷺ دے چه داپه منزله دناسخ دهغه نورودپاره شو، بيا دا حديث په نورو کتابونوکښې په تفصيل سره راغلےدے چه داتپوس کونکےذواليدين دے نبي ﷺ په دغه ورځ په څه خبره پريشانه وو، جواب ئې په غصه سره ورکړوچه!.كل ذلک لم يكن.. په دغه مجلس کښې ابوبکر رضي الله عنه وعمر رضي الله عنه وغيره نورکبار صحابه هم موجود وو دهغوتصديق نه پس نبي کريم ﷺ مونځ پوره کړو او سجدتين دسهوئې اکړې، لکه ابوداؤدکښې دا حديث په تفصيل سره نقل دے،

قوله! انمى كماتُنسون: دى مقام کښې دوه خبرى قابل غوردى ،

(۱) فرق په مابين دسهواو نسيان کښې، بعض خلق وائي دالفظين مترادفين دى، بعض نورفرق کوى چه ..سهو.. ددېته وائي چه په معمولى خبر ورکولو انسان ته ياد راځي، اونسيان ديته وائي چه مکمل هيرراغلې وي چه التفات جديده ياتپوس ته پکښې ضرورة وى، اوحکماء داسې فرق کوى چه! کله يو شئ دقوة مدرکه اومتصرفه دواړونه وُځي دغه ته نسيان وائي اوچه صرف سوچ ورته نوى نوسهو ورته وائي، البته شرعا دلته پدې دواړوکښې فرق نشته څنګه چه دحديث الباب نه معلومه شوه،

(۲) په نبي کريم ﷺ سهواونسيان راتلےشوه کنه؟ جمهوروائي چه په نبي کريم ﷺ سهو او نسيان راتلےشي، اوبعض متوغلين وائي چه په نبي کريم ﷺ سهو او نسيان نشي راتلے، اوکوم چه په رواياتوکښې دى نودا اصل کښې عمد دنبي کريم ﷺ دے تعليما للامة :

خوددوى مذهب مردود دےهم عقلا او هم نقلا، عقلاخو داسې چه نبي ﷺ انسان دے اوانسان دنسيان نه دے، په ده به هيرراځى، اونقلاهم باطل دے څکه الله تبارک وتعالى فرمائي! وَاذْكُر رَّبَّكَ اذَا نَسِيتَ وَقُلْ عَسَىٰٓ ان يَهْدِيَنِ رَبِّي لِاَقْرَبَ مِنْ هَٰذَا رَشَدًا ﴿سورة الكهف﴾ يهودوچه کله دغه تپوس کړےوو نو نبي کريم ﷺ خو دغه انشاءالله عمدا قصدا نه وو ترک کړے، ورنه دومره تاخير د وحى ته او پريشانئ درسول

ﷺ ته څه ضرورة وو چې غلطی ونشوه، دويم دليل نقلی دا حديث الباب دے چه نبي ﷺ تصريح کړی ده چه.. انسی کماتُنسون ..والله اعلم

باب سجود التلاوة

حديث ۸۱۱۱۶۰ ابوحنيفة عن سماک عن عياض الاشعری عن ابی موسی الاشعری ان النبي ﷺ سجد في ص.

په سجودالتلاوة کښی په دری ۳۱ ځايه کښی اختلاف دے: په حکم دديکښی، په تعداد د ديکښی، په تعين دمواضعوکښی، دوه خبروته دی باب کښی اشاره شوی ده، حکم کښی اختلاف به مونږه ذکر کړو، پوهه شه چه سجده د تلاوت عندالاحناف مطلقا واجب ده، اوعند الجمهور مسنون ده، د امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ دپاره دليل دا دے چه په قران کريم کښی سجدی دتلاوت په دری ۳۱ طريقو سره راغلی دی: په صيغی د امر سره لکه: كَلَّا لَا تُطِعْهُ وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ ۩ ﴿۱۹﴾ (سُورَة العَلَق) په طريقه دانکاردمشرکين سجدی نه لکه: وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْآنُ لَا يَسْجُدُونَ ۩ ﴿۲۱﴾ (سُورَة الانشِقَاق) دريم په طريقه د حکاية نقل کولوسره دسجدی کولودانبياء سابقين نه لکه: وَظَنَّ دَاوُودُ أَنَّمَا فَتَنَّاهُ فَاسْتَغْفَرَ رَبَّهُ وَخَرَّ رَاكِعًا وَأَنَابَ ۩ ﴿۲۴﴾ (سُورَة ص) اوس امرخو په وجوب کښی ظاهردے، او مشرکينوچه انکارکړے دهغوئ خلاف کول هم په مونږه واجب دے، بل طرفته دانبياء اقتداء هم په مونږه واجب ده ځکه دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَى امراوحکم شوے دے پدی فرمائي: أُولَٰئِكَ الَّذِينَ هَدَى اللَّهُ ۖ فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ ۗ قُل لَّا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا ۖ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرَىٰ لِلْعَالَمِينَ ﴿۹۰﴾ (سُورَة الانعَام) دجمهوردپاره دليل رواية دنسائی دے: عن عطاء بن يسار انه اخبره : انه سال زيد بن ثابت عن القراءة مع الامام فقال لا قراءة مع الامام في شيء وزعم انه قرا على رسول الله ﷺ { والنجم اذا هوى } فلم يسجد (سنن النسائي ۲ / ۱۶۰) احناف جواب ورکوی چه ددی دا مطلب ندے چه بالکل ني سجده ونکړه بلکه بالفوري سجده ونکړه اوسجده خو بالفور مونږه هم لازمه نه وايو،

[۲] اختلاف په تعداد دسجود التلاوة کښی دے، عندالاحناف والشوافع کل سجدی ۱۴ دی او د امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ په نيزباندی ۱۱ دی امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ د مفصلاتو (يعنی سورة النجم، انشقاق، علق د سجدو ندے قائل،

۳: خلاف په تعین د موضع سجود کښی دی. امام شافعي رحمه الله په سورة حج کښی دوه سجدې قائل دی او د سورة ص د سجدې نه دی قائل. احناف په سورة حج کښی اوله سجده او د سورة ص سجده قائل دي. معلومه شوه چه سورة حج کښی اوله سجده متفق ده. بیا د سورة ص او په دویمه سجده د سورة حج کښی خلاف دی. د امام شافعي رحمه الله دلیل ددې حدیث د ابن عباس رضي الله عنه دی، عن ابن عباس رضي الله عنهما قال: { ص } لیس من عزائم السجود وقد رایت النبي ﷺ یسجد فیها صحیح بخاري باب سجدة ص ۱ / ۳۶۳ خو د دینه جواب دا دی چه د ابن عباس رضي الله عنه مقصد دا دی چه دا سجده تعبدی نده. بلکه سجدة شکر ده. ځکه د داؤد علیه السلام توبه ورجوع الی الله قبوله شوه نو هغه سجده د شکر کړه. نو مونږ به د داؤد علیه السلام نه اقتداء کښی سجده کړو. دا مقصد دی چه د سجده نه ده ځکه چه نبی کریم ﷺ ولی کړه؟ خو ځکه چه لازمه ده. ولیدی د ددې دلیل حدیث د ابن عباس رضي الله عنه دی. عن ابن عباس: ان النبي ﷺ سجد في ص وقال سجدها داود توبة ونسجدها شكرا سنن نسائي ۱ / ۱۵۹

د احنافو د دې دلیل حدیث نشته دی. هرچه د سورة حج دویمه سجده ده: هغه سجده او رکوع صلاتیه مراد دی. ځکه قانون دا دی چه کوم ځائی به قرآن کریم کښی سجده او رکوع دواړه ذکر شي نو هلته سجده ورکوع صلاتیه مراد وی. لکه: یا مریم اقنتي لربك واسجدي وارکعي مع الراکعین {۴۳} (آل عمران) او کوم چه سجود د تلاوت دی نو هلته فقط سجده بې رکوع ذکر ده.

[تنبیه]: د ضروری نده چه چرته هم به قرآن کریم کښی فقط سجده بې رکوع ذکر وي نو هلته دی سجده د تلاوت وی. لکه: لَیسُوا سَوَاءً مِّنْ اهل الکتاب امة قائمة یتلون ایات الله اناء اللَّیل وهُم یسجدون [۱۱۳] (آل عمران) دغه شان امَن هو قانت اناء اللَّیل ساجدا وقائما یحذر الاخرة ویرجو رحمة ربه قل هل یستوي الذین یعلمون والذین لا یعلمون انما یتذکر اولو الالباب [۹] (زمر)

حالات راوی ابوموسی الاشعری رضي الله عنه: نوم نسب ده: عبد الله بن قیس بن سلیم بن حضار ابوموسی الاشعری. اشعر نسبت في بعض اجدادو ته دی. د یمن نه ددوی خاندان مکی ته راغلی وو. جلیل القدر صحابي دی مکه کښی مسلمان شو. د جعفر بن ابی طالب رضي الله عنه سره في حبشې ته هجرت کړی دی. د علماء الصحابة وفقهاء نه. خاتمه وار الله تبارك وتعالی ورکړی وو. عمر رضي الله عنه د بصری گورنر جوړ کړو. بیا په زمانه د عثمان رضي الله عنه کښی معزول شو. بیا عثمان رضي الله عنه د کوفې گورنر جوړ کړو،

دلیود حکمینو د جنګ صفین وو، دبادئ نه لنډ او د بدن نه خفیف اللحم وو، دتحکیم نه پس مکی مکرمی ته نقل شو، او په ۵۲ھ کښی هم دلته وفات شو، بعض وائی چه ۴۴ھ کښی وفات دے او په توبه مقام کښی دفن دے من الکوفة علی میلین، (معرفة الصحابة لابي نعيم - ٤/ ١٧٤٩)دی کتاب کښی ترینه ۷روایات نقل دی.

باب النهی عن الکلام في الصلوة

حدیث ۸۲|۱۱۶۱ ابوحنیفة عن حمادعن ابراهیم عن ابی وائل عن عبدالله بن مسعود انه لما قدم من ارض الحبشة سلم علی رسول الله ﷺ وهویصلی فلم یردعلیه السلام فلما انصر ف رسول الله ﷺ قال ابن مسعود اعوذبالله من سخط نعمة الله قال النبي ﷺ وماذاک قال سلمت علیک فلم ترد علی قال ان في الصلوة لشغلا قال فلم نرد السلام علی احدمن یومئذ.

دامسئله خواتفاق ده چه په مونځ کښی عمدا لا لِاصلاح الصلوة کلام وکړے شی نومونځ فاسدشو، عامه ده که دغه خبری امام اکړی، که مقتدی، او که منفرد، البته که سهوا کلام في الصلوة وشو یا عمدا لِاصلاح الصلوة وشو نو په حکم د دیکښی اختلاف دے،

[۱] امام شافعی، اسحق بن راهویه او امام مالک (في روایة) دغه شان امام احمد (في روایة) رَحِمَهُمُ اللهُ فرمائی! چه کلام في الصلوة جائزدے. تفصیل ئي دا دے چه د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نیز کلام في الصلوة لاصلاح الصلوة غیر مفسد دصلوة دے، او د امام شافعی رَحِمَهُ اللهُ په نیزکلام جهلاعن الحکم غیرمفسد دصلوة دے، او د امام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نیز باندی په ظن د اتمام دصلوة غیر مفسد دے،

[۲] امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ ، ابراهیم نخعی رَحِمَهُ اللهُ ، اوقتاده رَحِمَهُ اللهُ فرمائي! چه په مونځ کښی مطلقا کلام کول مفسد دپاره دصلوة دے یعنی که قصداوی، که سهوا، لِاصلاح الصلوة وی، که لا لِاصلاح الصلوة وی، که جهلاعن الحکم وی، او که په ظن داتمام الصلوة وی، بهرحال نورائمه په څه نه څه حد کښی په جوازدکلام في الصلوة قائل دی،

دلائل د دوی دپاره دلیل حدیث د ذوالیدین دے، چه مخکښی تیر شو حدیث ۸۰ باب سجدتی السهوکښی، طریقه داستدلال دا ده چه د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نیزدغه کلام لاصلاح الصلوة وو، د امام شافعی رَحِمَهُ اللهُ په نیز جهلا عن الحکم، او په نیزد امام احمد رَحِمَهُ اللهُ په ظن داتمام الصلوة وو،

یادا چه د ذوالیدین کلام جهلاعن الحکم وو دنبي کریم ﷺ جواب په ظن د اتمام الصلوة وو، او د نورصحابه کرامو کلام لاصلاح الصلوة وو،

داحنافودپاره دليل حديث الباب دے، چه نبي كريمﷺ ابن مسعودرَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وائي!،ان في الصلوة لشغلا،، داخره نبي كريم ﷺ مطلقه كړي ده څه تفصيل او استثنى پكښې نشته،

جواب دهغو د استدلال نه جواب دا دے چه ابتدا كښې دغه خبرې جائزوې خو بيا نسخه راغله چه كله اية د سورة بقره نازل شو! حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَى وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ (۲۳۸)[البقرة]

او په روايه دمسلم كښې راځي !عَنْ زَيْدِ بْنِ ارْقَمَ قَالَ كُنَّا نَتَكَلَّمُ فِي الصَّلَاةِ يُكَلِّمُ الرَّجُلُ صَاحِبَهُ وَهُوَ الَى جَنْبِهِ فِى الصَّلَاةِ حَتَّى نَزَلَتْ (وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ) فَامِرْنَا بِالسُّكُوتِ وَنُهِينَا عَنِ الْكَلَامِ. (صحيح مسلم ۲/۷۱) از دا څكه چه دمونځ حكم د تخفيف نه تغليظ طرف ته تلے دے، لكه چه دصفائي حكم د تغليظ نه تخفيف طرف ته تلےدے، حديث الباب كښې د سلام نه منع راغله څكه چه دغه سلام عام كلام دے، هم د دغه وجه نه چه سلام كلام دے مسئله دا ده چه كه يوسړى قسم اكړو چه څه به دفلانكي سره خبرې نه كوم او بيائي سلام ورته اكړو يائي جواب وركړودسلام نودےحانث شو، څكه خونبي كريم ﷺ ابن مسعودرَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته جواب ورنكړو، اونبي ﷺ هم په سلام اطلاق د كلام كړے دے ابوداودكښې دي! عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ كُنَّا نُسَلِّمُ فِي الصَّلَاةِ وَنَامُرُ بِحَاجَتِنَا فَقَدِمْتُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ ﷺ وَهُوَ يُصَلِّي فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ السَّلَامَ فَاخَذَنِى مَا قَدُمَ وَمَا حَدُثَ فَلَمَّا قَضَى رَسُولُ اللَّهِ ﷺ الصَّلَاةَ قَالَ " انَّ اللَّهَ يُحْدِثُ مِنْ امْرِهِ مَا يَشَاءُ وَانَّ اللَّهَ جَلَّ وَعَزَّ قَدْ احْدَثَ مِنْ امْرِهِ ان لَا تَكَلَّمُوا فِي الصَّلَاةِ ". فَرَدَّ عَلَيَّ السَّلَامَ. ! (سنن ابي داو د ۱، ۳٤۷)

بياپوهه شه: چه سلام په لفظ دسلام سره په مونځ كښې بالاتفاق مفسد د صلوة دے، او سلام باليد بالاتفاق مفسد دصلوة ندے، البته احناف فرمائي! چه سلام باليد في الصلوة جائز مع الكراهة دے، امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ ورته مستحسن وائي، امام مالك رَحِمَهُ اللَّهُ او احمد رَحِمَهُ اللَّهُ ورته نفس جائز بلا كراهة وائي، دائمه ثلاثه دپاره دلائل هغه رواية دے چه هغي كښې دسلام په جواب كښې اشاره باليد راځي ابوداو د شريف كښې رواية دے! حَدَّثَنَا نَافِعٌ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ يَقُولُ خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ الَى قُبَاءَ يُصَلِّي فِيهِ قَالَ فَجَاءَتْهُ الانْصَارُ فَسَلَّمُوا عَلَيْهِ وَهُوَ يُصَلِّي. قَالَ فَقُلْتُ لِبِلَالٍ كَيْفَ رَايْتَ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَرُدُّ عَلَيْهِمْ حِينَ كَانُوا يُسَلِّمُونَ عَلَيْهِ وَهُوَ يُصَلِّي قَالَ يَقُولُ هَكَذَا وَبَسَطَ كَفَّهُ. وَبَسَطَ جَعْفَرُ بْنُ عَوْنٍ كَفَّهُ وَجَعَلَ بَطْنَهُ اسْفَلَ وَجَعَلَ ظَهْرَهُ الَى فَوْقٍ.(سنن ابي داو د ۱ ، ۳٤۸) ديكښې ني ط قه

دسلام بالید هم خودلی ده، احناف ددی روایاتونه هغه جواب ورکوی چه دا ابتدا کنبی وه خو بیا منسوخ شوه.

اعتراض چه کله دامنسوخ شونواحناف دیته جائزمع الکراهة ولی وائي؟

جواب جائزخوځکه ورته وایوچه په لاس خوزولوسره په مونځ کښې څه خرابي نه راځي، البته مکروه ځکه چه دغه خوزول دلاس دیوغرض دپاره دی چه دمونځ صحت په هغې موقوف نه دےنوکراهة پکښې راغې.

باب من قال المراة لاتقطع الصلوة

حدیث ۸۳\۱۱٦۲ ابوحنیفة عن حماد عن ابراهیم عن الاسودعن عائشة قالت کان النبي ﷺ یصلی من اللیل وانا نائمة الی جنبه وجانب الثوب واقع علی .

مسئله کښې اختلاف دے، امام احمدبن حنبل رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمائي!که دمونځ کونکی مخی ته سُتره نه وه اومخی ته ئي ښځه، خر، سپے، یا پشو وی یائي مخی ته تیرشی نومونځ ئي مات شو، جمهور وائي! چه دمونځ کونکی مخی ته دهیڅ څیزیه ودریدلو یا اوریدلو سره مونځ نه ماتیږی، البته که دغه اغوښتونکے څوک بالغ کس وی او په مسئله پوهه وی نوبیا دغه اوریدونکے ګناهګار دے، دامام احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ دپاره دلیل روایة د ابوداوددے! عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَفَعَهُ شُعْبَة قَالَ ، یَقْطَعُ الصَّلَاةَ الْمَرْاَةُ الْحَائِضُ وَالْکَلْبُ ". قَالَ ابو دَاو د وَقَفَهُ سَعِیدٌ وهِشَامٌ عَنْ قَتَادَة عَنْ جَابِرِ بْنِ زَیْدٍ علی ابْنِ عَبَّاسٍ. (سنن ابي داو د ۱ / ۲۵۹)

دجمهورواول دلیل حدیث الباب دے، چه ددینه دوه مسئلی معلومی شوی: یو مسئلة الباب چه ښځه په مونځ کښې مخی ته وی نومونځ دسړی نه ماتیږی ځکه ددي روایة تفصیل نورو روایاتو داسی کړے چه عائشه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا فرمائي! عَنْ عَائِشَة اَنَّهَا قَالَتْ کُنْتُ اَنَامُ وَاَنَا مُعْتَرِضَةٌ فِي قِبْلَةِ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ فَیُصَلِّی رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ وَاَنَا اَمَامَهُ فَاِذَا اَرَادَ اَنْ یُوتِرَ. زَادَ عُثْمَانُ غَمَزَنِی ثُمَّ اتَّفَقَا فَقَالَ ، تَنَحِّی "(سنن ابي داو د ۱ / ۲٦۰) اوس مخی ته سملاستل خود تیریدلو نه غټه خبره ده چه پدی مونځ نه ماتیږی نو په تیریدلو خو په طریق اولی سره مونځ نه ماتیږی،

دویمه دحدیث نه دا هم معلومه شوه چه دمونځ کونکی دجامی څه حصه ددغه مونځ کونکی په استعمال کښې وی اوڅه حصه دبل چاپه استعمال کښې وی دا جائز ده،

دویم دلیل دجمهورودپاره دغه بل روایة دے چه شاته ئي ذکر کړے دے ممکنه ده چه دمرتب نه روسته

شوےوی،

حدیث ۱۱۶۳/۸۱ ابوحنيفة عن حمادعن ابراهيم عن الاسود بن يزيد انه سال عائشة عما يقطع الصلوة فقالت يااهل العراق تزعمون ان الحمار والكلب والسنور يقطعون الصلوة قرنتمونا بهم ادرا ماستطعت كان النبي ﷺ وانا نائمة الى جنبه عليه ثوب جانبه على .

دی حدیث سره د امام احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ د دلیل نه جواب هم وشوچه دغه حکم په ابتدا داسلام کښې ورخو بیامنسوخ شوے دے، بیا دا روایة دزنانه په حق کښې جواب شو پاتې شو خراو سپے نودهغې دپاره نورروایات دی چه په نسخه دلالت کوی، لکه روایة دفضل بن عباس ابوداو د نقل کړے' عَنِ الْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ اتانا رَسُولُ اللَّهِ ﷺ ونَحنُ فِي بَادِيَة لَنَا وَمَعَهُ عَبَّاسٌ فصَلَّى فِي صَحْرَاءَ لَيْمن بَيْنَ يَدَيْهِ سُتْرَة وَحِمَارَة لَنَا وَكَلْبَة تعْبَثَانِ بَيْنَ يَدَيْهِ فَمَا بَالَى ذَلِكَ. (سنن ابي داو د ۱ / ۲٦۱)

پاتې شوه داخبره چه په ابتداداسلام کښې خاص ددی اشیاء په تیریدلو سره مخې دمصلي ته دنقض دصلوۃ حکم ولی وو؟ جواب دا دے چه اصل خبره دا ده چه شیطان په دې نه خوشحالیږی چه یوبنده دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ مخې ته په توجه ولاړوی اوعبادة کښې مشغول وی، بلکه کوشش کوی چه دغه مونځ کښې ورلره خلل پیدا کړی مخې مخې ته کیږی چه دغه مونځ ئي خراب کړی، بیا دا دری۳ شیان چه ذکر شونوددوی دشیطان سره خاص مناسبت اوتعلق دے، نبی ﷺ دښځویه باره کښې فرمائي! النساء حبائل الشياطين (الحديث) او په ترمذی شریف کښې حدیث دے دخرېه باره کښې ! عن ابي هريرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ان النبي ﷺ قال اذا سمعتم صياح الديكة فاسالوا الله من فضله فانها رات ملكا واذا سمعتم نهيق الحمار فتعوذوا بالله من الشيطان الرجيم فانه راى شيطانا (سنن الترمذي ٥/ ٥٠٨)

اوهم دغه ترمذی کښې دتورسپي په باره کښې راځی ا عن عبد الله بن مغفل قال : قال رسول الله ﷺ لولا ان الكلاب امة من الامم لامرت بقتلها كلها فاقتلوا منها كل اسود بهيم: بيا وائی! قال ابو عيسى حديث عبد الله بن مغفل حديث حسن صحيح ويروي في بعض الحديث ان الكلب الاسود البهيم شيطان والكلب الاسود البهيم الذي لا يكون فيه شيء من البياض وقد كره بعض اهل العلم صيد الكلب الاسود البهيم (سنن الترمذي ٤ / ٧٨) اوس په ابتداداسلام کښې دغه حکم وو خوکله چه اذهان دصحابه کرامو برابر شو بیا دغه حکم منسوخ شو،

قولها! ادرا مااستطعت: یعنی یاداسی خاني ودربږه چه څوک دی مخی ته نشي اغوښتلے، او یا دفع کوه خومره چه دی طاقت وی په اشاره یاتسبیح سره،

باب التلقين في الصلوة

حديث ۱۶٤\۸۵ ابوحنيفة عن نافع عن ابن عمران رسول الله ﷺ سن في الصلوة اذا نابهم شئ التسبيح للرجال والتصفيق للنساء:

په دی مقام کښی دوه مسئلې دی، يودا چه مصلی يا امام لره فتح ورکول څنګه دی؟ دويم دا چه دنارينه اوزنانه دفتح څه حکم دےاوفرق شته کنه؟

هرچه اوله مسئله ده نوداخو اتفاق خبره ده چه مصلی دغيرشريک في الصلوة نه فتح واخلی نودده مونځ فاسد شوګام ددينه که دغه فاتح دهر قسم مونځ نه بهروی او که په مونځ کښی مشغول وی خوددنه په مونځ کښی جداوی، وجه دا ده چه فتح اغستل تعليم تعلم دے او په مونځ کښی دا ناروا دی، البته که مقتدی خپل امام ته فتح ورکړی نوعند الجمهور دا بلا کراهته جائزده، البته د امام شعبی رَحِمَهُ اللّٰهُ اوسفيان ثوری رَحِمَهُ اللّٰهُ په نيزباندی فتح ورکول مکروه دی خپل امام ته، دليل ئې داقول دنبی کريم ﷺ دے علی رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ته! يا عَلِيُّ لا تَفْتَحْ عَلَى الامَامِ فِي الصَّلاة (سنن ابي داو د ۱/ ۳٤۲) دجمهورو دپار دليل حديث دابن عمــــر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دے! عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ انَّ النَّبِيَّ ﷺ صَلَّى صَلاة فَقَرَا فِيهَا فَلُبِسَ عَلَيْهِ فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ لابَيّ « اصَلَّيْتَ مَعَنَا ». قَالَ نَعَمْ. قَالَ « فَمَا مَنعك » (سنن ابي داو د ۱/ ۳٤۱) معلومه شوه چه دا ضروری خبره ده، هرچه دغه ماقبل حديث دے نويو خو دغه ضعيف دے، دويم منقطع دےځکه خود دی په باره کښی امام ابوداؤد رَحِمَهُ اللّٰهُ ښکاره فرمائي! قَالَ ابو دَاو د ابو اسْحَاقَ لَمْ يَسْمَعْ مِنَ الْحَارِثِ الا ارْبَعَة احَادِيثَ لَيْسَ هٰذا مِنْهَا. (سنن ابي داو د ۱/ ۳٤۲) دريم که بالفرض صحيح هم شي نوبيا دا په غير ضروری فتح حمل دے، اوهغی ته جمهورهم مکروه وائي، دا اوله مسئله شوه.

هرچه دويمه مسئله ده، نوهغی کښی هم اختلاف دے د امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ په نيز باندی د سړی اوښځی دواړو فتح ورکول په تسبيح باندی ده اوديکښی هيڅ فرق نشته، دليل ئې حديث طويل دسهل بن سعدالساعدی رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دے، دهغی په اخرکښی راځی! مَنْ نَابَهُ شَيْءٌ فِي صَلَاتِه فَلْيَقُلْ سُبْحَانَ اللّٰهِ (صحيح البخاري: ٤/ ٤٢٥) جواب دا دے چه دغه حديث دبخاری کښی هم تقسيم دے فرمائی! انَّمَا التَّصْفِيحُ لِلنِّسَاءِ: نواستدلال ترينه تام ندے،

جمهور فرق کوی چه نارينه دپاره تسبيح ده، اوزنانه دپاره تصفيق دے، دليل ئې حديث الباب دے، حديث نه دا هم معلومه چه په مونځ کښی څه غلطی وشی په غير قراءة کښی دهغی دصحة دپاره به تسبيح ويلےشی، البته قراءة کښی به فتح به هغه اخلو الناظو سره دے.

باب صلوة الكسوف

حديث ١٦٥\٨٦ ابوحنيفة عن حمادعم ابراهيم عن علقمة عن عبدالله قال انكسفت الشمس يومات ابراهيم بن رسول الله ﷺ فقام رسول الله ﷺ فخطب فقال ان الشمس والقمر ايتان من ايات الله لاتنكسفان لموت احد ولالحياته فاذارايتم ذلك فصلوا واحمدوا الله وكبروه وسبحوه حتى ينجلى ايهما انكسف ثم نزل رسول الله ﷺ وصلى ركعتين.

كسوف دكسف نه دے په لغة كښې په معنى د ..اظلام في النير.. سره راځي كه نورروى كه سپوږمئ وى او په اصطلاح كښې كسوف دا ظلام الشمس او خسوف د ا ظلام القمر سره خاص شوے دے، دى باب كښې يوڅوخبرى ضرورى دى. يوبيان دحكم شرعى دصلوة الكسوف، دويم كيفة دصلوة الكسوف دريم وضاحت دحديث الباب،

(١)..خبره په حكم شرعى دصلوة الكسوف كښې اختلاف دے، دجمهوروپه نيز سنة مؤكده دے اودبعضاحنافو په نيزواجب دے، د امام مالك رَحِمَهُ اللهُ په نيز دا پشان دصلوة الجمعة دے، او د بعض نورعلماء په نيز دا فرض كفائي دے. تفصيل ئي دلته نه كوو،

(٢)..خبره كيفة دصلوة الكسوف كښې هم اختلاف دے، عندالاحناف دا اداء كيږى پشان دعامو مونځونو چه دوه ركعته مونځ دے په هرركعت كښې يوه ركوع دوه سجدى دى،

ائمه ثلاثه فرمائي:چه كيفة د اداء ئي دعامومونځونونه بدل دے پدى شان چه په هر ركعت كښې به دوه ركوع كانى وى، اوسجدى به هم زياتى وى، د احناف دپاره يودليل حديث الباب دے چه اخر كښې وائي'..ثم صلى ركعتين.. دائي مطلق ويلے څه تفصيل نشته چه څوركوع به وى؟ او مطلق په خپل اطلاق جارى كيږى، دويم دليل وريسى حديث دے.

حديث ١٦٦\٨٧ ابوحنيفة عن عطاءعن ابيه عن ابن عمرقال انكسفت الشمس يوم مات ابراهيم بن رسول الله ﷺ فقال الناس انكسفت الشمس لموت ابراهيم فقام النبي ﷺ قياما طويلا حتى ظنوا انه لايركع ثم ركع فكان ركوعه قدر قيامه ثم رفع رأسه فكان قيامه قدر ركوعه ثم سجد قدر قيامه ثم جلس فكان جلوسه بين السجدتين قدر جلوسه ثم صلى الركعة الثانية ففعل مثل ذلك حتى اذا كانت السجدة منها بكى فاشتد بكاوه فسمعناه وهو يقول الم تعدنى ان لاتعذبهم وانافيهم ثم جلس فتشهد ثم انصرف واقبل عليهم بوجهه ثم قال ان الشمس والقمرايتان من ايات الله يخوف الله بهماعباده لاينكسفان لموت احد ولالحياته فاذاكان كذلك فعليكم بالصلوة ولقد

رایتنی ادنیت من الجنة حتی لو شئت ان اتناول غصنامن اغصان شجرهافعلت ولقدرایتنی ادنیت من النارحتی جعلت انفی ولقد رایت سارق رسول الله ﷺ وفي رواية سارق بيت رسول الله ﷺ يعذب بالنار ولقد رایت فیها عبدبن دعدع سارق الحجاج بمحجنه ولقد رایت فیها امراة ادماء حميرية تعذب في هرة لها ربطتها فلم تطعمها ولم تدعها تاكل من خشاش الارض وحشراتها (الحديث الخ)

دی حدیث کښې هم ښکاره دلیل د احنافودے، چه نبي ﷺ دوه رکعته اکړه فرق دومره وو چې دائي دعام مونځ په نسبت باندی لړاوږد اکړو،

ائمه ثلاثه دپاره دلیل روایة دعائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دے چه امام مسلم رَحِمَهُ اللهُ په مختلف طریقو سره نقل کړے چه لنډه طریقه دهغی نه دا ده؛ عَنْ عَائِشَةَ انَّ الشَّمسَ خَسفت عَلٰى عَهدِ رسولِ اللّٰهِ ﷺ فَبَعَثَ مُنادِيًا " الصَّلاةَ جَامِعَة ". فَاجْتَمَعُوا وَتَقَدَّمَ فَكَبَّرَ. وَصَلّٰى ارْبَعَ رَكَعَاتٍ فِى رَكْعَتَيْنِ وَارْبَعَ سَجَدَاتٍ. (صحيح مسلم۳/ ۲۹)

جواب یوجواب چا داکړے چه نبي کریم ﷺ دامونځ دعامومونځونونه قدری اوږد کړے دے، په هررکعت کښې ئي دعامو مونځونو په شان یوه رکوع او دوه سجدی کړی دی، خوچونکه دغه رکوع اوسجده به ډیره اوږده وه نوځنی راویانو دغه په تعدد درکوعاتو او سجدو حمل کړے دے، حتی چه بعض راویانوترینځه پوری دغه عدد نقل کړے دے کما في رواية ابی داود؛ عن ابي بن كعب قال انكسفت الشمس على عهد رسول الله ﷺ وان النبي ﷺ صلى بهم فقرا بسورة من الطول (الطول بضم ففتح جمع الطولى) وركع خمس ركعات وسجد سجدتين ثم قام الثانية فقرا سورة من الطول وركع خمس ركعات وسجد سجدتين ثم جلس كما هو مستقبل القبلة يدعو حتى انجلى كسوفها . (سنن ابي داود۱/ ۳۷۹) اوس دا تعدد هغوئ ځنګه نقل کړو؟ نودهغی وجه دا ده چه نبي ﷺ پدی مونځ کښې رکوع اوسجده خه اوږده کوله ورروستو کسانو به سر اوچت کړو کتل ئي چه نبيﷺ خوچرته اوچت شوےندے؟ کیدے شي مونږه اوازنه وی اوریدلے، (ځکه دغه مونځ کښی نبيﷺ حرکات او وراندی روسته کیدل ډیرکړی وو) روستو صفونو واله مخکښی کسانوته کتل هغوی به هم سرونه پورته کړه پدی خیال چه ګنی رکوع ختمه شوه او بل رکوع ته خلق لاړل، په دغه طریقه چادوه چاخلور چاپنځه رکوعات او سجدی متصور کړی دی اوهغه یي نقل کړی دی،(والله اعلم)

دویم: جواب دا دے چه که دغه رکوعات دوه یاخلورشی هم صحیح ده ځکه چه ثابت دی په صحیح روایاتوسره خو په دغه کښی دعبادة رکوع صرف یوه وه په هر رکعت کښی، او دغه باقی دشکردپاره دی، او دابی، ځکه کولی چه په دغه مونځ کښی نبی کریم ﷺ جنة او جهنم لیدلی وو، جنتیان اوجهنمیان یې لیدلی وو، دهر یود لیدلو دپاره نبی ﷺ د شکریه په طور رکوع اداکړی ده چه دجهنم نه یې زمونږه حفاظت کړے دے، اوس دغه کارونه کول اولیدل خوخصوصیة دنبی ﷺ وو، نودغه اضافي رکوعات هم خصوصیة دهغه شو،

دریم: جواب دا دے، چه کومواحادیثوکښی چه تعدد نقل دےنو په هغی کښی ډیر زیات اضطراب دے، په تعدد دواقعاتوسره یې تطبیق نشی کیدے ځکه داواقعه په زمانه دنبی ﷺ کښی صرف یوځل راغلی ده، په ۲۸ یاپه ۲۹ شوال المکرم ۲ ھ کښی نو اصل مونځ ته به لاړشواوس هغی کښی خویوه رکوع ده په رکعت کښی نودیکښی به هم دغه شان وی،

مقصدالحدیث: په حدیث شریف کښی رد درسم باطل دجاهلیت دے، د عربو دازعم وو چې نمراوسپوږمۍ هله توریږی [تندرنیسی] چه څه عظیمه حادثه واقع شی، اودحادثی د نزول په وخت کښی خلق ماتم کوی چه دهغی دپاره به هغوئ تورلباس استعمالوو، نود هغوئ خیال داوو چې په دی عظیمه حادثه کښی زمونږه سره نمرهم ماتم کوی اوتور خادر اغوندی، دقدرة شان ته ګوره په کومه ورځ چه دغه نمرتورشوے وویه دغه ورځ د نبی کریم ﷺ ځوے دماریه قبطیه نه چه نوم یې ابراهیم وو وفات شوےوو، نودغه خلقودخپل زعم موافق هغه زره خبره اکړه، نبی کریم ﷺ دهغی په ردکښی خطبه ورکړه او دغه رسم یې باطل ثابت کړو،

قوله! قیاماطویلا: معلومه شوه چه په صلوة الکسوف کښی طول القیام مسنون دے،

قوله! فاشتدبکائه: بعض ملحدین وائي چه کسوف اوخسوف دطبعی امورویه وجه راځی، هغه دا چه سپوږمۍ دزمکی اونمرترمینځه حائله شی، هم دغه وجه ده چه ددی کسوف خسوف خبرځومره ورځی مخکښی هم ورکړے کیږی چه په فلانکی تاریخ به نمرتوریږی، اوس داخودومره غټه خبره نده چه نبی کریم ﷺ دومره عاجزی اوتضرع کوی اودومره په یره کښی دے دا خو داسې ده لکه باران کیدل، یاد نمرطلوع اوغروب چه څنګه کیږی؟،

جواب (۱) دنیاکښې تقریبا هرکار تحت الاسباب واقع کېږی بیاپدیکښې څه کارونه داسې وی چه د هغې هیبت ډیرزیات وی چه یودهغې نه کسوف خسوف هم دے طبعي طریقې سره ددینه په انسان هیبت راځي، څکه نبي کریم ﷺ دومره تضرع کوله مثال ئې داسې دے لکه باران چه کله هیبتي شي اوخلق ویریږی تضرع اوعاجزی اختیارکړی،

(۲) دغه کسوف خودسبب په وجه دےخومسبب الاسباب الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ دے اوس کله چه هم څه تغیر واقع شي نودغه مؤثرحقیقي طرف ته رجوع پکار ده، او دغه رجوع مونږه په عاموتغیراتو کښې هم کوو، لکه صلوات خمسه هم په دغه وجه مشروع دی، چه دهر مونځ په وخت کښې څه نوے انقلاب راځي نوالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ ته توجه پکارده اوعاجزی ضروری ده،

(۳) بعض اسباب اګرچه طبعي اوعادی دی خوالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ ته به سوال کوی چه ددی هغه اثر نښکاره نشي چه هغه دهلاکت سبب ګرځي، مثلاهغه داسې چه کشش دنمردکشش دزمکې نه څوچونده زیات دےاوس دغه سپوږمۍ چه بین الشمس والارض حائله شي نو داخو نمرته نیردی شي نوکه دغه نمرئې ځان ته راکاږی نودا ټول نظام به درهم برهم شي او اجرام فلکیه به په خپل مینځ کښې متصادم واقع شي، اوداجرام فلکیه ختمیدل قیامة قائم کیدل دی لکه چه نصوص پدی باندی ناطق دی؛ اذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ (۱) وَاذَا النُّجُومُ انْكَدَرَتْ (۲) وَاذَا الْجِبَالُ سُيِّرَتْ (۳) [التكوير] اذَا السَّمَاء انفَطَرَتْ(۱) وَاذَا الْكَوَاكِبُ انتَثَرَتْ (۲) وَاذَا الْبِحَارُ فُجِّرَتْ (۳) [الانفطار] اذَا السَّمَاء انشَقَّتْ (۱) وَاذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ (۲) وَاذَا الْأَرْضُ مُدَّتْ (۳) وَالْقَتْ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتْ (٤) [الانشقاق] وغیره نود داسې ناګهانه حادثې نه یره پکارده اوتضرع عاجزی پکار ده الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ ته

(٤) سابقه اقوام مهلکه خوهم ددغه اسباب عادیه په وجه هلاک شوی دی قوم نوح علیه السلام ته الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ ددغه باران اودچینوذ اوبو په ذریعه عذاب ورکړےوو، قوم هود علیه السلام ته هم ددغه عادی هوا (سیلۍ) نه عذاب جوړشو، چه دوی دوزیخ لاندی پخپله لاړه اوهلته هلاک شو لکه قران کښې فرمائی: فَلَمَّا رَاوْهُ عَارِضًا مُّسْتَقْبِلَ اوْدِيَتِهِمْ قَالُوا هَذَا عَارِضٌ مُّمْطِرُنَا بَلْ هُوَ مَا اسْتَعْجَلْتُم بِهِ رِيحٌ فِيهَا عَذَابٌ الِيمٌ [الاحقاف[٢٤] هم دغه وجه ده چه کله به سیلۍ شوه نو دنبي ﷺ رنګ به بدل شواو په مخ مبارک کښې به يي تغیرراغلو، اومونځ طرف ته به يي توجه اوفرمایله چه هسې نه داسیلۍ صورة دعذاب اختیار کړی،

قوله! ثم قال: داترديد دهغه رسم باطله دے په خوله دنبي پاک ﷺ باندى ،
قوله! فعليكم بالصلوة : داصلوة مطلق ذكر دےمعلومه شوه چه دعام مونځ پشان مونځ وو،
قوله!ولقدرايتني: دا هغه مختلف حالات دى چه ددغه صلوة كسوف دكولويه دوران كښى نبي كريم ﷺ ليدلى دى، اوددغه په وجه نبي كريم ﷺ مخكښى روسته تلےوو،
قوله! بمحجنه: والمخجن والمحجنة العصا المعوجة (لسان العرب - ۱۳ ۱۰۸) وقال الناكت عصامعوجة في راسها حديدة يتعلق بها الامتعة :

باب صلوة الاستخارة

حديث ۸۸۱۱۶۷ ابوحنيفة عن ناصح عن يحيى عن ابى سلمة عن ابى هريرة قال كان رسول الله ﷺ يعلمنا الاستخارة كما يعلمناالسورة من القران.

استخاره په لغة كښى طلب الخيرمن الله تعالى وطلب الراي ته وائى، صلوة الاستخاره دنبي كريم ﷺ نه ثابت دے، دچا اختلاف پكښى نشته، البته دومره خبره قابل غورده چه داپيژاندل غواړى چه دامونځ په كومو افعالو كښى كيدے شى ؟ نوافعال دانسانانو دوه قسمه دى، يو افعال عاديه دى چه هغه طبعى اوبديهى افعال دى، لكه خوراک څښاک وغيره شو پدى افعالو كښى استخاره نشته اونه جائزده، ځكه چه خوراک وغيره دانسان طبعى كارونه دى كله چه ورته دانسان ضرورة راشى نوكوى يى،
دويم: افعال غيرعاديه دى، دا هغه افعال دى چه انسان ته كله عارض كيږى اوكله نه، دا بديهى ندى، بيا دا افعال غيرعاديه په درى قسمه دى، حرام، واجب، اومباح، په حرام كارونو كښى خواستخاره نشته لكه زناكول، غلا كول، وغيره ځكه ددى نه كول قطعا ثابت دى، دغه شان په واجب او فرض امورو كښى هم استخاره نشته لكه فرض مونځ فرض روژه وغيره، ځكه چه ددى كول قطعاثابت دى، هرچه مباح كارونه دى چه دهغى كول نه كول دواړه جائزوى، لكه كورجوړول، دچاسره رشته كول، په سفر تلل، وغيره كله چه انسان ددے په خيراوشر كښى متردد شى نواستخاره پكښى سنت ده، البته دغه فعل مباح به مهتم بالشان وى، خسيس به نوى لكه مچ ماشى مړكړم اوكنه؟ بله دا چه دغه انسان به مابين دنفع اوضرركښى متردد وى، كه يوجانب پكښى نه وو بيا استخارى ته ضرورة نشته، يانفع پكښى شته خو دا انسان په تعين دوقت دكولو كښى متردددے، حديث الباب كښى دغى استخارى طرف ته ترغيب وركول دى چه نبي ﷺ دومره اهتمام ددى په تعليم كښى كړےلكه دقران سورة يادول،

حديث ۱۱۶۸\۸۹ ابوحنيفة عن حماد عن ابراهيم عن علقمة عن عبدالله قال كان رسول الله ﷺ يعلمنا الاستخارة في الامر كما يعلمنا السورة من القران وفي رواية قال قال رسول الله ﷺ اذا اراد احدكم امرا فليتوضا وليركع ركعتين من غير الفريضة ثم ليقل اللهم انى استخيرك بعلمك واستقدرك بقدرتك واسالك من فضلك فانك تعلم ولااعلم وتقدرولا اقدروانت علام الغيوب اللهم ان كان هذا الامرخيرا لى في معيشتى وخيرالي في عاقبة امرى فيسره لى وبارك لى فيه وزادفي رواية وان كان غيره فاقدر لى الخير حيث كان ثم رضنى به.

پدى روايه کښې بيان دطريقې داستخارې دے، مراديه ..امرا..سره هغه امر دے چه مباح ي او سړے پکښې مترددوى، بيا دغه دعاء کښې خپل مطلوب كاريه صراحت سره هم ذکرکولے شي، اوکنه وى نود ..امرا.. لفظ په ويلوسره هغه كاريه زړه کښې راوله، بياکله چه دغه مونځ اکړےشي او دعاء اووائى، نو په اودس کښې به اوده شي، چه سحردى په کوم طرف رائي برابروه هغه شان اکړه، که بياهم مترددوى نودويمه شپه دريمه شپه دى بياا کړى، اخربوطرف ته به الله تَبَارَكَ وَتَعَالَى دده رجحان بوخي، البته خوب ليدل پکښې ضروري اوشرط ندى بعض جاهلان دا ضروري اواهم ګڼړى داسې نده.

باب ماجاء في صلوة الضحى

حديث ۱۱۶۹\۹۰ ابوحنيفة عن الحارث عن ابى صالح عن ام هانى ان النبي ﷺ يوم فتح مكة وضع لامته ودعا بماء فصبه عليه ثم دعا بثوب واحد فصلى فيه زاد في رواية متوشحا وفي رواية (الحديث الخ)

ضحى دضحوة نه ماخوذدے، لغة کښې په معنى دارتفاع الشمس اوارتفاع النهارسره راځي، و *االضحو *!والضَّحْوة *!والضَّحِيَة . بِعَشِيَة) : الاخيرة لُغة في *االضحوة كما انّ الغدية لُغة في الغداة : (ارتِفاعُ النَّهارِ) وفي الصحاح : *!ضحوة النهار بعد طُلوع الشمس .(تاج العروس من جواهر القاموس ۳۸ / ٤٥٤) داصلوة الضحى دوه قسمه دےځکه چه دغه ..ضحوة .. په دوه قسمه ده، يوه ضحوة الصغرى ده، چه نمر يوه نيزه دوه نيزى راپورته شي، دويم ضحوة الكبرى ده چه نمربه اوچت شي اوګرم شي دومره ګرم شي چه داوښانوبچو (جونګو) بښپي اوخپړى ګرمى شي، يعنى دزوال نه مخکښې وخت وى، دى دواړه وختونوکښې مونځ شته او ثابت دے، د ..ضحوة الصغرى .. مونځ ته صلوة اشراق وائى، داخو به نبي كريم ﷺ اكثركولو، دسحرنه بعدبه خپل مقام ناست وو چې کله به نمر را وختلو اومكروه وخت به ختم شونودغه مونځ به ئي اکړو، اوترغيب يي هم ورکړے لکه؛ عَنْ سَهْل بْنِ مُعَاذ بن انس الْجُهَنى عَنْ ابيه

ان رسول الله ﷺ قال : من قعد في مصلاه حين ينصرف من صلاة الصبح حتى يسبح ركعتي الضحى لا يقول الا خيرا غفر له خطاياه وان كانت اكثر من زبد البحر » (سنن ابي داود۱۹٦/۱) اقل مقدار دغه مونځ دوه رکعته او زيات شپږ رکعات دي ،

دويم د ضحوة الكبرى .. مونځ دے چه ديته صلوة الاوابين هم وائي، حقيقي صلوة اوابين هم ددې وخت مونځ دے نه دماښام نه روسته، داصلوة ضحى هم دنبي کريم ﷺ نه ثابت دے، امام ابوداو د رحمة الله ددې باره کښې کافي روايات ذکر کړي دي، ويلے کيږي چه دادانبياء سابقين مونځ دے،دامې هم راغلي چه ادم، داؤد، موسى، اوعيسى عليهم السلام به دامونځ کولو (مظاهرحق ۸۵۲/۱) ددې اقل مقدار ۲ رکعته دي اوافضل مقدارځلور ٤ رکعته اوزيات مقدار ۱۲ رکعات دي، بعض ائمه ديته بدعة او مکروه وايي، اودصحابه کرامونه ددې اطلاق نقل کوي، خو داخبره صحيح نده ځکه دصلوة ضحى په باره کښې احاديث حد دتواترته رسيدلي دي، البته دابدعة ورته په دې حيثيت ويلے شي چه داخوک فرض وګنړي اوجماعت ته ورله تګ لازم وګنړي، او په تارک ددې باندې بد وائي، نور ددے ثبوت دنبي کريم ﷺ شوے چه کرے ئي هم دے اوپرينبودے يې هم دے، لکه ترمذي کښې دي ! عن ابي سعيد الخدري قال : كان نبي الله ﷺ يصلي الضحى حتى نقول لا يدع ويدعها حتى نقول لا يصلي (سنن الترمذي۲٤۲/۲) پاتې شوه دا چه نبي کريم ﷺ پرې هميش کيرې نده کړې دهغې وجه ظاهرده چه دنبي ﷺ به يوعمل خوښ وو، خوپدې يره به ئي نه کوو چې فرض اولازم نشي لکه دروايت دعائشه رضي الله عنها نه معلوميږي فرمايي! عن عائشة زوج النبي ﷺ انها قالت : ما سبح رسول الله ﷺ سبحة الضحى قط واني لاسبحها وان كان رسول الله ﷺ ليدع العمل وهو يحب ان يعمل به خشية ان يعمل به الناس فيفرض عليهم . (سنن ابي داو د ۱/ ۱۸۳)

باب ماجاء في قيام رمضان

حديث ۹۱/۱۷۰ ابوحنيفة عن الهيثم عن رجل عن عائشة عن النبي ﷺ كان اذا دخل شهر رمضان قام ونام واذا دخل العشر الاواخر شد الميزر و احيى الليل.

قيام رمضان عبارة دے دصلوة تراويح نه، تراويح درمضان المبارک خصوصي عبادة دے، نبي کريم ﷺ دغه عبادة کړےهم دےاوپرېښودےيې هم دے، په احاديثوکښې دهغې تفصيل شته، چه دوه شپې نبي ﷺ دغه عبادة دپاره راوتلےوو، بيا په دريمه شپه ندے راوتلے، د دې يرې نه چه دامونځ په امت باندې فرض

نشي، په روايـة د ابـوداو د كـنبـې دي: عَنْ عَائِشَة زَوْجِ النَّبِيِّ ﷺ انَّ النَّبِيَّ ﷺ صَلَّى فِي الْمَسْجِدِ فَصَلَّى بِصَلَاتِهِ نَاسٌ ثُمَّ صَلَّى مِنَ الْقَابِلَة فَكَثُرَ النَّاسُ ثُمَّ اجْتَمَعُوا مِنَ اللَّيْلَة الثَّالِثَة فَلَمْ يَخْرُجْ الَيْهِمْ رَسُولُ اللهِ ﷺ فَلَمَّا اصْبَحَ قَالَ " قَدْ رَايْتُ الَّذِى صَنَعْتُمْ فَلَمْ يَمْنَعْنِى مِنَ الْخُرُوجِ الَيْكُمْ الا انِّى خَشِيتُ ان يُفْرَضَ عَلَيْكُمْ ". وَذَلِكَ فِى رَمَضَانَ. (سنن ابي داود ۱ / ۵۲۰) بيـاعمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ خلـق پـدى راجمع كـړى دى اوابئ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يې ددوى قارى مقرر كـړے دے، اوشل ركعات دتـراويح يې كـړى دى چـه اجمـاع دصحابه كراموېرى شوى ده، بلكه اجماع دامة ده پدې باندى لكه امام ترمذى رَحِمَهُ اللَّهُ نقـل كـړى دى: عن ابي ذر: قال صمنا مع رسول الله ﷺ فلم يصل بنا حتى بقي سبع من الشهر فقام بنا حتى ذهب ثلث الليل ثم لم يقم بنا في السادسة وقام بنا في الخامسة حتى ذهب شطر الليل فقلنا له يا رسول الله ! لو نفلتنا بقية ليلتنا هذه ؟ فقال انه من قام مع الامام حتى ينصرف كتب له قيام ليلة ثم لم يصل بنا حتى بقي ثلاث من الشهر وصلى بنا في الثالثة ودعى اهله ونسائه فقام بنا حتى تخوفنا الفلاح قلت له وما الفلاح ؟ قال السحور

قال ابو عيسى هذا حديث حسن صحيح واختلف اهل العلم في قيام رمضان فراى بعضهم ان يصلي احدى واربعين ركعة مع الوتر وهو قول اهل المدينة والعمل على هذا عندهم بالمدينة واكثر اهل العلم ما روي عن عمر و علي وغيرهما من اصحاب النبي ﷺ عشرين ركعة وهو قول الثوري و ابن المبارك و الشافعي وقال الشافعي وهكذا ادركت ببلدنا بمكة يصلون عشرين ركعة وقال احمد روي في هذا الوان ولم يقض فيه بشيء وقال اسحق بل نختار احدى واربعين ركعة على ما روي عن ابي بن كعب واختار ابن المبارك و احمد و اسحق الصلاة مع الامام في شهر رمضان واختار الشافعي ان يصلي الرجل وحده اذا كان قارئا وفي الباب عن عائشة و النعمان بن بشير و ابن عباس (قال الشيخ الالباني : صحيح) (سنن الترمذي ۳ / ۱۶۹) حـديث البـاب كنبـې هـم دقيـام رمضان فضيلة ذكر دے

قوله! شد الميزر: يومقصد دا دے چه ترل دلنګ كنايه ده دكوشـش نـه خلـق وائي! فلانكـى دى كار تـه ملاوتړله، دويم مقصد دا چه لنګ به يې كلک كړو او خواهشات د ازواج مطهرات به يې هم ترک كړه اوټوله توجه به يې عبادة ته كړه»

باب ماجاء في قيام الليل

حديث ۹۲|۱۷۱ ابوحنيفة عن زياد عن المغيرة قال كان رسول الله ﷺ يقوم عامة الليل حتى تورمت قدماه فقال له اصحابه اليس قدغفرالله لک ماتقدم من ذنبک وماتاخر قال افلا اكون عبداً شكورا.

قيام الليل عبارة دے دتهجدودموږ نه په قيام الليل اوقيام رمضان كښې فرق ښكاره دے چه قيام رمضان خاص دےتررمضان اوقيام الليل په رمضان غير رمضان دواړوكښې وي. ددې فضيلت په حديث كښې بيان دے۔

قوله! اليس قدغفرالله لک: بعض ملحدين داسې مقام‌توكښې اعتراضات كوي چه تاسو وائي انبياء معصوم دي دكبائرواوصغائرونه حالانكه قران مجيد كښې راځي ﴿لِيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ وَيَهْدِيَكَ صِرَاطًا مُسْتَقِيمًا﴾ [الفتح ۲] او ﴿فَاصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِبْكَارِ﴾ [غافر ۵۵] دغه شان دي حديث كښې هم دصحابه كرامو خبره نقل شوه او نبي ﷺ داجواب ورنكړو چه څه معصوم يم، معلومه شوه چه دانبياء نه گناهونه كيږي؟

جواب دا دے چه د..ذنب.. معنى گناه او د..غفران.. معنى بخښنه نده، بلكه ذنب په معنى د ذمواري اوحصےسره راځي، فراءوائي: وقال الفراء: الذَّنُوبُ فِي كَلَامِ العَرَبِ: الدَّلْوُ العَظِيمَةُ. ولكنَّ العربَ تذهَبُ بِهِ الى النَّصِيبِ والحَظِّ. وبذلك فسَّرَ الاية .فَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا ذَنُوبًا مِثْلَ ذَنُوبِ أَصْحَابِهِمْ فَلَا يَسْتَعْجِلُونِ [الذاريات ۵۹] اي حَظًّا مِنَ العَذَابِ كما نَزَلَ بالذين من قبلهم وانشد:

لَنا ذَنُوبٌ وَلَكُمْ ذَنُوبُ :: فَإِنْ أَبَيْتُمْ فَلَكُم قَلِيبُ (تاج العروس من جواهر القاموس ۲ ۴۳۹)

او په معنى دبوج اوبوج واله شي سره راځي دغه وجه ده چه غټې ډكې بوكې د اوبوته ..ذنوب.. وائي و الذَّنُوبُ الدَّلْوُ العَظِيمَةُ مَا كَانَتْ . كذا في المصباح. او التي كانت لها ذَنَبٌ. اوهي التي فيها ماء . او هي الدَّلْو الملأى. قال الازهريّ! ولا يقال لها وهي فارغة (تاج العروس من جواهر القاموس ۲ ۴۳۸)

او..غفران..په معنى دفردى اچولوسره راځي علامه جوهري رَحِمَهُ اللهُ فرمائي! الغفر: التغطية . والغفر: الغفران. وغفرت المتاع: جعلته في الوعاء. (الصحاح تاج اللغة وصحاح العربية - ۲ / ۷۷۰) دلته به معنى دا كوو،يقينافرده اچولےشوى ده ستاپه مخكښې روستو ذموارو او بوجو نوباندى،، او داكنايه ده دتساهل نه يعنى ستاسره الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ په هرځاي كښې د سهولة معامله كوي نوولې ځان دومره ستړے كوے؟ نونبي

کریم ﷺ جواب ورکړو چه: دا لوئ نعمت په ماباندې الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ کړے نو ددې نعمت شکریه به څه نه اداء کووم څه؟

دویم دا چه ذنب هرځائي په معنی دګناه سره نه راځي بلکه ددې معنی په نسبتونو سره بدلیږي، عام انسانانو ته نسبت وشي نومعنی ئي ګناه ده خو چه انبیاء ته نسبت وشي نو معنی ئي ذمواري ده، یا کله داسې هم کیږي چه عام خلق یوکاردنیکۍ کوي نو مقربین به دهغونه دزیادت کوشش کوي که مقرب خلق هم د عامو خلقو غوندې عمل کوي نوددغه نیکۍ نه بیا تعبیر په ذنب سره کیږي لکه مشهوره مقوله ده،،حسنات الابرار سیئات المقربین،، دلته هم دذنب دغه مقصددے،

حدیث۹۳\۱۷۲ ابوحنیفة عن ابی جعفران صلوة النبي ﷺ باللیل کانت ثلث عشرة رکعة منهن ثلث رکعات الوتر ورکعتا الفجر.

دویم حدیث دے دقیام اللیل په باره کښې، مقداردصلوة تهجد خائي چه نبي ﷺ به عموما کولو، اوددې مخکښې وضاحت شوے په باب دوترو کښې چه دنبي ﷺ دشپې مونځ ۱۷ رکعاتو بوري وو چې اته۸ رکعات پکښې تهجد وو، هم دغه دعائشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا په روایة کښې دی چه امام بخاری نقل کړے په باب قیام النبي ﷺ باللیل في رمضان وغیره کښې ؛ عَنْ ابي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ انَّهُ اخْبَرَهُ انَّهُ سَالَ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا كَيفَ كَانَتْ صَلَاةُ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ فِي رَمَضَانَ فَقَالَتْ مَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ يَزِيدُ فِي رَمَضَانَ وَلَا فِي غَيْرِهِ عَلَى احْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً يُصَلِّي ارْبَعًا فَلَا تَسَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُولِهِنَّ ثُمَّ يُصَلِّي ارْبَعًا فَلَا تَسَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُولِهِنَّ ثُمَّ يُصَلِّي ثَلَاثًا قَالَتْ عَائِشَةُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ اتَنَامُ قَبْلَ انْ تُوتِرَ فَقَالَ يَا عَائِشَةُ انَّ عَيْنَيَّ تَنَامَانِ وَلَا يَنَامُ قَلْبِي (صحیح البخاري ٤/ ٣١٩) دیکښې اته تهجد اودرې وتر وو،

ابواب التطوعات

باب تاکید رکعتی الفجر

حدیث ۹٤\۱۷۳ ابوحنیفة عن علقمة عن ابن الاقمرعم حمران قال مالقی ابن عمرقط الاواق الناس مجلسا حمران فقال ذات یوم یاحمران لا اراک تواظبنا الاوانت تریدلنفسک خیرا فقه اجل یا اباعبدالرحمن قال اما اثنتان فانی انهاک عنهما واما واحدة فانی آمرک بها فانی سمعت رسول الله ﷺ یامربها قال ماهی تلک الخصال الثلث یاابا عبدالرحمن قال لاتموتن وعلیک دین

الا دينا تدع به وفاء ولاتسمعن من تلاوة اية فانه يسمع بک يوم القيمة كماسمعت به قصاصا ولايظلم ربک احدا واما لذی امرک به كماامرنی رسول الله ﷺفرکعتا الفجر فلاتدعهما فان فیهما الرغائب.

دفرض اوواجب مونځ نه علاوه مونځونوته تطوعات وائي هغه که سنت دی که مستحبات اونوافل دی سنة بیاعام دی که مؤکددی که زوائد دی، بیا دسنت مؤکده دپاره پنځه۵ مقامات دی اودولس۱۲ رکعات دی په شپه ورځ کښی، چه رکعتین قبل الفجر، اربع رکعات قبل الظهر، رکعتین بعد الظهر، رکعتین بعدالمغرب، ورکعتین بعد العشاء دی، نبي کریم ﷺ ددی په باره کښی فرمائي؛ امّ حَبِیبَة تَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّه ﷺ يَقُولُ مَنْ صَلَّى اثْنَتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَة فِي يَوْمٍ وَلَيْلَة بُنِيَ لَهُ بِهِنَّ بَيْتٌ فِي الْجَنَّة قَالَتْ امُّ حَبِيبَة فَمَا تَرَكْتُهُنَّ مُنْذُ سَمِعْتُهُنَّ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ (صحیح مسلم ٤ / ٦٦)

بيا دا سنن مؤکده چه سنن هدی اوسنن الراتبه ورته هم وائي ددی په تاکید کښی خپل مراتب دی، اوله مرتبه دسحردسنتو ده چه دا اکدالمؤکد دیٔ، دویمه مرتبه دمابنام دسنتو، دریمه دماسپخین دروستیٔ شفعی ده، څلورمه مرتبه دماسخوتن دروستیٔ شفعی ده او پنځمه مرتبه دڅلوروقبل الظهر ده، بیا نبی کریم ﷺ زیات اورده دمابنام سنت کړی دی څکه سورة الم السجده اوسورة الملک به يي پکښی لوستل، اودتولونه لنډ دسحر سنت کړی دی عائشه رضی الله عنها فرمائي؛ عَنْ عَائِشَة رضی الله عنها قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُخَفِّفُ الرَّكْعَتَيْنِ اللَّتَيْنِ قَبْلَ صَلَاة الصُّبْحِ حَتَّى انِّي لَاقُولُ هَلْ قَرَا بِامّ الْكِتَابِ (صحيح البخاري ٤ / ٣٤٥)

حدیث الباب کښی دسحردسنتوفضیلة او تاکید ذکر دے، اونبی ﷺ هم ددی اهتمام کړے چه په سفرحضر، صحة مرض، صلح جنګ هروخت کښی يي کړی دی،

حدیث ۹۵\۱۷٤ ابوحنيفة عن عطاءعن عبيدبن عُميرعن عائشة قالت ماكان رسول الله ﷺ على شيئ من النوافل اشد معاهدة منه على ركعتي الفجر.

دی حدیث کښی هم تاکیددسحر دسنتو ذکر دے او ترغیب دے اهتمام ته.

باب القراءة في ركعتي الفجر

حدیث ۹٦\۱۷۵ ابوحنيفة عن نافع عن ابن عمرقال رمقت النبيالنبي ﷺ اربعين يوما او شهرا فسمعته يقرا في ركعتي الفجر بقل هوالله احد وقل ياايهالكفرون.

دقراءة مسنونه دنبي ﷺ ذکر دے دسحریه سنتوکښی ،

باب فضيلة القعود على المصلى حتى تطلع الشمس

حديث ۹۷\۱۷۶ ابوحنيفة عن سماك عن جابربن سمرة قال كان النبي ﷺ اذا صلى الصبح لم يبرح عن مكانه حتى تطلع الشمس وتبيض.

دنبي ﷺ معمول داوو چې دسحردمانځه نه به روسته به ترنمردختلوپورى په خپله مصلى ناست وو تراشراق پورى چه كله به نمر را وختلو نوصلوة اشراق به يې اداء كړو بيا به كورته لاړو، لكه روايه د ابوداؤدكښې راځي: سماك قال قلت لجابر بن سمرة : اكنت تجالس رسول اللهﷺ؟ قال نعم كثيرا فكان لا يقوم من مصلاه الذي صلى فيه الغداة حتى تطلع الشمس فاذا طلعت قام ﷺ. (سنن ابي داود ۱ / ۴۱۳) داقيام د صلوة الاشراق دپاره وو، حديث الباب كښې ددغه مونځ فضيلة ذكر دے، بيا علماء فرمائي: چه داجلوس دنبي ﷺ مستقبلة القبله نه وو بلكه دا يمين ياشمال يا مستقبل الناس وو، امام بخارى باب ترلےدے دي باره كښې اوحديث ئې نقل كړے: عَنْ سَمُرَة بْنِ جُنْدَبٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذا صَلَّى صَلَاةَ اقبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ (صحيح البخاري ۱ / ۳۵۰) بعض علماء فرمائي: چه جلوس د امام بعد الصلوة مستقبل القبلة مكروه دے كله چه هيئة دالتحيات بدل نكړى،

باب فضيلة الاربعة بعد العشاء

حديث ۹۸\۱۷۷ ابوحنيفة عن محارب عن ابن عمرقال رسول اللهﷺ من صلى بعد العشاء اربع ركعات قبل ان يخرج من المسجد عدلن مثلهن من ليلة القدر.

داځلورركعا ت مؤكدندى بلكه سنت زائده دى ددى فضلية ذكر دے چه مقصد ئې واضح دے،

حديث ۹۹\۱۷۸ ابوحنيفة عن محارب عن ابن عمرقال رسول الله ﷺ من صلى اربعا بعد العشاء لايفصل بينهن بتسليم يقرافي الاولى بفاتحة الكتاب وتنزيل السجدة وفي الركعة الثانية بفاتحة الكتاب و حم الدخان وفي الركعة الثالثة بفاتحة الكتاب ويس وفي الركعة الاخيرة بفاتحة الكتاب وتبارك الملك كتب له كمن قام ليلة القدر وشفع له في اهل بيته كلهم ممن وجبت له النار واجير من عذاب القبر وروى موقوفا عن ابن عمر.

دادماقبل حديث تفصيل دے چه داځكښې ثواب هله دے چه پدى طريقه دغه ځلورركعا اداء كړےشي ،اوددےسره نوراجرونه هم ذكر شو،

اشکال: سورة یس خودسورة دخان نه مخکښې دے، نودا په دریم رکعت کښې شو او سورة دخان مخکښې شودیته خو فقهاء مکروه وائی؟

جواب: په نوافلوکښې هره شفع دمونځ مستقل مونځ دے، نو په اوله شفع کښې سورتونه په ترتیب دی اودویمه شفع دهغې نه جدا ده په هغې کښې هم دغه سورتونه په ترتیب دی فلااشکال.تائید دجواب: شاه انورشاه کشمیری صاحب فرمائي: ثم استدلّ صاحب "البحر على الفرق بين التطوُّع والفريضة . حيث لا يكره اختلال الترتيب في النافلة : بانَّ كلَّ ركعة من النفل صلاة براسها.(فيض الباري شرح البخاري ۳ / ۵۵)

دویم: جواب دا دے چه!چه تقدیم تاخیردسورتونوته فقهاءمکروه وئیلی دی خو کراهة دوه قسمه دے "کراهة اصلیه"،چه کراهة شرعی دے، دویم "کراهة فقهیه" دے چه فقهاء یوشی بد وګنړی دابې ترتیبی د سورتونو په مونځ کښې مکروهه په کراهة اصلیه سره نده چه شرعی کراهة دےځکه ټول قران مجید یوشان دے اوترتیب دنزول او ترتیب دمصحف ئي هم جدا جدا دے، البته کراهة فقهیه دے فقهاء ورته مکروه ځکه وئیلی دی چه په بې ترتیبۍ کښې په سامع خبط اوالتباس راځي اوتوجه ئي خرابیږی اضطراب کښې واقع کیږی ځکه وضع موجوده دقران خو داسې نده کنه، ددی تائید کښې شاه صاحب فرمائي! وذلك لان الترتيبَ حادثٌ بعد جمع القران. والرواياتُ التي تدُلّ على خلافه كلُّها قبل جمع القران. فلا تكون حُجَّة علينا.

باب الشفع بعد الظهر

حدیث ۱۰۰/۱۱۷۹ ابوحنيفة عن الحكم عن مجاهدعن ابن عباس قال كان رسول اللهﷺكان يصلى بعد الظهر ركعتين.

حدیث په خپل مفهوم کښې واضح دے،

باب ماجاء في فضيلة التطوعات في البيوت

حدیث ۱۰۱/۱۱۸۰ ابوحنيفة عن عن ابن عمرقال قال رسول اللهﷺ صلوا في بيوتكم ولاتجعلوها قبورا.

دفرض مونځ نه علاوه نورمونځونه که سنن دی که نوافل دی خو په کور کښې ئي ثواب زیات دے په نسبت دجمات باندې، وجه يې دا ده چه يو خو انسان دریاء نه محفوظ شي، دویم په کورکښې دعباداتو په وجه برکات هم راشي اوحوادث رفع شي او په کورکښې نور پیداشي لکه چه صحیح حدیث کښې راځي !

ان نفرًا من اهل العِرَاقِ قدِموا علَى عمَرَ . فسالُوهُ عن صَلاة الرَّجُلِ في بَيْتِه ؟ فقال عمَر: ما سالنِي عنها احَدٌ مُذ سالتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ عنها . فقال : صَلاة الرَّجُلِ فِي بَيْتِهِ نُورٌ . فنَوِّرُوا بُيُوتَكُم..

(مصنف ابن ابي شيبة ۲ / ۲۵٦) دریم د،نبی کریمﷺ خپل عمل هم دغه وو نو دا سنت فعلي شو، اویدی پي قول هم کړے دے لکه حدیث الباب شوچه دکور نه قبرمه جوړوئ ځکه قبرکښې مونځ نشته، وجه دا ده چه هلته مونځ څه فائده نه ورکوی هغه جدا دار دے چه دارالعمل نه دے بلکه دارالعمل دنیاده، او په مصنف دابن ابی شیبه کښې صحیح حدیث دے! عَنْ رَجُلٍ مِنْ اصْحَابِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : تَطَوُّعُ الرَّجُلِ فِي بَيْتِهِ يَزِيدُ عَلَى تَطَوُّعِهِ عِندَ النَّاسِ . كَفَضْلِ صَلاةِ الرَّجُلِ فِي الْجَمَاعَةِ عَلَى صَلاتِهِ وَحْدَهُ. (مصنف ابن ابي شيبة ۲ / ۲۵٦) خو دا روايات دتطوعاتو په باره کښې نه دفرض مونځ ځکه دفرض اوتطوعاتو فرق دے،

باب الصلوة في الكعبة

حديث ۱۰۲/۱۸۱ ابوحنيفة عن نافع عن ابن عمرقال سالت بلالا اين صلى رسول الله ﷺ في الكعبة وكم صلى قال ركعتين ممايلى العمودين اللتين تليان باب الكعبة والبيت اذ ذاك على ستة اعمدة .

ربط: ماتن دكتاب الصلوة خاتمه پدى باب سره كوى، حسن خاتمه باعتبار المكان ته اشاره ده، په كعبه كښې دننه مونځ څنګه دے؟مسئله كښې اختلاف دے، درى ۳ مذهبه دى ،

[۱] احناف فرمائي!چه کعبه کښې دننه هرقسم مونځ کیږی، که فرائض دی که واجبات دی که عام تطوعات دی،

[۲] بعض الناس وائي!کعبه کښې هیڅ قسم مونځ نه کیږی،

[۳] امام شافعی رَحِمَهُ اللَّهُ اوامام احمد رَحِمَهُ اللَّهُ (في رواية) فرمائي!چه غیرفرض پکښې کیږی خو فرض نه.

دبعض الناس دپاره روایة دابن عباس دے! عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ انَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ لَمَّا قَدِمَ ابَى انْ يَدْخُلَ الْبَيْتَ وَفِيهِ الْآلِهَة فَامَرَبِهَا فَاخْرِجَتْ فَاخْرَجُوا صُورَة ابْرَاهِيمَ وَاسْمَاعِيلَ فِي ايْدِيهِمَا الْأَزْلَامُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ قَاتَلَهُمُ اللَّهُ امَا وَاللَّهِ لَقَدْ عَلِمُوا انَّهُمَا لَمْ يَسْتَقْسِمَا بِهَا قَطُّ فَدَخَلَ الْبَيْتَ فَكَبَّرَ فِي نَوَاحِيهِ وَلَمْ يُصَلِّ فِيهِ (صحيح البخاري ٦ / ۲۳)

د احنافودپاره دلیل حدیث الباب دے، پاتی شودلیل دبعض الناس دهغی نه جواب دا دے چه دا واقعه اودخول الی الکعبة متعددځل واقع شوی ده، کله نبی کریمﷺ مونځ کړے کله نه، د امام شافعی رَحِمَهُ اللَّهُ رد

هم وشوجه نفس موضع ثابت شو او فقهاء احناف فرمايي چه فرض نفل دواړه جائز دي او د شرعي موانعو نه علاوه

بل هيڅ دليل نشته.

حديث ١٨٢/١٠٣: ابوحنيفة عن حماد عن سعيد بن جبير عن ابن عمر ان رجلا سأله عن صلوة النبي ﷺ في الكعبة يوم دخلها فقال صلى في الكعبة ركعتين فقال له رأى المكان الذي صلى فيه فقال فبعث معه ابنه ثم ذهب تحت الاسطوانة حيال الجنبة وفي رواية (الحديث الخ)

د دې حديث د حنفيانو د دعوى تائيد هم ثابت شو.

ابواب الجنائز

وبعد فقهاء ومحدثين د كتاب الصلوة نه وروستو د جنازې متعلق ابواب وضع كړي دي ځكه چه جنازه هم يو موضع ده چه د ښې خدمت د مړي دے نو په دغه مناسبت سره مصنف هم په كتاب الصلوة كښې ذكر كړي بيا دغه په تبع كښې څه نور جزئيات هم ذكر كړي چه د مړي سره ئې تعلق وي.

باب فضيلة من مات ولده

حديث ١٨٣/١٠٤: ابوحنيفة عن علقمة عن ابن بريدة عن ابيه قال قال رسول الله ﷺ ما من ميت يموت له ثلثة من الولد الا ادخله الله تعالى الجنة فقال عمر او اثنان فقال ﷺ واثنان.

حديث كښې بيان د فضيلت دغه كس دے چه بچي ئې مړه شي او صبر ئې وكړو ځكه مرګ د مړي ډير سخت مصيبت دے په دغه ثواب دے. هم معلومه شوه چه د مړي د ژړا نه صبر كول افضل دي (نيف د ثواب) مك او الصبر عند الصدمة الاولى.. الحديث. امام شافعي رحمه الله فرمائي ثواب په غير د صبر نه هم شته خو د تضعيف د ثواب نه محرومه شو؛ ولا فرق فيه بين الصبر وعدمه. نعم يحرم من تضعيف الاجور.

(فيض الباري شرح بخاري ٢: ٨٩)

حديث ١٨٤/١٠٥: ابوحنيفة عن عبدالملك عن رجل من اهل الشام عن النبي ﷺ قال انك لترى السقط محبنطئا يقال له ادخل الجنة فيقول لا حتى يدخل ابواي.

سابقه باب سره متعلق حديث دے. په دې كښې هم د دغه ثواب خبره كيږي چه ذكر شو د ناقص خلقت ذكر دے ځكه سقط.. غورزيدلي وضع ته وائي مطلب دا چه كوم بچي چه د مور نه ناقص غورزيږي او نه معلوميږي چونكه ديكښې هم انسان ته حزن او غم رسيږي نو اجر پرې ځكه ميلاويږي.

قوله: محبنطئا: بعض د محبنطئ معنى غضبناكيدل او منع كونكي سره كوي. نكه دنيا كښې يو د شوه

ځنکه یوه خبره راونیسی چه داماله راکړئ اوژاړی تر ځوچه دی دهغه مقصد توئ پوره کړے نو هغه ضد نیولےوی نه غلے کیږی، اخرت کښې به هم دغه ضدکوی چه څه جنت نه داخلیږم چه ترڅوخما مور او پلار نوی داخل شوی،

دویم: بعض معنی کوی متبغض یعنی داخوستاسوبدی شی چه داخه وشو خو فائده ئی څومره ده؟ ددینه دامعلومه شوه چه ماشوم وفات شی نو مور او پلار ته بې ثواب دغم او صبر په وجه میلاویږی، اوس داغم صرف په ماشوم کښی نوی بلکه دبالغ په وفات کښی هم وی بلکه په هغی کښی نور هم زیات وی، ځکه دماشوم په مرګ کښی صرف شفقة غم وی اودبالغ سره نور امیدونه هم تړلےشوی وی دهغه غم ډیرزیات وی نو په هغه خو په طریق اولی ثواب میلاویږی، په بعض روایاتو کښی چه ذکر د..لم یبلغوا الحنث..

راغلے لکه په روایة دانس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کښی ؛ بعن انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قال : قال النبي ﷺ ما من الناس من مسلم یتوفی له ثلاث لم یبلغوا الحنث الا ادخله الله الجنة بفضل رحمته ایاهم (صحیح البخاري ۱ / ٤۲۱) نودا تخصیص دشفاعة دپاره شوے دے لکه شاه صاحب رَحِمَهُ اللهُ فرمائي! وتخصیص عدم الحنث لشفاعته وان کان الحزن علی الکبیر ازید. (فیض الباري شرح البخاري ٤ / ٦۱)

باب ما جاء في عفو الرب عن الذنوب

حدیث ۱۸٥\۱۰٦ ابوحنیفة عن سلیمان بن عبدالرحمن الدمشقی عن محمدبن عبدالرحمن التستری عن یحی بن سعیدعن عبدالله بن عامرعن ابیه قال قال رسول الله ﷺ اذامات العبد والله یعلم منه شرا ویقول الناس في حقه خیرا قال الله تعالی للملائکته قبلت شهادات عبادی علی عبدی وغفرت علمی .

معتزله وائي:چه یومسلمان ګناهکاربغیردتوبې نه مرشی نودغه تن ته الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ پس دمرګ نه معافي نه کوی، اهل سنة والجماعة فرمائي:الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ په توبې سره هم معاف کول کوی اوبغیرتوبې نه بعدالموت هم معاف کول کوی که اوغواړی، حدیث الباب د اهل سنة و الجماعة دپاره دلیل دے چه الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ دهغه دشرعلم لری او بیائي هم معاف کوی، معلومه شوه چه دے اوس هم په کبیره موصوف دے،

قوله:اوغفرت علمی : معنی دا چه ماپه خپل علم فرده واچوله او دغه کس ته دشر دده چه ماته معلوم دے سزانه ورکوم.

حدیث ۱۸٦\۱۰۷ ابوحنیفة عن اسماعیل عن ابی صالح عن ام هانئ قالت قال رسول الله ﷺ من علم ان الله یغفرله فهو مغفور له.

د هغه ځکښي سره متعلق دے د.. علم.. نه مراد يقين دے ځکه چه په روايت د بخاري شريف کښي راځي:
اعلم عبدي ان له ربا يغفر الذنب ويأخذ به غفرت لعبدي (صحيح البخاري ۲۳ / ۲٦)

باب حمل الجنازة بجوانبه الاربع

حديث ١٠٨\١٨٧ ابوحنيفة عن منصورعن سالم بن ابى الجعد عن عبيد بن نسطاس عن ابن مسعود انه قال من السنة ان تحمل بجوانب السرير فمازاد على ذلک فهو نافلة .

جنازه څلوينښت قدمه وړل مسنون عمل دے البته دوړلو په طريقه کښي اختلاف دے، امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ او جمهور فرمائي: چه سنة طريقه دا ده چه جنازه د هرطرف نه لس\۱۰ لس\۱۰ قدمه ويسي پدې شان چه اول د ښي جانب مخکښي طرف بيا د ښي جانب شاطرف بيا د کس جانب مخکښي طرف بيا د کس جانب شا طرف به ويسي، دې عمل کښي تکثير د جماعة دے، اکرام الميت هم دے چه مړے به داسي نه وړے لکه د بوګو دکيدې پشان، او دې کښي حفاظت عن سقوط الميت هم دے.

امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ فرمائي: چه مسنون دوه طرفه وړل دي، هغه چه هر دوه طرفه وي، خويوبه د مخکښي او بل به د شا طرف وي، حديث الباب د جمهورو دليل دے، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دليل بعض موقوف روايات دي چه تاويلات پکښي هم کيدے شي او د اصح احاديثوسره معارض هم دي، علامه عيني رَحِمَهُ اللهُ فرمائي: وَقَالَ الشَّافِعِيُّ : السُّنَّةُ انْ يَحْمِلَهَا رَجُلَانِ كَمَا ذُكِرَ فِي الْكِتَابِ . وَاسْتَدَلَّ عَلَى ذَلِكَ بِانَّ النَّبِيَّ ﷺ حَمَلَ جِنَازَةَ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بَيْنَ الْعَمُودَيْنِ قُلْنَا كَانَ ذَلِكَ لِازْدِحَامِ الْمَلَائِكَةِ وَكَانَ الطَّرِيقُ ضَيِّقًا حَتَّى رُوِيَ انَّهُ ﷺ كَانَ يَمْشِي عَلَى رُءُوسِ اصَابِعِهِ وَصُدُورِ قَدَمَيْهِ وَكَانَ حَالَةَ ضَرُورَةٍ وَنَحْنُ نَقُولُ بِهِ . (العناية شرح الهداية ۳ / ۱۰)

باب طرد المراة عن الجنازة

حديث ١٠٩\١٨٨ ابوحنيفة عن على بن الاقمرعن ابى عطية بن الوداعى ان رسول الله ﷺ خرج فى جنازة فراى امراة فامربهافطردت فلم يكبرحتى لم يرها.

مسئله اتفاق ده زنانه په جنازوکښي شرکة نشي کولے بلکه نبي کريم ﷺ فرمائي چه ددوی دپاره په جنازه کښي څه حصه نشته، حديث الباب په مسئله کښي واضح دے.

باب ماجاء في تكبيرات الجنازة

حديث ۱۱۰|۱۱۸۹ ابوحنيفة عن حماد عن ابراهيم عن غير واحد من ان عمر بن الخطاب رضي الله عنه جمع اصحاب النبي ﷺ فسالهم عن التكبير قال لهم انظروا اخر جنازة كبر عليها النبي ﷺ فوجدوه قد كبر اربعا حتى قبض قال عمر فكبروا اربعا.

جنازه کښې څو تکبيرات دي؟ مسئله کښې اختلاف دے دری ۳مذاهب دی ،

[۱] محمد بن سيرين رَحِمَهُ اللهُ فرمائي چه دري۳ تکبيرات فرض دی [۲] ائمه اربعه رَحِمَهُمُ اللهُ فرمائي څلور٤ تکبيرات فرض دی [۳] ابن ابی ليلی رَحِمَهُ اللهُ اوامام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ فرمائي پنځه۵ تکبيرات فرض دی.

دلائل: دجمهورودليل حديث الباب دے چه دا اخری عمل دنبی کريم ﷺ دے، او دليل دابن ابی ليلی رَحِمَهُ اللهُ اوامام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ دپاره حديث دزيد بن ابی ارقم رضي الله عنه دے ترمذی نقل کړے، عن عبد الرحمن بن ابي ليلى قال : كان زيد بن ابي ارقم يكبر على جنائزنا اربعا وانه كبر على جنازة خمسا فسالناه عن ذلك ؟ فقال كان رسول الله ﷺ يكبرها (سنن الترمذي ۳ / ۳٤۳) جواب دا دے چه دعبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په روايت سره دا ثابته ده چه نبی کريم ﷺ په جنازه نهه۹، ووه۷، پنځه۵، او څلور٤ تکبيرات کړی دی خودصحابه کراموپه اجماع سره دغه نورمنسوخ شوی دی ځکه اخری فعل دنبی ﷺ دڅلورو تکبيرات دے، ددينه علاوه نور احاديث او اثار هم شته چه حد دشهرت ته رسيدلی دی ،

باب الدعاء على الميت

حديث ۱۱۱|۱۱۹۰ ابوحنيفة عن شيبان عن يحيى عن ابى سلمة عن ابى هريرة ان النبي ﷺ كان يقول اذاصلى على الميت اللهم اغفرلحينا وميتنا وشاهدنا وغائبنا وصغيرنا و كبيرنا وذكرنا وانثانا.

جنازه کښې مقصود اصل دعاء للميت ده چه دا دهغه دپاره يونوعه سفارش دے ديکښې ډيری دعاګانی نقل دی، حديث الباب واله پکښې جامع دعاء ده ددينه علاوه نوری دعاګانی هم وئيلے شی، او ددی سره نوری هم ضم کولے شی ديکښې هيڅ قباحة نشته، البته په جنازه کښې دشريک ضعفاء خلقو خيال ساتل ضروری دي، ډيراوږدول مناسب ندی لکه دجمع مونځ کښې چه د تخفيف حکم دے،

باب اللحد افضل من الشق

حديث ۱۱۲|۱۱۹۱ ابوحنيفة عن علقمة عن ابن بُريدة عن ابيه قال الحد للنبی ﷺ واخذ من قبل القبلة ونُصب عليه اللبن نصبا.

دی حدیث کښې دوه مسئلې قابل غوردي یودا چه اوني کوم قبردے؟ دویم قبرته به مرے څنګه کوزولے شي ؟

تحقیق د اولې مسئلې دا دے چه قبراولا به دوه قسمه دے (١) قبرسني (٢) قبر ضروري، بیا قبر سني په دوه قسمه دے،، لحد او شق،،

لحد: دینه وائي چه په بنکته باندې ترنامه(سره)یاسینې (صدر) پورې زمکه وکنستلے شي، بیا پکښې قبلې طرف دننه تاخچه غوندے جوړه کړے شي، او مړے په هغې کښې کیخودے کیږي، واللُّحد الشقّ الذي یکون في جانب القبر موضع المیت لانه قد امیل عن وسط الی جانبه (لسان العرب -٣/ ٣٨٨)

شق: دیته وائي چه زمکه په بنکته وکنستلے شي ترڅو حده بیا د دغه نه لږ په تنګ مقدارکښې نورخاني وکنستلے شي ترنامه یاسینےپورې دیته ،،ضریح،، هم وائي،والضَّرِیحُ الشَّقُّ فِي وسط القبر (لسان العرب: ٢ / ٥٢٥)

قبرضروري: دیته وائي چه په بنکته باندې په دومره مقدارکښې خاني وکنستلے شي چه مرے په کښې خاني شي چه دپاسه پرې تختې وغیره کیخودے شي نودهغې دبدن سره نه لګي، دا اخرې قسم دضرورة په وخت کښې جائز دے، ځکه بعض زمکې سختې وي اوبعض زمکې داسې چه اوبه پکښې نیزدې وي نو په دومره مقدارکښې کنستل ضرورة دے، باقي شو اول دوه قسمه نودغه دواړه مسنون دي، البته په افضلیة کښې ئې اختلاف دے،

[١] احناف فرمائي چه لحدغوره دے دشق نه، دلیل ورلره روایة دترمذي دے! عن ابن عباس قال : قال النبيﷺ اللحد لنا والشق لغیرنا (سنن الترمذي٣ / ٣٦٣)

[٢] شوافع فرمایي چه شق غوره دے، ځکه دنبيﷺ دقبرپه باره کښې چه اختلاف راغےنوبعض ویئل شق به کنستلےشي، احناف جواب ورکوي چه نبي کریم ﷺ پخپله په لحدکښې دفن شوے دا دلیل ددےخبرې دے چه لحد غوره دے او تائید ذدے دپاره روایة دابن عباس رضي الله عنه دے کوم چه مخکښې بیان شو، ددینه علاوه نورهم روایات شته چه حد دشهرة ته رسیدلی دی ،

قوله! واخذ من قبل القبلة : دا دویمه مسئله اختلافیه ده، احناف فرمایي مرے چه قبر نه کوخولے شي نو دیکښې اخذ من جانب القبله افضل دے پدې شان چه دغه اخذ به مستقبل القبلہ وي اومرے به دقبلې دطرف نه را اخلي، شوافع فرمایي چه ،،سل،، افضل دے سل دیته وائي چه کوزونکے په قبر کښې

لاندی وی اوږدقبر دخپو دطرفه به مړےخکتہ کړےشی،

دشوافع دلیل روایۃ دمصنف ابن أبی شیبۃ دے! ان قیسا اوصی عند موته ان یسل سلا. (مصنف ابن ابي شیبۃ ۳ / ۳۲۸) د احنافو دپاره دلیل حدیث الباب دے، دشوافعو د استدلال نه جواب دا دے چه! دعبدالله ابن عباس رضی الله عنه روایۃ دے! عن ابن عباس : ان النبيﷺ دخل قبرا لیلا فاسرج له سراج فاخذه من قبل القبلة وقال رحمك الله ! ان کنت لا واها تلاء للقران وکبر علیه اربعا (سنن الترمذي ۳/ ۳۷۴) ددینه علاوه نورروایات هم شته، دویم جواب دا دے چه دنبیﷺ چونکه دفن د شپې شوےوو لکه څکښې روایۃ نه واضح شوه، اوخاي هم تنک وو نو بعض صحابۀ کرامو ته دغه دخول الی القبر ..سل،، ښکاریدوځوحقیقۃ کښی ..سل،، نه ووبلکه اخذ دجانب د قبلې نه وو، څکه جانب د قبلې معظم دے ددی لحاظ پکاردے، بل جواب دا دے چه کله روایات متعارض واقع شی نو قیاس ته به ځواوقول داحنافو قرین بالقیاس دےځکه شان دمسلمان دا دے چه دهغه په امورو کښی دقبلې خیال وساتلےشی، نو په کوزولوکښی قبر ته هم اهتمام پکار دے، لکه څنګه چه په قبرکښی مستقبل القبلة کیخودلے شی، دلحد طرف هم الی جانب القبله وی، او دمرګ په وخت کښی هم قبلې طرف ته اړولےشی وغیره وغیره.

باب السوال عن الميت في القبر

حدیث ۱۱۳۱۱۹۲ ابوحنیفة عن علقمة عن رجل عن سعدبن عبادة قال قال رسول اللهﷺ اذاوضع المؤمن في قبره إتاه الملک فاجلسه فقال من ربک فقال الله قال من نبیک قال محمد قال وما دینک قال الاسلام قال فیفسح له في قبره ویرى مقعده من الجنة فاذاكان كافرا اجلسه الملك فقال من ربك فقال هاه لا ادرى كالمضل شيئا فيقول من نبيك فيقول هاه لادرى كالمضل شيئا فيقال مادينك فيقول هاه لادرى كالمضل شيئا فيضيق عليه قبره ويرى مقعده من النار فيضربه ضربة يسمعه كل شئ الاالثقلين الجن والانس ثم قرا رسول اللهﷺ يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ امَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ وَيُضِلُّ اللَّهُ الظَّالِمِينَ وَيَفْعَلُ اللَّهُ مَا يَشَاء .

په مسئله دسوال في القبروالجواب عنه کښی اختلاف دے دوه مذهبه دی،

[۱] داهل السنة والجماعة په نیزباندی قبرکښی سوال اوجواب حق دے،

[۲] معتزله قبرکښی دسوال جواب نه انکارکوی ،دلیل داپیش کوی چه علم دالله تبارك وتعالى به په دغه مړی دمطیع اودعاصی وی یانه؟ که نوی نوجهل دالله تبارك وتعالى لازمیری، داخوباطل ده، او که علم دالله تبارك وتعالى وی نوسوال ... عبث ... لازم ... دالله تعالی کښی اوالله تبارك وتعالى ددینه

هم منزه دے،

داهل السنة والجماعة دطرف نه جواب دا دے چه الله تَبَارَكَ وَتَعَالَى عالم نړی او په هم تبوس کوی اوعلت ئے لازمیری ځکه چه هرسوال داستعلام او ځان پوهه کولودپاره نوی بلکه کله سوال کیدے شی دپاره دمقام ښکاره کولو دمسئول نوروخلقوته، لکه چه الله تَبَارَكَ وَتَعَالَى د ابراهیم عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ نه امتحان اغستے دپاره دښکاره کولودمقام ددے نوروخلقوته فرمائی وَإِذِ ابْتَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِي قَالَ لَا يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ البقرة ۱۲۴ ددی دپاره چه هسی نه نورخلق اعتراض اوکړی چه ابراهیم عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ولی یواځی خبیر الله سو په موبره کښی خه کسی دے، نو الله تَبَارَكَ وَتَعَالَى دغه اعتراض په امتحان اغستوسره ختم کړوچه په ابراهیم عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ کښی ددی مقام دحصول لیاقت شته نه په بل چاکښی، نودلته هم داتپوس ددی دپاره کیږی چه مړی ته هم خپل مقام ښکاره شی او نوروخلقوته هم دده مقام معلوم شی، بیا داتپوس دانبیاء کرامو او مشومانو نه هم کیږی، دانبیاء کرامو نه تعظیما وتوقیرا کیږی او د مشومانو نه عادة کیږی چه ددغه فرښتو عادة جاری دےبدی چه خامخا تپوس کوی، ځکه خوورته ..منکرنکیر.. وائی چه هر کړنی ناسند دے، حدیث الباب داهل سنة والجماعة دلیل دے، ددینه علاوه د دی باره کښی احادیث متواترة المعنی واردی، چه انکارترینه کفر دے،

حالات راوی سعدبن عبادة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: نوم اونسب ئې سعدبن عبادة بن دلیم بن حارثة الانصاری الخزرجی، جلیل القدروالمرتبة صحابی دے، د انصارو سرداروو، یودهغه ممبرانو نه وو چې په مکه مکرمه کښی دنبی ﷺ سره میلاؤ شوی وواوایمان ئې پری راوړےوو، انتهائي سخی اوجواد انسان وو، هره شپه به ئې اتیا۸۰ کسان داصحاب صفه نه مانبام یوتلل دخوراک دپاره، فتح مکه کښی جنډه هم دده سره وه، په موافقت دروایة دمسلم دے په بدر کښی حاضروو، البته اهل مغازی وائي چه دے بدرته نه وو حاضر شوے، د مدینی منوری نه په اخرکښی اووتلواو په ۱۵ھ کښی د دمشق شام په حوران نومی کلی کښی په مغسله کښی مړ اوموندے شو، واقعه ئې داسی وه چه ده په مغسله کښی اودس ماتولو، چه دیوال ته ئې تکیه شوه، او وفات شو، اوبعض روایاتوکښی دی چه بول قائمائي کول چه راپریوتلو ابو نعیم اصبهاني روایة نقل کړے بدے: عن ابن سيرين . قال : بينا سعد يبول قائما اذ اتكا فمات . فبكته الجن . فقالوا : نحن قتلنا سيد الخزرج سعد بن عباده رميناه بسهمين فلم نخطئ فؤاده (معرفة الصحابة ۸ / ۴۶۳)

بعض نور روایاتو کښی راځی چه بدن ئې شین شوےوو، دمرگ سبب ئې معلوم نه شو، حتی چه دیو کوهی

نه اواز واوریدلے شو چه څوک نه لیدل کیدل هغه اوازداوو:

قتلناسیدالخزرج سعدبن عبادة رمیناه بسهمین فلم نخطئ فؤاده

معلومه شوه چه جناتوقتل کړے ووعمدا یاسهوا، قبرني دشام په منیحه نومی کلی کښې دے اوس دغه کلے په‌یزار مشهوردے، دی کتاب کښې دده نه دغه یوحدیث نقل دے،

حدیث ۱۱۴۱۱۹۳ ابوحنیفة عن اسماعیل عن ابی صالح عن ام هانی عن النبي ﷺ في القبرثلث سؤال عن الله تبارک وتعالی ودرجات في الجنان وقراءة القران عند راسک.

حدیث دمخکښې باب سره تعلق ساتی چه قبرکښې دری خصلته او کارونه دی چه یو پکښې سوال دے ددری۳ خبرویه باره کښې چه مخکښې حدیث کښې یي تفصیل وشو، او د جنة درجات به ورته ښودلے شي، اوتلاوت دقران به ئي سرته کیږی په ژبه دفرشتي یابه اواز دقاری خپل،

باب زیارة القبور واداب

حدیث ۱۱۵۱۱۹۴ ابوحنیفة عن علقمة عن ابن بریدة عن ابیه قال خرجنامع رسول الله ﷺ في جنازة فاتی قبر امه فجاء وهو یبکی إشدالبکاء حتی کادت نفسه ان یخرج من بین جنبیه قال قلنایارسول الله مایبکیک قال استاذنت ربی في زیارة قبر ام محمد فاذن لی واستاذنته في الشفاعة فابی علی وفي روایة قال (الحدیث الخ)

په ابتداداسلام کښې نبی کریم ﷺ دزیارة القبورنه منع کړی وه ځکه چه خلق دشرک اوقبر پرستۍ سره دجاهلیة د دورنه عادت وو، کله چه دهغوی عقیده د توحید راسخه شوه، اوشرک دوی ته کښ: کبیره او اکبر الکبائر ښکاره شوه نو بیا اجازة میلاؤشو، روسته حدیث کښې داخبره راروانه ده: بیا دسړو دپاره دغه اجازة ثابت دے داخبره اتفاق ده، خود زنانو په باره کښې اختلاف دے، بعض په جوازقائل دی، ددغه حدیث داجازی د عموم نه استدلال نیسي، خو بعض نورعلماء فرمائي: چه زنانه ددغه اجازة نه مستثنی دی، ځکه دزنانو په باره کښې دنبی ﷺ ښکاره ارشاد موجود دے! عَنِ ابنِ عبَّاسِ قَالَ لَعنَ رَسُولُ اللّٰه ﷺ زَائِرَاتِ الْقُبُورِ وَالْمُتَّخِذِينَ عَلَيْهَا الْمَسَاجِدَ وَالسُّرج. (باب فِي زِيَارَةِ النِّسَاءِ الْقُبُورَ. سنن ابي داو د ۳ ۲۱۲)

حدیث الباب په جوازدزیارة دلیل دے،

قوله! واستاذنته في الشفاعة : دی مقام کښې یوه بله مسئله قابل غورده چه مسئله دایمان د ابوینو د نبی کریم ﷺ ده، دعلماء پدی کښې اختلاف دے دوه مذهبه دی،

[۱] متقدمين په تكفيرددوارو قول كوي دليل ئي ظاهرد نصوصو دے لكه دا رواية شو، ملا على قارى رَحِمَهُ اللَّهُ پدى باندى مستقل رساله ليكلى ده او دغه دلائل ئي ذكر كرى دى چه دال دى په تكفير باندى،
[۲] متاخرين علماء د دوى په ثبوت داسلام باندى حكم كوى بلكه څومره اباء او اجداد او امهات دنبى كريم ﷺ چه دى هغه ټول مسلمانان وو، اودوى به غيرمعذب وى، په درى طريقوسره دليل ذكر كوي (۱) دا يل دا دے چه دوى په دعاء دنبى ﷺ سره الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ ژوندى كړه ايمان ئي راوړو او بيا وفات شو (شرح سفرالسعادة للشيخ عبدالحق محدث دهلوى) (۲) دليل دا دے چه دا دواړه په زمانه دفترة كښې وفات شوى دى او دغه زمانه كښې چه څوک وفات دى هغه به غيرمعذب وى چه كله موحدوى ياكافرغيرمعاندوى ځكه چه دعوة ورته ندے رسيدلے الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ فرمائي! انَّ الْعَذَابَ عَلَى مَنْ كَذَّبَ وَتَوَلَّى [طه:۴۸] دغه شان فرمائي! وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّى نَبْعَثَ رَسُولًا [الاسراء : ۱۵] (۲) دليل ئي دا دے چه ابوين د رسول الله ﷺ په ملة قديمه د ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ باندى وو، اوكوم خلق چه په دور جاهلية كښې په دغه ملة باندى ووهغه به غير معذب وى، دا رائي د امام سيوطى رَحِمَهُ اللَّهُ ده اوبدى باندې ده يوه رساله هم ليكلى ده،
قول فيصل: حقه خبره دا ده چه په اباء دنبى ﷺ كښې توقف اكړے شي،ځكه دا عين اذب دے، او د دوى نسبت كفرته كول انتهائي بےادبى ده دغه وجه ده چه علماؤ په ملا على قارى رَحِمَهُ اللَّهُ باندى سخت تنقيد كړے دے چه ده په تكفير د ابوين د رسول الله ﷺ كښې ولى رسالة ليكلى ده؟ ځكه دا مسئله دومره مهتم بالشان هم نده اونه ددى مونږه مكلف يوچه ددينه ځان خبر كړو، نه په قبر، حشر اوقيامة كښې ددى په باره كښې څه تپوس شته، (الطحطاوى والشامى)
حديث ۱۱۶۱|۱۹۵ احنيفة عن علقمة بن مرثدوحمادانهماحدثاه عن عبدالله بن بريدة عن ابيه عن النبي ﷺ انه قال كنت نهيتكم عن القبور ان تزوروها فزوروها ولاتقولوا هجرا.
حديث كښې رخصت دے چه زيارة دقبوروكولے شي، البته دغه زيارة به درقة القلب اولتذكرالاخرة والموت دپاره وى. لكه چه نوروروايا توكښى ددے تصريح شوى ده ترمذى كښى په رواية دعلقمة فرمائي! عن علقمة بن مرثد عن سليمان بن بريدة عن ابيه قال : قال رسول الله ﷺ قد كنت نهيتكم عن زيارة القبور فقد اذن لمحمد في زيارة قبر امه فزوروها فانها تذكر الاخرة (سنن الترمذي ۳ / ۳۷۰) دغه شان دعاء او استغفار للاموات به كوى، ددينه علاوه بےهوده اوعبث كاورنه به نوى چه استعانة من القبور دے، ياحصول دتبركاتودے، يا نور بےهوده كارونه شو لكه د بعض زنانؤ اوسروعادات دے، دغه بالاتفاق حرام دى د داسى زيارة په حرمة كښى دچاخلاف نشته لكه شيخ حمادالانصارى فرمائي! واعلم ان

الفائل بالاباحة مقيد لها بما اذا لم تشتمل زيارة النساء للقبور على ما يفعله كثير من نساء زماننا من المنكر قولا وفعلا. بل ما يفعله كثير من جهلة الرجال ايضا. فلا خلاف اذا في الحرمة كما لا يخفى على المطلع الخبير اذا حصل ما ذكر. (كشف الستور في نهي النساء عن زيارة القبور ۱ / ۲)

[تنبيه] پۍ شوه دا خبره چه محشي ليکلي ده چه جوازد استمداد من الانبياء خو اتفاق مسئله ده اواستمداد بغير الانبياء نړه بعض فقهاء او صوفياء ثابت کړے دے، نودا خبره غلطه ده پدی څه دليل نشته څکه ستمداد من الاموات کفراوشرک دے، بلکه استمداد من الاحياء بلا اسبابه کفر دے نود امواتونه خو په طريق اولي کفرشو،علامه ابن تيميه رَحِمَهُ اللَّهُ فرمائي چه شرک د دوه څيزونه رائج کيږي يوتعظيم دقبورو، دويم د نيکانو تصويرونه وستل دپاره دحصول دتبرک؛ قال شيخ الاسلام ابن تيمية كما في "مجموع الفتاوى "۱۷ / ٤٦٠: (والشرك في بني ادم اكثره عن اصلين اولهما: تعظيم قبور الصالحين وتصوير تماثيلهم للتبرك بها (تحذير المسلمين من القبوريين ۱ / ۸)

اوکوم قول چه محشي د امام شافعي په حواله پيش کړے دے چه ! ,,قبر موسى الكاظم ترقياق مجرب للاجابة ,, ددے يو جواب دا دے چه داقول دمشهورامام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ ندے کوم چه صاحب دمذهب دے، بلکه دا ديوشيعه شافعي قول دے ، څکه په شيعه ګانوکښې هم محمدبن ادريس الشافعي تير شوے دا قول د هغه دےاو داد شيعه ګانو دجل اوفريب دے چه هغوئ دسنيانو مشرانو نومونه اوالقاب خپل کسانونه وضع کوی خلق پرې دوکه کوی، لکه چه د امام طبري په نوم لقب هم په دوی کښې يوشخص تيرشوے (لکه مخکښې په مسئله دمسح درجلين کښې وضاحت شوے) اوقرينه پدی قول (چه داد شيعه قول دے) دا ده چه دغه قول کښې ,,موسى الكاظم,, ذکر دے چه دا دشيعه ګانو په هغه دولس امامانو کښې يو امام دے، نودا قول دليل نشي ګرځيدلےڅکه شيعه ګان خونورهم ډير دکفر خبري کوی نو دی خبري له هيڅ اعتبار نشته،

دويم جواب دا دے چه که داقول دمشهورامام شافعي شي نوبيا دا قول د هغه محمول دے په حالت دجذبه باندي اودی له هم څه اعتبارنشته (دا جواب دمشفق استاذ شيخ شاه پور رَحِمَهُ اللَّهُ دے)

حديث ۱۱۷\۱۹۶ ابوحنيفة عن علقمة عن ابن بريدة عن ابيه قال كان النبي ﷺ اذاخرج الى المقابر قال السلام على اهل الديار من المسلمين وانا انشاءالله بكم لاحقون نسال الله لناولكم العافية .

دا حديث دسابقه باب سره متعلق دےاوادب دزيارة القبورپکښې ذکر دے چه مقبرې ته د ورتلوپه وخت کښې به دامسنون ذکراودعاء کوی، چه سلام اچول دی بيا داسلام سلام د دعاءاوذکر دے ديکښې لاس

وجوب نشته بعض دغه ګټي به صورت ذکر روي به هغې کښې لاس وجوب نشته لکه چه دوه مونځ نه
روسته بعض ذکر شو چه هغې کښې لاس وجوب نشته، او چه کله د اسلام د ذکر شو نو دبیه سمع
د مرفوعه نه تنبیری خکه د اسلام د تحیه ده چه ورون یکښې شرط دی بلکه ذکر دے.

كتاب الزكوة

چه مونږ خلاصه په ضروری ډیرے شی. ربط، معنی لغوی، معنی اصطلاحی، تجزیه د روایاتو، تفصیل د

بیربو:

[ربط:] د كتاب الصلوة نه روسته عام طور مصنفین كتاب الزكوة ذكر كوي ځكه قران كريم كښې د مونځ سره متصل كثر ځایونوكښې د زكوة ذكر دے او پنځه بناء د اسلام كښې دريمه مرتبه لري .

[١] معنى لغوى: زكوة لغة كښې په معنى د طهارة ، ونمو (زيادة) سره راځي قران كښې په دواړو معنو مستعمل دے. خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ اِنَّ صَلَاتَكَ سَكَنٌ لَهُمْ وَاللّٰهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ [التوبة :١٠٣] علامه ابن منظور فرمائي الزكاة في اللغة الطهارة والنماء والبركة والمدح وكله قد استعمل في القران والحديث (لسان العرب ١٤/ ٣٥٨)

[٢] معنى اصطلاحى: تمليك جزء مخصوص من مال مخصوص لشخص مخصوص لله تعالى (اللباب في شرح الكتاب ١/ ٦٨) يا ايتاء جزء من النصاب الحولي الى فقير غير هاشمي (عمدة القاري ١٣/ ١٨٠)

يې سبب ددې دپاره المال النامي او شرط ئې اسلام، حرية ، بلوغ، عقل، او خلو من الدين دے، او حكم ئې الخروج عن عهدة التكليف في الدنيا والنجاة من العقاب والوصول الى الثواب في الاخرة .

[٤] تجزية الروايات: كتاب الزكوة كښې مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ ټول درې روايات راوړی دی او دغه ټول مرفوع دی .

باب في الركاز

حديث ١١٩٧/١ ابوحنيفة عن عطاء عن ابن عمر قال قال رسول الله ﷺ الركاز ماركزه الله تعالى في المعادن الذى ينبت في الارض.

ركاز د ركز نه ماخوذ دے په لغة كښې په معنى د ثابت في الارض سره راځي، په معنى اصطلاحى د ركاز كښې اختلاف دے، د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ او د عام فقهاء په نيز باندې په ركاز، او معدن، او كنز كښې فرق

دے:

رکاز: کښې عند الاحناف عموم دے هغه خزانه اودفينه ده چه په زمکه کښې وی عام ددينه که مخلوق بخلق الله وی او که من دفينة المخلوق وی، لکه،،علامه خـوارزمی رَحِمَهُ اللهُ فرمـائي! ومنه الرِكاز المعدنُ او الكَنْز لان كلا منهما مركُوز في الارض وان اختلف الراكِزان. (المغرب في ترتيب المعرب ١ / ٣٤٤)

معدن: هغه خزانه ده چه مخلوق بخلق الله وی،

كنز: هغه خزانه ده چـه موضبوع بوضـع الخلـق وی او الكَنْز: واحد الكنوزِ وهو المال المدفون. تسمية بالمصدر. (المغرب في ترتيب المعرب ٢/ ٢٣٤)

اول قسم عام شواو دا باقی قسمين خاص شو،

د امـام شـافعی رَحِمَهُ اللهُ پـه نيزبانـدی ،،**رکـاز**،،مـال مدفونـه في الارض تـه وائي،او ،،**معـدن**،، مـا خلقـه الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ في الارض ته وائي، دده په نيزباندی رکاز خاص شو لکه چه معدن خاص دے، بياپدی مسئله کښې اتفاق دے چه په رکاز کښې خمس دےخود معدن په حکـم کښـې اخـتلاف دے، د امـام صـاحب رَحِمَهُ اللهُ په نيزيه معدن کښې هم خمس دے، اوزکوة پکښې نشته، ځکه چه رکاز عام دے اومعـدن خـاص دےاوس په رکازکښې خمس دےنو په معدن کښې هم خمس شو، د امام شافعی رَحِمَهُ اللهُ اوامام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نيزباندی په معدن کښې زکوة نشته بلکه امام مالک رَحِمَهُ اللهُ فرمائی چه معدن بمنزلة الزرع دے دهـغی په مطابقت پدی کښي زکوة دے، اوامام شافعی رَحِمَهُ اللهُ فرمائی چـه معـدن کښـې خمـس نشـته البتـه کـه نصاب ته رسيدلو زکوة پکښې شته ورنه جبار دے، دليل د دوی دپاره حديث دنسائی دے! عن ابي هريرة عن النبي ﷺ قال : العجماء جرحها جبار والبئر جبار والمعدن جبار وفي الركاز الخمس (سـنن النسـائي ٥ / ٤٤) د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ دمذهب تفصيل ددی روايه دموطا امام مالـک رَحِمَهُ اللهُ لانـدی شـوے او دائی دويم دليل هم دے! عن ربيعة بن ابي عبد الرحمن عن غير واحد :ان رسـول الله ﷺ قطع لبلال بن الحارث المزني معادن القبلية وهي من ناحية الفرع فتلك المعادن لا يؤخذ منها الى اليوم الا الزكاة (الموطا - رواية يحي الليثي ١/ ٢٤٨)

د احنافو اوفقهاء دپاره دليل حديث الباب دےطريقه داستدلال ترينـه دا ده چـه رکاز کښـې خـو بالاتفـاق خمس دے او دلته رکاز اومعدن يو شوی دی نو په معدن کښې هم خمس شو، دويـم دليـل داحنـافو روايـة د مؤطا امام محمد دے چه صحيح حديث دے فرمائي! قال محمد : الحديث المعروف ان النبي ﷺ قال : في الركاز الخمس قيل : يا رسول الله وما الركاز؟ قال : المال الذي خلقه الله تعالى في الارض يوم

خلق السموات والارض في هذه المعادن ففيها الخمس. و هو قول ابي حنيفة رَحِمَهُ اللّٰهُ والعامة من فقهائنا (الموطا - رواية محمد بن الحسن ۲ / ۱٤۱)

د امام شافعي اوامام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ داول استدلال نه جواب دا دے چه ددغه حديث مقصد دا ندے چه کنی معدن کښې خمس نشته بلکه دغه ځائي يوه بله مسئله زير بحث ده، هغه دا چه چاپه خپله زمکه کښې کوهےياڅه کندو کنستو او څوک پکښې پريوتو او مړشو نو په مالک دزمکې څه ديت وغيره نشته دغه سرے توئ دے، او دامسئله دسباق نه معلوميږي چه حديث کښې د ,,العجماء اوبئر,, ذکرهم دے چه دهغې نه مراد بالاتفاق هم دغه دے چه کوم مونږه ذکر کړو، پاتې شودويم استدلال چه دبلال بن الحارث مزنی د معادنو واقعه پکښې ذکرده نودهغې جواب دا دے دغه حديث منقطع دے علامه عبدالحی لکهنوی رَحِمَهُ اللّٰهُ په حاشيه دمؤطا باندې نقل کوی: واما حديث بلال بن الحارث المزني في معادن القبلية . فقال ابو عبيد : هو منقطع ومع انقطاعه ليس فيه انه عليه الصلاة و السلام امر بذلك وانما فيه لا يؤخذ منها الا الزكاة (الموطا رواية محمد بن الحسن ۲ / ۱٤۱) والله اعلم.

باب قول النبي ﷺ كل معروف صدقة

حديث ۲\۱۱۹۸ ابوحنيفة عن عطاءعن جابر قال قال رسول الله ﷺ كل معروف فعلته الى غنى او فقير صدقة .

حديث کښې اشاره ديته ده چه صدقه په معنی دزکوة هم راځي لکه قران کښې راځي: خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ اِنَّ صَلَاتَكَ سَكَنٌ لَهُمْ وَاللّٰهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ [التوبة : ۱۰۳] او په معنی دمطلق خيرات اوانفاق هم راځي، دلته معنی ثانی مراد ده، قرينه پری ,,الی غنی ,, لفظ دے، ياغرض ددی حديث نه په صدقه کښې يوبل تقسيم کول دی، يوه صدقه وجوبي ده چه زکوة نذر وغيره دی، چه فقط مسلمان فقيرته ورکولے شی، دويم قسم صدقه نفلي ده چه هغه هرچاته ورکولے شی،

باب اعطاء الهدية من الصدقة

حديث ۳\۱۱۹۹ ابوحنيفة عن حمادعن ابراهيم عن الاسود عن عائشة قالت تُصُدق على بريرة بلحم فراه النبي ﷺ فقال هولها صدقة ولنا هدية .

بريرة دعائشه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا ازادکړده وينځه وه عائشه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا د ابوبکرالصديق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ لور ده دقريشو نه ده خود بنوهاشم نه نده، چونکه صدقات او زکوة صرف په قريشو کښې په بنو هاشم اودهغو په غلامانو

وېنځوحرام دی، بريره دپاره صدقه اغستل حرام نه وو، دېته غوښه صدقه کړے شوه، دغه غوښه دوی په اورباندی کړی وه او نبي کريمﷺ ليدلی وه، کله چه نبيﷺ تشريف راوړو عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ورته نوړخه مخکښی کړه نبيﷺ دغوښے تپوس اوکړو؟ جواب عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ورکړوچه دغه دصدقے غوښه ده چه بريره ته ورکړے شوې ده، اوصدقه خو په تاحرامه ده؟ نبيﷺ اوفرمايل! چه دبريرے دپاره صدقه اوزمونږ دپاره هديه شوه، معلومه شوه په تبدل ملک سره تبدل په عين کښی راځي جه ددينه ډير مسائل مستنبط کيږی، ترجمة الباب دحديث نه واضح دے،

كـــتـــاب الصـــوم

اجمالي خبرې :-ربط-معنی لغوی -معنی اصطلاحی-وقت دفرضيۀ -تجزيه درواياتو.

[١] ربط:- مخکښی کتاب الصلوة اوکتاب الزکوة ذکر شواوس کتاب الصوم ذکر کوي پکار خو داوه چه صوم ني مقدم کړے وے په زکوة باندی ځکه صوم عبادة بدنی دے لکه ذ صلوة، اوزکوة خوعبادة مالی دے، خومصنفين عام طوريه صلوة پسی زکوة ذکر کوی ځکه قران کريم کښی اکثر د زکوة ذکر په صلوة پسی متصل راځي نوزکوة په دغه وجه مقدم شو، دحج نه صوم مخکښی شوځکه هغه فريضه عمری ده اوصوم فريضه سنوی ده، او بله دا چه حج دمال بدن دواړوسره تعلق ساتی نو په منزله د مرکب شو او مرکب په مرتبه کښی روسته وی،

[٢] معنی لغوی:- صوم په لغة کښی په معنی دمطلق امساک (بندیز) سره راځی، علامه عبدالحی لکهنوی رَحِمَهُ اللهُ فرمائي الصوم لغة : الامساك عن اي شيء كان قولا كقوله تعالى : { اني نذرت للرحمن صوما فلن اكلم اليوم انسيا } او فعلا كقول النابغة الذبياني :

خَيْلٌ صيامٌ وخيلٌ غيرُ صائمة   تحتَ العَجاجِ واخرى تَعلُك اللُّجُما

صام الخيل اذا لم تعتلف. والعَجَاج الغُبار. وعَلَكَتِ الدابة اللجامَ تَعْلُكه عَلْكا : لاكَتْه وحركته في فيها قال ابن خالويه اللُّجَم العاطومُ وهي سمكة في البحر والعرب تتشاءم بها. تفصيله في لسان العرب: ١٢/٣٥٠

[٣] معنی اصطلاحی:- امساک مخصوص مع النية ته وائي،

[٤] وخت دفرضية:- فرضية دصوم رمضان په ٢ ھ کښی په مدينه منوره کښی شوے دے، علامه بدرالدين عينی رَحِمَهُ اللهُ فرمائي! ونزلت فريضة رمضان في شعبان من السنة الثانية من الهجرة فصام رسول الله تسع رمضانات (عمدة القاري: ١٦ / ٢٢٣)

[٥] **تجزيه**:- دی کتاب کښی مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ ټول ١٩ روایات ذکر کړی دی،

باب فضيلة الصوم

حدیث ١|٢٠٠ ابوحنيفة عن عطاءعن ابی صالح الزيات عن ابی هريرة قال قال رسول اللهﷺ يقول الله تعالى كل عمل ابن ادم له الاالصيام فهو لی وانا اجزي به.

يو معنى دحدیث دا ده چه هرعمل دبنی ادم کښی دده څه نه څه منفعة دنيويه شته لکه مونځ شومثلاچه داعبادة هم دےلیکن انسان ته پکښی منفعة دنیوی شته چه اندامونه ئې ازاد شی اوورزش وشی، خوروژه داسی عبادة دے چه دبدن څه ظاهری فائده نه لری بلکه صرف دالله تَبَارَكَ وَتَعَالىٰ دپاره مشقت اولوږه تنده برداشت کول دی، اوس دامعلومه ده چه د هرعمل بدله الله تَبَارَكَ وَتَعَالىٰ ورکوی لیکن دلته نسبت الله تَبَارَكَ وَتَعَالىٰ خپل ځان ته اکړو اشاره ده عظمة ددغه اجرته،

دویمه معنی دا ده چه،الله تَبَارَكَ وَتَعَالىٰ فرمائي چه ددے په بدله کښی څه ورکړے کیږم دا هم دپاره دتعظیم داجرنسبت الله تَبَارَكَ وَتَعَالىٰ ځان ته کړے، چه دومره لوئ اجردےګویه څه ئې حاصل کړم، والله اعلم

حدیث ٢|٢٠١ ابوحنيفة عن اسماعيل عن ابی صالح عن ام هانی قالت قال رسول اللهﷺ مامن مؤمن جاع يوما فاجتنب المحارم ولم ياكل مال المسلمين باطلا الا اطعمه الله تعالى من ثمار الجنة .

حدیث شریف کښی په بلیغ اندازسره فضیلة دصوم اوصائم ذکر دے، هغه دا چه دی حدیث کښی په مطلق امساک اولوږه چه نیت دصوم پکښی نه وی، اودحرامونه ځان اوساتی نوالله تَبَارَكَ وَتَعَالىٰ به ورلره دجنت میوی ورکړی، اوس چه سره دنیت دصوم نه وی چه عبادة دےاوټوله ورځ وی نو د هغه دپاره دجنت میوے او ثواب خو ډیریقینی دے،

باب فضيلة يوم عاشوراء

حدیث ٣|٢٠٢ ابوحنيفة عن ابراهيم عن ابيه عن حُميدبن عبدالرحمن الحميری عن رسول اللهﷺ قال لرجل من اصحابه يوم عاشوراء مُرقومک فليصوموا هذا اليوم قال انهم طعموا قال وان كانوا قدطعموا.

لسم١٠ دمحرم ته یوم عاشوراء وائي، دبعض په نیزد نهم٩ دمحرم روژه ورسره لازم ده، لکه امام ترمذی رَحِمَهُ اللّٰهُ دیکښی حدیث نقل کړے د ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عن الحكم بن الاعرج : قال انتهيت الى ابن عباس وهو متوسد رداءه في زمزم فقلت اخبرني عن يوم عاشوراء ؟ اي يوم هو اصومه ؟

قال اذا رايت هلال المحرم فاعدد ثم اصبح من التاسع صائما قال فقلت اهكذا كان يصومه محمد ﷺ ؟ قال نعم (سنن الترمذي ۳ / ۱۲۸) او دبعض په نيز د يولسم[۳] : قول فيصل دا دے چه د لسم محرم سره دمخکښې يا روسته ورځ روژه تل کول پکاردی، فقط لسمه ورځ به يهودو نيوله خکه پدی ورځ فرعون هلاک شوےاوبنی اسرائيلوته نجات ميلاؤ شوے دے، د هغی په خوشحالئ کښې به يهودو ددے روژه نيوله، نبي ﷺ حکم اکړوچه دهغوئ نه خلاف اکړئ يوه ورځ ورسره زياته کړئ په روايه دترمذی کښې دی؛ وروي عن ابن عباس انه قال صوموا التاسع والعاشر وخالفوا اليهود ! (سنن الترمذي - ۳ ۱۲۸) او ابوداؤ کښې راځی؛ عنِ ابنِ عبّاس قال لما قدم النّبيّ ﷺ المدينة وجد اليهود يصُومُون عاشُورَاء فسُئِلُوا عن ذلِك فقالُوا هذا اليوم الذى اظهر اللهُ فِيهِ مُوسى على فِرعون ونحنُ نصُومُهُ تعظِيمًا لهُ. فقال رسُولُ اللّهِ ﷺ «نحنُ اولى بِمُوسى مِنكُم». وامر بِصِيامِهِ. (سنن ابي داو د ۲/ ۳۰۲) ابتدا کښی دبعض رواياتو په مطابقت ددے روژه فرض وه نبي ﷺ پخپله هم نيوله او صحابه کرامو ته به ئي هم ددےامرکوو، اوقريشوبه په جاهلية کښی هم دا روژه نيوله کله چه نبي ﷺ مدينه منوره ته لاړونو د حکم درمضان سره ددے حکم دفرضية منسوخ شوکماني ابی داؤد؛ عن عائشة رَضِيَ اللَّهُ عَنها قالت كان يوم عاشوراء يوما تصومه قريش فى الجاهلية وكان رسول الله ﷺ يصومه فى الجاهلية فلما قدم رسول الله ﷺ المدينة صامه وامر بصيامه فلما فرض رمضان كان هو الفريضة وترك عاشوراء فمن شاء صامه ومن شاء تركه. (سنن ابي داو د ۲/ ۳۰۲)

پدی ورځ باندی نورهم ډير غټ کارونه شوی دی اوکيږی به،لکه قبوليه د توبې دادم عَلَيهِ السَّلَام، خروج ديونس عَلَيهِ السَّلَام عن بطن الحوت، قيام د سفينة نوح عَلَيهِ السَّلَام على الجو دی، او قيام دقيامة به هم پدی ورځ وی، حديث الباب کښی فضيلة دروژے ددے ورځے بيان شوے،

قوله! وان كانو قد طعموا: كه دا امريه هغه وخت کښی وی چه دعاشوراء روژه فرض وه نو بيا امر د وجوب دپاره دےخکه دا امساک دپاره دتشبيه بالصائمين دے، لکه چه اوس په رمضان کښی دغه مسئله ده چه چاته د ورځے دمياشت د رؤية پته ولګی اوسحرئي خوراک کړے هم وی خو باقی ورځ به وجوبا امساک کوی او بيا به يې قضاء کرخوی، او که دغه امردنبي ﷺ په هغه وخت کښی وی چه دعاشوراء روژه فرض نوه بلکه فرضية ئي منسوخ شوے وو، بيا دغه امساک استحبابا دے دپاره داحترام ددغه ورځے.

باب فضيلة صيام ايام البيض

حديث ۲۰۳\٤ ابوحنيفة عن الهيثم عن موسى بن طلحة عن ابن الحوتكية عن ابن عمر قال اتى رسول الله ﷺ بارنب فامر اصحابه فاكلوا وقال للذي جاءبها مالك لاتاكل منها قال انى صائم قال وماصومك قال تطوع قال فهلا البيض.

دمياشتى ۱۳\۱٤\۱۵ تاريخ ته ايام بيض وائي، حديث الباب كښې ددغه ورځو د روژې نيولو ته ترغيب ورکړے شوے، دحديث نه دا هم معلومه شوه چه دسيوى (ارنب) خوراک جائزدے بعض علماء ددے په حرمة قائل دى دليل ئې رواية د ابوداؤدے! ان عبد الله بن عمرو كان بالصفاح قال مُحمَدٌ مكانٌ بمَكَّة وانَّ رَجُلا جاءَ بارْنَبٍ قَدْ صادها فقالَ يا عبد الله بن عمرو ما تقُولُ قال قَدْ جيء بها الى رَسُول اللّهِ ﷺ وانا جالسٌ فَلَمْ ياكُلها ولمْ ينه عَنْ اكْلها وزعم انها تحيضُ. (سنن ابي داو د ۳ / ٤١٤) او دغه بعض په دليل کښې هم داپيش کوى چه..لانهاتدمى .. يعنى حيض ئې کيږى داد زناؤسره مشابه شوه نو اکل ددےجائزندے، خوجواب ورته کيدے شى، چه ددےمشابهت په وجه حيوان حراميدلے نشى که نه بياخوغوا ميښه اوبيزه هم په ډيرو اوصافو کښې دزنانوسره مشابهت لرى دغه دى هم حرام شى ؟ د جمهورو دپاره دليل حديث الباب دے اونور روايات هم شته (مسئله په خپل ځائې رارروانه ده)

باب ماجاء في تعين وقت السحور

حديث ٢٠٤\٥ ابوحنيفة عن عبدالله عن ابن عمر قال سمعت رسول الله ﷺ ان بلالا ينادى بليل فكلوا وشربوا حتى ينادى ابن ام مكتوم فانه يوذن وقدحلت الصلوة .

دسحرى اول وخت متعين ندےالبته اول وخت مستحبه يې معلوم دے چه چه په اخره حصه دشپه کښې صباح ته نيږدے وخت دے،اواخرى وقت ئې معلوم دے چه حديث الباب پرې تصريح کړى ۰ چه دصباح رانښتل دى، دنبي ﷺ په زمانه کښې به دوه۲ اذانونه کيدل يواذان به بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کوو، د به دپيشمنى دپاره کيدو، دويم به اذان د عبدالله بن ام مكتوم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وو، دا به د سحر دمونځ دپاره وو، يوبل رواية کښې داذان د بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په باره کښې راځى :عَنْ عَبْدِ اللّه بن مَسْعُودٍعَنْ النَّبيّ ﷺ قال لا يَمْنَعَنَّ احدَكُمْ او احدًا مِنكُمْ اذانُ بلالٍ مِنْ سَحُورِهِ فَانهُ يُوذِّنُ او يُنادي بِلَيلٍ لِيَرْجعَ قَائِمَكُمْ ولِيُنَبِهَ نائِمَكُمْ (صحيح البخاري ۲ / ٤٩٣)

څکه، چه دصحابه کرامويه روژه کښې دشپې ژوند تقسيم وو، هغوى به احياء الليل کوله، څې کسان به

ونه حصه دشپه کښې اوده شوي نو به په عبادة کښې مشغول وو، د مشغول کسان به بيا اوده شو هغه نو به په عبادة کښې مشغول شو، چه بلال رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ به اذان کړونو هغه اوده کسان به را پاسيدل دپښمنۍ دپاره او د موجوده ولاړ به عبادة به وايس لاړل کورو نوته،

دی وضاحت سره په جمهوروانمه رَحِمَهُمُ اللّٰهُ باندی ردوشو، هغوئ وائي چه که د سحر اذان د صباح دوخت نه مخکښې وشي نوهم جائزدے او دا ئي نشته او خصکريه امام نووی رَحِمَهُ اللّٰهُ باندی ردوشوخکه هغه وائي دسحر اذان د نصف شپې نه پس صحيح دے، ځکه دبلال رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اذان به قبل الوقت وو.

دغه شان په جمهورو رد وشو په تعدد د اذان کښې دوقت واحد دپاره چه ترخلورو پورې ديومونځ دپاره اذان کولےشی، دليل ئي دا اذانين دی.

مونږه ويو چه دغه اذان دپښمنۍ دپاره وو، اودسحراذان به عبدالله بن ام مکتوم رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ کوو، دے به په دبه ناست وو نظر کښې ئي فرق وو، چه که به د صبا رڼا سه ښکاره شوه اوخلقوبه ورته اوويل چه صباح شو: لکه د بخاری په روايه کښې تصريح ده: عَنْ سَالِمِ بنِ عَبدِ اللّٰهِ عَنْ ابِيهِ انَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ انَّ بِلَالًا يُؤذِّنُ بِلَيلٍ فَكُلُوا وَاشرَبُوا حَتَّى يُنَادِيَ ابنُ امِّ مَكتُومٍ ثُمَّ قَالَ وَكَانَ رَجُلًا اعمَى لَا يُنَادِي حَتَّى يُقَالَ لَهُ اصبَحتَ اصبَحتَ (صحيح البخاري ۲/ ۴۸۷) نوهغه به ئي اذان کولو.تفصيل په فيض الباري شرح البخاري ۲ / ۳۸۱) کښې ملاحظه کړه،

حکم الاذان لصلوة التهجد:- مسئله کښې اختلاف دے دوه[۲] مذهبه دی ،

[۱] د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ په نيزد تهجدو دپاره اذان نشته بلکه منسوخ دے، بلکه دهر قسم نوافلو دپاره اذان نشته.

[۲] عندالبعض دتهجدو دپاره اذان شته اوجائزدے، دليل کښې دغه بعض دا حديث پيش کوی، داحنافودطرف نه جواب دا دے چه دا اذان دتهجدو دپاره نه وو، بلکه داد پيشمنی دپاره وو، دليل ددے دپاره په دی حديث کښې دا دے چه .. لِيَرْجِعَ قَائِمَكُمْ وَلِيُنَبِّهَ نَائِمَكُمْ،،دا حال دصحابه کراموبه رمضان کښې وو لکه مخکښې دهغې تفصيل وشو: دويم دليل ددے دپاره! فکلوا وشربوا دے، ځکه دغه اکل شرب چه ممنوع کيږی خوروژے دپاره،

او که بالفرض دا اذان دتهجدو دپاره شي نو مونږه وايو چه منسوخ شوے دے، ځکه دا خصوصية نبي ﷺ وو، دليل پدی خبره دا دے چه دا اذان صرف په مدينه منوره کښې وو نه په اطرافوکښې، حالانکه صحابه کرام او مسلمانان په اطرافوکښې هم ډير وو؟ وجه د نسخ ددی اذان دا ده چه! په مصلينو باندی

خبه رخي. پته نه لګي چه دا ذې د تهجدو د پاره ئے که د سحر د پاره به ئې شوه د سحر د پاره چه وي نسو کړيه قبل په زمانه کښې خبه رتيرخه چه د تهجد د پاره به دا ورکړه حوب نشو رتيرخکه يو دا د بلال رضي الله عنه وو او دويم د عبد الله بن ام مکتوم رضي الله عنه وو. صحابه کرامو د زړو سوي چه في سره فرق کولے شو.

باب الحجامة للصائم

حديث ۲۰۲: ابوحنيفة عن ابي الحسن وروى عن الهيثم وهو ابو الحسن عن الهيثم عن عكرمة عن ابن عباس ان رسول الله ﷺ احتجم بالقاحة وهو صائم وفي رواية قال احتجم رسول الله ﷺ بالقاحة وهو محرم صائم وفي رواية ان النبي ﷺ احتجم واعطى الحجام اجره ولوكان خبيثا ما اعطاه.

مسئله: د صائم په حالت کښې د حجامت حکم څه دے؟ په دې مسئله کښې اختلاف دے او دوه مذهبه دي.

[۱] امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله، امام مالک رحمه الله، امام شافعي رحمه الله، سفيان ثوري رحمه الله به نيز د صائم د پاره حجامة مفسد (که حاجم وي که محجوم وي) جائز دے ترڅو چه ډيره کمزوري کوي نه. صحابه کرامو کښې د علي رضي الله عنه او عبد الله بن مسعود رضي الله عنه به نيز هم دغه حکم دے.

[۲] امام احمد رحمه الله، عطاء بن ابي رباح رحمه الله، امام اوزاعي رحمه الله، اسحاق بن راهويه رحمه الله به نيز حجامة في الصوم روژه ماتوي. د دوي دليل د بخاري روايت دے چه معلق في نقل کړے دے ويروي عن الحسن عن غير واحد مرفوعا فقال افطر الحاجم والمحجوم (صحيح البخاري ۱/ ۲۵۷)

د جمهورو د پاره دليل حديث الباب دے.

قوله! واعطى الحجام اجره: د په ضمن کښې به مسئله دا چه حجام ته مزدوري ورکول څنګه دي؟ عند الجمهور چونکه حجامة علاج دے او په علاج مزدوري اجرة ورکول جائز دي. دليل حديث الباب دے. البته دومره دا چه اجرة اخستل او پيشه جوړول مکروه دي په کراهة تنزيهي سره او وجه دا دا چه دغه په وينوکښې کوتي وهل او اجرة پري حاصول د صاحب مروة کار نه دے، البته په صورت خدمة بلا اجرة کول عظيم ثواب لري.

عند البعض په دې اجرة اخستل نا جائز دي دليل کښې روايت د طحاوي پيش کوي ان رافع بن خديج قد حدثهم ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قد قال: "ان كسب الحجام خبيث" (شرح معاني الآثار ۲/ ۱۲۹) جواب د دے مخکښې وشوچه د دے کسب خبيث دے دا نه چه في نفسه د دے اجرة نا جائز دے.

امام طحاوی رَحِمَهُ اللهُ پدی الفاظو ددے جواب کوی! فَامَّا مَا فِي ذٰلِكَ عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ مِنْ نَهْيِهِ عَنْ ثَمَنِ الدَّمِ فَهُوَ مَا يُبَاعُ بِهِ الدَّمُ لَا غَيْرُ ذٰلِكَ . فَذَهَبَ قَوْمٌ الٰى كَرَاهِيَةِ كَسْبِ الْحَجَّامِ وَاحْتَجُّوا فِي ذٰلِكَ بِهٰذِهِ الْاٰثَارِ. وَخَالَفَهُمْ فِي ذٰلِكَ اٰخَرُونَ فَقَالُوا: اَنَّ كَسْبَ الْحَجَّامِ كَسْبُ ذِي دَنَسٍ فَيُكْرَهُ لِلرَّجُلِ اَنْ يُدَنِّسَ نفسهُ وَيُدِينَهَا بِذٰلِك . فَامَّا ان يَكُونَ ذلك فِي نفسه حرامًا فلا .(شرح معاني الاثار ٤ / ١٢٩)

حدیث ٧\٢٠٦ ابوحنيفة عن ابی سليمان عن انس قال احتجم النبيﷺ بعد ماقال افطرالحاجم والمحجوم.

دادجمهورودپاره په مسئلة الباب کښی دویم دلیل دے،

حدیث٨\٢٠٧ ابوحنيفة عن ابی الزبيرعن انس ان رسول اللهﷺ احتجم وهو صائم وفي رواية قال ابوحنيفة اخبرنی ابن الشهاب ان رسول الله ﷺ احتجم وهوصائم ولم يذكر انسًا.

دادجمهورودپاره دریم دلیل دے، په دوه طریقوني نقل کړومرفوع، او مرسل، دفریق مقابل داستدلال نه یوا١ جواب دا دے چه دا حدیث منسوخ دے، په ابتدا د اسلام کښی به خلقو په حجامة کښی غلوکوله، حاجم به په وینی رانښکودلو کښی بےاحتیاطی کوله پخپله دتیریدلو هم خطره وه او د محجوم دکمزوری کیدواودروژی دماتولو به هم خطره وه ځکه نبیﷺ حجامة په روژه کښی ممنوع کړو، کله چه خلق محتاط شو نوبیا اجازة میلاؤ شو تائید ددے دپاره دغه دویم حدیث الباب دے،

دویم٢ جواب دا دے! چه دغه حدیث په عموم ندے حمل بلکه مراد ضعفاء دی او د افطار نه هم مراد کراهة دے، او په دغه مونږه هم قول کوو چي د ضعفاء دپاره په روژه کښی کراهة راولی، تائید ددے دپاره روایة دبخاری دے' سُئِلَ اَنَسُ بْنُ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَكُنْتُمْ تَكْرَهُوْنَ الْحِجَامَةَ لِلصَّائِمِ قَالَ لَا اِلَّا مِنْ اَجْلِ الضَّعْفِ (صحيح البخاري ٧ / ٣٠)

دریم٣ جواب دا دے چه دحاجم اومحجوم نه مرادخاص دوه کسان وو چي د حجامة سره هغوی په غیبت کښی اخته وو، نو نبیﷺ هغوی ته داحکم دغیبت په وجه اوورولے، او ذکر دحاجم محجوم ئي چه کړی دی نودیته وصف عنوانی وائي، ددے دامقصد ندے چه دغه حجامة علة د افطاردے. لکه یو سړے او وائي چه! ..ددےفاسق مونځ مات شو،، ددی دا مطلب ندے چه مونځ ئي دفسق په وجه مات شو بلکه دمونځ دماتیدلو دپاره علة بل څه دے چه دده په مونځ کښی ئي خلل راوستلے، او فسق ددغه سړی وصف دےعلة دحکم دپاره ندے، دلته هم دغه دوه سړی په حجامة کښی مشغول وو دا دهغوئ وصف شو اوددي سره په غيبة اخته وو نبيﷺ اوفرمايل افطر الحاجم والمحجوم، دادليل ددےندے چه دا علة

دحکم دپاره دے،

باب حكم الجماع في ليالی رمضان والقبلة للصائم

حديث ۹\۱۲۰۸ ابوحنيفة عن عباءعن عائشة قالت كان يصبح رسول اللهﷺجنبا من غير احتلام ثم يتم صومه.

ابتدا داسلام کښې په ليالی درمضان کښې جماع کول حرام وو، بيا داحکم منسوخ شو، په اية کريمه د سورة بقره: احلَ لكُم لَيلَةَ الصِيامِ الرَّفَثُ الى نِسائكُم هُنَ لِباسٌ لَكُمْ وَانْتُمْ لِباسٌ لَهُنَ عَلِمَ اللّٰهُ انَّكُم كُنتُم تَختانُون انفسَكُمْ فَتابَ عَلَيْكُمْ وَعَفا عَنْكُم فَالان باشِرُوهُنَّ وَابْتَغُوا ما كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ. الاية (البقرة ١٨٧)

اوس دا دواړه امرين بالاتفاق جائز دی، په اوله مسئله دباب باندی دا اول حديث دليل دے. حديث نه دا هم معلومه شوه چه دشپې جنابة په روژه کښې څه نقصان نه راولی .

حديث ۱۰\۱۲۰۹ ابوحنيفة عن حماد بن ابی سليمان عن ابراهيم عن الاسود عن عائشة قالت كان رسول اللهﷺ يخرج الى صلوة الفجر وراسه يقطر ماء من غسل جنابة وجماع ثم يظل صائما.

دا حديث هم داولی مسئلی دپاره دليل دے،

حديث۱۱\۱۲۱۰ ابوحنيفة عن حماد عن ابراهيم عن الاسود عن عائشة قالت كان رسول اللهﷺيخرج الى الفجر وراسه يقطر ويظل صائما وباسناده كان النبيﷺيقبل نسانه في رمضان.

داپه دواړه مسئلودباب باندی دليل دے.

حديث۱۲\۱۲۱۱ ابوحنيفة عن الهيثم عن عامر الشعبی عن مسر وق عن عائشة قالت كان رسول الله ﷺ يصيب من وجهها وهوصائم يعنى القُبلة .

داپه دويمه مسئله دباب باندی دليل دے،

حديث۱۳\۱۲۱۲ ابوحنيفة عن زياد عن عمروبن ميمون عن عائشة ان النبيﷺكان يقبل وهوصائم.

دا هم په دويمه مسئله باندی دليل دے:داخونفس اثبات دمسئلےشو.البته فقهاء ليکی چه څوک په ځان دقابو کيدو اعتماد لری دهغه دپاره قبلة بلا كراهة جائزدے اوچه نه لری نو مکروه دے، بعض دځوان اوبوډا فرق کوی ليکن د رواياتو نه دافرق نه معلوميږی ځکه عائشة رضي الله عنها ځوانه وه، البته امام مازری رحمه الله فرمائي چه په مسئله دجواز او عدم جواز دتقبيل کښې اعتبار حال دمُقبِل(خکولونکي) لره دے، ده ته به کتلےشی، بعض اوقاتوکښې دا حراميدلے هم شی علامه ابن حجر رحمه الله دهغ قول نقل

کوی! وقال المازري ينبغي ان يعتبر حال المقبل فان اثارت منه القبلة الانزال حرمت عليه لان الانزال يمنع منه الصائم فكذلك ما ادى اليه : (فتح الباري ابن حجر ٤ ١٥٢)

اشکال: دلته یوه بله مسئله هم قابل غورده.هغه دا چه عائشه رضي الله عنها داسې مسائل ښځکه سړو ته بيانوی داخو دحيا نه خلاف کاردے؟

جواب: چه عائشے رضي الله عنها دابيان دضرورة په بنا باندې کوی، سړه ددينه چه حياء هم وړيله خو څه ني کړی وے؟ ځکه چه د کتمان العلم په وعيد کښې راتله، تاند ددےخبرې چه سړه دحيانه ني بيان کوی دا دے چه بعض رواياتو کښې راځي چه ددے د بيان سره عائشے رضي الله عنها وخاندل لکه! عن عائشة قالت : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُقبّلُ بعْض نسانه وهو صائمٌ . فضحكت . فظلننا انها هي. (مصنف ابن ابي شيبة ۳ ۵۹) دا خندا دحيا په وجه وه علامه ابن حجر رحمه الله فرماني ددے په توجيه کښې قوله ثم ضحكت يحتمل ضحكها التعجب ممن خالف في هذا وقيل تعجبت من نفسها اذ تحدث بمثل هذا مما يستحي من ذكر النساء مثله للرجال ولكنها الجاتها الضرورة في تبليغ العلم الى ذكر ذلك وقد يكون الضحك خجلا لاخبارها عن نفسها بذلك .(فتح الباري ابن حجر ٤ ١٥٢) والله اعلم

باب حکم الصوم في السفر

حديث ۱۴\۲۱۳ ابوحنيفة عن الهيثم بن حبيب الصيرفي عن انس بن مالك قال خرج رسول الله ﷺ لليلتين خلتامن شهررمضان من المدينة الى مكة فصام حتى اتى قديدا فشكا الناس اليه الجهد فافطر فلم يزل مفطراحتى اتى مكة .

دامسئله خواتفاق ده چه يوسړے دسفراراده لری نو د پيشمني په وخت کښې دته اختياردے چه دروژې نيت کوی او کنه يعني روژه نيسي اوکنه، البته چه قوی وی اوروژه ونيسي نودا ورلره اولی ده، ځکه قران ورته خير ويلے! وَاَنْ تَصُومُوا خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ [البقرة : ۱۸۴] خو اختلاف په ديکښې دے چه دسحرنه ني روژه ونيوه او بيا په سفرشونو دغه روژه دسفر په وجه ماتولے شي کنه؟ د امام صاحب رحمه الله په نيزدغه روژه اوس دنفس سفر په وجه بے له بل څه عذره نشي ماتولے، البته که سخت مشقت کښې وی نو بيا ماتولے شي خو دغه ماتول دعذر په وجه شو نه دسفر په وجه.

امام شافعي رحمه الله فرماني!چه دنفس سفر په وجه ني هم ماتولےشي، د امام شافعي رحمه الله دپاره بودنيل ظاهرحديث الباب دے،

حديث ۱۵\۲۱۴ ابوحنيفة عن مسلم عن انس قال سافر النبي ﷺ في رمضان يريد مكة فصام وصام

الناس معه وفي رواية خرج من المدينة (الحديث الخ)
ظاهردد ے حديث دويم دليل د امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ دے،
د امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ دپاره دليل قران كريم دے، يا ايها الذين امنوا اطيعوا الله واطيعوا الرسول ولا تبطلوا اعمالكم [محمد ٣٣]
هرچه احاديث دباب دی نوديكښې ظاهره قرينه موجوده ده چه نبي كريم ﷺ خو دغه روژه نه ماتوله خوخلقوته تكليف وراودنبي ﷺ دروژي ماتولو نه بغيردغه خلقو روژه نه ماتوله ځكه نبي ﷺ روژه ماته كړه دعذر په بناخلقوته دجُهد (مشقت) عذروو، اونبي ﷺ ته دخلقو دروژي نه ماتولو عذروو، اوبدی خومونږه هم قائل يوچه دعذرپه وجه مسافر روژه ماتولے شي، نو حديث زمونږه دليل دے په عدم افطار بلاعذره كښې نه چه د امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ دپاره،
دويم جواب دا دے چه دغه وخت رسول ﷺ روژه ځكه ماته كړي وه چه صحابه كرام روژه ماته كړي او په دشمن تقوي حاصله كړي ځكه داوتل مكې مكرمې ته دجنګ دپاره وونودا هم عذردے، اوددے مونږه هم قائل يو، ځكه خوامام بخاري پدې حديث باب په دےالفاظو ترلے ! باب مَنْ افطرَ فِي السَّفرِ لِيَرَاهُ النَّاسُ (صحيح البخاري ٧ / ٤٢)

باب النهى عن صوم الوصال وعن صوم الصمت

حديث ١٦١٢١٥ ابوحنيفة عن عدى عن ابى حازم عن ابى الشعثاء عن ابى هريرة ان النبيﷺ نهى عن صوم الوصال وصوم الصمت.
صوم وصال برله پسې روژه نيول چه په مينځ كښې پيشمنےاوافطار نه كوي، صوم الصمت د خبرونه كولوروژه ده،،
صوم وصال بيا په درې ٣١ قسمه ده، دهر يوتعريف اوحكم به ملحوظ كړو،
(١)..**وصال الايام مع الفطر**:- چه هره ورځ برله پسې روژه نيسي اګر كه پيشمنے هم كوي اوافطارهم كوي ،
(٢)..**وصال من السحر الى السحر**:- چه ديوپيشمنې نه تربل پيشمنې پوري څه خوراك څښاك نه كوي، صرف په دغه پيشمنې اكتفاء كوي،
(٣)..**وصال الايام من غيرفطر**:- چه څوورځې برله پسې نه افطارے كوي نه پيشمنے. قسم اول سره دكراهة نه جائزدے، ځكه نبيﷺ فرمائي چه افضله روژه د داؤد عَلَيْهِ السَّلَامُ ده چه يوه ورځ به روژه ووبله به بوژه وو نسائي كښې روايت دے، انه سمع عبد الله بن عمرو بن العاص يقول قال رسول الله ﷺ احب

الصيام الى الله عز و جل صيام داو د عليه السلام كان يصوم يوما ويفطر يوما واحب الصلاة الى الله عز و جل صلاة داو د عليه السلام كان ينام نصف الليل ويقوم ثلثه وينام سدسه.(سنن النسائي ٤ / ١٩٨) دويم قسم دجمهوروپه نيزناجائزده او ائمه ثلاثه ورته مكروه وائي، البته امام احمدبن حنبل رَحِمَهُ‌اللَّه ورته مستحب وائي، دليل ئي حديث دبخاری دے: عن ابي سعيد رَضِيَ‌اللَّهُ‌عَنْهُ انه سمع النبي ﷺ يقول لا تواصلوا فايكم اذا اراد ان يواصل فليواصل حتى السحر. (صحيح البخاري ــ نح البغا ٢ / ٦٩٣) معلومه شوه چه دامستحب ده.باقي شو دريم قسم داپه امم سابقه كښې جائزوه اودی امة كښې حرامه ده، دليل حديث الباب دے ديكښې دمطلق وصال الصوم نه منع راغلي ده.

حديث ١٧\٢١٦ ابوحنيفة عن شيبان عن يحي عن ابى حازم عن ابى الشعثاء عن ابى هريرة قال نهى رسول الله ﷺ عن صوم الصمت وصوم الوصال.

دا حديث هم دباب په دواړه مسئلوباندی دليل دے.

باب الايام اللتى لاتجوزفيه الصوم

حديث ١٨\٢١٧ ابوحنيفة عن عبدالملك عن قزعة عن ابى سعيد ان رسول الله ﷺ نهى عن صيام ثلثة ايام التشريق وبه ان رسول الله ﷺ نهى عن صيام اليوم الذى يُشَك فيه من رمضان.

په كال كښې پنځه ورځےداسې دی چه په هغی كښې روژه نيول ناروا دی، پديكښې په دوه ورځو كښې اتفاق دے (د ووړكی اولوئ اختر ورځ) چه هيڅ قسم روژه (كه ذات السبب وی او كه غير ذات السبب وی) نيول پكښې جائزنه دی، اودری ورځی دايام التشريق دی پديكښې اختلاف دے، جمهور فرمائي! چه ديكښې هم مطلقاروژه نيول جائزنده، د امام مالک رَحِمَهُ‌اللَّه په نيز باندی دايام التشريق روژی دهغه متمتع دپاره جائزدی چه سوق دهدئ ئي نه وی كړے، دليل ئي دا اية كريمه دے: فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ ايَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَة اذا رَجَعْتُمْ [البقرة: ١٩٦] ليكن جواب دا دے: چه حديث الباب كښې تصريح ده په منع عن الصوم پدی ايامو كښې هر چه دغه اية دے نودهغی تفسيرامام مجاهد رَحِمَهُ‌اللَّه كړے! { فَمَن لَّمْ يَجِدْ } . يعني : الهدي . { فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ ايَّامٍ فِي الحج } اخرهن يوم عرفة (تفسير مجاهد ١ / ٢١) اوباتی وه١٦ ورځی پس دفراغت نه دی داحكام الحج نه، او دغه ورځو كښې داحكام الحج نه فراغت نوی راغلے.

قوله! وبه ان رسول الله ﷺ :دی مسئله كښې هم اختلاف دے چه ديوم الشک (يعنى ٣٠ رمضان)

روژه نيول څنګه دی ؟

[۱] د د ژد ضاهري په نيزهرچا دپاره دغه روژه نيول جائز نه دی كه خواص دی كه عوام دی، كه عادة ئي ددغه ورځ د روژی وی كنه.

[۲] امام احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمائي چه كه اسمان كښى وريځ يا ګرد غبار وو نو دغه يوم الشک نده بلكه دغه به د رمضان نه حسابيږی نو روژه نيول ئي لازم دی.

[۳] سعيد بن مسيب، امام شافعی، حسن بصری، علامه ابن سيرين رَحِمَهُمُ اللّٰهُ فرمائي چه په دغه ورځ نفل روژه نيول ممنوع دی البته كه د چا دعادة سره دغه ورځ موافق شوه نو جائزده، دليل ئي ظاهر د حديث د بخاری شريف دے روسته ئي مونږه ذكركوو.

[٤] امام صاحب، امام اوزاعی، ليث، سفين ثوری، اسحق، عمر بن عبد العزيز رَحِمَهُمُ اللّٰهُ فرمائي هرقسم روژه نيول كه نفل ده كه غيرنفل ده جائز ده، خوتفصيل پكښى شته هغه دا چه خلق پديكښى دری۳ قسمه دی:

(۱) يوقسم هغه خلق دی چه په نورو مياشتو كښى هم عادی ددغه ورځى د روژی دی مثلا يوكس ددے عادی دے چه دهرزيارت (جمعرات) په ورځ روژه نيسی، اتفاقا په دغه ورځ ۳۰ شعبان راغلو ددغه سړی دپاره بلا كراهة د دغه ورځ روژه نيول جائز دی، ځكه چه دے عادی ددغه ورځ دے نو دده شک نه راځی، بلكه نيت ئي خالص دے، دليل ددوی دپاره روايه دبخاری شريف دے! عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ لَا يَتَقَدَّمَنَّ أَحَدُكُمْ رَمَضَانَ بِصَوْمِ يَوْمٍ أَوْ يَوْمَيْنِ إِلَّا أَنْ يَكُونَ رَجُلٌ كَانَ يَصُومُ صَوْمَهُ فَلْيَصُمْ ذَلِكَ الْيَوْمَ (صحيح البخاري٦/ ٤٨٩) ددينه علاوه د ابوداؤد، ترمذی، نسائی وغيره روايتوكښى هم دغه تفصيل دے،

(۲) قسم خلق خواص دی چه علماء اوصلحاء پوهه په شرائع الاسلام باندی دی، دهغو دپاره هم ددغه ورځ روژه نيول بلا كراهة جائزده، ځكه ددغه خلقو هم نيت خالص يو وی، دخپلی پوهے په وجه باندی پكښى شک نه كوی، لكه عائشے رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اودهغی خوربه د دغه روځ روژه نيوله، علامه عينی رَحِمَهُ اللّٰهُ نقل كوی ! روي عن عائشة واسماء اختها انهما كانتا تصومان يوم الشك وقالت عائشة لان اصوم يوما من شعبان احب الي من ان افطر يوما من رمضان (عمدة القاري : ١٦ / ٣١١)

(۳) قسم خلق عوام دی، ددغوخلقو دپاره ددغه ورځ روژه نيول مكروه او ممنوع ده، ځكه عوام خپل نيت نشی خالص كولے بلكه خامخا هغوی شک نيت كوی (چه كه درمضان وه نو فرضی روژه شوه كنه

نفلي خوبه شي كنه)

معلومه شوه چه د٣٠ شعبان روژه چه ممنوع ده نودشک په وجه که دغه شک دچانه زائله شونو بيانده ممنوع، هم دغه وجه ده چه حديث الباب کښې الفاظ داسي دي ' (نهى عن صيام اليوم الذى يُشك فيه من رمضان) معلومه شوه چه علة دمنع دپاره شک دے که دغه علة نه وونو منع به هم نه وى .تفصيل دپاره عمدة القارى اوګوره والله اعلم

باب الاعتكاف

حديث ١٩١٢١٨ ابوحنيفة عن نافع عن ابن عمرقال قال عمربن الخطاب نذرت ان اعتكف في المسجد الحرام في الجاهلية فلما اسلمت سالت رسول الله ﷺ فقال اوفِ بنذرک.

ربط:- اعتکاف دروژے يومسنون عمل دے په دغه مناسبت سره ئي ددے روايت په کتاب الصوم کښې راوړو، اعتکاف درى ٣١٠ قسمه دے،

(١)..**مسنون**:-دا هغه دے چه په اخرى عشره د رمضان کښې چه دشلم ٢٠١ رمضان دنور پريوتو نه مخکښې شروع کيږى او د مياشتې په اخرى ورځ په ماښام باندى ختميږى، دا اعتکاف سنة کفائي دے دمحلےنه که يوکس اعتکاف اداء کړى نودټولو ذمه خلاصيږى، ورنه ټوله محله ذمواره ده،

(٢)..**واجب**- دا هغه اعتکاف دے چه دنذرپه وجه لازم شوےوى، ددےسره روژے لازم دى اګر که نيت دروژے ئي په حين د نذرکښې نه وى کړے،

(٣).**نفلي**:- ددے په مده کښې اختلاف دے، د امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ په نيزباندى د يوے ورځے نه کم نشي کيدے مراد دورځ نه ٢٤ ګنټے(ساعات) دى، د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللَّهُ په نيز باندى د اکثراليوم په مقدار باندى کيدے شي مراد د ورځ نه نهارده فقط، د امام محمد رَحِمَهُ اللَّهُ په نيز باندى په لږساعة سره هم جائز دے، اګر که دمنټونو په حساب ولې نه وى مفتى به قول د امام محمد رَحِمَهُ اللَّهُ دے،

فائده - اعتکاف صرف په جمات کښې کيږى ځکه الله تَبَارَكَ وَتَعَالَى فرمائي اولا تُباشِرُوهُنَّ وانتم عاكِفون في المَساجِد.الاية [البقرة ١٨٧] دجمهوررو مسلک دا دے چه په هغه جمات کښې اعتکاف کيږى چه پنځه واړه مونځونه پکښې کيږى او دا قول راجح دے، بعض ائمه وائي چه په مطلق جمات کښې کيږى، بعض وائي چه صرف په هغه جمات کښې چه جمعه پکښې اداء کيږى، بيا افضل اعتکاف هغه دے چه په مسجدحرام کښې وى، بيا هغه چه په مسجدنبوى کښې وى دريم نمبرهغه چه بيت المقدس کښې وى،

بياهغه مسجدچه جامع وی، بيا هغه چه جمع کښی زيادت وی !کذافي عمدة القاري ۱۷ / ۱۹۰ فمن شاء التفصيل فليراجع اليه.

حديث الباب کښی دجاهلية د اعتکاف دنذرذکر دے، بيا دا اتفاقی مسئله ده چه که په حالت دکفرکښی يوچا دځه عبادة نذراکړو او بيا مسلمان شو، نو د دغه نذر پوره کول پری لازم نه دی، ځکه دنذر دلزوم دپاره اودهغی د ايفاء دپاره اسلام شرط دے، البته عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته چه کوم دايفاء امر شوے نو دا استحبابی دے چه يونيک کاردے پوره ئي کړه.

کتاب الحج

اجمالی خبر:-ربط، معنی لغوی، معنی اصطلاحی، وقت فرضية الحج، تجزيه درواياتو،

[۱] **ربط**.- مخکښی د دری ۳ قسمه عباداتوبيان اوشودوم۲ بدنی محضه وو، اويو پکښی مالی محضه وو، اوس بيان دحج کوی چه داجامع دعبادة بدنی او مالی دے، نوداپه منزله دمرکب شو مخکښی په منزله دمفردوو،

[۲] **معنی لغوی**:- بفتح الحاء وکسره لغة کښی په دوم۲ معنوسره راځی، په معنی دزيارة، او په معنی دقصد علامه عينی رحمه الله تفصيل کوی فرماني ! قال ابن السکيت بفتح الحاء القصد وبالکسر القوم الحجاج والحجة بالفتح الفعلة من الحج وبکسر الحاء التلبية والاجابة قلت يقال في الفعلة بالفتح المرة وبالکسر الحالة والهياة والحاج الذي يحج. (عمدة القاري ١٤ / ۱۷۲) مناسبت ئي ظاهردے چه حج کښی دا دواړه خبری زی هم زيارة دامکنه مقدسه اوهم قصد ددغه امکنؤمقدسه،

[۳] **معنی اصطلاحی**:- علامه عينی رحمه الله فرماني! وشرعا الحج قصد الى زيارة البيت الحرام على وجه التعظيم بافعال مخصوصة (عمدة القاري ١٤ / ۱۷۲)

[٤] **وقت فرضية الحج** - دپکښی اختلاف دے بعض وايي په پنځم۵ کال فرض شوے بعض شپږم۶، بعض اوم۷، بعض اتم۸، اوبعض نهم۹ کال وائی اخری قول صحيح دےامام قرطبی رَحِمَهُ اللَّهُ دے له ترجيح ورکړی ده: فذکر القرطبي ان الحج فرض سنة خمس من الهجرة وقيل سنة تسع قال وهو الصحيح. (عمدة القاري ١٤ : ۱۷۲)

[۵] **تجزيه درواياتو**:- دی کتاب کښی مصنف رَحِمَهُ اللَّهُ ټول ۳۷ روايات ذکر کوي ،

باب الامر بالتعجيل بالحج

حديث ۱۱۲۱۹ ابوحنيفة عن عطية عن ابي سعيد قال قال رسول الله ﷺ من اراد الحج فليعجل.

وجوب الحج بالفور دے که على التراخي ؟ مسئله کښې اختلاف دے،دوه۲ مذهبه دي ،

[۱] امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ امام ابويوسف رَحِمَهُ اللَّهُ بلکه دجمهورو مسلک دا دے چه وجوب الحج بالفور دے.

[۲] امام محمد رَحِمَهُ اللَّهُ اوامام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمائي: چه وجوب الحج على التراخي دے،

دبالفوراوتعجيل مقصد دا دے چه په کوم کال په چا حج فرض شونو په دغه کال به ئي اداء کوي بل کال ته بلاعذره روسته کولوسره به دغه سړے ګنهګاروي، او د على التراخي مقصد دا دے چه په روسته کولو دحج سره دغه کس ګنهګار نه ګرځي، البته که هر کله ئي حج اداء کړو په صورة دتراخئ کښې نودغه حج اداء ده بالاتفاق قضاء نده، دغه شان که دغه سړے په صورة دتراخئ کښې قاصرشوداداء دحج نه مثلا مفلس شو يا مړ شو نو بالاتفاق ګنهګاردے ها امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمائي ندے ګنهګار،

دفريق اول دليل حديث الباب دے، چه ديکښې امربالتعجيل دے چه خلاف ترينه ګناه ده، دويم دليل رواية د بيهقي دے: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ انَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ قال :« عَجِّلُوا الخُرُوجِ الى مَكَّة فانَّ احدكم لا يَدْرِي مَا يَعْرِضُ لَهُ مِنْ مَرَضٍ اوْ حَاجة ». (السنن الكبرى للبيهقي وفي ذيله الجوهر النقي ٤ : ٣٤٠)

دفريق ثاني دليل دا دے چه حج په ۵ هـ يا......په ۹ هـ کښې فرض شوے دے بنا بر اختلاف (کمامر) او نبي کريم ﷺ په لسمه۱۰ هـ کښې حج اداء کړے دے دفعل دنبي کريم ﷺ نه تراخي معلومه شوه بلاکراهة اوبغيرله څه ګناه نه،

جواب- دجمهورو دطرف نه جواب دا دے چه تاخيردرسول ﷺ په عذر بنا دے او مونږه ورسره داقيد لګولے وو چه بلاعذره تاخيرګناه ده، اوس هغه عذرڅه وو؟ که دپنځمے نه تر اتمے هجرئ پورې اقوال معتبرشي نوعذر دا وو چه مکه فتح شوې نه وه امن الطريق نه وو، او دا هم عذردے، او که د نهمے هجرئ قول معتبر شي لکه چه صحيح قول دے نو بيا عذر دا وو چه د عربو يورسم وو،،نسيئ،، ددے مقصد دا وو چه حرمة داشهرحرم به هغوی منتقل کوو ديوے مياشت نه بلے ته، ددغه رسم په مناسبت به اتمه۸ اونهمه۹ هـ کښې دوی دذوالحجه حرمة نقل کړے وو، بلے مياشت ته نويدی کال خلقودرسم په مطابقه حج ته حاضري نه کوله اودنبي ﷺ غوښتله دا چه تمام خلق راجمع شي اوخه دوی ته افعال دحج اداء کړه ددےسره ددغه رسمونودبطلان اعلان اکرم چه تمام خلق ئي نوروته ورسوی .په لسمه۱۰ هـ چونکه دغه

رسم ختمیدواوحرمة د ذوالحجه بیا راگرځیدو نودخلقو حاضری یقینی وه نبی کریمﷺ په دغه کال حج ته حاضرشواوتاریخي خطبه ئي ورکړه اوددغه رسمونودبطلان اعلان نبی کـریمﷺ اکړواوخلقوتـه ئي اورولو انَّ كُلَّ شَيْءٍ مِن امرِ الْجَاهِلِيَّة تَحْتَ قَدَمَيَّ (سنن ابي داو د ـ محقق ۲/ ۱۲۲) او بیـانبی ﷺ ددغـه اهم رسم ,,نسیئ،، دبطلان هـم اعـلان اکـړو! « انَّ الزَّمَانَ قَدِ اسْتَدارَ كَهَيْئَتِهِ يَوْمَ خَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوَاتِ وَالارْضَ السَّنة اثْنا عَشَرَ شَهْرًا مِنْها ارْبَعَة حُرُمٌ ثَلاثٌ مُتَوَالِيَاتٌ ذُو الْقَعْدَة وَ ذُو الْحِجَّة وَالْمُحَرَّمُ وَرَجَبُ مُضَرَ الَّذِى بَيْنَ جُمَادَى وَشَعْبَانَ ». (سنن ابي داو د ـ محقق ۲ / ۱۴۰)

باب ماجاء في فضيلة الحاج

حدیث ۲۰ ۱۲۲۰ ابوحنیفة عن علقمة عن النبيﷺ الحاج مغفورله ولمن استغفرله الى انسلاخ المحرم.
مقصدحدیث واضح دے، پدی وجه پکارده چه کوم کس دحج نه راشی نو په نیت ددعاء دی دهغه سره ملاقات اکړےشی ،البته درسم رواج په طریقه دغه ملاقات بےفائدی دے،

باب ماجاء في افضل الحج

حدیث ۱۲۲۱ ۳ ابوحنیفة عن قیس عن طارق عن ابن مسعودقال قال رسول اللهﷺ افضل الحج العج والثج فاماالعج فالعجیج واماالثج فثج البدن قال فثج الدم وفي روایة فاماالثج فنحرالهدي.
حدیث کښی صراحتابیان دحج افضل اوضمنا بیان دفضیلة دحاجی دے چه دغه موصوف حج اداء کړی،
قوله!العج: دعجیج نه دے رفع الصوت بالتلبیة ته وائي چونکه حج داسی عبـادة دے چـه دمحبـت الـهی دپاره بـه پکښـی اظهـاردلیونتوب کـوی، هغـه داسی چـه دعاموخلقولبـاس بـه لـری کـړے صرف لنـګ اویوڅادربه واچوی، سرتور سربه ئي، دعزت پیزاربـه لـری کـړی مـوزی بـه اوبـاسی دلیونهیئـة چـه دی جوړکړو نواوس به دلیونوپشان چغی وهی تلبیه به وائي، چه څوک اووینی یـابره خیـژی یاخکتـه کـوزیږی نوبنه به اوازتیزکړے، بیا به د لیونو پشان مندی وهی اودهرئ دعرفات ته به وخیژی دځان نه به خـیری نـه لری کوے خوشبو به نه لګوی، غرض هرکارکښی به هیئة دلیونتوب اختیارکړے، نودالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ رحم بـه جوش کښی راشی او معاف به شی، بیا به دشکریه په طور،،ثج الدم،، وینه تویْ کـړے چـه الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ ځمانه دا اهم عبادة په ښه شان سره اداء کړو، حدیث الباب کښی ددغه حالتینو ذکر شوے دے،

باب ماجاء في مواقيت الاحرام

حديث ۲۲۲ ۱ ٤ ابوحنيفة عن يحيى ان نافعاقال سمعت عبدالله بن عمريقول قام رجل فقال يارسول الله اين المُهَل قال يهل اهل المدينة من ذى الحليفة ويهل اهل العراق من العقيق ويهل اهل الشام من الجحفة ويهل اهل نجدمن قرن.

مواقيت جمع دميقات ده په معنى دوقت سره راځي خودلته مرادهغه مكان دے چه احرام ترينه تړلے كيږى مجازا زمان په معنى دمكان كنبى استعمال شوے، مواقيت هغه مقامات چه حاجى يامعتمرترينه بغيرداحرام نه نشي تيريدلےاو كه تيرشي دم پرى لازميږى، دغه مقامات ټول پنځه۵ دى په يوجانب كنبى دوه ميقاته دى اوځلور۱ ٤ ميقاته ځلورجوانبوته دى،حديث الباب كنبى ځلور۱ ٤ ذكردى.

[۱] **ذوالحليفة**:- دادمديني منوري نه بهرمكى مكرمى طرف ته يومقام دے،د مكى نه په ٤٥٠ كلوميترفاصله كنبى دے نن صبا په,,ابيار علي .. سره مشهور دے، دادټولونه لرى ميقات دے نبى كريمﷺ به په عباداتو كنبى په ځان باندى ښه مشقت تير ولو دلرى نه ئې احرام تړلےدے،

[۲] **العقيق**:- داد اهل عراق اوددغه جانب دخلقودپاره ميقات دے دمكى مكرمى نه په ۹٤ كلوميتر فاصله كنبى دے،

[۳] **الجحفة**:- داد شام واله دپاره ميقات دے دادمكى مكرمى نه په ۲۰٤ كلوميتر فاصله باندى دے،

[٤] **قرن**:- ديته قرن المنازل وائي داداهل نجدواله دپاره ميقات دے دمكى مكرمى نه په ۹٤ كلوميترفاصله كنبى دے دطائف په طرف باندى ،

[۵] **يلملم**:- چه راروان حديث كنبى ددےتذكره ده،دااهل يمن دپاره ميقات دے د مكى مكرمى نه په ٥٤ كلوميترفاصله كنبى دے چه دټولوميقاتونونه نيزدى ميقات دے مكى مكرمى ته، مشرق واله خلق پاكستان هندوستان وغيره واله چه هوائي سفركوى نو په قرن المنازل د طائف په طرف باندى تيريږى اوچه بحرى سفركوى نويلملم يادهغى په محاذات باندى تيريږى ،

حديث۲۲۳ ۵ ۱ ابوحنيفة عن حمادعن ابراهيم عن الاسودبن يزيد ان عمربن الخطاب خطب الناس فقال من اراد منكم الحج فلايُحرِمَنَّ الامن الميقات والمواقيت التى وقتهانبيكم ﷺ لاهل المدينة ومن مر بهامن غير اهلها ذوالحُليفة ولاهل الشام ومن مربها الجحفة ولاهل نجدومن مربهامن غير اهلهاقرن ولاهل اليمن ومن مربها من غير اهلها يلملم ولاهل العراق ولسائرالناس ذات عرق.

دلته هم دسابقه مواقیت الاحرام بیان دے،صرف یلملم پکښې اضافه شوچه تفصیل ئې مخکښې تیرشو، یا داخبره په ذهن کښې اچول غواړی چه احرام صرف دوه څادری اچول نـدی بلکـه ددی سره نیت دحج ،یاعمری اورفـع الصوت بالتلبیـة هـم ده، کـه صرف څـادری چاواغوسـتې اونیـت او تلبیـه ئې نـده ویـلې نودےمحرم ندے چه کوم څاي کښې نیت اورفع الصوت بالتلبیه وکړه محرم شو،والله اعلم وعلمه اتم.

باب مایلبس المحرم ومالایلبسه

حدیث ۶۱۲۲۴ ابوحنیفة عن عبدالله بن دینارعن ابن عمر ان رجلاقال یارسول الله ﷺ ماذایلبس المحرم من الثیاب قال لایلبس القمیص ولاالعمامة ولاالقباءولاالسراویل ولاالبرنس ولاثوب مسه ورس اوزعفران ومن لم یکن له نعلان فلیلبس الخفین ولیقطعهما اسفل من الکعبین.

حدیث الباب کښې بیان دهغه اشیاءدے چه داغوستلوسره تعلق ساتې او د محرم دپـاره نـاروا دی،ضابطه دا ده چه دمحرم دپاره دزینت واله شئ استعمالول ناجائزدی ،څکه مخکښې تفصیل وشوچه دمحرم دپاره په حج عمره کښې اظهاردجنون پکاردے په محبت دالله تَبَارَكَوَتَعَالَىٰ کښې، نودروغو خلقو لباس به نه استعمالوی، یامراد په دغه اشیاء کښې اغوستل ددغه اشیاء دی په لبس معتاد سره البته که نورڅه لبـاس نـه وونـو پـه لبس غیر معتادسره قمیص موزه پرتوګ استعمالولےشی چه دعه شان ئې دڅانـه راتـاؤکړی، یـاموزی کـټ کړی څنګه چه حدیث الباب کښې ددے هدایة ورکړے شو، راروان حدیث کښې ددےتفصیل دے،

حدیث ۷۱۲۲۵ ابوحنیفة عن عمروبن دینارعن جابربن زیدعن ابن عباس قال قال رسول الله ﷺ من لم یکن له ازارفلیلبس سراویل ومن لم یکن له نعال فلیلبس خفین.

حدیث کښې دعذردحالت ذکر دے چه چاسره څادری نه وی نوچامی په لـبس معتـاد سره اغوسـتل نـدی پکار ناجائزده، البته په لبس غیر معتاد سره استعمال ددغه اشیاء جائزدی چه دقمیص پرتـوګ نـه لنـګ رهي اویاڼې په غاړه رواچوی، خو داهله چه په دغه لبس غیر معتاد سره دده عورة مستور کیږی ورنه بیا به پرتوګ په لبس معتاد سره واغوندی اوکفاره او دم به اداء کړی، او کـه پیزارنـه وونومـوزه دی دکعبـین نـه لاندی کټ کړی او استعمال دی ئې کړی، خومراددکعبین نه،،مقعدالشراک في وسـط القـدم،، دے داودس نړکی ترینه ندی مراد،

قوله!ولاالبرنس:- هغه جامه چه سرئې دهغې جامې سره وی ،لکه توپۍ واله کوټ شو مـثلا: والبرانس جمع برنس وهو کل ثوب راسه منه ملتزق به من ذراعه او جبة او ممطر او غیره (عمدة القاري ۱۴ / ۲۷۱)

باب حكم الطيب للمحرم

حديث ۵۰۰ / ابوحنيفة عن ابراهيم بن المنتشر عن ابيه قال سألت ابن عمر ايتطيب المحرم قال لان اصبح انضح قطرانا احب الي من ان اصبح انضح طيبا فدخلت على عائشة فذكرت لها قوله فقالت طيبت رسول الله ﷺ فطاف في ازواجه ثم اصبح نعني محرما وفي رواية كنت اطيب النبي ﷺ ثم يطوف في نسائه ثم يصبح محرما.

مسئله: د محرم دپاره مخکښې غسل کول وخوشبوئي کول سنت دي، اګر که د دغه خوشبو بوئ د احرام نه روسته هم برقرار وي. د عائشه رضي الله عنها قول هم دغه مقصد دے. بیا دغه د احرام نه روسته استعمال د خوشبو نه روکل دي، دغه د ابن عمر رضي الله عنهما قول مقصد دے په حدیث باب کښې، دغه بیان مراد دے زعفران دفع شو د عائشه رضي الله عنها و د ابن عمر رضي الله عنهما په قول کښې.

فائده: هغه چه په بدن کوم شي لږولې کوم شي تېل وغيره دا درې قسمه دي.

(۱) هغه تیل چه وضع ئي د خوشبوئي دپاره شوي وي، ذات و اصل د خوشبو وي، لکه مشک، عنبر، کافور وغيره، دغه حکم دا دے چه که محرم د په نیت د خوشبو استعمال کړي که د دوائي (مثلاً د بدن په چلو لو یو زخم باندې ئي پورې کړي) خو دم ورکول به پرې لازمیږي یعنې دغه استعمال مطلقاً ممنوع دے د محرم دپاره.

(۲) هغه تیل چه د هغې خو د وضع د خوشبوئي دپاره شوي دي، ولې هغه اصل د په خوشبو کښې استعمالیږي لکه زرګون، غوړي وغيره شو، دغه حکم دا دے چه که د په نیت د دوائي استعمال شي په نیت د غوړولو نیټ د وخوړے شي بهرصورت په دې کښې دم کفاره نشته.

(۳) هغه تیل دي چه ذات د هغې خو خوشبو دي، خو استعمال ئي په خوشبو کښې هم کیږي وهم استعمال ئي هم کیږي چه خوراک دے یعنې غوړول بدن دي، لکه تیل د زیتون شو، په خوشبو کوم چه خو وغيره تیل شو، دغه حکم دا دے چه دی قسمه تیلو کښې نیت شره لحاظ دے که په نیت د خوشبو دهن وزینت استعمال شو نو حکم د طیب (خوشبو) دے، دم کفاره په کښې شته، او که په نیت د دوا وي صرف استعمال شو په دې کور شو نو کفاره په کښې نشته.

باب دخول احرام الحج في العمرة

حديث ٩١٢٢٧ ابوحنيفة عن ابى الزبيرعن جابران النبيﷺ امراصحابه ان يحلوامن احرامهم بالحج ويجعلوه عمرة .

دجاهلية مختلف رسمونه وو،يودهغى نه داوو چې په اشهرالحج كښې عمره كول من افجر الفجوروو، شريعة مطهره كښې دارسم ناخوښه اوباطل وو، ددےترديد پكار وو، نبي ﷺ قولا اوفعلاً ددے ترديد اكړو، هغه دا چه صحابه كرامونه ئې دحج قران اوتمتع اجازت وركړو اودى دواړوكښې خوعمره وى في ايام الحج، اوفعلاداسي چه نبي ﷺ هغه كسانوته چه مفردين بالحج وودحج داحرام فسخ كولواودعمرےداحرام ترڅكم اكړواوپخپله ئې هم دا عمل اكړو، حديث الباب كښې هم ددغےبيان دے،

فائده دحج تمتع اوقران حكم برقراردےالبته دغه فسخ داحرام الحج للعمرة داحكم منسوخ دے دادصحابه كرامو سره خاص وويادده كال سره خاص وودپاره دبطلان درسم جاهلي.

حديث ١٠١٢٢٨ ابوحنيفة عن ابى الزبير عن جابرقال لما امررسول اللهﷺبما امربه في حجة الوداع قال سراقة بن مالك يارسول اللهﷺ اخبرناعن عمرتنا الناخاصة ام للابد قال هى للابد.

باب حكم الحائض في الاحرام

حديث١١١٢٢٩ ابوحنيفة عن الهيثم عن رجل عن عائشة انهاقدمت وهى متمتعة وهى حائض فامرهاالنبي ﷺ فرفضت عمرتها.

كومه زنانه چه حائضه يانفاسه شي اوهغى احرام تړلے وى نودوه صورته دى يودا چه د طواف نه روسته ورته حيض راشي هغې ته خوخه مسئله نشته ځكه طواف ئےكړے او نور اركان دحج دمسجدحرام نه بهر كيږئ چه دهغى سره دحيض نفاس هيڅ قسم منافات نشته، خو هغه زنانه چه دطواف نه مخكښې ورته حيض يانفاس راشي ،دغه زنانه به طواف او سعى نه كوى ځكه چه طواف په مسجدحرام كښې كيږئ او حائضه، نفاسه په داسې حال كښې مسجد ته نشي داخيدلےبلكه دا چه دطواف دپاره طهارة شرط دے، او حائضه نفاسه خوناپاكه وى، اوسعى به ځكه نه كوى چه سعى مرتبه په طواف دہ،اوس ددى زنانه دپاره دوه٢ صورته دى يو دا چه دغه زنانه په دغه احرام كښې پاتى شى كله چه پاكه شوه نوطواف دى اكړى پدى صورة كښې پدغه ښځه دم نشته، دويم صورة دا چه داحرام نه ځان اوباسى اوچه كله پاكه شى نو بيا دوباره احرام وتړى او عمره ياحج اداء كړى پدى صورة كښې داحرام لرى كولو په وجه دم واجب دے

حديث الباب کښې ددغه صورة ثانيه بيان دے،ځکه عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا خان داحرام نه ويستلے وو،

حديث۳۰\۱۲۳۰ ابوحنيفة عن حمادعن ابراهيم عن الاسودعن عائشة انهاقدمت متمتعة وهى حائض فامرها النبيﷺ فرفضت عمرتها.

دي حديث کښې هم دغه واقعه ذکرده، په مقام د،،سرف،،کښې حائضه شوى وه، ابتدا د حيض ئي دخالى دورځى نه چه دذوالحجه درى ورځى تيرى شوى وى، اودخالى په ورځ بيا پاکه شوه اوکان ابتداء حيضها يوم السبت لثلاث خلون من ذي الحجة بسرف وطهرت يوم السبت وهو يوم النحر (عمدة القاري ١٤ / ٣٢٣)

حديث ۱۳\۲۳۱ ابوحنيفة عن حماد عن ابراهيم عن الاسود عن عائشة انها قدمت متمتعة وهى حائض فامرهارسول الله ﷺ فرفضت عمرتهاواستانفت الحج حتى اذا فرغت من حجها امرهارسول اللهﷺ ان تصدر الي التنعيم مع اخيها عبدالرحمن.

دا حديث هم دسابقه باب سره متعلق دے، تنعيم دحرم شريف نه شام طرف ته يوځائي دے چه په مساجدعائشة سره مشهوردے، عبدالرحمن بن ابى بكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دعائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا خپل رورد دے د دوارو مورام رمان بنت عامرده،

حديث ۱٤\۲۳۲ ابوحنيفة عن الهيثم عن رجل عن عائشة ان رسول اللهﷺ ذبح لرفضها العمرة بقرة .

چونکه دعمرى د احرام نه هغى ځان ويستلے وو نو دم پرى لازم شوے ووحديث کښې دهغى ذکر دے،

حديث ۱۵\۲۳۳ ابوحنيفة عن عبدالملك عن ربعى بن حراش عن عائشة ان النبيﷺ امر برفضها العمرة دما.

حديث ۱٦\۲۳٤ ابوحنيفة عن حمادعن ابراهيم عن الاسودعن عائشة انهاقالت يانبى الله يصدرالناس بحجة وعمرة واصدر بحجة فامرالنبيﷺ [illegible] رحمن بن ابى بكرفقال انطلق بهاالى التنعيم فلتهل ثم لتفرغ منهاثم لتعجل على فانى انتظرها ببطن العقبة .

دا رواية هم دماقبل سره متعلق دےاوتفصيل دمخکښې روایاتودے،

باب ماجاء في جوازاکل صيدالغيرللمحرم

حديث ۱۷\۲۳۵ ابوحنيفة عن محمدبن المنكدر عن عثمان بن محمدعن طلحة بن عبيدالله قال تذاكرنا لحم صيد يصيده الحلال فياكله المحرم ورسول اللهﷺ نائم حتى ارتفعت اصواتنا

فاستلفظ رسول الله .. ، ولاال انبمايللازعون فملمنا اي لحم دميد ... الحلال فباكلة المحرم فامرنا باكله.

دباب مقصد دا دے چه دمحرم دپاره دښکارخوراک څه حکم لري ؟ددې مقام کښې چند مسائل دي چه څه اتفاقي دي اوڅه اختلافي دي ،

(۱)..دمحرم دپاره د دریاب ښکارکول اودهغې خوړل بالاتفاق حلال دي په نص دقران سره؛ احل لكم صيد البحر وطعامهُ متاعا لكُم وللسيارة [المائدة: ۹٦]

(۲)..دمحرم دپاره دوچې ښکار(صیدالبر)بالاتفاق حرام دے دا هم په نص دقران سره؛ وحرم عليكُم صيد البرِ مَا دُمتُم حُرُمًا واتقُوا اللهَ الذي اليه تحشرُون [المائدة: ۹٦]

(۳)..دمحرم دپاره دده په اشاره سره یا دلالت سره دوچې ښکاروشو دا هم دده دپاره حرام دے،

[فائده] اشاره په محسوساتوکښې راځي مثلا په لاس یا سر باندې اشاره اوکړي، او دلالت په اقوالو کښې راځي مثلا داسې به لاړشي او فلانکي ځائي کښې فلانکے حيوان دے،

(٤)..حلال سړی دوچې ښکارروااوړوپه حین دښکارکښې ئي دمحرم نیت نه وي کړے (چه داښکار دمحرم دپاره کوم) ددےخوراک هم دمحرم دپاره بالاتفاق حلال اوجائزدے،

(٥)..حلال سړی دوچې ښکاراکړودمحرم په اشاره یادلالت سره نه وو، خو په وخت دښکار کښې ئي نیت دمحرم کړے وو چې داښکارکوم دغه محرم به ترینه هم خوراک اوکړي، داصورة اختلافي دے امام شافعي رحمه الله فرمائي: دمحرم دپاره د دغه ښکار خوراک حرام دے، دلیل دده دپاره؛ عن جابر بن عبد الله قال سمعت رسول الله ﷺ يقول « صيد البر لكم حلال ما لم تصيدوه او يصد لكم ». (سنن ابي داود - محقق ۲/۱۰۹)

امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ فرمائي: حلال دے مستدل د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ روایات الباب دي ،اول حدیث الباب دعام ښکاردخوراک دپاره دلیل دے بغیردڅه تفصیل نه،

حالات راوی طلحة بن عبيد الله رضي الله عنه:- نوم نسب؛طلحة بن عبيدالله بن عثمان بن عمرو بن كعب بن سعدبن تيم بن مرة بن كعب،دنبي كريم ﷺ سره په سلسله دنسب کښې جمع کیږي، جلیل القدرصحابي دے، قدیم الاسلام دے، دا هغه صحابي دے چه په احد کښې ئي نبي کریم ﷺ ته ځان ډهال کړےووااولاسونه ئي شل شوی وو۲٤ ځایه زخمي شوے وو، په ټول بدن کښې څه دپاسه اتیا۸۰ زخمونه

وو،مشهوریه طلحة الخیر اوطلحة الجود او طلحة الفیاض سره وو؛ لما کان یوم احد سماني النبي ﷺ طلحة الخیر . ویوم غزوة ذات العشیرة طلحة الفیاض . ویوم حنین طلحة الجود (معرفة الصحابة محقق ۱: ۱۰۱) په ۳٦ھ کښې په جنګ جمل کښې د علی رضی الله عنه په معیت کښې شهیدشوے دے، مروان بن حکم پرې دغشی۔ ګذارکړوچه په مرئ ئی ولګیدو،داالفاظ ئی او ویل؛ بسم الله وکان امر الله قدرا مقدورا: علی رضی الله عنه په ده باندې ډیرریات خفه وروه یسې به ئې ژړل، په بصره کښې دفن شوے،(معرفة الصحابة . محقق)دې کتاب کښې دده دایوحدیث نقل دے،

حدیث ۱۸۱۲۳٦ ابوحنیفة عن محمدبن المنکدرعن ابی قتادة قال خرجت في رهط من اصحاب النبي ﷺ لیس في القوم حلال غیری فنظرت نعامة فسرت الی فرسی فرکبتهاوعجلت عن سوطی فقلت لهم ناولونیه فابوا فنزلت عنها فاخذت سوطی فطلبت النعامة فاخذت منهاحمارا فاکلت واکلوا.

دا حدیث داحنافوډپاره دویم مستدل دے په مسئلة الباب کښې دغه صحابی دښکار دپاره تلو دمحرمینو صحابه کرامو دمینځ نه ضروریه ښکار کولو کښې به ئې ددغه محرم صحابه کرامو دپاره نیت کړےوو، او دغه ښکار بیا ټولو خوړلے هم دے،

هرچه دلیل د امام شافعی رحمه الله دےیوددغه حدیث په سندباندې کلام دے،امام نسائي رحمه الله فرمائي؛ قال ابو عبد الرحمن عمرو بن ابي عمرو لیس بالقوي في الحدیث وان کان قد روی عنه مالك (سنن النسائي ۵/ ۱۸۷)

دویم دا چه د، یصدلکم،، مقصد دا دے چه ستاسو په اشاره یادلالت سره ښکار کړے شي، دریم دا چه دلته ،،اویصدلکم،، کښې ،،او،،په معنی د،،الاان،، سره دے معنی دا چه مکردا چه ستاسو دپاره ښکارکړےشي بنا په دې دا حدیث داحنافومستدل دے.

حالات رواوی ابوقتادة رضی الله عنه - ده نوم حارث یاعمروبن ربعي بن بلدمة السلمي الانصاری دے، مشرانوصحابه کراموکښې دے، من خیر فرسان رسول الله ﷺ، وکان یخضب بالصفرة ، بعض وائي چه په ۳۷ھ کښې وفات شوے دے، صحیح دا ده چه په ۵٤ھ کښې وفات دے داویا۷۰کالویه عمرکښې، توفي بالمدینة سنة اربع وخمسین . وله سبعون سنة . (معرفة الصحابة ـ محقق: ٦ ٦۹) دی کتاب کښې ترینه دوه روایته نقل دي.

باب مايجوز للمحرم قتله

حديث ۱۹\۲۳۷ ابوحنيفة عن نافع عن ابن عمرعن رسول اللهﷺ قال يقتل المحرم الفارة و الحية والكلب والحداة والعقرب.

كوم اشياء چه دي حديث كريمه كښي ذكر شو، ددےقتل په حل حرم دواړو كښى جائز دے ابتداءً وي او كه پس دحملې نه وى، دغه شان كوم اشياءچه په معنى ددغه اشياء مذكوره كښى دى دهغې هم دغه حكم دے. البته اختلاف په ديكښى دے چه د،،معنى ،،څه مقصد دے؟ امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ فرمائى چه كوم اشياء غيرماكول اللحم دى دهغي په قتلولو كښي څه فديه نشته، قتل ئي روادے.امام مالك رَحِمَهُ اللهُ فرمائى چه كوم اشياء مؤذى دى پشان ددغه اشياء دهغي قتل جائزدےهم دغه قول مفتي به دے، بعض وائي چه كومه حيوانات مفترس دي دهغي قتل روادے،

بيا دلته بعض رواياتوكښى دكلب سره،،عقور،، قيدهم لګيدلے په رواية د ابوداؤد كښي دى: عَنْ سَالِمٍ عَنْ ابيهِ سُئِلَ النَّبِيُّﷺ عَمَّا يَقْتُلُ الْمُحْرِمُ مِنَ الدَّوَابِّ فَقَالَ «خَمْسٌ لا جُنَاحَ فِى قَتْلِهِنَّ عَلَى مَنْ قَتَلَهُنَّ فِي الْحِلِّ وَالْحَرَمِ الْعَقْرَبُ وَالْفَارَةِ وَالْحِدَاةُ وَالْغُرَابُ وَالْكَلْبُ الْعَقُورُ ». (سنن ابي داو د ـ محقق ۲ / ۱۰۷) بعض رواياتوكښى مطلق كلب دے لكه دلته دغه شان كارغه كښى هم بعض وائى سپين برګ كارغه مراددےځوک مطلق وائي (والله اعلم)

باب حكم النكاح للمحرم

حديث ۲۰\۲۳۸ ابوحنيفة عن بسماك عن ابن جبيرعن ابن عباس قال تزوج رسول اللهﷺ ميمونة بنت الحارث وهو محرم.

دلته څه مسائل اتفاقي دى اوځه اختلافي دي، يو: په حالت داحرام كښى جماع بالاتفاق حرامه ده مفسددپاره دحج ده، دويم: دمحرم دپاره خِطبة النساء (دزنانو تپوس د نكاح دپاره بغير د نكاح نه) بالاتفاق جائزده.

دريم: اختلاف ديكښي دے چه دمحرم نكاح دزنانه سره كه حلاله وي كه محرمه وي يادمحرمي زنانه نكاح دسړى سره كه حلال وى كه محرم وي جائزدےكه ناجائز؟دوه قوله دى دعلماء كرامو،

[۱] ائمه ثلاثه ورته ناجائزوائى اوحرام ورته وائي [۲] امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ فرمائي! چه صرف نكاح كول بغيردلمس اوقبلة نه.جائزقدرى دےځواولى ندے، دليل د دواړو فرقو دپاره نكاح دنبي كريم ﷺ دے

دمیمونه رَضِيَ اللهُ عَنهَا سره خومسئله پدیکښی ده چه نبي ﷺ په حین دنکاح کښی حلال ووکه محرم ؟
چونکه دغه روایة په دوه طریقوسره نقل دے یو طریقه دلیل داول فریق دےاودویمه طریقه دلیل دفریق ثاني دے،

تفصیل ئی دا دے چه د یزید بن الاصم روایة چه مسلم شریف نقل کړے اعن یزید بن الاصم حدثتني میمونة بنت الحارث ان رسول الله ﷺ تزوجها وهو حلال قال وکانت خالتي وخالة ابن عباس (صحیح مسلم ۔تح عبد الباقي۲/ ۱۰۳۲) او دادلیل دفریق اول دے، دویم دفریق اول دپاره دلیل حدیث د عثمان رَضِيَ اللهُ عَنهُ دے؛ عن عثمان یبلغ به النبي ﷺ قال : المحرم لا ینکح ولا یخطب (صحیح مسلم ۔تح عبد الباقي ۲ / ۱۰۳۰)

د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ دپاره دلیل روایة دعبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنهُ دحدیث الباب دے او بخاری شریف هم نقل کړے بلکه صحاح سته نقل کړے؛ عن ابن عباس رضي الله عنهما:ان النبيﷺ تزوج میمونة وهو محرم (صحیح البخاري ۔ تح ۲ / ۶۵۲)

اوس په یوه واقعه کښی تعارض راغے بین الروایتین کله چه تعارض راشي په مینځ د روایاتو کښی نوددغه تعارض دازالےدپاره یاطریقه دترجیح اختیارول دي اویابه تساقط دروایتینوکوی، دلته بعض طرق دترجیح نه چلیږی ځکه چه دغه طرق هم متعارض دی، مثلاً که مونږه ترجیح ورکړویه حال درؤیة باندې چه ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنهُ محرم وئلےدے نو هغه به پړی جامي داحرام لیدلي وي، نو یزیدبن الاصم رَضِيَ اللهُ عَنهُ چه دحلال قول کړے نو هغه به پړی لباس دحلال لیدلے وي، ځکه دمحرم اوحلال فرق په نظر سره کیدے شي،نو بیا تعارض راغے، دغه شان که ترجیح په قرابة اوخپلولئ دراوي سره ورکړوچه ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنهُ د نبی کریم ﷺ دتره خوے دے نو یزید رَضِيَ اللهُ عَنهُ هم دعائشه رَضِيَ اللهُ عَنهَا خورئي دے، دغه شان که مونږه ترجیح په اقوالو دصحابه کرامو یو روایة ته ورکول او غواړو نو هغه هم نشي کیدے ځکه اقوال دصحابه کرامو هم متعارض دی، دغه شان دا هم معلومه نده چه نبي کریم ﷺ مکی ته روان وو ځکه بیاخویقیني ده چه محرم وو، او دا هم نده معلومه چه واپسئ کښی دانکاح شوے ځکه بیاخو یقیني ده چه حلال وو،

وجوه الترجیح ۔ لهذا؛ دترجیح دپاره به یاداسي او وایوچه روایة دابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنهُ راجح دے ځکه چه دا مثبت داحرام دے اوروایة دیزید رَضِيَ اللهُ عَنهُ منفي داحرام دے، اوکله چه تعارض په مینځ دمثبت اومنفي کښی راشي ترجیح به مثبت لره وي ځکه مثبت مشتمل په امر زائده وی اومنفي کښی حکایة دحالت

ـ مذهب هم کمزورے شو

په حديث د ابن عباس رضي الله عنهما چې کوم دے خو که په دې سند د صحيح مسند دے په خلاف د روايت د
ميمونه رضي الله عنها

په مؤطا شريف د امام مالک خبر رکړو وقيس ته به د رضوی توليس وی چه نکاح دې په حالت د حرام
کښي حرمتي حکه نکاح د حرم سره څه منافات نشته، ځکه منافي د حرم سره رفث، فسوق، جدال،
دي او نکاح په دې کښي هيڅ هم نه دے. دغه شان د حرم سره منافي جماع، قبله، مس بشهوة دے او په
نفس نکاح کښي د شه نشته.

د روايت د عثمان رضي الله عنه ـ جواب د دے چه دغه حديث کښي د نکاح سره خطبه هم ذکر شوه حالانکه د
خطبه په جوازکښي شک نه دے، معلومه شوه چه دلته نهي چه معنی د دغه د چه په سفر د حج کښي
د خيرو مناسب نه دی بلکه نهيه خو ستر پکار دی شان د محرم د دے چه دوی حج دونه خان وساتي،
وجه د دا چه نکاح د خه مقصود نه ده مشروع دے. چه جماع وغيره دی وس چه يو سړے نکاح اوکړي
نو ضرور دا چه دی خيرو صرف ته به توجه خي او محرم نه ده مناسب نه، چه دغه سوچ هم کړی مذانعي
دني نه ده نه دا چه کوم د عمل حرم دے هم دغه وجه دا چه د خطبة منع په باره کښي ائمه ثلاثه هم
دغه دوه کوی .

[لطيفة] د تعجب خبره د دا چه د نکاح په لاره د مکې کښي شوے په مقام د «سرف» کښي او بيا واده هم
په دغه ځای کښي شوے، او وفات د ميمونه رضي الله عنها هم د دغه ځاى شوے، او دفن شوى هم پدغه مقام
کښي ده. او بيا تعجب پدې دے چه د دوی کرونه په يو سفر کښي نه دی شوى بلکه نکاح په وخت
د تلو کښي مکې مکرمی ته شوے او واده په واپسی کښي د مکې مکرمی نه شوے، كما في رواية الطحاوي: عن
ابن عبّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عنهما " انّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ تَزَوَّجَ مَيمُونَة بنتَ الحَارِثِ وَهُوَ حرامٌ . فَاَقَامَ بِمَكَّةَ
ثلاثًا. فَاَتَاهُ حُوَيطِبُ بنُ عَبدِ العُزّٰى فِي نفرٍ مِن قُرَيشٍ فِي اليومِ الثَّالِثِ. فقَالُوا: انّهُ قد انقضى
اجلُكَ فاخرجْ عنَّا . فقَالَ: وما عليكُم لَو تَرَكتُمُونِي فعرستُ بَينَ اظهُرِكُم . فصنعنا لَكُم طعامًا
فحضرتموه . فقَالُوا: لا حاجة لَنا فِي طَعامك . فاخرجْ عنا . فخرجَ نبيُّ اللّٰهِ ﷺ . وخرجَ بميمونة .
حَتّٰى عرّسَ بِها بسَرِفَ (شرح معاني الآثار ٢ / ٢٦٩) او مرگ ئې چرته په بل سفر کښي په دغه مقام کښي
شوے دے او دا سفر د نبي کريم ﷺ د عمرة القضاء وو، والله اعلم

باب ماجاء في جواز الاحتجام للمحرم

حدیث ۲۱\۲۳۹ ابوحنيفة عن حمادعن سعیدبن جبیرعن ابن عباس ان رسول الله ﷺ احتجم وهومحرم.

دمحرم دپاره دبدن په هرمقام باندی سکرلګول جائزدی حتی که دوښتو لری کولو ضرورة پکښی راغلونوهم دعذرپه بنا جائزده البته فدیه به ئی ورکوی او که ویښته لری کول پکښی نه وونوبیا فدیه هم نشته، معلومه شوه چه دحاجی په زخمی کیدو سره په حج کښی څه نقصان نه راځی او نه پری فدیه لازمیږی ،

باب فضيلة الاستلام

حدیث ۲۲\۲٤۰ ابوحنيفة عن نافع عن ابن عمر رضي الله عنه قال ماتركت استلام الحجرمنذ رايت رسول الله ﷺ يستلمه.

استلام دسلام نه ماخوذ دے مصطلح استلام خکولول، یالاس لګول، یالاس اوچتول دلری نه، دا استلام په حج کښی دطواف په دوران کښی په دوه ځایه کښی مسنون دے یو چه حجر اسود ته ورسیږی استلام به کوی چه حجراسودبه یاخکل کړی که بے تکلفه ممکن وو، یابه ورسره لاس ولګوی هغه به خکل کړے، یابه ورته دلری نه لاس اوچت کړے، دویم استلام درکن یمانی دے چه داصرف په لمس الید سره دے ددینه علاوه بله طریقه جائز نده، لکه دے روسته روایة کښی دهغی فضيلة ذکر دے،

حدیث ۲۳\۲٤۱ ابوحنيفة عن حمادعن ابراهيم عن علقمة عن ابن مسعود ان رسول الله ﷺ قال ما انتهيت الى الركن اليمانی الالقيت عنده جبرئيل وعن عطاء بن ابی رباح قال قيل يارسول الله ﷺ تكثرمن استلام الركن اليمانی قال ما اتيت عليه قط الاوجبرئيل قائم عنده.

حدیث کښی فضيلة داستلام درکن یمانی ذکر دے د ظاهرنه معلومیږی ،

حدیث ۲٤\۲٤۲ ابوحنيفة عن عبدالله عن ابن عمران النبي ﷺ كان يقول بين الركن اليمانی والحجر الاسوداللهم انی اعوذبک من الكفروالفقروالذل وموقف الخزي في الدنيا والاخرة .

حدیث کښی مسنون دعاءدرکن یمانی اودحجراسودذمینځ مقام ذکر ده، د دینه علاوه نوری دعاګانے هم شته، لکه سنن ابي داؤد ـ محقق ۲ / ۱۱۹)

باب ماجاء في جواز الركوب للمريض في الحج

حديث ٢٥\٢٤٢ ابوحنيفة عن حماد عن سعيد بن جبير عن ابن عباس قال طاف النبي ﷺ بالبيت وهو شاک علی راحلته يستلم الاركان بمحجنه وفي رواية قال طاف النبي ﷺ بين الصفا والمروة وهو شاک علی راحلته.

حج ي عبادة ده او بيا د مشقت عبادة ده مناسب ده چه دده ارکان په خپلو خپو سره دمشقت سره اداء کړے شي البته که يو کس معذوروی يا بيماروی نو په سورلئ هم دده اجازة شته حديث الباب کښي نبي کريم ﷺ ذبيان دجواز دپاره دغه عمل کړے دے چه شکاية (بيماري) وه ورته، بيا معلومه شوه چه په سورلئ طواف کولے شي چه داپه مسجد کښي دننه عمل دے نو هغه نوراعمال په طريق اولی سره په سورلئ کولے شي لکه چه ددغه دويم رواية نه معلومه شوه چه سعي هم نبي کريم ﷺ په سورلئ کړی ده.

باب الرمل في الطواف

حديث ٢٦\٢٤٤ ابوحنيفة عن عطاء عن ابن عباس ان رسول الله ﷺ رمل من الحجر الی الحجر.

رمل دطواف په دوران کښي پهلواني کولو ته وائي، داحرام د تړلو نه پس اول طواف که د حج وی که دعمری وی خو په اول دری ٣ گردشونو کښي به رمل کوی او باقی چکری به دمعمول مطابق کولے شي، بيا په هر اول طواف کښي که دعمري وی که دحج دغه رمل عند الجمهور واجب دے، سبب ئې ظاهر دے چه مشرکينو دمسلمانانو په باره کښي په عمرة القضاء کښي ويل «وهنهم حمی يثرب» نبي کريم ﷺ صحابه کرامو ته او ويل پهلواني اکرئ چه دوي زمونږه کمزوري محسوسه نکړي، اودوي ته ځان غټ ښکاره کړئ تکبر اګرچه ناجائز دے خو چه شريعة ديوشي حکم اکړي نو بيا واجب شي، دبعض صحابه کرامو (لکه عبدالله بن عباس رضی الله عنه) نه ددی نسخه نقل ده، خو جواب دا دے چه هلته نفي درمل نشته بلکه دهغی مقصد دا دے چه نبي کريم ﷺ داسی خفيف اندازسره رمل کړے چه چاته ئې احساس نده شوے او مسئله هم دغه ده چه کله ګڼره وی او رمل نه کيږی يا په رمل کولو سره خلقو ته تکليف رسی نو په خالی به ولاړ ئي، چه ګنجائش پيدا شي نو رمل به کوی ځکه ترک دواجب ناجائز دے خو دده پهلوانئ دا مقصد ندے چه تيز تيز لاسونه وهي او خلقو ته تکليف ورکوی بلکه دپهلوانئ په اندازسره به ځي.

باب الجمع بين الصلوتين في المزدلفة

حديث ٢٧\٢٤٥ ابوحنيفة عن يحيى بن ابى حية ابى جناب عن هانئ بن يزيدعن ابن عمر قال افضنامعه من عرفات فلمانزلنا جمعا اقام فصلينا المغرب معه ثم تقدم فصلى ركعتين ثم دعابماء فصب عليه ثم اوى الى فراشه فقعدنا ننتظر الصلوة طويلاثم قلنايااباعبدالرحمن الصلوة فقال اى الصلوة فقلنا العشاء الاخرة فقال اماكماصلى رسول اللهﷺ فقد صليت وفي رواية عن ابن عمران النبیﷺ جمع بين المغرب والعشاء.

دحج په موقع دوه ځایونوکښی جمع بین الصلوتین کیږی، په مقام دعرفات کښي د ماسپخين او د ماښکرمونځ په مينځ کښي، دویم مزدلفه کښي بين المغرب والعشاء، او دا دواړه ځایه جمع بین الصلوتین جمع حقيقي دے، ددینه علاوه چه څومره مقاماتو کښي جمع بين الصلوتين ثابته ده نوعندالأحناف دهغی نه جمع صوری مراد ده نه حقیقی، بیا دغه جمع په عرفات کښي جمع حقيقي تقديمي دے،او په مزدلفه کښي جمع حقيقي تاخيري دے، او دا دواړه جمع حقيقي اتفاقي ثابت دي، دا هم اتفاق مسئله ده چه دغه دواړه ځایه به يواذان وبلے کیږی ،البته اختلاف په دیکښی دے چه اقامة به یووی که دهر مونځ دپاره به جدا وی؟ د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ مسلک دا دے چه دهراول مونځ دپاره به اقامة کولے شی نه دثانی دپاره، دلیل ئی دغه روسته رواية الباب دے.

شوافع فرمائی چه هرمونځ دپاره به جدا اقامة کیدے شی بعض احناف لکه امام طحاوی رَحِمَهُ اللهُ وغیره فتوی دشوافع دمسلک موافق ورکوی، حديث الباب دجمع بين الصلوتين دپاره دليل دے.

حديث ٢٨\٢٤٦ ابوحنيفة عن عدى عن عبدالله بن يزيدعن ابى ايوب قال صليت مع رسول الله ﷺ المغرب والعشاء في حجة الوداع بالمزدلفة.

حديث په مخکښي مسئلة الباب دليل دے چه دوضاحت محتاج ندے.

حالات راوی ابوايوب الانصاری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - نوم نسب ئی دا دے ابوايوب خالدبن زید بن کلیب بن ثعلبة الانصاری الخزرجی،دکبارو صحابه کرمونه دےجلیل القدر والمرتبه بدری صحابی دے، دنبی کریمﷺ اوعلی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره تمام جنګونو کښي شریک شوے دے، په لاره کښي بیمارشو او وفات ئی په قسطنطنيه (روم) کښي په لاره وشو، چه کله بیمارشو نو وصیت ئی اوکړوچه که څه مړشوم نوځمالاش به واخلئ ځان سره اوچه کوم ځائی اول صف دجنګ دپاره برابرشونودغه خط اول کښي به ماخخ کړئ، صحابه کرامو هم دغه شان اوکړه، قبرئی نن صباهم په هغه ځایه موجود دے دقسطنطنيه (استنبول) د دیوال په خوا کښي

چه خلق پکښې ډير زيات خرافات کوي، اوبرکات ترينه حاصلوي، دروم حکومة پرې يوه قبه جوړه کړې ده چه قناديل ئې پکښې زوړند کړي دي، په ٥١ هـ کښې مرابطا في سبيل الله وفات شوے دي کتاب کښې ترينه دوه روايته نقل دي.

حديث۲۹\۲٤۷ ابوحنيفة عن عن ابى اسحق عن عبدالله بن يزيدالخطمي عن ابى ايوب ان رسول اللهﷺ صلى المغرب والعشاء بجمع باذان واقامة واحدة .

داحنا ف دپاره دليل دے په يو والى داقامة دپاره دصلوتين دمزدلفي،

باب ماجاء في التعجيل الى منى لعذر

حديث۳۰\۲٤۸ ابوحنيفة عن سلمة عن الحسن عن ابن عباس عن النبىﷺ انه عجل ضعفة اهله وقال لهم لاترموا جمرة العقبة حتى تطلع الشمس.

دمزدلفي نه منى ته دتګ عامه طريقه دا ده چه دسحرمونځ په مزدلفه کښې په غلس (تياره) کښې وکړے شي او بيامنى ته تګ وشي، خود حديث الباب نه معلومه شوه چه دعذر په وجه منى ته وختى تګ هم جائزدے، البته داخبره قابل غورده چه مبيت دمزدلفے څه حکم لري؟ دابراهيم نخعي رَحِمَهُ اللهُ او حسن بصرى رَحِمَهُ اللهُ په نيز مبيت دمزدلفه من اركان الحج دے، او د جمهورو په نيز باندى واجب دے، د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نيز سنت عمل دے، البته پدى خبره د ټولو اتفاق دے چه ضعفاء معذورين اونساء قبل المبيت هم تلے شي.

قوله! ولاترموا جمرة العقبة :- رمي دجمرة العقبة داختر په ورځ کولے شي مسئله اتفاق ده البته اختلاف پديکښې دے چه مخکښې طلوع الشمس نه په دغه ورځ دارمي کولے شي کنه؟

[۱] احناف اومواليک رَحِمَهُمُ اللهُ فرمائي!چه نشي کولے بلکه ناجائزده، بلکه دسحرمونځ به په مزدلفه کښې په غلس کښې کولے شي او بيا به منى ته راځي پس دطلوع الشمس نه رمي به کوي،

[۲] شوافع، حنابله رَحِمَهُمُ اللهُ فرمائي!چه داخترشپه دنيمى نه واوړى نورمي دجمرة العقبة جائز ده، حديث الباب داحنافو اومالکيه رَحِمَهُمُ اللهُ دليل دے،

حديث۳۱\۲٤۹ ابوحنيفة عن حمادعن سعيدبن جبير عن ابن عمرقال بعث رسول اللهﷺ ضعفة اهله وقال لهم لاترموا جمرة العقبة حتى تطلع الشمس.

حديث دمسئلة الباب سره متعلق دے اودفريق اول دويم دليل دے، بيا داخبره دياد قابله د چه رمي دجمرة

العقبة دپاره یووخت مستحبه دے چه داختر په ورځ دطلوع الشمس نه ترزوال الشمس پورې دے، دویم وخت جائزه دے چه پدغه ورځ دزوال نه ترغروب الشمس پورې دے، اودریم وخت مکروهه دے چه د... النحرنه روسته رمي وشي،

باب ماجاء في قطع التلبية

حدیث ۲۲\۲۵۰ ابوحنیفة عن عطاءعن ابن عباس ان النبیﷺ لبی حتی رمی جمرة العقبة وفي رواية عن ابن عباس ان النبیﷺ اردف الفضل بن عباس وکان غلاماحسنًا فجعل یلاحظ النساءوالنبیﷺ یصرف وجهه فلبی حتی رمی جمرة العقبة وفي رواية عن ابن عباس عن الفضل اخیه (الحدیث الخ) .

تلبیه دحج اهم عبادة اوذکر دے چه داحرام دترلو نه روسته په مختلفو ارکانو اوافعالو دحج کښې ویلے شي، خو په ټولومناسکو دحج کښې تلبیه نشته بلکه څه وخته پورې به وی بیا به تلبیه نشي ویلے، په ابتداء دتلبیه کښې اتفاق دے چه پس داحرام نه چه نیت اوکړے شي نوتلبیه به شروع شي، البته په انتهاء ددے کښې اختلاف دے،

[۱] جمهورصحابه کرام، تابعین، احناف ، شوافع، سفیان ثوری رَحِمَهُمُ اللهُ فرمائی! چه د شروع درمي دجمرة العقبة من یوم النحرسره به تلبیه قطع کولے شي چه اول کانړے گذاری،

[۲] حسن بصری رحمه الله فرمائی!چه دعرفه په ورځ دصلوة الفجرنه روسته به تلبیه قطع کولےشي،

[۳] امام مالک رحمه الله فرمائی!چه قطع التلبية به په یوم عرفه عندالوقوف بعدالزوال کولےشي،

[٤] امام احمد،اسحق بن راهویه رَحِمَهُمُ اللهُ فرمائی!چه پس دفراغ درمي دجمرة العقبة نه به قطع کیدے شي ،

دلیل دجمهورودپاره رواية الباب دے چه غایه دتلبیه رمی دجمرة العقبة خودلےشوی ده، پاتی شونورائمه کرام دهغوودپاره صریح دلیل نشته،

باب حکم الرکوب علی البدنة

حدیث ۲۳\۲۵۱ ابوحنیفة عن عبدالکریم عن انس ان النبیﷺ رای رجلایسوق بدنة فقال ارکبها.

کوم څاروےچه بطورهدیه دحرم دپاره بوتلےشي په هغی دسورلئ کولو څه حکم دے؟ دیکښې تفصیل دا دے چه کوم څاروی چه دسورلئ دپاره ندی لکه غوا، بیزه وغیره په هغی خو سورلی ناجائزده که چاته عذروی کنه، کوم څاروی چه دسورلئ وی، لکه «اخ» شو ددی حکم دا دے چه دیوکس دی ته ضرورة

اوحاجت دے، مثلاسترےشوےچه سفرنشي كولے یابیمار دے یامعذوردے، نو د هغـه دپـاره بالاتفـاق پـه دغه ځاروې سورلی جائز ده، البته په دومره مقداربه پری سفرکوی چه هغه ني برداشـت كـولےشي، او كـه یوكس ته ددغه سورلئ ضرورة نه وی نوبيا په مسئله كښی اختلاف دے:

امام صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ فرمائی اچه بلااضطراره سورلی جائزنده او داقول د امام شـافعی رَحِمَهُ ٱللَّهُ هـم دے، بـاق أئمه فرمائی اچه جائزده.دهغودپاره دلیل حدیث الباب دے چه دلته امرمطلقا شوے دے، کـه چاتـه ضرورة وی كنه، د امام صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ دپاره دليل رواية دجابر رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ دے: اخْبَرَنِي ابو الزُّبَيْرِ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ سُئِلَ عَنْ رُكُوبِ الْهَدْيِ فَقَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَقُولُ ارْكَبْهَا بِالْمَعْرُوفِ اذَا الْجِئْتَ الَيْهَا حَتّٰى تَجِدَ ظَهْرًا (صحیح مسلم ٦ / ٥٠٠) دی حدیث نه دا معلومه شوه په موصوف ځاروی سورلی جائزده خو په درې شرائطوسره

(۱)..داسورلی په معروفه طریقه وی چه دغه سورسرے په طریقه ناست وي،د ،،المعروف،، نه معلومه شوه

(۲)..په وخت د احتیاج او ضرورة کښی د ،،الجئت،، نه معلومه شوه

(۳)..هله چه بله سورلی نه وی د ،،حتی تجد ظهرا،، نه معلومه شوه

باقی شوحدیث مذکورنودلته اطلاق ندے مراد بلکه دا امردنبی کریم ﷺ هغه کس دے چه هغه تـه ضرورة وو، بعض روایاتوکښی راځـی چـه دغـه سرےسترےشـوےوو، لکـه روایـة دنسـائی کښـی دی اوقدجهـده المشي،،ددینه معلومه شوه چه ضرورة مند وو،تفصیل حاشیه۱

باب فضيلة القران

حدیث٢٥٢\٣٤١ ابوحنيفة عن حمادعن عن ابراهيم عن الصبيّ بن معبد قال اقبلت من الجزيرة حاجا فمررت بسلمان بن ربيعة وزيد بن صُوحان وهماشيخان بالعذيبة قال فسمعانى اقول لبّيک بعمرة وحجة فقال احدهما هذالشخص اضل من بعيره وقال الاخر هذا اضل من كذا وكذا فمضيت حتى اذا قضيت نسُکی مررت باميرالمؤمنين عمر فاخبرته كنت رجلا بعيد الشِقة قاصِىَ الدار اذن الله لى في هذا الوجه فاحببت ان اجمع عمرة الى حجة فاهللت بهما جميعاولم انسَ فمررت بسلمان بن ربيعة وزيد بن صوحان فسمعانى اقول لبيک بعمرة وحجة معًا فقال احدهما هذا اضل من بعيره وقال الاخر هذا اضل من كذا وكذا وقال فصنعتَ ماذا قال مضيت فطُفتُ طوافا لعمرتى و سعيت سعيا لعمرتى ثم عُدتُ ففعلت مثل ذلک ثم بقيت حراماصنع كمايصنع الحاج حتى اذاقضيت اخرنسكى قال هُديتَ لسنة نبيّک محمد ﷺ وفي رواية عن الصُبيِّ بن معبد

قال كنت حديث عهد (الحديث الخ)

[فائده] ۱ حج په درې قسمه دے [۱] حج افراد. چه دمیقات نه صرف دحج احرام وتړی اونیت دحج وکړی فقط اومناسک دحج ادا کړی۔

[۲] حج تمتع. چه په اشهرالحج کښې دمیقات نه دعمرے دپاره احرام وتړی فقط اوپس داداء کولودعمرې نه ځان حلال کړی، بیادحج دپاره پدغه کال احرام وتړی اومناسک الحج اداء کړی، متمتع بیا په دوه قسمه دے یوسائق الهدی ،، چه ځان سره ئې قربانی روانه کړی وی، ددہ دپاره دعمری داحرام نه تحلیل ندے جائزبلکه پدغه احرام کښې به حج هم اداء کوی، دویم ،،غیرسائق الهدی ،،چه دقربانۍ څاروے ئې ځان سره دکوره نه وی روان کړے، ددہ دپاره تحلیل دعمری نه شته بیا به دحج دپاره جدااحرام تړی،

[۳] حج قران. چه دمیقات نه دحج عمرې دواړویه نیت احرام وتړی د دواړودپاره تلبیه او وائی، کله چه عمره اداء کړی بیاهم پدغه احرام کښې ناست وی چه دحج ورځی راشی په دغه احرام حج هم اداء کړی، او د دواړونه په یوځل ځان حلال کړی،

[فائده] ۲ اشهرالحج څه دپاسه دوه میاشتې دی چه شوال المکرم، ذوالقعدة ، اولس ورځی د ذوالحجة دی،

اختلاف۔ دلته دوه مسئلې قابل غوردی، یودا چه پدی درې قسمه حج کښې کوم یوافضل دے؟ دویم دا چه حاجی قارن به څوطوافه اوسعي کوی؟

هرچه اوله مسئله ده نودیکښې اتفاق دے چه دادرې واړه قسمه حج جائزدے، چه کومه طریقه چااختیار کړه فرض ترینه ساقط شو، البته اختلاف پدیکښې دے چه کوم یوافضل دے؟

[۱] امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ فرمائی اچه قِران افضل دے دتمتع نه اوتمتع دافرادنه، او دامذهب دسفیان ثوری رَحِمَهُ اللهُ اسحق بن راهویه رَحِمَهُ اللهُ او داکثراهل الحدیث دے، صحابه کراموکښې داقول د عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، عمران بن حصین رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وغیره دے،

[۲] امام مالک رَحِمَهُ اللهُ امام شافعی رَحِمَهُ اللهُ (في رواية) فرمائی اتمتع افضل دے،

[۳] امام احمدبن حنبل رَحِمَهُ اللهُ اواکثرشوافع فرمائی اچه افراد افضل دے،

دلیل داحنافوحدیث الباب دے، خواصل اختلاف ددینه پیدا دے چه نبی کریم ﷺ کوم قسم حج اداء کړے حجة الوداع (ځکه نبی کریم ﷺ خویل حج کړےندے)روایات دیکښې مختلف دی، چه دهغی نه هرمذهب واله استدلال نیولے شی، خواحناف دحج قران روایاتو ترجیح ورکوی دیو څوروجوهونه،

وجوه الترجیح دحج قران روایات دیردی په نسبت دنورو باندی چه محشی څه به وافرمقدارکښې نقل

کـړی دی،دریـم دچانـه چـه افرادنقـل دےنودهغونـه قـران هـم نقـل دے نوددغـو یـه روایاتوکښـی تضادراغلو،دریم دچانه چه روایات دقران نقل دی په هغی کښی تاویل نشی کیدے په خلاف دهغه چاچه افرادئی نقل کړے دےهغی کښی تاویلات ممکن دي، څلورم دا چه دنبي کریمﷺ نـه پخپلـه داسی الفاظ نقـل دی ،،قرنـت،، خوچرتـه هـم داسی الفـاظ نشـته چـه ،،افـردت، یـا تمتعـت،، پـنځم دا چـه د قـران درواياتوتائيدات شته لکه روایة الباب چه عمر رَضِيَ اللهُ عَنهُ فرمائی! هديت لسنة نبيک.. دغـه شـان روایـة دنسـائی هـم ددی تائیـدکوی! عَنْ مَرْوَانَ بْنِ الْحَكَمِ قَالَ كُنْتُ جَالِسًا عِنْدَ عُثْمَانَ فَسَمِعَ عَلِيًّا يُلَبِّي بِعُمْرَةٍ وَحَجَّةٍ فَقَالَ أَلَمْ نَكُنْ نُنْهَى عَنْ هَذَا قَالَ بَلَى وَلَكِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يُلَبِّي بِهِمَا جَمِيعًا فَلَمْ أَدَعْ قَوْلَ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ لِقَوْلِكَ.(١) دیکښی تصریح شوه چه دنبي ﷺ حج حج قِران وو،

ددی سره عقل هم مؤیدد دی دے چه حج قران دی افضل شی ځکه چه دوه عبادتونه سره دمشقت نـه پـه یوسفرکښی اداء شو نوداسی شوه لکه صوم مع الاعتکاف، یارباط في سبيل الله تعالى مع صلوة الليل،

پاتی شوروایات دافرادوغیره نودهغی تاویل کیدے شی چه نبي ﷺ اول دافرادنیت کـړےوو خـو بیـائی قـران کړواواعتبارامرمستقره لره وی نه اول حالت لره (والله علم)

دویمه مسئله:- دی مسئله کښی هم اختلاف دے چه چه قارن به څو طوافه کوی؟

[۱] امام شافعی، احمدبن حنبل، اسحق بن راهویه، حسن بصری رَحِمَهُمُ اللهُ فرمائی! چه قارن به یوطـواف او یـوه سعي کوی، صحابه کرامو کښی دا قول دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنهُ جابر رَضِيَ اللهُ عَنهُ وغیره دے

[۲] امام ابوحنیفة ، شریح قاضی، عامرشعبی، سفیان ثـوری رَحِمَهُمُ اللهُ فرمـائی! چـه دوه طوافـه اودوه سـعي بـه کـوی، صـحابه کراموکښـی داقـول دعمـربن الخطـاب رَضِيَ اللهُ عَنهُ علی بـن ابی طالـب رَضِيَ اللهُ عَنهُ حسـین بـن علی رَضِيَ اللهُ عَنهُ اوعبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنهُ دے.

دفریق اول دلیل روایـة دترمـذی شریـف دے! عن جابر : ان رسول الله ﷺ قرن الحج والعمرة فطاف لهما طوافا واحدا (سنن الترمذي - شاكر ۳/ ۲۸۳)

داحنافودپاره دلیل حدیث الباب دے، طریقه داستدلال دا ده چه روایـة د،،صبی بـن معبـد رَضِيَ اللهُ عَنهُ صریـح دے چه دوه طوافه اودوه سعي دی، اوعمربن الخطاب رَضِيَ اللهُ عَنهُ ئی تائید وکړوچه سنة نبوی هـم دغـه دے، ددینه علاوه نوردیرروایات دی چه تائید دمذهب حنفي کوی، پاتی شو دلیل دفریق اول نودهغي نه جـواب دا

---

(١) (سنن النسائي ۹ ۸۱)

دے چه ددغه حدیث اکابرصحابه کرامو خلاف کړے لکه عمر رضي الله عنه علي رضي الله عنه ابن مسعود رضي الله عنه عمران بن حصین رضي الله عنه وغیرهم هم، عقل هم تقاضاددے کوی چه دوه طوافه اودوه سعي دی وشی ځکه چه دادواړه مستقل عبادتونه دی والله اعلم

قوله اوفي رواية : دادځکنبی روایة وضاحت دےسبب داداء کولو دحج قران بیانوی،

قوله انک نهیت: دلته متعه په معنی عامه سره دے قِران ته هم شامل دے،

باب فضيلة العمرة في رمضان

حدیث ۳۵\۲۵۳ ابوحنیفة عن عطاءعن ابن عباس رضي الله عنه عن النبی ﷺ قال عمرة في رمضان تعدل حجة .

ربط:- عمره په بحث دحج کښی ذکرکول پدی مناسبت سره دی چه عمره دنیم حج ثواب لری، دویم عمره په مکان دحج کښی اداء کولے شی،

حدیث الباب کښی دوه خبری قابل غوردی، یودا چه دلته کوم ثواب دعمری په رمضان کښی ذکر دے نو مراد د دینه مطلق رمضان دےنه ۲۷ درمضان ددی تخصیص نشته،

دویم دا چه دلته «تعدل حجة »، چه ویلےشوےدابرابرے په ثواب کښی دے نه په سقوط عن الفرض کښی، نوکه په یوسړی باندی حج فرض شوےوی نو په عمره في رمضان دهغی نه دغه فریضه نه ساقطیږی، په محسوساتو کښی ددےمثلال داسی دے لکه یو سړے کوټ واخلی په دومره قیمت چه په هغی قیمت دده پوره جامی کیږی نودغه کوټ په قیمت کښی خود جامو سره برابردے، البته دجاموکارخونشی۔ کولےچه صرف په کوټ باندی اکتفاء وکړی چه دادپرتوګ قمیص کار کوی بس داپوره دے، داسی چرته هم نده صحیح،

باب حكم الدخول الى مكة بغير احرام

حدیث ۳۶\۲۵٤ اعن عبدالله عن ابن عمرقال كان النبی ﷺ یوم فتح مكة على بعير اورق الى سواد وهو الناقة القصوى متقلدا بقوس متعمما بعمامة سوداء من وبر.

افاق سړےچه دحج یاعمری دپاره مکی مکرمی ته ځی نوبغیرداحرام نه دمیقات نه بالاتفاق نشی اغوښتلے او که واوړیدونودم پری لازم دے، خوکه افاق سړے بغیردحج عمری دنیت نه مکی مکرمی ته داخلیږی بلااحرامه نو دده څه حکم دے؟داخلیدلےشی کنه؟ مسئله کښی اختلاف دے دوه مذهبه دی،

[۱] امام صاحبؒ فرمائي:نشی داخلیدلےالبته کوم کس چه هغی ته عذر دےنو هغه ترینه مستثنی دےمثلادټیکسی ډرائیورشویا تاجر شو چه هلته ئې دکان یا کاروبار دے، چه هغی ته په هرخل ننوتلو احرام لازمول حرج عظیم دے، ددی خلقودپاره جدید فتوی دا ده چه بلا احرامه ددوی دپاره د دخول اجازة شته، البته خدام الحجاج، یاد ډاکټرانو کوم ټیم چه دحجاجو کراموسره ځی یامعلمین دحجاجوکراموهغه بلا احرامه ننی داخلیدلے دغه شان هغه څوک چه دهغه هروخت مکه مکرمه کښی څه کار نشته نو هغه به هم بلا احرامه ننی ننوتلے.

[۲] باقی ائمه کرام فرمائي' چه بلااحرامه دخول جائزدے، دلیل دائموذپاره حدیث الباب دے چه نبی ﷺ بلا احرامه وو دلیل ئی دا دے چه تور پټکےئی په سر وو او احرام کښی خوسر باندی څه نوی،

خوجواب ورته کیدے شی : چه دغه خصوصیة دنبی کریم ﷺ وو چې دهغه دپاره په دغه ورځ حرمة دکعبې اوچت شوے وو، لکه چه نورو روایاتو په دی تصریح کړی ده روایة د ترمذی شریف کښی راځی!

« انَّ مَكَّة حَرَّمَهَا اللّٰهُ وَلَمْ يُحَرِّمْهَا النَّاسُ وَلا يَحِلُّ لامْرِئٍ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الاخِرِ ان يَسْفِكَ فِيهَا دَمًا اوْ يَعْضِدَ بِهَا شَجَرَة فَانْ احَدٌ تَرَخَّصَ بِقِتَالِ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ فِيهَا فَقُولُوا لَهُ انَّ اللّٰهَ اذِنَ لِرَسُولِهِ ﷺ وَلَمْ يَاذَنْ لَكَ وَانَّمَا اذِنَ لِى فِيهِ سَاعَة مِنَ النَّهَارِ وَقَدْ عَادَتْ حُرْمَتُهَا الْيَوْمَ كَحُرْمَتِهَا بِالامْسِ وَلْيُبَلِّغ الشَّاهِدُ الْغَائِب ». (سنن الترمذی مکنز: ۳ / ۳۷۵)

حدیث نه دا هم معلومه شوه چه دنبی کریم ﷺ جهادی پټکےبه عموما تور وو،

باب اداب زیارة قبر النبی ﷺ

حدیث ۳۷\۲۵۵ ابوحنیفة عن نافع عن ابن عمرقا ل من السنة ان تاتي قبرالنبي ﷺ من قبل القبلة و یجعل ظهرک الی القبلة وتستقبل القبر بوجهک ثم تقول السلام علیک ایهاالنبي ورحمة الله وبرکاته.

ربط:-حاجی اومعتمراکثردنبی ﷺ دروضه اطهردزیارة دپاره ځی اوهلته حاضری پیش کوی په دغه مناسبت سره دلته دهغی اداب ذکر کوي چه دحدیث نه واضح دی، البته که دعاء غواړی دسلام عرض کولونه روسته نوبیا به مخ قبلےته کرځوی، روضه اطهر طرف ته مخ کول اودعاءغوښتل ندی پکار ځکه چه دیکښی شبهه داستمداد من قبر النبی ﷺ راځی او داجائز نده،

کتاب النکاح

اجمالی خبری:- ربط، معنی لغوی، معنی اصطلاحی، رکن دنکاح، حکم دنکاح، تجزیة الروایات،

[۱] **ربط:**- مخکښې عبادة بدنی، عبادة مالی، اومرکب عبادة منهما بیان شو، اوس ئی شروع په معاملاتو اکړه، نکاح ئی مقدم کړو په نورمعاملاتو باندی ځکه چه نکاح من وجه عبادة هم دے،

[۲] **معنی لغوی:**- نکاح په لغة کښې په معنی دضم، وطي، اوعقدسره راځی، بیا امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمائی چه په وطي کښې حقیقت اوعقدکښې مجاز دے، امام شافعی رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمائی نه په عقدکښې حقیقت دےاووطي کښې مجاز دے، بعض نورروائی چه ضم کښې حقیقت لغوی او په عقدکښې حقیقت شرعي دے. علامه عینی رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمائی وحقیقته عند الفقهاء علی ثلاثة اوجه حکاها القاضي حسین اصحها انه حقیقة في العقد مجاز في الوطيء وهو الذي صححه ابو الطیب وبه قطع المتولي وغیره الثاني انه حقیقة فيالوطء مجاز في العقد وبه قال ابو حنیفة والثالث انه حقیقة فیهما بالاشتراك (عمدة القاري ۲۹ / ۱۷۴)

[۳] **معنی اصطلاحی:**- هوملك المتعة قصدا،

[۴] **رکن النکاح:**- رکن دنکاح دپاره ایجاب قبول، اوشهادتین ئی شرط دے البته شرط دبقاء د نکاح دپاره ندی بلکه دپاره دوجوددنکاح دی،

[۵] **حکم النکاح:**- حل الاستمتاع وحرمة المصاهرة،

[۶] **تجزیة الروایات**- کتاب النکاح کل رویات ۲۵ دی،

باب في خُطبة النکاح

حدیث ۱۱۲۵۶ ابوحنیفة عن القاسم عن ابیه عن عبدالله قال علمنارسول الله ﷺ خطبة الحاجة یعنی النکاح اِن الحمدلله نحمده ونستعینه ونستغفره ونستهدیه من یهدی الله فلامضل له من یضلل فلاهادي له ونشهدان لااله الاالله ونشهدان محمداعبده ورسوله یا ایُّها الَّذِینَ امَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ اِلَّا وَانتُمْ مُسلِمُونَ وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْاَرْحَامَ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا يَا اَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَنْ يُطِعِ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا.

خطبه دنکاح څه حکم لری؟ ددی په حکم کښې معمولی غوندی اختلاف دے په نیزداهل ظواهرو خطبه واجبه ده، ځکه نبي کریم ﷺ دفاطمه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا په نکاح کښې خطبه ویلی ده اوافعال دنبي

ﷺ په وجوب حمل دی، دسفیان ثوری رَحِمَهُ اللهُ په نیزخطبه مستحب ده بغیر ددینه هم نکاح جائزده، او د جمهورو په نیزباندی خطبه دنکاح سنت ده، البته چه کله خطبه شروع شی نواوریدل ئي واجب دی داسی واجب لکه خطبة الجمعة (کذافي الفتاوی) بغیردخطبي نه نکاح جائز مع الکراهة دے، امام شافعی رَحِمَهُ اللهُ فرمائي؛ چه هر عقد د معاملاتو کښی خطبه سنت عمل دے، حدیث الباب کښی دغه خطبه ذکرده، ددینه علاوه په نورو الفا ظوسره هم داخطبه نقل ده، دنبی کریم ﷺ نه نقل کوم الفاظ چه چا اداء کړه سنت پری اداء کیږی، بیادی خطبه کښی دتقوی ایاتو نه نبی کریم ﷺ پیش کړه ځکه نکاح داسی معامله ده چه بغیر دتقوی نه دابر قرار نشی پاتی کیدے،

داخبره هم دیاد قابله ده چه مشروعیة دخطبي په نکاح کښی ددے دپاره دے چه بناء دنکاح په اعلان اوتشهیرده، چه څومره په ګڼره کښی وی اولی دے دا د دی دپاره چه دتهمت نه بچاؤ راشی، اوترمذی شریف کښی روایة دے؛ عن عائشة قالت : قال رسول الله ﷺ اعلنوا هذا النکاح واجعلوه في المساجد واضربوا علیه بالدفوف (سنن الترمذي : ۳ / ۳۹۸)

بیا په دی خطبه کښی دری خبری راغلے (۱) حمد دالله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ ځکه نکاح یو نعمة دے پدی حمد پکاردے (۲) شهادتین ځکه چه نکاح نعمة دےخودمسلمان دپاره چه دےحقوق د نساء پیژنی چه اسلامی حقوق دی دمغرب حقوق نه چه بازار، دفتر، اومارکیټ ته ازادی ده دغه نعمت نشی۔ ګرځیدلے بلکه معاشره پری خرابیږی، نعمة هله دے چه دشریعة دحقوقو خیال ساتی چه فرده به وی اطاعة الزوج به وي وغیره (۳) حکم دتقوی ځکه داحقوق په تقوی سره سرته رسیږی،

باب في الترغیب الی النکاح

حدیث ۲۱۲۵۷ ابوحنیفة عن زیادعن عبدالله بن الحارث عن ابی مومی قال قال رسول الله ﷺ تزوجوا فانی مکاثر بکم الامم.

نکاح کول څه حیثیت لری؟ ددی مختلف احکام دی، عندالتوقان والخوف عن الوقوع في الحرام نکاح کول فرض دی، بغیرالتوقان نکاح کول سنت عمل دے، چه ګمان ددی وی چه حقوق دنساء به پوره کړے کنه؟ نکاح کول مستحب دے، اوچه خوف د ظلم او عدم اتیان په حقوقو وی نوبیا نکاح کول مکروه دی ددغه کس دپاره روژی نیول شریعة تجویز کړی دی،

[تنبیه] په حکم دنکاح کښی اختلاف دعلماء شته دامونږه چه څه بیان کړه داقول فیصل دے،

دلته یوه بله مسئله قابل غورده هغه دا چه ایه عندالتوقان شغل بالنکاح افضل دے کنه تخلي للعبادة ؟ امام

صاحب رحمه‌الله وایي چه افضل دی او امام شافعي رحمه‌الله وایي چه تخلي افضل دی. د امام صاحب رحمه‌الله دلیل حدیث الباب دے چه په هغې مشتمل دے او دا صیغه ذکر د سنت دپاره ده. د امام شافعي رحمه‌الله دپاره دلیل دا کریمه ده ﴿وسیدا وحصورا ونبیا من الصالحین﴾ آل عمران ۳۹ د دے صفت د یحیی علیه‌السلام په «حصور» سره شوے چه معنی ئې دا ده وهو الذي لا یاتي النساء مع القدرة علی اتیانهن. او علامه قرطبي رحمه‌الله نقل کړي: هو الذي یکف عن النساء ولا یقربهن مع القدرة. وهذا اصح. (تفسیر قرطبي ۴/۷۸) او س که دا ممدوح صفت نه وے نو الله تبارک‌وتعالیٰ به ئې د صفت په توګه نه ذکر کوه. چه په نکاح کښي شهوة دنفس پوره کول دي او په عبادة کښي ددي خلاف کول دي ځکه دا خو معلومه شوه

خو جواب دا دے چه د آیة کریمه نه استدلال نیول د امام شافعي رحمه‌الله دپاره صحیح نه دے. یو جواب دا دے چه امام شافعي رحمه‌الله په شرائع من قبلنا د عمل دلیل نه کړ نیسي. دویم که د صفت مادحه وے نو نبي کریم ﷺ به چرته هم نکاح نه وے کړے او به لا ترغیب ورکړے وے، دریم دا چه دغه د یحیی علیه‌السلام دپاره صفت مادحه وي دهغي د خصوصیت په وجه خو په نورو کښي هغه عیب وي. لکه امي صفت دنبي کریم ﷺ دپاره صفت مادحه دے او د نورو حضرو دپاره عیب دے، دغه شان دغه عدم د نکاح د یحیی علیه‌السلام دپاره صفة مادحه دے خو بل هیڅ نه په دې صفت نه دے ستایلي. بل شوه دا چه خبره چه شهوة دنفس دے، دغې نه جواب دا دے چه شهوة په نکاح کښي غیر مقصودي شی دے اصل د نکاح نیت داحصان دنفس وي د ولادت په نیت کول. دغه شان چه عمل په سنة د نبي کریم ﷺ او د ریدة دامة د نبي ﷺ په ستړو او د ولادت د امه نبارک‌وتعالیٰ د نعمة دحصول په نیت چه حرمة مصاهره ده میلاوشو، کله چه بدي بنوبوسره نکاح ونکړي صاهره ده چه د سراسر عبادة دے او افضل عبادة دے فضاء دشهوة په ورسره خودبخود حاصلیږي.

قوله: فاني مکاثربکم الامم. معنی دا چه زه امه زیاتي شي په سبب د کثرت د اولاد نو ستړو، او بله معنی دا چه زه فخراکرم په نورو امتونو سبقو په سبب دکثرت.

حدیث ۲/۱۲۵۸ ابوحنیفة عن عبدالله بن دینار عن ابن عمر قال قال رسول الله ﷺ انکحوا الجواري الشواب فانهن انتج ارحاما واطیب افواها واعز اخلاقا.

دا حدیث هم داحنافو دپاره مستدل دے لنه هم امر په نکاح سره شوے دے، بل د نکاح دري مقصد دي یو اولاد کیدل، دویم مشغولتیا او جوړي اتري کول، دریم معاشره او رسدګي دکور برابرمن، ودري وره

خبرې په جواري الشواب کښې شته، لکه چه دې حديث کښې ذکر شوځکه مراد د «انتج ارحاما» نه دا ده چه اکثر نتاجا وي يعنې ډيراولادئي کيږي وجه دا ده چه د دوي په رحم کښې حرارة وي په وافر مقدارکښې چه سبب دپاره دکثرة اولاد دے، اومراد د «اطيب افواها» نه دا ده چه کلام کښې خوږوالےوي په خبروکښې فحش اوتيزي نه وي ځکه چه دبکارة دبقاءپه وجه پکښې حياءډيره وي دخاوند سره ژبه نه وهي، اومراد د «اعزاخلاقا» نه دا ده چه معاشره ورسره خه وي دهرڅاحقوق ورته معلوم وي دخاوندسره په يواندازخبرې دمشرانو کشرانو سره دهغومناسب اخلاق چلول، ددينه دامعلوه شوه چه نکاح دباکرې سره افضل دے دنکاح نه دثيبه سره ځکه هغې کښې داخو بياني نه وي،

باب النهي عن نكاح بعض النساء

حديث ٤/١٢٥٩ ابوحنيفة عن حمادعن ابراهيم قال اخبرني شيخ من اهل المدينة عن زيدبن ثابت انه جاءالى النبي ﷺ فقال له هل تزوجت قال لاقال تزوج تستعفّ مع عفّتك ولا تزوجنّ خمسا قال ماهن قال لاتزوجن شهبرة ولانهبرة ولالهبرة ولاهبدرة ولالفوتا قال زيد يارسول الله لااعرف شيا مماقلت قال بلى اماالشهبرة فالزرقاء البدينة واماالنهبرة فالطويلة المهزولة وامااللهبرة فالعجوز المدبرة واما الهبدرة فالقصيرة الذميمة وامااللفوتُ فذات ولد من غيرک قال الشيبالى ضحک ابوحنيفة من هذاالحديث طويلا.

حديث الباب کښې پنځه قسمه زنانه ذکردي چه دهغيسره دنکاح کولو نه نبي کريم ﷺ منع کړي ده، خو دلته دامنع اونهي تنزيهي ده نه چه تحريمي ورنه دنبي کريم ﷺ په ازواجو کښې بعض ددې اقسامو نه وي، لکه ام سلمة رضي الله عنها دبل خاوند نه اولاد وو، دغه شان خديجة الکبرى رضي الله عنها هم بوډئ وه هم ذات اولاد من غيره وه، دغه شان سوده بنت زمعة رضي الله عنها بدينة طويله وه، ليکن داهي پدې وجه ده چه ددې زنانو سره دژوند تيرولو هغه خوند نه وي کومه چه د باکرو سره وي، وجه دا ده چه کله ددوي اولاد نه کيږي کله دبل خاوند صفت کوي کله دهغې نورخويونه نه ښونښيږي نو دې سره معاشره ورانه شي پدې وجه منع وشوه، البته که دبل څه مصلحت دپاره وي نو بلاکراهة جائز ده لکه دنبي ﷺ ددغه مذکوروخزو سره نکاح کول په څه مصالحو بنا وو. والله اعلم

قوله! اخبرني شيخ من اهل المدينة : دلته جهالت په راوي کښې راغےخو په روايه د ابراهيم رحمه الله کښې پديکښې څه حرج نشته، ځکه د ده باره کښې دمحدثينو اتفاق دے چه دے د غير ثقه نه روايه نه کوي (ملاعلي قاري رحمه الله)

قوله! قال تزوج تستعف مع عفتک: معنی دا چه عفت اوپاکدامنی بـه ددغـه خـزی طلـب کـړی سر دعفت خپل نه، او یا تستعف صیغه دمؤنث ده معنی دغه خزه به پاکه شی ستا د پاکوالی په وجه، معنی ستا پاکدامنی به دغه خزی ته متعدی شی اوستاپه خوي به شی لکه اکثر داسی کیږی چه خزه دخاوند نـه ادب اخلی، ددوارومعنومقصدیودے چه ته به هم عفیف شی او دغه زنانه به هم عفیفه شی ځکـه دنکـاح سره په انسان کښی پوره تغیرراځی دنظر حفاظت، دغه رنګ دفردی اهتمام وغیره ورسره راشی،

قوله ! اماالشهبرة فالزرقاء البدینة : هغه زنانه چه خړسترګی اودحدنه زیاته پیړه وی ځکه دغـه زنانـه اخلاقاهم نوی ښه، دویم معاشره دهغی سره نه تیریږی ځکـه د درون والی پـه وجـه هـر کارنشی۔ کولےچه داسبب دخفګان اوشقاق بینهماجوړیږی،

قوله !واماالنهبرة فالطویلة المهزولة : هغه زنانه چه دنګه اوخـواره وی چـه دخـواروالی دوجـه نـه دهـغی دنګ والے بدی ښکاری اوتش هډوکی ښکاری، داسی زنانه هم دخاوند خوښه نه وی په لاره تلـه ورسره نـه خوښوی ځکه چه په لاره خی نوته به وائی چه «ګنبے» راپسی شاته راروان دےنوداسبب دجنـګ جـوړشی ددواړویه مینځ کښی،

قوله ! وامااللهبرة فالعجوز المدبرة :هغه زنانه چه بوډئ وی اودخواهشاتو نه په شاشوی وی ددی سره هـم موافقت نه راځی،

قوله !واماالهبدرة فالقصیرة الذمیمة :دا هغه زنانـه ده چـه ډیـره لنـډه وی ددی سره بدشـکله وی داسی زنانه دچیت والی په وجه هم بده ښکاری، دویم اکثرداسی زنانه لنډخویه وی چـه پـه خبـره ډیـره زرراځـی نوموافقت ورسره مشکل وی،

قولـه ! وامااللفوتُ فذات ولد من غیرک: ددی وجـه هـم ظـاهره ده چـه دانسـان فطـرة دے چـه دے اغیارنشی برداشت کولے، بیا داسی زنانه اکثر د دغه بل بچی په سر د خاوند سره په جنـګ او نـزاع کښـی اخته وی،

حالات راوی زیدبن ثابت رضی اللہ عنہ - نوم نسب، زید بن ثابت بـن ضـحاک بـن لـوذان الانصـاری الخـزرجی النجاری، جلیل القدرصحابی دے، کاتب الوحي په زمانه درسول الله ﷺ کښی اوددینه روسته پـه زمانـه د ابوبکر رضی اللہ عنہ کښی چه کله قران لیکلے کیدو، اوجامع القران دے په زمانه دعثمـان بـن عفـان رضی اللہ عنہ کښی، ماهردعلم میراث والفرائض وو، نبی کریم ﷺ فرمائی! افرض امتی زیدبن ثابت(الحدیث)دغه شـان

من اعلم الصحابة، ومن الراسخين في العلم ومن افكه الناس اذاخلي باهله وو، د ٦٥ كالويـه عمركښـې پـه مدينه منوره کښې په كال۴۵ ھ کښې وفات شوے دے، دی کتاب ترينه دايوروايۀ نقل دے.

حديث۵۱۲۶۰ ابوحنيفة عن عبدالملک عن رجل شامي عن النبیﷺ قال اتاه رجل فقال يارسول الله اتزوج فلانة فنهاه عنها ثم اتاه ايضافنهاه عنهاثم اتاه فنهاه ثم قال سوداء ولوداحبُ اليّ من حسناء عاقر.

حديث دسابقه باب سره متعلق دے دغه سړی ديوی زنانه مطالبه كوله چه حسن ئی وو، خو نبی ﷺ ته په څه طريقه معلوم شوی وه چه دغه زنانه عاقره (شنډی) ده كيدی شی دخاندان نه ورتـه معلومـه شوی وه ځکه دخاندان نه هم پته لګی، يادغه سړی پخپله نبي كريم ﷺ ته تذكره كړی وی چه دغه ښځه شنډی ده لکه په روايۀ د ابودادشريـف کښې راځي؛ عَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ اِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ اِنِّى اَصَبْتُ امْرَاَةً ذَاتَ حَسَبٍ وَجَمَالٍ وَاَنَّهَا لا تَلِدُ اَفَاَتَزَوَّجُهَا قَالَ « لا ». ثُمَّ اَتَاهُ الثَّانِيَةَ فَنَهَاهُ ثُمَّ اَتَاهُ الثَّالِثَةَ فَقَالَ « تَزَوَّجُوا الْوَدُودَ الْوَلُودَ فَاِنِّى مُكَاثِرٌ بِكُمُ الاُمَمَ ». (سنن ابي داو د ـ محقق ۲ / ۱۷۵) نبی ﷺ هغه ته ترغيب دداسی زنانه وركړوچه بچی ئی كيږی، معلومه شوه چه داولاد واله زنانه سره نكاح پكارده ځکه چه كله اولادنه وی نودادواړودپاره لوي غم وی، دويمه دا چه دغه ښځه اوخاوند په يوبل غم اړوی چه ته خه نه ئی، بل واپی ته داسی ئي نوموافقت نه راځي، چه اولاد نه وی هم غم دے چه راشی نوبعض خلقوته هغه غم شی،ولنعم ماقال الغزالی رَحِمَهُ اللَّهُ:-

و من يحمد الدنيا لعيش يسرها فسوف لعمری عن قريب يلومها
اذا ادبرت كانت على المرء حسرة و اذا اقبلت كانت كثيرا همومها

(مكاشفة القلوب)

باب في بيان معنى الشوم في المراة

حديث٦١٢٦١ ابوحنيفة عن علقمة عن ابن بريدة قال تذاكر الشوم ذات يوم عندرسول الله ﷺ فقال الشوم في الدار و الفرس والمراة فشوم الدار ان تكون ضيقة لهاجيران سوء وشوم الفرس ان تكون جموحاوشوم المراة ان تكون عاقرا زاد الحسن بن سفيان سيّئة الخلق عاقرا (الحديث الخ)

حديث الباب کښې داشياء ثلثه دسپيره والی ذكر دے، چه هغه خبره چه دشوم نه ګڼرلے شی هغه دكور پـه باره کښې دا دے چه تنګ وی، اوګاونډی خراب وی، او په فرس کښې شوم دا دے چه سركشه وی، او پـه

خزه کښې دا دے چه خزه شنډې اوبد اخلاقه وی، مقصد دحدیث ظاهر دے چه في ذاته په هیڅ څیزکښې سپیره والےنشته البته سپیره والے دبدو اوصافو په وجه راځی چه هغه دغه مذکوراوصاف دی، یاداسپیره والے په طریقه دفرض او تقدیر سره دے لکه دی اخری روایة نه معلومیږی څکه نبی ﷺ فرمائی!«ان یکن الشؤم في شيئ» که بالفرض سپیره والےوی په څه کښې نوداډری اشیاءپه دغه اوصافوسره مستحق دسپیره والی دی والله اعلم

باب في خطبة النساء

حدیث۷\۲٦۲ ابوحنیفة عن عطاءعن ابن عباس ان النبی ﷺذکرلفاطمة ان علیایذکرک.

خِطبة دزنانه تپوس ته وائی، دزنانوتپوس چه وشی نو پکاردہ چه زنانه خبرکړے شی په هره ذریعه چه وی، دلته حدیث کښې چه دعلی رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ذکر راغلے نومرادترینه خِطبه ده بیا کـه دغـه زنانـه صریحی اجـازة ورکړی یا دلالة اجازة وشی چه مثلا سکوت اختیار کړی په طوردرضا باندی نود هـغی نـه روستـه نکـاح کول پکاردی، حدیث الباب کښې ددی بیان دے،

حدیث۸\۲٦۳ ابوحنیفة عن شیبان عن یحیی عن المهاجرعن ابی هریرة قال کان رسول الله ﷺ اذا اراد ان یزوج احدی بناته یقول ان فلانا یذکر فلانة ثم یزوجها وفي روایة عن ابی هریرة قال کان (الحدیث الخ)

سابقه باب سره متعلق دےاودهغی تفصیل دے په مختلفو طرقو نقل دے،

باب حکم النکاح بعبارة النساء

حدیث ۹\۲٦٤ ابوحنیفة عن محمدبن المنکدر عن جابر بن عبدالله ان عائشة زوّجت یتیمة کانت عندها فجهزها رسول الله ﷺ من عنده.

دعبارة النساء مقصد دا دے چه زنانه په خپله خوله نکاح چاسره وکړی یابله زنانه په نکاح ورکړی نـو د دی څه حکم دے؟ مسئله کښې اختلاف دے، دوه مذهبه دی،

[۱] امام شافعی رَحِمَهُ اللّٰهُ امام احمدبن حنبل رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمائی!چه په عبارة د زنانو سره قطعا نکاح نـه منعقد کیږی عام ددینه که دغه زنانه صغیره وی، که بالغه وی،

[۲] امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمائی! چه په عبارت دزنانه نفس نکاح منعقد کیږی خوچه دغـه زنانـه بالغـه وی، البته په خوله (عبارة) داولیاءسره نکاح اولی اوغوره دے،

دلائل:- دلائل دفريق اول دوه قسمه دی نقلی عقلی، يودليل نقلی ئي اية كريمه دے! وَاذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ اَنْ يَنْكِحْنَ اَزْوَاجَهُنَّ اِذَا تَرَاضَوْا بَيْنَهُمْ بِالْمَعْرُوفِ (الاية) [البقرة: ۲۳۲] داخطاب اولياء ته دے لكه مفسرين فرمائي! قوله تعالى {فلا تعضلوهن} خطاب للاولياء .(زاد المسير في علم التفسير ۱ / ۲۳۲) ځكه داايۃ كريمه دمعقل بن يسار المزني رضي الله عنه په حق كښې نازل شوے چه خپله خورئی دنكاح نه منع كړی وه دخپل خاوند سره، په روايه دبخاری شريف كښې دی! عَنِ الْحَسَنِ اَنَّ اُخْتَ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ طَلَّقَهَا زَوْجُهَا فَتَرَكَهَا حَتَّى انْقَضَتْ عِدَّتُهَا فَخَطَبَهَا فَاَبَى مَعْقِلٌ فَنَزَلَتْ{ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ اَنْ يَنْكِحْنَ اَزْوَاجَهُنَّ } (صحيح البخاري ۱۳ / ۶۷۹) نو داخطاب اولياء ته شو، اوس كه په عباراتو دنساء سره نكاح صحيح كيدو نو بيا خو دنهی عن الاولياء څه مقصد پاتی نشو،

دويم نقلی دليل روايۃ دعائشه رضي الله عنها دے!عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ اَيُّمَا امْرَاَةٍ نَكَحَتْ بِغَيْرِ اِذْنِ مَوَالِيهَا فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ ». ثَلَاثَ مَرَّاتٍ (سنن ابي داود ـ محقق ۱ / ۱۹۰) دی حديث نه هم معلومه شوه چه نكاح په عبارت دزنانه صحيح نه دے بلكه ولی به نكاح كوی او اولياء دنكاح بالاتفاق عصبه دی او دغه عصبه په باب دنكاح كښې نارينه دی،

عقلی دليل دفريق اول دا دے چه نكاح دڅه مقاصدو دپاره كيږی، او زنانه ناقصات العقل دی نو كه دنكاح معامله دوی ته وسپارلے شي نو دغه مقاصد به فوت شي يا به پكښې نقصان راشي،

د امام صاحب رحمه الله يودليل داايۃ كريمه دے! فَاِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتَّى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ (الاية) [البقرة: ۲۳۰] تنكح صيغه دمؤنث ده دنكاح نسبت زنانه ته شوے، دويم دليل! فَاِذَا بَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا فَعَلْنَ فِي اَنْفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ [البقرة: ۲۳۴] دريم دليل! فَاِنْ خَرَجْنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِي مَا فَعَلْنَ فِي اَنْفُسِهِنَّ مِنْ مَعْرُوفٍ [البقرة: ۲۴۰] داتمام ضمائر خزو ته راجع دی، څلورم دليل روايۃ دابن عباس رضي الله عنه دے! عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ « الاَيِّمُ اَحَقُّ بِنَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا وَالْبِكْرُ تُسْتَاْذَنُ فِي نَفْسِهَا وَاِذْنُهَا صُمَاتُهَا » (صحيح مسلم ـ ۴ / ۱۴۱) دلته د«ايم» نه مراد بےواده زنانه ده عام ددينه كه باكره وی، كه ثيبه، كه مطلقه وی، كه متوفي عنها زوجها وی، البته صغيره ترينه مستثنی ده په اجماع دامة سره،

پنځم دليل حديث الباب دے چه عائشه رضي الله عنها پخپله دغه يتيمه په نكاح سره وركړی ده معلومه شوه چه داجائزده،

اما دلائل د امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ دهغی نه جوابات دادی: داول استدلال نه جواب دا دے چه دغه اية كريمه ديوی خاص واقعی په حق کښې نازل شوے چه هغه کاراولیاء کړے وو، ځکه پکښې خطاب اولیاء ته شوے دے هغه دا چه معقل بن يسار رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ خپله خورد دويم خل نكاح نه منع كړی وه دزوړ خاؤند سره، نودغه اية كريمه نازل شو، تفسيرزادالمسيرنقل كوی: روى الحسن ان معقل بن يسار زوج اخته من رجل من المسلمين ، فكانت عنده ما كانت ، فطلقها تطليقة ثم تركها ومضت العدة ، فكانت احق بنفسها ، فخطبها مع الخطاب ، فرضيت ان ترجع اليه ، فخطبها الى معقل ، فغضب معقل ، وقال : اكرمتك بها ، فطلقتها؟ لا والله! لا ترجع اليك اخر ما عليك . قال الحسن : فعلم الله ، عز وجل ، حاجة الرجل الى امراته ، وحاجة المراة الى بعلها ، فنزلت هذه الاية . فسمعها معقل ، فقال : سمعا لربي ، وطاعة ، فدعا زوجها ، فقال : ازوجك ، واكرمك . (زاد المسير في علم التفسير ۱ ۲۳۲)

ددويم نقل دليل نه جواب دا دے چه «فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ» کښې نفي دكمال ته اشاره ده باقی دغه نكاح في نفسه جائزدے، دليل د دے دا دے چه دغه رواية دعائشه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا دے او هغه پخپله دهغی نه خلاف كوی چه ديتيمی نكاح ئی كړے دے كمافي حديث الباب: اونبي كريم ﷺ ئی توثيق كړے چه جهيز ئی ورله پخپله كړے، دويم د دغه حديث د عائشے رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه صرف دومره معلوميږی چه د «ولی» نه اجازة اغستل ضروری دی نه چه نكاح په عبارة دنساء نه كيږی شاه صاحب فرمائی: وحديثُ عائشة : «ايما امراة نُكِحت بغير اذن وليِّها، فنكاحُها باطِلٌ»... الخ. صريحٌ في انَّ الضَّروري هو اذنُ الوليِّ لا عبارتُه. (فيض الباري شرح البخاري ۷ / ۱۳)

دعقلی دليل نه جواب دا دے چه زنانه صحيح ده چه ناقصات العقل دی خوددی نقصان تدارک كيدے شی هغه داسی چه كه زنانه په غيركفو كښې نكاح اكړی نوداولياء دپاره حق داعتراض شته چه دغه نكاح فسخ كړی،او كه په صحيح ځايي كښې ئی نكاح كړے وی نودغه نكاح منعقد شوے دے دوباره نكاح ته ضرورة نشته،

باب حكم الاذن في النكاح

حديث ۱۰۱۳۶۵ ابوحنيفة عن شيبان بن عبدالرحمن عن يحيى بن ابى كثير عن المهاجرين عكرمة عن ابى هريرة قال قال رسول الله ﷺ لاتُنكح البكر حتى تستامر ورضاها سكوتها ولا تُنكح الثيب حتى تستاذن وفي رواية لاتزوج البكر حتى تستامر ورضاها سكوتها (الحديث الخ)

د زنانو نه په حین دنکاح کښی اجازت طلب کول څه حکم لری؟ بالفاظ دیګر دولایت اجبار حکم څه دے؟

زنانه اولا په دوه قسمه دی:- باکره (پیغله) ثیبه (کونډه) بیاهرواحد ددغه نه په دوه قسمه ده:- صغیره (نابالغه) کبیره (بالغه) ټول څلورصورتونه دی،دوه صورتونه اتفاقی دی دوه اختلافي دی،

(۱) دبالغےثیّبه نه به بالاتفاق په صریح الفاظوسره دنکاح اجازة اغستےشی،

(۲) دصغیره باکره نه بالاتفاق دنکاح په وخت کښی اجازت اغستل نشته ،

(۳)دصغیره ثیبه نکاح بغیردهغی داجازة نه عندالاحناف جائزاو عند الشوافع ناجائز،

(٤)دبالغی باکری نکاح بغیردهغی داجازة نه ناجائزعندالاحناف او عند الشوافع جائز،

معلومه شوه چه دولایت اجباردپاره علة عندالاحناف صِغر(عدم بلوغ) دے، اوعند الشوافع بکارة دے،

دلائل:- دشوافع دپاره دلیل روایة دمسلم دے اعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ « الاَيِّمُ اَحَقُّ بِنَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا وَالْبِكْرُ تُسْتَاذَنُ فِي نَفْسِهَا وَاذْنُهَا صُمَاتُهَا » (صحیح مسلم ــ ٤ / ١٤١) دلته د «ایم» معنی امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ ثیبه (کونډه) کوی عام ددینه که صغیره وی که بالغه دا احق بنفسها ده دولی نه او د باکره نه اجازة ضروری دے که بالغه ده که صغیره،

داحناف ودپاره دلیل حدیث الباب دے دلته دباکره اوثیبه دواړونه داجازة اغستو ذکر دے او دا ظاهره ده چه بالغه مراد ده ځکه چه دصغیره نه اجازة اغستل څه معنی نه لری، البته ددواړوپه اجازه کښی فرق شته هغه دا چه باکره که سکوت اختیارکړی نو دا هم دلیل درضا دے، او په حکم دسکوت کښی هغه ضحک هم دے چه لاعلی سبیل السُخریه، اوهر چه ثیبه ده نودهغی نه به صراحة اجازة طلب کولےشی سکوت وغیره دهغی قبول ندے،

امادلیل د امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ دحدیث دابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه، نودهغی نه جواب دا دے چه دغلته د «الایم» نه مرادثیبه نده بلکه بےواده ته وایی لکه یومحقق دبخاری شریف (دکتورمصطفی دیب البغا استاذ الحدیث وعلومه في کلیة الشریعة - جامعة دمشق) دایم معنی کوی! (الایامی) جمع ایم وهي من لا زوج لها ثیبا کانت ام بکرا وقد یطلق علی الرجل ایضا بهذا المعنی . (صحیح البخاري ـ تح البغا ٥ ١٩٦٩) دی معنی سره «الایم» نارنه زنانه دواړو ته شامل دے،

حدیث۱۱\۳۶۶ ابوحنیفة عن عبدالعزیزعن مجاهدعن ابن عباس ان امراة تُوفي عنهازوجهاثم جاء عم ولدها فخطبها فابی الاب ان یزوجها وزوّجها من اخرفاتت المراة النبي ﷺ فذکرت ذلک له